چې خالق د موجوداتو دی نو یو دی
شریک نه لري بې سیاله بې مثاله

چې حاکم د کائناتو دی نو یو دی
په توحید کې بې ګډونه بې زواله

# توحید رڼا
# او
# شرک تیاري دي

عبدالرحیم مسلم دوست

## دا کتاب د عقیدې د کتابخانې سایت

## نه داونلود شوی دی.

## www.aqeedeh.com/pa

برښنا لیک: **book@aqeedeh.com**

د موحدینو ګروپ ویب پاڼو

www.mowahedin.com
www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com
www.islamtxt.com
www.zekr.tv
www.shabnam.cc
www.mowahed.com
www.sadaislam.com

مجموعه موحدین

contact@mowahedin.com

**په عقیدې سایت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسایت د همغږۍ په معنا نه ده.**

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب پېژندنه :


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم : | توحید رڼا او شرک تیارې دي. |
| لیکوال : | عبدالرحیم مسلم دوست . |
| د لومړي چاپ کال : | ۱۴۳۲ سپوږمیز هجري . |
| د چاپ شمېر | ۱۰۰۰ ټوکه. |
| خپروونکی : | خلافت خپرندویه ټولنه . |

## بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين الرحمن الرحيم مالك يوم الدين و الصلاة و السلام على خاتم الأنبياء والمرسلين محمد و على آله و أصحابه ومن دعى بدعوته إلى يوم الدين و لا عدوان إلا على الظالمين.

أما بعد :

الله سبحانه وتعالى هغه ذات دی چې د هغه جل جلاله د مخلوقاتو ذره ذره او دا هر څه د هغه د کامل قدرت ننښې دي . هغه جل جلاله چې هر شی پیدا کړی دی، په هغه کې یې یو داسې فطرت، طبیعت، پنځ او ودیعت ایښی دی او لارښوونه او هدایت یې ورته کړی دی، چې په همغه روان دی .

انسانانو او پېریانو ته یې د عقل او شعور څواکونه ورکړي دي او له همدې کبله یې مکلف کړي دي، وخت په وخت یې ورته پیغمبران او کتابونه رالېږلي دي، د ګروهې او عمل په هکله یې ورته لارښوونې کړې دي، د ژوند لارې چارې یې ورښوولې دي او له

مړینې وروسته د بیا راژوندي کېدو او د داسې یوې ورځې ژمنه یې ور سره کړې ده، چې د لومړي دنیوي ژوند منونکیوته پکې د جنت او نامنونکیوته د دوزخ جزا ورکول کېږي......

په دې ټولو لاربنوونو کې تر ټولو لومړۍ او پیاوړې لاربنوونه د ګروهې او عقیدې لاربنوونه ده او په عقیده کې تر ټولو ځواکمنه، غښتلې او پیاوړې ګروهه د الله سبحانه وتعالی د یو والي او توحید ګروهه ده.

د توحید ګروهه د ټولو ګروهو او اعمالو بنسټ دی که د توحید بنسټ پوخ، پیاوړی او غښتلی ؤ نو د اعمالو او احکامو دارومدار په همدې بنسټ ولاړ دی او بیا ټولې نېکۍ او صالح عملونه د اعتبار او پاملرنې وړ دي خو که د توحید بنسټ رنګ ؤ نو هرڅه رنګ دي.

دهمدې توحید د ګروهې د څېړنې لپاره ما د دې کتاب په لیکلو پیل وکړ الله سبحانه وتعالی دې وکړي چې هم پکې صواب ته رسېدلی یم او هم ثواب ته.

د پېښور مرکزي زندان

# توحيد

## د الله سبحانه وتعالى شتون او يووالى

توحيد په لغت کې يو والي او يو ګڼلو ته ويل کېږي او په اصطلاح کې:

الله سبحانه وتعالى په ذات، افعالو، نومونو او صفتونو کې يو ګڼل او يوائې د هغهﷻ لمانځنه او عبادت کول توحيد بلل کېږي.

## د توحيد ډولونه

توحيد په لوى وېش په درې ډوله دى:

١ – توحيد الربوبيه: (دربوبيت توحيد).

٢ – توحيدالألوهية. (توحيد العبادة) (د الوهيت او عبادت توحيد).

٣– توحيد الأسماء والصفات. (د نومونو او صفتونو توحيد).

لومړي او دريم ډول توحيد ته ((توحيد المعرفة والاثبات)) هم ويل کېږي معنا دا چې د الله سبحانه وتعالى پېژندل او ثابتول دي ډول ته ((علمي توحيد)) هم ويل کېږي.

او دوهم ډول توحيد ته ((توحيد الطلب والقصد والارادة)) هم ويل کېږي چې بنده په خپلو افعالو الله يو وګڼي او يوائې د

هغه ﷻ عبادت وکړي دې ډول توحيد ته ((عملي توحيد)) هم ويل کېږي.

نو د توحيد الربوبيه او توحيد الاسماء و الصفات دواړو ډولونو ته ((علمي توحيد)) يا ((توحيد المعرفة والاثبات)) (د پېژندلو او ثابتولو توحيد) ويل کېږي او ((توحيد الالوهيه)) يا ((توحيد العبادة)) ته ((عملي توحيد)) يا ((توحيد الطلب و القصد والارادة)) (د طلب، غوښتنې او ارادې توحيد) ويل کېږي.

## د ربوبيت توحيد

علمي توحيد او د معرفت او اثبات توحيد کې يو ډول توحيد الربوبية دی.

د توحيد الربوبية يا دربوبيت د توحيد تعريف دا دی چې:
((توحيد الله سبحانه وتعالى بأفعاله)) (الله تعالى د هغهٔ په کړو کې يو ګڼل).

يعنې په دې اقرار او اعتراف کول او په دې ګروهه او عقيده ساتل چې دا هر څهٔ يو پنځوونکی (خالق)، مالک (څښتن) او يو رب (پالونکی) لري، دا هول د الله سبحانه وتعالى پيدا وښت دی او يوځې د همغهٔ ﷻ حکومت پکې نافذ دی.

که يو روغ رمټ او عاقل انسان تر ټولو د مخه لهٔ خپله ځانه پيل وکړي او د خپل بدن په هکله ژور فکر وکړي: بيا پوړي په

پوزې او پراو پهٔ پراو د خپل اند او نظر دائره پراخه او ارته کړي، لاندې باندې، ښکته پورته، مخکې وروسته، ښي او کیڼ لورته او هر ګوټ او کونج او هر لور ته پهٔ ویښ اند او ویښ زړه وګوري او ویې څېړي نو د دې پلنو او ارتو، لوړو او ژورو او ګڼو کائناتو او موجوداتو ذره ذره، عنصر عنصر، شېبه شېبه او هره معنا او مبنا پهٔ دې ځرګند دلالت او ګواهي کوي چې دا منظم، پېچلي او لهٔ اسرارو ډک نظام کومه پېښه او تصادف نهٔ دی او هرومرو یو خالق، پنځوونکی، پالونکی، څښتن او ټولواک شته چې دا ټول یې پیدا کړي دي، دا منظم نظام همغهﷻ چلوي او د همغهٔ ﷻ پرېکړې او اوامر تل پکې روان او نافذ دي. هغه سبحانه وتعالی یو، بې ساري او بې سیاله دی. نهٔ پهٔ ذات کې ورسره څوک ونډه لري، نهٔ پهٔ کړو کې، نهٔ پهٔ نومونو اوصفتونو کې اونهٔ پهٔ لمانځنه او عبادت کې. نهٔ پهٔ واک، قدرت او اختیار کې څوک شریک، ساری او سیال لري او نهٔ چاته اړتیا لري. بلکه لهٔ هغهٔ ﷻ پرته ټول موجودات او کائنات د هغهٔﷻ مخلوق او مملوک دي او ټول هغهٔ ته اړ او محتاج دي.

انسان ته وګورئ لهٔ ډول ډول خوړو او اوبو تخم او نطفه جوړه شي بیا د نارینه او ښځینه تخمونه د مور پهٔ رحم کې سره یو ځای شي پړاو پهٔ پړاو لهٔ وینې، غوښې، هډوکو، پلو، رګونو... نه انساني بدن جوړ او مرکب شي. څومره باریک، پېچلي او دقیق ترکیب دی؟!

د هډوکو تندونه پهٔ کوم ترکیب او ترتیب سره نښتي دي؟! د غوښو او هډوکو تر منځ د اعصابو (پلو) او رګونو تارونه او نرې

نرۍ بمبې څرنګه په بدن کې خپرې شوې او غځېدلې دي؟! دا زړه څرنګه په یو وخت کې هم په شریانونو کې وینه د بدن ګوټ ګوټ ته رسوي او هم یې په وریدونو کې راکاږي ؟! او دا هر غړی، هره پله، هر رګ او هر جزء څرنګه خپله دنده او کارتر سره کوي؟! د دې ټولو د پاسه د پوستکي ښکلی پوخ څرنګه وراغوستل شوی دی؟! څرنګه دا ټول په خپل خپل تناسب وده کوي او لویږي؟! دا ټول څرنګه د غذا له لارې تقویه کېږي او هر یو خپل خپل خوراک په خپل تناسب جذبوي؟! ولې غوږ د کوناټي غوندې نه غټېږي او که دا کار کېدای څومره به بد برېښېدۀ او د بدن توازن به څومره ګډوډ ۀ؟! ماشوم ته د زېږېدو سره سم د تي رودل چا وروښودل؟! چا غاښونوته وویل چې د ټاکلي وخت نه مخکې مۀ راخېژئ؟! بیا چا ورته وویل چې د ضرورت او خوراک سره سم لومړی مخامخ ثنایا او بیا نور پۀ خپل وخت، ترتیب او ترکیب راوخېژئ؟! بیا مخامخ د غوځولو تېرۀ بیا د نیولو او ماتولو داړې او ورپسې د مېده کولو ژرندې اوپلن پلن چا پیدا کړل؟! څرنګه یو ډول غذا او یو ډول کلشیم خپل خپل ځای ته پۀ خپل کچ ځي او یو ځای کې یو ډول او بل ځای کې بل ډول شکل او صورت غوره کوي؟! ولې د ژامنې غاښونه مخامخ نۀ راخېژي؟! ژبه پۀ څومره چالاکۍ او چستۍ د کلکو اوتېرو غاښونو تر منځ اخواد بخوا ځي راځي او خوراک ورتېل وهي؟! څرنګه خواړه د معدې، کولمو، ینې، پپوس، پختورګیو(بډوډو)او زړۀ پۀ مېچنو، چاڼونو او لابراتوارونو کې میده کېږي، چاڼېږي، وینه ترې جوړېږي، او دا وینه د بدن ګوټ ګوټ ته

رسېږي، څرنګه د خوراک او څښناک ګيڅې او خيري د دوه ډوله فضله موادو په شکل د خپلو خپلو لارونه اوځي؟! چا د ورروځو وښبستانوته وويل چې پر خپل ځای راواوځئ، څهٔ ښي لور او څه کيڼ لورته کارهٔ شئ ،د خپل بريد او کچ نه تجاوز مهٔ کوئ؟! چا ښهو ته وويل چې په منظم کتار کې د زېزمو په سرونو په خپل ترتيب او خپل کچ راواوځئ، ودرېږئ اوتجاوز مهٔ کوئ؟! د سترګو عجيبې کېمرې چا پيدا کړې، په وړو وړو کې لوی لوی غرونه، زمکه، اسمان او نور اجرام څرنګه ښکاري؟! په پنځو حواسو کې د ليدلو، اورېدلو، بويولو، څکلو او مښلو (لمس) ځواکونه چا واچول؟! چا د سر وښبستانو، ورروځو او ښوته وويل چې د مور په خېټې کې راوشئ او چا ربيرې، برېتونو او نورو وښبستانو ته وويل چې د خپل ټاکلي وخت نه مخکې مهٔ راواوځئ؟! او بيا د ځوانۍ په ټاکلي وخت کې چاپه خپل ترتيب، په خپل بريد او خپل کچ راوخېژول چې د خپل بريد او کچ نه نهٔ تېرېږي؟ چا په ځوانۍ کې تور او په زړبودۍ کې سپين کړل؟ چا د هډوکو د صندوق منځ کې نازک، باريک، پاستهٔ او پېچلي ماغزهٔ پيدا کړل،! او چا پکې د ټول بدن د اداره کولو ځواک او قوت واچاوهٔ چې هر غړي ته په خپل وخت او د ضرورت سره سم پيغام او حرکت ورکوي او خپل خپل کار ترې اخلي؟! په معدې، کولمو، ينې، زړه، پپوس او پښتورګو کې چا دا پېچلی نظام کېښود چې فضله مواد يوې خوا او ګټور په وينې بدل او بيا د تصفيې له څو کارخانو تېر او د بدن جزء جوړ کړي؟! او چا د انسان په مغزو کې د فکر کولو، ابداع، إختراع، إبتکار او علم داسې

ځواکونه واچول چې کتابتونونه يې له کتابونو ډک کړل او انسان يې د پرمختګ داسې لوړې او هسکې څوکې ته ورساوه چې په بحر کې يې د غرونو په څېر بېړۍ رواني کړې، ژوروته يې ورښکته شو او په ډول ډول ګټې يې ترې پورته کړې، په وچه کې يې د ژوند ګرندي وسايل جوړ کړل، هوا ته والوت، د خړې زمکې رنګينې ګټې يې را برسېره کړې، دا رنګين ښارونه ګڼ او رنګ په رنګ وسايل، خوندور خواړه او زړه راښکونکې او غولوونکې ښکلاوې يې جوړې، څرنګدې او د انسان د ګټو لپاره استعمال کړې، تردې چې انسان د کمپيوټري نړۍ لوړې څوکې ته ورسېد او لامخکې روان دی!!!

هر انسان ته چا بيل بيل رنګونه، شکلونه، صورتونه او داسې مشخصات او ځانګړتياوې ورکړې چې له نورو پرې جلا تشخص خپلوي او اسان پېژندل کېږي، د ټولې نړۍ ګڼ او خوارهٔ وارهٔ انسانانو ته وګوره دوه کسان داسې نهٔ پيدا کېږي چې هيڅ توپير سره ونهٔ لري؛ د نسل او پرګنۍ ورته والی سره لري خو بشپړ بې توپيره نهٔ وي.

دا هم يو نعمت دی چې د بيلو او جلا ځانګړتياو له امله د هر چا خپل تشخص دی او لهٔ همدې امله يو بل سره پېژني او جلا کوي يې؛ د ځانګړتياو پهٔ همدې توپير يو کور، کورنۍ، کلی، ولس، پرګنۍ، قومونه او قبيلې سره جلا کېږي او پېژندل کېږي. کهٔ دا توپير نهٔ وای او ټول انسانان بېخي بې توپيره او پهٔ يو شکل او صورت وای نو چا به خپل خپلوان، دوستان او دښمنان نهٔ پېژندل، د

مجرمانو معلومول به ډېر ستونزمن وو، حقوق به تلف کېدل، پرګنې به سره نه بېلېدې او د انسان ژوند به د ډېرو پېچلیو ستونزو سره مخ ؤ چې د پرمختګ، عدل او انصاف، حق پېژندلو، ښېګړې، جزا او سزا، همدردۍ او صله رحمۍ، ملاتړ او مرستې..... په لار کې به لوی خنډ ؤ.

خو د ژبو، رنګونو، شکلونو او صورتونو اختلاف او نورو ځانګړتیاو او مشخصاتو دا ټولې ستونزې حل کړې دي. په دې پلنې او ارتې زمکې او دې پراخې او ګنې نړۍ کې د هیڅ یو انسان په پېژندلو کې دغه ستونزې نشته. او اوس خو لا د کمپیوټر او انټرنټ په پرمختګ ټوله نړۍ سره داسې تړل شوې ده چې د اګر ده د یو کلي حیثیت لري بلکه دا ټوله د کمپیوټر د یو واړه صندوق په واسطه د انټرنټ په کړکۍ کې ځای شوې ده!!! دغه مبتکر، مبدع، مخترع او عالم انسان چا پیدا کړ چې عقل، فهم، درک او پوهې ته یې ګرده نړۍ ګوته په غاښ ده؟!

په ګرده نړۍ کې وګرځه، هر ښار او بازار وګوره، هرې کارخانې دوکان او لابراتوار ته ننوځه دا د صنعت او زراعت مختلف، رنګین، په زړه پورې، زړه راښکونکي، بوګنوونکي او حیرانوونکي شیان ټول انسان د علم او ذهني صلاحیتونو په برکت له دې خړې پړې زمکې راایستلي دي او لا لګیا دی را باسي یې. دا څومره ذهین، هوښیار او حیرانوونکی انسان دی؟!! او دا چا پیدا کړی دی؟!

((فتبارك الله أحسن الخالقين))

((نو الله د برکت څښتن دی چې تر ټولو ډېر ښکلی پيدا کوونکی دی)).

له ورو، ورو جراثيمو نه راواخله مختلف ډول چينجي، ښخنده، مرغان، کبان او د بحر او بر (لمدې او وچې) نور ډول ډول ځناور او ژوي وګوره، ويې څېره، ژورو ته يې ورښکته شه او ښه فکر پکې وکړه چې چا په څه ډول پيدا کړي دي او چا ورته د خپل خپل ژوند تېرولو، د اړتياؤ د پوره کولو، له ځانه د دفاع کولو او نورې لارې چارې ورښوولې دي؟!

د بېلګې په توګه ببوزی (پرپرکی) راواخله څومره ښکلی دی؟! د مزرې د دوه پکيو په څېر وزرونه لري چې پرې الوزي، کله په يو ګل او کله په بل، کله په يو بوټي او کله په بل کېني د پسرلي باغ او ګلبڼ، دښته او چمن پرې لا ښکلی ښکاري څومره رنګين دي؟! او په يو يو رنګ کې بيا څو څورنګونه دي؟! ته به وايې چې په ګل کې ګلونه را ټوکېدلي دي؛ ته به وايې چې نسيم د رژېدليو ګلونو پاڼې په هواکړې دي؛ ته به وايې چې د ناوې په سر څوک ګلونه شيندي او ته به وايې چې ګلونه ژوندي شوي دي او الوځي راالوځي.......

سبحان الله!!! ای الله! تا د دې نيمګړې دنيا يو ډېر نازک ژوي ته دومره ښکلا ورکړې ده، ستا دجنتونو ښکلا به لا څومره وي؟! او له مونږ پنا ښکلاوې به دې لا څومره وي؟!.

((غنه)) (جولاګی) وګوره چې څومره نازک دی د هغه په خېټه کې سلېښتناکه ماده چا پيدا کړه چې ځاله ترې جوړوي او ښکار

پرې کوي؟! څومره منظمه ځاله جوړوي؟ دا انجنیري او معماري چا وروښووله په څومره مهارت او ښهٔ ترتیب لهٔ ورایه تارونه خپل هدف پورې نښلوي! څومره منظم دي ؟!پهٔ کومه فیته، ګز او متر یې دا فاصلې ورکړې! هره غنه پیدائشي او فطري معماره ده . بیا څومره نازک ښځنده دی او چالاکه الوتونکي ماشي، مچان او نور پهٔ خپلو جالونو کې پهٔ ډېره چالاکۍ او مهارت داسې راګېر او وتړي چې هېڅ ځان تري نهٔ شي خلاصولی او خپله غذا او خواړهٔ ترې پوره کړي، د غنې پهٔ یوه هګۍ کې دا دومره ډېر بچي چا پیدا کړل؟ او غنې ته دا هر څهٔ چا وروښوول او چا پکې دا فطرت او طبیعت کېښود ؟دا مختلف عناصر چا پیدا کړل او پهٔ هر عنصر کې خپل خپل خواص، اغېزې او ګټې چا واچولې؟

دا پلنه ځمکه، لوی لمر، سپوږمۍ ستوري او نور اجرام چا پیدا کړل او دا منظم حرکتونه څوک ورکوي؟! څوک ورځ او شپه، میاشتې او کلونه او د کال څلور فصلونه: پسرلی، دوبی(اوړی)، منی او ژمی پهٔ منظم ډول بدلوي چې هر یو پهٔ خپل وخت، خپل ترتیب او خپل کچ روان دي او هیڅ توپیر پکې نهٔ لیدل کېږي؟!

څوک د واړهٔ تخم او زړي نه لوی لوی بوټي او هسکې هسکې ونې راباسي؟! څوک د دغه تخمونو او زړو، ونو او بوټو ته خپل خپل شکل، پاڼې، منډان، څانګې او نورې ځانګړتیاوې ورکوي؟! غوزان، بادام ،جنغوزي، پستې، ممپلي او ...... چاپهٔ ښکلو ډبو او کوتیو کې بند کړي دي؟؟ په واړه جنغوزي کې دومره هسکه او دنګه ونه چا ایښې ده؟ څرنګه ونو د نیلو له لارو د

زمکې نه خوراک او ښبناک واخيست، د منډانو او ځانګو لـه لارې خپل ځای تـه لاړل ،د پاسـه کلک ډبي ترې جوړ شول او دننه پکې خوندور او ګټور خواړهٔ جوړ شول؟! کېلې، مالتې، انار، انګور، مندتې، منې او نور خواړه او مېوې چاپهٔ مناسبو او ښکلو لفافو، کڅوړو او پوخونو کې بند پيدا کړل چې ځينې يې لهٔ پوخ او کڅوړې سره خوړل کېږي لکه انګور او مندتې او لهٔ ځينو پوخونه او کڅوړې لرې کېږي لکه کېلې او مالتې؟!

چا لوی لوی کدوان، خربوزې، هندوانې او ختکي پهٔ وړو او باريکو ځيليو کې پيدا کړل چې پـه زمکـه پراتـهٔ دي او نريـو نريـو پيپونـو او باريکو بمبو کې ورتـه لـهٔ زمکې خوراک راجذبېږي ،او واړهٔ واړهٔ جنغوزي او غوزان يې په سترو او هسکو ونو کې پهٔ خپل تناسب پيدا کړل؟! چالـهٔ دې خړو خاورو او يـو ډول اوبـو مختلف رنګونه او مختلف خوندونه راوايستل چې يو يې تريخ، بل خوږ، بل پيکه او بل تريو پيدا کړ او هر يو تـه يې خپـل خپل رنګ ، حجم او خوند ورکړ؟! چا پـهٔ يو بوټي کې شنې پاڼې او سرهٔ، شنهٔ، زيړ، سپين او رنګين ګلونه رازرغونه کړل، هـر يـو تـه يې خپـل خپـل ډول او شکل ورکړ او چا د ګل پهٔ يوې پاڼې کې څو رنګونه پيدا کړل او پهٔ خپل خپل تناسب يې وېنځول ؟!

چا هره توتکۍ او هره مرغۍ فطرتي معماره او ختګره پيدا کړه چې توتکۍ لهٔ ختو او مرغۍ لـه ډکو او خځلو ښکلې او مناسبې ځالې جوړوي او چا ورتـه وويـل چـې هګۍ واچوه، تر ټاکلي وخت پورې پرې کېنـه او ويـې شاربه، بيـا تـر هغـه خپلو بچوتـه خواړهٔ،

دانې، ملخان او چینجي ورکوه، چې لوی شي او والوزي؟! هر حیوان، هر ځناور او هر مرغۀ ته چا خپل خپل صورت، رنګ او ډول ورکړ، د ژوند تېرولو لارې چارې یې وروښودې او خپلې خپلې ځانګړتیاوې یې وروبښلې؟! څرنګه مرغاوۍ په اوبو کې ګرځي چې نۀ ډوبېږي او نه لوندېږي؟! طاووس څرنګه ښایسته او رنګین شو؟! چا د یو ډول خوړو نه مختلف رنګونه پیدا کړل، هر رنګ یې د هرې بڼکې، د نرۍ ویښته خپل ځای ته ورساوۀ هلته په مناسب ځای کې تم شو او د ټولو ویښتانو د ترکیب نه څۀ ښکلې او رنګینه بڼکه پیدا شوه چې قبې قبې، بادامي او دائروي شکلونه ترې جوړ او تشکیل شول او هر ځای سره خپل مناسب په خپل کچ او خپل ترتیب او ترکیب مرکب شول؟! د لکۍ بڼکې څرنګه په خپل کچ اوږدې شوې او د نور بدن هره بڼکه څرنګه په خپل کچ، خپل رنګ، خپل حجم او خپل ترتیب او ترکیب جوړه او مرکبه شوه؟ او د سر تاج او کرکره څرنګه ښکلې ودرېده؟!

چا غوا، مېښې، مېږې (ګډې)، اوزې (بېزې) او ......... ته دارې ورنه کړې او نور غاښونه یې ورکړل؟!! او چا پکې د وښو خوړلو فطرت کېښود او د دارلو، ښکار کولو او غوښو خوړلو فطرت یې پکې کې نه ښود؟! او د وچو بوسو او شنو وښونه د وینې او سوټو تر منځ چا سپین شودۀ پیدا کړل؟! او چا پیشو، سپي، ګیدړ، لیوۀ، پړانګ او زمري ته دارې ورکړې، د دارلو، ښکار کولو او غوښو خوړلو فطرت یې پکې کېښود؟!

کبانو او نورو د اوبو ژويو (حيواناتو) کې چا دا فطرت کېښود چې په اوبو کې د خوښۍ ژوند کوي او په وچه مري او ژوند نه شي کولی؟! او د وچې ژويو کې چا دا فطرت کېښود چې په وچه ژوند کوي او په اوبو کې يې نهٔ شي کولی؟! شمشتۍ، چينډخې او نورو کې چا دا فطرت کېښود چې هم په وچه او هم په اوبو کې ژوند کوي؟! مار چا بې پښو روان کړی دی؟! او زنزې ته چا په لسګونو پښې ورکړې دي؟! انسان ته يې دوه پښې ورکړې دي ځينو ژويو ته څلور، شپږ او په مختلفو شمېرو پښې ورکړې دي؟!

ورورکي کې چا برېښنا ايښې ده چې د شپې الوزي او په دومره واړهٔ بدن کې يې وړوکی چراغ بلېږي او مړ کېږي او هغهٔ ته د تاوان په ځای ګټه رسوي؟! مېږي ته چا دا شعور ورکړ چې د خپل خوراک پسې په اتفاق راووځي او له ځانه غټ بار يې روان کړی وي، بې شمېره مېږي خپل قوم، قبيله او خپله ځاله او سوړه پېژني، د سوړې جوړولو او په هغې کې د وړو وړو ګودامونو او زېرمو جوړولو چل چا وروښود، چا ورته دا وښوول چې د غنم دانه د ذخيره کولو په وخت کې د دې لپاره نيمه کړي چې د خاورو لاندې راشنه نهٔ شي او د دنيا دانه ـ چې نيمه کوټخه يې هم راززغونېږي ـ څلور ټوټې کړي، او دا مختلفې دانې او خواړهٔ د سپوږمۍ په شپه او په شنهٔ اسمان کې د دې لپاره د ځالې نه راباسي چې وراستهٔ او بدبويه نهٔ شي او بيا يې شپه د دې لپاره ټاکلې وي چې د انسانانو، مرغانو او نورو ژويو او ځناورو لهٔ ضرره وژغورل شي او بيا يې چې ټوله

شپه هوا ووهي نو د سبا راختو نه مخکې یې بیرته سوړې ته ننباسي او پهٔ خپلو زېرمو کې یې ذخیره کړي؟!

د شاتو د مچۍ په ججوره کې چا د شاتو جوړولو فطرت پیدا کړ او د شاتو مچۍ ته چا وروښودل چې د خپلې ځالې مخروطي سوري او کوټنې داسې جوختې جوړې کړي چې پهٔ منځونو کې یې هیڅ خالي ځای او تشه نهٔ وي او ټولې داسې پهٔ یو ډول او یو کچ وي چې تهٔ به وایې چېرته ما هرو انجنیرانو ورسره مرسته کړې ده، دا فطرتي انجنیرانې مچۍ چا پیدا کړې دي او دا مهارتونه او ځانګړتیاوې چا پکې ایښې دي؟! چا وروښوول چې د ګلونو نه شیرې او ګردې په ججورو او پښو کې راوړي او پهٔ ځالو کې دې شات کېدي او بچي پرې وپالي؟! او داسې خواږه او ګټور شات جوړ کړي چې هم یې خپله خوري او هم لوی لوی انسانان دغه ګټورو خوړو ته اړ دي، د غذا او دواء لپاره ترې کار اخلي او تر ټولو خوارهٔ او په زړه پورې خوارهٔ یې ګڼي؟!

اوسپنه، فولاد، مس، سرهٔ او سپین زر او نور ګڼ فلزونه چا داسې ټینګ او کلک کړل چې انسان ترې بې شمېره ګټې اخلي؟! او اوبهٔ چا رنې، پستې او بهېدونکې پیدا کړې؟! وربځو ته چا وویل چې ټاکلي ځای ته ورشئ هلته پنډې شئ، ودرېږئ او باران راوورویئ ،چې دغه اوبهٔ ځاځکي ځاځکي د واورې، ږلۍ او باران پهٔ شکل راښکته شي، ځهٔ پهٔ غرونو، ډنډونو او زمکه کې ذخیره شي او ځهٔ ناوونو، شېلو او خوړونو کې سره رایوځای شي، مخ پهٔ زوړ

رواني شي، په ويالو، نهرونو او سيندونو کې په غورځنګونو شي او اخر د لوی درياب سره يو ځای شي.

دا چا په زمکه کې ذخيره کړې او دومره ښېګړې او ګټې يې پکې واچولې چې ټوله نړۍ پرې ودانه ده او د انسان، حيوان، نبات او ټولې زمکې ژوند ورپورې تړلی دی؟!

«وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاء كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلاَ يُؤْمِنُونَ»[1]

«او مونږ هر ژوندی شی له اوبو پيدا کړی دی نو آيا دوی ايمان نه راوړي؟».

او په يو قرائت کې «حيا» دی چې معنا يې داده:

«او مونږ هر شی له اوبو ژوندی کړی، پيدا کړی او ودان کړی دی».

انسان او هر ژوی په اوبو ژوندی دی. غلې دانې ، مېوې، ترکارۍ، وابښه، ستر ستر او هسک هسک نښتر، منځې، جنغوزي، ګڼې ونې، بوټي، باغونه، ځنګلونه، داروګان، د برېښنا ستر ستر بندونه، کارخانې، ماشينونه، د سپرلۍ نقل، انتقال او بار وړونکي ګڼ وسائل، رختونه او ټوکران، غوښې او غوړي، شېدې او ګبينې، مختلف او ګڼ خواړه، خوندونه او رنګونه، دنګې او هسکې ماڼۍ، د ختو جونګړې او بې شمېره ښېګړې له اوبو څخه دي. دا دومره لوی خير چا په ړنو او پستو اوبو کې واچاوه؟!

---

[1]- سورة الانبياء: ۳۰

د پومبې پهٔ بوټي کې چا پهٔ شنه غوزه کې د نریو نریو او باریکو تارونو سپین مالوچ پیدا کړل؟ او بیا د پخېدو نه وروسته چا غوزه وچوله ، وغوړوله ، انسان ته یې خپله خوله وازه کړه او د حال پهٔ ژبه یې ورته وویل چې راځه زما پاستهٔ سپین او ښکلي مالوچ واخله ښکلي ښکلي ټوکران او جامې رانه جوړې کړه او پهٔ مختلفو ډولونو راځخه ګټې واخله؟! د مېږې (ګډې) او اوښ پهٔ بدن چا ګټورې او ښکلې وړۍ او د اوزې پهٔ بدن یې ښکلې او ګټورې وچغنې رازرغونه کړې؟ چې انسان یې د واښ (دوچغنوېړي) نه واخله د څادرونو، پټوانو، ټغرونو، قالینو اونورو ډول ډول اسبابو، فرش او ظرف کې استعمالوي او ګټې ترې اخلي!

آیا دا ګڼ انسانان، دا بې شمېره ژوي(حیوانات)، څناور، مرغان، ښځنده، غلې دانې، مېوې او سابهٔ ګان، ونې بوټي، ګلونه او داروګان، له زېرمو ډکه زمکه، اسمان، لمر، سپوږمۍ، ستوري او اجرام، مزدحمه او د ګنې ګوښې نړۍ، کائنات او موجودات او دا منظم او پېچلی نظام...... ټول هسې کومه پېښه او تصادف دی؟ آیا پېښه او تصادف دومره منظم، پېچلی او مداوم وي؟!

نه،نه،نه او هېڅکله نه. دا ټول یو خالق (پنځوونکی) مالک، پالونکی، ټولواک او خپلواک تدبیر کوونکی لري چې دا ټول یې پیدا کړي دي او پهٔ دې ټولو کې د هغهٔ ﷻ تکویني حکم نافذدی. دا ټول اړ او مجبور دي چې د هغهٔ تکویني حکم ته غاړه کېږدي.

کهٔ څوک او څهٔ شی پیدا کوي هغه لهٔ پیدا وښت څان نهٔ شي وروسته کولی او کهٔ څوک او څهٔ شی پنا کوي او لهٔ منځه وړي هغه څان نهٔ شي ژغورلی.

هغه بې نیاز، ټولواک او خپلواک ذات ((الله)) سبحانه وتعالی دی. دا هر څهٔ همغهٔ ﷻ پیدا کړي دي او پهٔ دې ټولو کې دغه محسوس او لهٔ مونږ پنا فطرت، طبیعت او څانګړتیاوې همغهٔ ﷻ ایښې دي.

الله تعالی د دې زمکې پهٔ مخ او د دې پهٔ خېټه کې هر څهٔ د انسان د ګټې لپاره پیدا کړي دي او دا دومره پلن او پراخه کائنات او د الله تعالی د قدرت حیرانوونکې او قانع کوونکې نښې ګوري خو بیا هم پهٔ انسانانو کې داسې عنادیان شته چې د دلیل پهٔ بنسټ نه بلکه د خپل ضد او عناد پهٔ بنسټ د الله تعالی د وجود نه انکار کوي؟!.

دې زمکې نه الله تعالی څومره نعمتونه انسان لپاره راایستلي دي؟!

((هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً))[1]

((او هغه هغه ذات دی چې پهٔ زمکه کې ټول شیان یې ستاسو د ګټې لپاره پیدا کړي دي)).

او د دې ګټو انتها لا تراوسه نهٔ ده شوې وخت پهٔ وخت نوي معلومات او نوې ګټې رابرسېره کېږي او دا لړۍ همداسې روانه ده. د بر هغه شیان چې مونږ ته پهٔ ظاهره پکې تاوان او ضرر ښکاري خو

[1] - سورة البقرة: ٢٩.

پـهٔ هغـو کـې دننـه ډېـرې ګټـې خونـدي دي چـې وخـت پـهٔ وخـت د انـسانانو د معلومـاتو د وسـعت سره سم راڅرګنـدېږي. د سـاري او بېلګې پهٔ توګه د انسان مرګ او درد بـه واخلو. مـرګ هم يو نعمت دی کهٔ انسانان نهٔ مړهٔ کېدی نو نړۍ به د ډېرو لويو ستونزو سره مخ وه. هغـه بوډاګـان چـې ورځ تـر ورځ کمزوري کېـږي او تـردې بريـده رسېږي چې له ځايه نهٔ شي پاڅېدی او خپلې اړتياوې نهٔ شي پوره کولې دا به د انساني ټولنې په اوږو يو دروند بار ؤ او داسې بريد تـه بـه رسـېدلی ؤ چـې د انـسان د زغـم نـه بـه ډېـر لـوی او لـوړ ؤ، نـو انسانيت به ډېر خوار، ذليل او بې عزته شوی ؤ هر ځـای بـه انـسانان ذليله پراتهٔ وو او د دې ستونزې هيڅ حل به نهٔ ؤ.

همدارنګه به زمکه ډېره تنګه شوې وه ځکه چې انـسانان بـه زياتېـدل او پنـا بـه نـهٔ وه د هـستوګنې، کـښت او کـر، صـنعت او تجـارت، ښوونې او روزنـې، سياسـت او حکومـت ګټـې سـتونزې بـه زياتېدې.

همدارنګـه بـه ډېـرو بـې انـصافو اسـتعمارګرو او ښـکېلاک ګرو د انسان په ډېرو اړتيـاو خېټـه اچـولې وه او ميـراث او تقـسيم بـه نهٔ کېدهٔ...... او ډېر خلـک بـه د ضـروري حقوقـو نـه محـروم وو......

دا هم يو نعمت دی چې انسان د خپـل مـرګ لـهٔ ورځـې خبرنهٔ دی چې کله مري؟ کهٔ نن يا سبا ته مري هم د ناخبرۍ لهٔ امله د ژوند پـهٔ هيلـه کـار کـوي، زيـار باسـي، د انـساني ژونـد ببـړۍ مـخ پـهٔ وړانـدې ټېـل وهـي او انـساني ټـولنې تـه خـدمت کـوي. کـهٔ د مـرګ نېټـه هـر چاتـه څرګنده وای نو دا به د انساني ټولنې د چوپړ او پرمختګ په مخ کې

خنډؤ او مړینې ته د نږدې کېدو په وخت کې به انساني استعدادونه معطل پاتې کېدل.......

همدارنګه درد هم یو لوی نعمت دی که د انسان خوګمن او زیانمن غړي او د بدن ناروغې برخې درد نهٔ کاوهٔ او انسان درد نهٔ محسوساوه نو د درو درملو هڅه به نهٔ کېده او یا به هر چانهٔ کوله پهٔ دې ترتیب به ناروغی او ګزکونه زیاتېدل او انساني غړي او انساني ژوند به ډېر پهٔ بیړه ضائع کېده. تر دې چې ډېرو ناپوهانو، پهٔ ژوند کې تنګو او ناړامانو وګړو به ځانونه وژل، خپل غړي به یې پرې کول او نور زیانونه به یې خپل ځان او نورو ته رسول، او دا کار به لهٔ دې امله اسان ؤ چې درد به نهٔ ؤ، د کړاو او تکلیف حس به نهٔ ؤ.........

((وَإِن تَعُدُّواْ نِعْمَةَ اللّهِ لاَ تُحْصُوهَا إِنَّ اللّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ))[1]

((او کهٔ تاسو د الله نعمتونه وشمېرئ نو نهٔ یې شئ شمېرلی الله بې شکه هرومرو بښونکی او خورا زیات لوروونکی دی)).

((فَلِلَّهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَرَبِّ الْأَرْضِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَلَهُ الْكِبْرِيَاء فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ))[2]

((نو کره پوره ستاینې یواځې الله لپاره دي چې د اسمانونو رب دی، د ځمکې رب دی، د ټولو مخلوقاتو رب دی، پهٔ اسمانونو

۱- سورة النحل:۱۸.
[2]سورة الجاثية:۳۷\۳۶.

اوزمکه کې یواځې هغهٔ لپاره لویي ده او هغه غالب او د حکمت څښتن دی)).

قرآن کریم کې الله تعالی ځای پهٔ ځای د خپل ربوبیت اثبات کوي او د دې لپاره مونږ ته د خپل کامل قدرت او ځواک نښې ښکاره کوي چې مونږ پکې فکر وکړو، د هغهٔ ﷻ پهٔ ذات، ربوبیت او الوهیت اعتراف او اقرار وکړو، ګروهه پرې ولرو او خپل ژوند د هغهٔ د رالیږلي شریعت سره سم عیار او تېر کړو.

الله تعالی فرمایي:

((الْحَمْدُ للّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ))[1]

((ټولې ښې او ښېګړې ستاینې د هغه الله حق دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی)).

((عالمین)) د ((عالَمْ)) جمع ده چې ټول مخلوقات پکې داخل دي لکه: د انسانانو عالم، د پرښتو عالم، د پیریانو عالم، د حیواناتو عالم.....

((يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشاً وَالسَّمَاء بِنَاء وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقاً لَّكُمْ فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلّهِ أَندَاداً وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ))[2]

---

[1] - سورة الفاتحة: ۱.
[2] - سورة البقرة: ۲۱\۲۲.

((اى خلكو! د دې لپاره چې خپل ځانونه د الله لۀ عذابه وژغورئ، د خپل هغه رب عبادت وکړئ چې تاسو او تاسو نه مخکې خلک يې پيدا کړي دي. هغه رب چې تاسو لپاره يې زمکه اواره او اسمان چت پيدا کړى دى. لۀ پاسه يې او به رانښکته کړې دي او ستاسو د روزۍ لپاره يې پرې مېوې رازرغونه کړې دي. نو سره لۀ دې چې پوهېږئ الله سره شريکان مۀ پيدا کوئ)).

((كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَاتاً فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ))[1]

((تاسو څرنګه له الله انکار کوئ حال دا چې تاسو مړۀ وئ نو راژوندي يې کړئ بيا تاسو مړۀ کوي بيا مو راژوندي کوي او بيا يواځې همغۀ ته ورګرځول کېږئ)).

((بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِذَا قَضَى أَمْراً فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ))[2]

((الله د اسمانونو او زمکې بې مثاله پيدا کوونکى دى. کله چې د کوم کار پۀ هکله د کېدو پرېکړه وکړي نو ورته ووايي چې وشه، هغه وشي.))

((إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لِّأُوْلِي الألْبَابِ الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىَ

[1] ـ سورة البقرة: ۲۸.
[2] ـ سورة البقرة: ۱۱۷.

جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ»[1]

«دې کې هېڅ شک نشته چې د اسمانونو او زمکې په پیدا کولو او د شپې او ورځ پۀ اختلاف کې هغو د عقل خاوندانو لپاره نښې دي چې الله په ولاړه، ناسته او په خپلو اړخونو لګولو کې یادوي ، د اسمانونو او زمکې په پیدا کولو کې فکر کوي او وایي چې ای زمونږ ربه تا دا عبث نه دي پیدا کړي ته پاک یې نو مونږ د اور له عذابه وژغوره».

«إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن مَّاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الأرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخِّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ»[2]

«حقیقت دا دی چې د اسمانونو او زمکې پۀ پیدا کولو کې، د شپې او ورځې پۀ بدلون کې، هغې بېړۍ کې چې له هغه بار سره پۀ دریاب کې روانه وي چې خلکوته ګټه رسوي، پۀ هغو اوبو کې چه الله لۀ اسمانه رانښکته کړې دي او زمکه یې پرې لۀ وچوالي وروسته راشنه کړې ده او هر ډول ژوي یې پکې خپارۀ کړي دي، د

[1]- سورة آل عمران: ۱۹۰\۱۹۱.
[2]- سورة البقرة: ۱٦٤.

بادونو پهٔ چلولو کې او د اسمان او زمکې تر منځ پهٔ تابع وریخ کې د عقل خاوندانو لپاره د الله د قدرت نښې دي)).

(( إن فِيْ خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاف اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَات لأُولِى الأَلْبَاب الَّذيْنَ يَذْكُرُوْنَ الله قِيَامًا وَ قُعُوْدا وَ عَلى جُنُوْبِهِمْ وَ يَتفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَ الأَرْضِ رَبَّـنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطلا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّار))[1]

((حقیقت دا دی چې د اسمانونو او زمکې په پیدا کولو کې اود شپې او ورځې په بدلون کې هغو د عقل خاوندانو لپاره نښې دي چې په ولاړه، ناسته او په خپلو اړخونو لګولو کې الله یادوي ، د اسمانونو او زمکې په پیدا کولو کې فکر کوي (او وایي چې) ای زمونږ ربه! تا دا عبث نه دي پیدا کړي، ته پاک یې نو مونږ د اور له عذابه وژغوره)).

((وَهُوَ الَّذي أَنشَأَ جَنَّات مَّعْرُوشَات وَغَيْرَ مَعْرُوشَات وَالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلفًا أُكُلُهُ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابهًا وَغَيْرَ مُتَشَابه كُلُواْ من ثَمَره إذَا أَثْمَرَ وَآتُواْ حَقَّهُ يَوْمَ حَصَاده وَلاَ تُسْرِفُواْ إنَّهُ لاَ يُحبُّ الْمُسْرفينَ))[2]

(( او الله هغه ذات دی چې د چتونو والا او بې چته باغونه، د خورماو ونې او کښتونه یې پیدا کړي دي ،چې خواړه یې بدل بدل دي، ښونهٔ (زیتون) او انار یې هم پیدا کړي دي ،چې ځینې سره

---

۱- سورة آل عمران : ۱۹۰- ۱۹۱.
۲- سورة الانعام: ۱٤۱.

ورته او ځينې بدل دي، نو کله چې ميوې وکړي خورئ يې، د لو او ټولولو په ورځ يې بې وزلوته خپل حق ورکړئ او اسراف مه کوئ، الله بې شکه اسراف کوونکي نه خوښوي».

«هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاء وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُواْ عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ مَا خَلَقَ اللّهُ ذَلِكَ إِلاَّ بِالْحَقِّ يُفَصِّلُ الآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ إِنَّ فِي اخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَّقُونَ»[1]

«الله هغه ذات دی چې لمر يې روښانه او سپوږمۍ يې رڼا کړې ده او ده يې لپاره يې پړاوونه ورکړي دي چې د کلونو شمېر او حساب پرې معلوم کړئ؛ دا الله په حقه پيدا کړي دي، هغو خلکو لپاره دليلونه څرګندوي چې پوهېږي. حقيت دا دی چې دشپې او ورځې په بدلون او هغو شيزونو کې چې الله په اسمانونو او زمکه کې پيدا کړي دي؛ هغو خلکو لپاره نښې دي چې خپل ځانونه له ګناهونو ژغوري».

«اللّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَسَخَّرَ لَكُمُ الأَنْهَارَ وَسَخَّر لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَينَ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَآتَاكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِن تَعُدُّواْ نِعْمَتَ اللّهِ لاَ تُحْصُوهَا إِنَّ الإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ»[2]

---

[1]- سورة يونس: ٦١٥.

[2]- سورة ابراهيم: ٣٢- ٣٤.

«الله هغـه ذات دی چـې اسـمانونه او زمکـه یـې پیـداکړي دي، لۀ پاسـه یې اوبـۀ راښـکته کړې دي چې ستاسـو د روزۍ لپـاره یې پرې مېوې راایستلې دي، اوتاسـو لپـاره یې بېړۍ تـابع کړې ده چې د هغۀ پۀ امر دریاب کې روانه وي، تاسو ته یې ویالې تـابع کړې دي، تل یې تاسو ته لمر او سپوږمۍ تابع کړې دي، شپه او ورځ یې تاسو لپـاره تـابع کړې دي او ټول هغـه څیزونه یـې درکړي دي چـې تاسو ورځخه غوښـتي دي او کـه د الله نعمتونـه وشمېرئ نو نـۀ یې شـئ شـمېرلی انـسان بـې شـکه خامخـا تېـری کـوونکی او ناشـکره دی».

«وَالأَرْضَ مَدَدْنَاهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ وَمَن لَّسْتُمْ لَهُ بِرَازِقِينَ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلاَّ عِندَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلاَّ بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ وَمَا أَنتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوَارِثُونَ»[1]

«او زمکه مو خپره کړې ده، غرونه مو پرې غورځولي دي، له هر شي مو پۀ مناسب تول پکې رازرغونه کړي دي، تاسـو تـه مو پکـې د ژوند سامان پیدا کړی دی او هغـو تـه مو هم پکـې د ژوند سامان پیدا کړی دی چـې تاسـو ورتـه روزي ورکـوونکي نـۀ یـئ. او مونږ سره د هر شـي زېرمـې (خزانـې) دي چـې پـۀ معلـوم کـچ یـې راښکته کوو ، بلاربوونکي بادونه مو لېږلي دي او لـه اسمانه مو

---

[1] - سورة الحجر: ۱۹-۲۳.

اوبۀ رانښکته کړې دي نو تاسو مو پرې خړوبه کړي يئ ، تاسو د دې اوبو زېرمه کوونکي (ساتونکي) نۀ يئ . يواځې مونږ ژوندي کول او مړه کول کوو او يواځې مونږ د هر څۀ وارثان يوو)).

((خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ بِالْحَقِّ تَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ خَلَقَ الإنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ وَالأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَّمْ تَكُونُواْ بَالِغِيهِ إِلاَّ بِشِقِّ الأَنفُسِ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَؤُوفٌ رَّحِيمٌ وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ وَعَلَى اللّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ وَلَوْ شَاء لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ هُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ يُنبِتُ لَكُم بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالأَعْنَابَ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالْنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالْنُّجُومُ مُسَخَّرَاتٌ بِأَمْرِهِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي الأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ هُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُواْ مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُواْ مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُواْ مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ وَأَلْقَى فِي الأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَارًا وَسُبُلاً لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ وَعَلامَاتٍ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ أَفَمَن يَخْلُقُ

كَمَن لاَّ يَخْلُقُ أَفَلا تَذَكَّرُونَ وَإِن تَعُدُّواْ نِعْمَةَ اللّهِ لاَ تُحْصُوهَا إِنَّ اللّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ»[1]

«الله زمکه او اسمانونه په حقه پيدا کړي دي. له هغو شريکانو ډېر پورته دی چې دوی يې ورسره شريکوي. انسان يې له نطفې پيدا کړی دی خو هغه څرګند جګړه مار دی. څاروي يې پيدا کړي دي چې تاسو لپاره پکې تودوخه او نورې ګټې دي او خوراک ورڅخه کوئ. او کله يې چې مابنام کور ته راشړئ او ګهيځ يې بيايئ (څروئ) تاسو لپاره پکې ښکلا ده. او ستاسو درانه بارونه هغو ځايونو ته وړي چې تاسو ورته بې له زاره چاودې نه شوئ رسېدی. ستاسو رب بې شکه ډېر نرمي کوونکی او خورا زيات لوروونکی دی. اسونه، کچرې او خره يې د ښکلا او د دې لپاره پيدا کړي دي چې تاسو پرې سپاره شئ. او هغه څه پيدا کوي چې تاسو پرې نه پوهېږئ. په الله د سمې لارې ښوول دي او ځينې پکې کږې دي. که الله غوښتي وی نو تاسو ټولو ته به يې سمه لار درښوولې وه. الله هغه ذات دی چې تاسو لپاره يې له پاسه اوبه رانښکته کړې دي چې څه يې ستاسو د څښلو لپاره دي او څه نه يې داسې ونې بوټي زرغونېږي چې څاروي پکې څروئ. تاسو لپاره پرې کښتونه، زيتون(ښونه)، خورما، انګور او هر ډول مېوې رازرغونوي. په دې کې بې شکه هغو خلکو لپاره دليل دی چې فکر کوي. او تاسو لپاره يې شپه، ورځ، لمر، سپوږمۍ او ستوري تابع کړي دي چې دهغه په حکم تابع دي. په دې کې بې شکه هغو

[1]- سورة النحل: ۳- ۱۸.

خلکو لپاره دليلو نه دي چې عقل نه کار اخلي. او په زمکه کې يې چې تاسو لپاره کوم څيزونه پيدا کړي دي مختلف ډولونه او رنګونه يې دي. په دې کې بې شکه هغو خلکو لپاره دليل دی چې پند اخلي. او الله هغه ذات دی چې درياب يې د دې لپاره تابع کړی دی چې تازه غوښې ترې وخورئ، او پسولونه (ګاڼې) ترې راوباسئ چې اغوندئ يې. بېړۍ ګورې چې د دې لپاره اوبه څيرونکې پکې روانه ده چې د الله ښېګړه او روزي ولټوئ او د دې لپاره چې شکر وکړئ. په زمکه يې د دې لپاره غرونه غورځولي دي چې په تاسو ونه لړزېږي. ويالې او لارې يې د دې لپاره پيدا کړي دي چې سمه لار ومومئ. نښې يې پيدا کړې دي او په ستورو دوی لار مومي. آيا هغه څوک چې پيدا کول کوي د هغه چا غوندې دی چې پيدا کول نه شي کولی؟ نو آيا تاسو پند نه اخلئ؟ او که د الله نعمتونه وشمېرئ نو نه يې شئ شمېرلی. الله بې شکه خامخا ښونکی او خورا زيات لوروونکی دی))

((وَاللّهُ أَخْرَجَكُم مِّن بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لاَ تَعْلَمُونَ شَيْئًا وَجَعَلَ لَكُمُ الْسَّمْعَ وَالأَبْصَارَ وَالأَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ أَلَمْ يَرَوْاْ إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ فِي جَوِّ السَّمَاء مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلاَّ اللّهُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ وَاللّهُ جَعَلَ لَكُم مِّن بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ الأَنْعَامِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَى حِينٍ وَاللّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلاَلاً وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْجِبَالِ أَكْنَانًا

وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ كَذَلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ))[۱]

((او الله تاسو د خپلو میندو له خېټو راوایستئ چې پهٔ هیڅ نهٔ پوهېدئ او تاسو ته یې غوږونه، سترګې او زړونه د دې لپاره درکړي دي چې شکر وکړئ. آیا دوی مرغانو ته نهٔ ګوري چې پورته پهٔ هواکې تابع دي او یواځې الله یې لهٔ غورځېدو ژغوري؟ پهٔ دې کې بې شکه هغو خلکو لپاره دلیلونه دي چې ایمان راوړي. او الله تاسو لپاره ستاسو کورونه د آرام لپاره پیدا کړي دي، او تاسو لپاره یې د څارویو لهٔ پوستکو داسې کورونه پیدا کړي دي چې د خپل سفر او د کور پهٔ ورځ یې سپک اخلئ رااخلئ، د هغو لهٔ وړیو، او بڼ وړیو او وچغنونه د کور سامان جوړوئ او تاسو لپاره پکې تر یوهٔ وخته ګټه ده. الله چې څهٔ پیدا کړي دي له هغو یې تاسو لپاره سیوري جوړ کړي دي او لهٔ غرونو یې تاسو لپاره سمڅې پیدا کړې دي او داسې جامې یې درته پیدا کړې دي چې لهٔ ګرمۍ مو ژغوري او داسې زغرې چې ستاسو له جنګه مو ژغوري؛ الله پهٔ همدې ډول پهٔ تاسو خپل نعمت د دې لپاره پوره کوي چې غاړه کېدئ)).

((أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلاَ يُؤْمِنُونَ وَجَعَلْنَا فِي الأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلاً لَعَلَّهُمْ

[۱] - سورة النحل:۷۸- ۸۱.

يَهْتَدُونَ وَجَعَلْنَا السَّمَاء سَقْفًا مَّحْفُوظًا وَهُمْ عَنْ آيَاتِهَا مُعْرِضُونَ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ)) [1]

((او آیا کافران له دې خبرنه دي چې اسمانونه او زمکه سره نښتي وو نوموږ سره جلا کړل او هر ژوندی شی موله اوبو پیدا کړی دی. نو آیا دوی ایمان نهٔ راوړي؟ او پهٔ زمکه کې مو د دې لپاره غرونه پیدا کړي دي چې پهٔ دوی ونهٔ جړکېږي او پهٔ دې کې مو د دې لپاره پراخه لارې جوړې کړې دي چې دوی سمه لار ومومي. او اسمان مو ساتل شوی چت جوړ کړی دی او دوی د اسمانونو له نښو نه مخ اړوونکي دي. الله هغه ذات دی چې شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ یې پیدا کړي دي، ټول په خپل یو مدار کې لامبو وهي))

((وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِن مَّاء فَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَى بَطْنِهِ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَى رِجْلَيْنِ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَى أَرْبَعٍ يَخْلُقُ اللَّهُ مَا يَشَاء إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)) [2]

(( او الله هر ژوی (ژوندی شی) له اوبو پیدا کړی دی. نو ځینې یې هغه دي چې په خېټه ګرځي، ځینې یې هغه دي چې پهٔ دوه پښو درومي او ځینې یې هغه دي چې پهٔ څلورو پښو ګرځي؛ الله چې څهٔ وغواړي پیدا کوي یې. الله بې شکه پهٔ هر شي برلاسی دی)).

---

[1] - سورة الانبياء: ۳۰- ۳۳.

[2] - سورة النور: ٤٥.

((يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَكَذَلِكَ تُخْرَجُونَ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَا أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْعَالِمِينَ وَمِنْ آيَاتِهِ مَنَامُكُم بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَابْتِغَاؤُكُم مِّن فَضْلِهِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ وَمِنْ آيَاتِهِ يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيُحْيِي بِهِ الأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ وَمِنْ آيَاتِهِ أَن تَقُومَ السَّمَاءُ وَالأَرْضُ بِأَمْرِهِ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ الأَرْضِ إِذَا أَنتُمْ تَخْرُجُونَ))[1]

((ژوندی لۀ مړه راباسي او مړ لۀ ژوندي راباسي ؛ زمکه لـه وچـوالي وروسـتـه رازرغـونـوي او تـاسـو هـم پـه هـمـدې ډول راایـسـتـل کېږئ . د الله لۀ نښو دا هم ده چې تاسو لپاره يې ستـاسـو لـۀ ځـانـونـو ښځې د دې لپاره پيدا کړې دي چې هغوی سره واوسېږئ او ستـاسـو منځ کې يې مينه او مهرباني پيدا کړې ده . پۀ دې کې بې شـکـه هغـو خلکو لپاره دليلو نه دي چې فکر کوي . د الله لۀ نښو د اسمـانـونـو او زمکې پيدا کول او ستـاسـو د ژبـو او رنګـونـو بـدلـون دی . پۀ دې کې بې شکه پوهانو لپاره دليلو نه دي . او د الله لۀ نښو پۀ شپې او ورځ

[1] - سورة الروم: ۱۹ - ۲۵.

کې ستاسو خوب او د الله روزي او ښېګړه لټول دي. په دې کې بې شکه هغو خلکو لپاره دليلو نه دي چې خبره مني. د الله له نښو دا هم ده چې د وېرې او تمې لپاره تاسو ته برېښنا ښئ او له پاسه اوبه راښکته کوي نو زمکه پرې له وچوالي وروسته رازرغونوي. په دې کې بې شکه هغو خلکو لپاره دليلو نه دي چې عقل نه کار اخلي او د الله له نښو دا هم ده چې اسمان او زمکه د هغهٔ په حکم ولاړ دي بيا مو چې کله راوبلي نو ناڅاپه به له زمکې را اوځئ)).

((أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَابِّ وَالأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَلِكَ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاء إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ))[1]

((آيا ته نه ګورې چې الله له پاسه اوبه راښکته کړې دي نو مونږ پرې مېوې راايستلې دي چې مختلف ډولونه او رنګونه مو ورکړي دي؟ له غرونو سپينې او سرې تورې دي چې مختلف ډولونه او رنګونه يې دي او څهٔ تک تور دي. خلک، ژوي او څاروي يې پيدا کړي دي چې هغوی ته يې هم مختلف ډولونه او رنګونه ورکړي دي. حقيقت دا دی چې د الله په بندګانو کې پوهان له هغهٔ ډارېږي. الله بې شکه غالب او ښښونکی دی)).

((خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ بِالْحَقِّ يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي

[1] - سورة فاطر: ۲۷\۲۸.

لأَجَلٍ مُسَمًّى أَلاَ هُوَ الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنْ الأَنْعَامِ ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ يَخْلُقُكُمْ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ خَلْقًا مِن بَعْدِ خَلْقٍ فِي ظُلُمَاتٍ ثَلاَثٍ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ فَأَنَّى تُصْرَفُونَ)) [1]

((الله اسمانونه او زمکه پيدا کړي دي، شپه په ورځ راتاووي او ورځ پۀ شپې راتاووي ، لمر او سپوږمۍ يې تابع کړي دي، ټول معلومې نيټې ته وردرومي، پۀ دې خبر شئ چې هغه غالب او زيات ښښونکی دی. تاسو يې لـه يوۀ نفس پيدا کړي يئ، بيا يې لۀ هغۀ د هغۀ ښځه پيدا کړې ده. او تاسو لپاره يې اتۀ جوړې څاروي پيدا کړي دي. تاسو د خپلو ميندو پۀ خېټو کې پۀ درې تيارو کې پيدا کوي چې يو پيداوښت پسې بل پيداوښت دی. دا ستاسو رب دی. پاچاهي يواځې دهغۀ ده لۀ هغۀ پرته بل معبود نشته نو کوم لورته ورګرځول کېږئ؟)).

((فَلْيَنظُرِ الإِنسَانُ إِلَى طَعَامِهِ أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاء صَبًّا ثُمَّ شَقَقْنَا الأَرْضَ شَقًّا فَأَنبَتْنَا فِيهَا حَبًّا وَعِنَبًا وَقَضْبًا وَزَيْتُونًا وَنَخْلاً وَحَدَائِقَ غُلْبًا وَفَاكِهَةً وَأَبًّا مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلأَنْعَامِكُمْ)) [2]

((نو انسان دې خپلو خوړو ته وګوري چې مونږ ښې ډېرې اوبۀ راواچولې بيا مو زمکه وچوله نو دانې، انګور، ترکاري،

---

[1] - سورة الزمر: ٦\٥.
[2] - سورة عبس: ٢٤\٣٢.

زيتـون (ښـونځ)، خورمـا، ګـڼ باغونـه، مېـوې او وابښـه مـو پکـې رازرغونه کړل چې تاسو او ستاسو څارويو لپاره ګټور دي)).

مونږ دا څو آياتونـه د بېلګـو پـه توګـه راواخيسـتل کـه نـه نو قرآن کريم ټول لـه داسـې آياتونو څخـه ډک دی .دا او داسـې نور ډېر آياتونه دي چې د الله تعالى د قدرت نښې او د هغه د ربوبيت کړه او افعال څرګندوي دا هرڅه د هغهﷻ دي او د دې ټولو، ټولواک او متصرف همغهﷻ دی.

((فَسُبْحَانَ الَّذِي بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ))[1]

(( نو هغه ذات ډېر پاک او سـپيڅلی دی چـې د هغـه پـه لاس کې د هر شي واک دی او يوازې همغه ته ورګرځول کېږئ )).

الله تعـالى پـه خپلـو کـړو کـې خپلـواک، ټولـواک او هيچاتـه اړنه دی څه چې وغواړي کوي يې:

((وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ))[2]

(( او الله چې څه وغواړي کوي يې)).

همدا د ربوبيت توحيـد دی چـې الله تعـالى د هغـهﷻ پـه کـړو کې يو وګڼو.

دا هـر څـه د اللهﷻ دي، د دې پـه ملکيـت، واک او اختيـار کې يې هيچا ته ونډه او برخه نه ده ورکړې. هيڅوک ورسره شريک نشته، يوازې همغه ټولواک دی او هيچاته اړتيا نه لري.

---

[1]- سورة يٰس: ٨٣.
[2]- سورة ابراهيم: ٢٧.

((أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللّهِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ نَصِيرٍ))[1]

((آيا تهٔ نهٔ یې پوه شوی چې د اسمانونو او زمکې ټولواکي يواځې د الله ده او تاسو لپاره لهٔ الله پرته نه کوم بادار شته او نهٔ مددګار؟)).

((لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ كُلٌّ لَّهُ قَانِتُونَ))[2]

((اسمانونو او زمکې کې چې څهٔ دي يواځې د هغهٔ دي، ټول هغهٔ ته غاړه ايښودونکي دي)).

((لِلّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ))[3]

((داسمانونو، زمکې او څهٔ چې په دې دواړو کې دي، پاچاهي يواځې د الله ده او هغه پهٔ هر شي بنهٔ برلاسی دی)).

((وَلِلّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا يَخْلُقُ مَا يَشَاء وَاللّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ))[4]

((او د اسمانونو، زمکې او څهٔ چې د دې دواړو تر منځ دي، پاچاهي يواځې د الله ده څهٔ چې وغواړي پيدا کوي يې او هغه پهٔ هر شي بشپړ برلاسی دی)).

((وَلَهُ مَا سَكَنَ فِي اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ))[1]

---

[1]- سورة البقرة: ۱۰۷.
[2]- سورة البقرة: ۱۱٦.
[3]- سورة المائدة: ۱۲۰.
[4]- سورة المائدة: ۱۷.

(( او څه چې په شپه او ورځ کې اوسېږي ټول یـواځې د الله دي او هغه ښهٔ اورېدونکی او ښهٔ لیدونکی دی )).

(( ألا إن لله مَنْ فِيْ السمَاوَاتِ وَ مَنْ فِيْ الأرْضْ ))[2]

(( خبـردار اسـمانونو او زمکـې کـې چې څوک دي ټـول بې شکه د الله دي)).

((لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرَى))[3]

((څهٔ چې پهٔ اسمانونو کې دي،څه چې په زمکې کې دي، څه چې د دې دواړو تـر مـنځ دي او څـهٔ چې د زمکـې لانـدې دي، ټـول یواځې د الله دي)).

د ربوبیت په توحید اکثره انسانان اقـرار کـوي اوڅوک پـوره او څوک نیمګړې عقیده پرې لري. د داسې ((وحده لاشریك لـــه)) خالق، مالک، مدبر، رازق او پالونکي پهٔ موجودیت اکثره انسانان څه نـا څه اقـرار او اعتـراف کـوي او ګروهه پـرې لـري. ډېر لږ خلک داسې شته چې د ضد لـه امله د عقـل، فطـرت او حقیقت سره پـهٔ جګړه دي او د خـالق او رب د شـتون نـه انکـار کـوي ، نـور د ټـولو أدیانو او مفکورو څښتنان یې په خپله خپله ګروهه مني. تـردې چې پخوانیو مشرکانو هم د کائناتو او موجوداتو خالق او رب مانـهٔ . الله تعالی فرمایي:

---

[1]- سورة الانعام: ۱۳.
[2]- سورة يونس: ٦٦.
[3]- سورة طه: ٦.

((قُل لِّمَنِ الأَرْضُ وَمَن فِيهَا إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلاَ تَذَكَّرُونَ))[1]

((ورته ووايه چې: کۀ پوهېږئ نو زمکه او پۀ زمکې کې چې څوک دي دا د چادي؟ هغوی به ډېر زر ووايي چې: د الله دي. ورته ووايه چې نو آيا تاسو پند نۀ اخلئ؟!)).

((قُلْ مَن رَّبُّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلاَ تَتَّقُونَ))[2]

((ورته ووايه چې د اوو اسمانونو او د لوی عرش رب څوک دی؟ هغوی به ډېر زر ووايي چې دا ټول د الله دي. ورته ووايه چې نو آيا تاسو ځانونه له بديو نۀ ژغورئ؟!)).

((قُلْ مَن بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلاَ يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ فَأَنَّى تُسْحَرُونَ))[3]

((ورته ووايه چې که پوهېږئ د هر شي واک د چا پۀ لاس کې دی، هغه پنا ورکوي او د هغۀ پۀ خلاف پنا نۀ ورکول کېږي؟! هغوی به ډېر زر ووايي چې دا د الله دي. ورته ووايه چې نو تاسو باندې کوم لورته جادو کېږي؟)).

((وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ))[4]

---

[1] - سورة المؤمنون: ٨٤\٨٥.
[2] - سورة المؤمنون: ٨٦\٨٧.
[3] - سورة المؤمنون: ٨٨\٨٩.
[4] - سورة العنكبوت: ٦١.

((او كه ته خامخا دوی وپوښتې چې اسمانونه او زمکه چا پیدا کړي دي ، لمر او سپوږمۍ چا تابع کړي دي؟ نو هرومرو به ووايي چې دا الله کړي دي. نو بیا کوم لورته اړول کېږي؟))

((وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَحْيَا بِهِ الأَرْضَ مِن بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ))[1]

((او كه ته خامخا دوی وپوښتې چې له پاسه چا اوبه راښکته کړې دي چې زمکه يې له وچوالي وروسته پرې ژوندۍ کړې ده؟ نو دوی به هرمرو ووايي چې دا کار الله کړی دی. ورته ووايه چې ښې ستاينې ټولې الله لپاره دي خو د دوی زيات خلک نه پوهېږي)).

((وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلْ أَفَرَأَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ إِنْ أَرَادَنِيَ اللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَاشِفَاتُ ضُرِّهِ أَوْ أَرَادَنِي بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَاتُ رَحْمَتِهِ قُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُونَ))[2]

((او كه ته خامخا دوی وپوښتې چې اسمانونه او زمکه چا پيدا کړي دي؟ نو دوی به هرمرو ووايي چې: الله. ورته ووايه: نو دا راته ووايئ چې له الله پرته تاسو کوم معبودان رابلئ ،که الله ما باندې د څه کړاو اراده وکړي نو آيا هغوی د الله د ضرر لرې کوونکي دي؟ يا راباندې د لورېنې اراده وکړي نو آيا هغوی د الله

---

[1]- سورة العنکبوت:٦٣.
[2]- سورة الزمر:٣٨.

رحمت ايسار ولی شي؟ ورته ووايه چې يواځې الله ما لپاره بس دی او يواځې پهٔ همغهٔ ځان بسپارونکي ځانونه سپاري)).

((وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ))[1]

((او کهٔ ته خامخا دوی وپوښتې چې اسمانونه او زمکه چا پيدا کړي دي؟ نو دوی به هرومرو ووايي چې غالب او ډېر پوه ذات پيدا کړي دي)).

((وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ))[2]

((او کهٔ ته خامخا دوی وپوښتې چې دوی چا پيدا کړي دي؟ نو هرو مرو به ووايي چې: الله. نو کوم لورته اړول کېږي؟)).

نو پخوانيو مشرکانو هم د ربوبيت توحيد څه نا څه مانهٔ خو يواځې د ربوبيت د توحيد نيمګړي اقرار او نيمګړې عقيدې هغوی په اسلام کې داخل نه کړل ځکه چې د ربوبيت پوره توحيد او د عبادت، نومونو او صفتونو توحيد يې نهٔ ؤ منلی. تر څو چې انسان بشپړ او مکمل توحيد ونهٔ مني، تر هغهٔ په اسلام کې نه شي داخلېدی، مسلمان او موحد نه شي ګڼل کېدی. مسلمان او موحد يواځې هغه وخت ګڼل کېږي چې پوره توحيد ومني، اعتراف پرې وکړي او ګروهه پرې ولري.

لکه مخکې مو چې پهٔ ګڼو آياتونو کې ولوستل، پخواني مشرکان د توحيد الربوبيّة د منلو سره سره مشرکان ګڼل کېدل او دا

---

[1]- سورة الزخرف:۹.
[2]- سورة الزخرف:۸۷.

ځکه چې هغوی د دې ډول توحید په منلو کې هم نیمګړي وو او ((توحید الألوهیة)) یا د عبادت توحید کې هم مشرکان وو؛ هغوی د عبادت ځینې ډولونه نورو معبودانو لپاره صرف کړي وو. نو ځکه مشرکان وګڼل شوو.

اکثرو پېغمبرانو سره د ألوهیت یا عبادت په توحید کې خلکو جګړې کړې وې. د توحید درې واړه ډولونه یو بل ته متضمن دي او د هریو په ترڅ کې نور دواړه ډولونه پراته دي. نو ځکه ویلای شو چې د پخوانیو مشرکانو د ربوبیت توحید هم نیمګړی ؤ.

ځکه چې ځوک خپل رب وپېژني او هغه په خپلو أفعالو کې یو وګڼي نو رب خامخا ((إله)) او معبود وي او د کمال د نومونو اوصفتونو څښتن وي او ((إله)) هرو مرو ((رب)) او د سپېڅلو نومونو او صفتونو څښتن وي او د سپېڅلیو نومونو او صفتونو څښتن یوازې ((رب)) او ((إله)) وي نور هیڅوک نهٔ د دغو سپېڅلیو نومونو او صفتونو څښتن او حقدار کېدی شي، نه ((إله)) او نهٔ ((رب)) ګڼل کېدی شي. او قرآن کریم کې دا ټول ډولونه په همدې معنا سره بېیل شوي دي.

د ((لا إله إلا الله)) پهٔ پاکې کلمې کې د ألوهیت او عبادت توحید بیان شوی دی. خو د دې پاکې کلمې پهٔ ترڅ کې د توحید ټول ډولونه پراتهٔ دي.

ځکه چې(( إله)) معبود ته ویل کېږي، معبود رب دی. إله او رب د هغو پاکو او ښکلو نومونو او سپېڅلیو صفتونو څښتن دی چې هیڅوک ورسره په هیڅ ډول شریک نه دی.

د ربوبیت په توحید کې دَ الله تعالی تکویني حاکمیت هم راځي چې په ټولو کائناتو یې حکم نافذ او پلی دی.

د حاکمیت، حکم او تحاکم توحید هغه توحید دی چې د توحید درې واړو ډولونو ((توحید الربوبیة، توحید الالوهیة او توحید الاسماء والصفات)) ته شامل دی. ځکه چې بیل بیل اعتبارونه لري او په هر اعتبار خپل ډول کې راځي چې تفصیل یې څه مخکې تېر شو او څه یې په توحید الالوهیة او توحید الاسماء والصفات کې راځي (ولامشاحة فی الاصطلاح). د کائناتو او موجوداتو مطلق حاکم یواځې الله تعالی دی چې په هر څه یې حکم نافذ دی او هیڅ یې له واک او حکومت څخه دباندې نه دي.

الله تعالی فرمایي:

(( وَ اللّٰهُ یَحْكُمُ لاَ مُعَقِّبَ لِحُكْمِه )).[1]

(( الله تعالی (په هر څه کې) حکم کوي د هغه د حکم هیڅ ردوونکی نشته )).

(( إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّٰه )).[2]

(( حکومت یواځې د الله دی )).

(( وَلاَ يُشْرِكُ فِي حُكْمِه أَحَدًا )).[3]

(( او الله په خپل حکومت کې هیڅوک نه شریکوي )).

---

[1] - سورة الرعد : ۴۱.

[2] - سورة الانعام : ۵۷.

[3] - سورة الكهف : ۲۶.

# د ألوهیت توحید

عملي توحید یا توحید الطلب والقصد والارادة ((**توحید الألوهیة**)) بلل کېږي.

توحید الألوهیة یا د الوهیت توحید چې د عبادت توحید هم بلل کېږي داسې تعریفېږي چې:

((**توحید الله بأفعال العباد**)) (د بندګانو په کړو الله یو ګڼل).

معنا دا چې بنده د خپل عبادت په کړو خپل ((رب)) او ((إله)) یو وګڼي او یواځې هغهﷻ ته په اخلاص عبادت وکړي.

د ((**لا إله إلا الله**)) سپېڅلې کلمې کې دغه د الوهیت او ((عبادت)) توحید پروت دی ځکه چې ((إله)) ((معبود)) ته ویل کېږي او ((معبود)) هغه چاته ویل کېږي چې دهغهٔ عبادت کېږي؛ نو ځکه پهٔ ((**لاإله إلا الله**)) کې د الوهیت او عبادت توحید پروت دی ؛خو لکه مخکې مو چې وویل: د دې سپېڅلې کلمې پهٔ ترڅ کې د توحید درې واړه ډولونه پراتهٔ دي. نو ځکه د دې کلمې پهٔ ویلو انسان د اسلام پهٔ دین کې راننوځي. کهٔ دا پاکه کلمه یواځې د عبادت او الوهیت توحیدته شامله وګڼو او نور ډولونه ترې وباسو نو بیا خو پکې نیمګړی توحید راځي او پهٔ نیمګړي توحید خو انسان پهٔ اسلام کې نهٔ ننوځي؛ نو ځکه الله تعالی په قرآن کریم کې ځای پهٔ ځای د ربوبیت، نومونو او صفتونو توحید او د الله تعالی کړهٔ

څرګندوي او بيا يې د عبادت او الوهيت توحيد ته ورشاملوي لکه چې فرمايي:

((أَمَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ السَّمَاء مَاء فَأَنبَتْنَا بِهِ حَدَائِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنبِتُوا شَجَرَهَا أَإِلَهٌ مَّعَ اللَّهِ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ))[1]

((هغه ذات څوک دی چې اسمانونه اوزمکه يې پيدا کړي دي او تاسو لپاره يې له پاسه اوبه رانښکته کړې دي؟ نو موږ پرې تازه باغونه رازرغونه کړي دي؛ ستاسو دا وس نشته چې د دې ونې رازرغونه کړئ؛ آيا الله سره بل معبود شته؟ بلکه دوی داسې خلک دي چې د حق له لارې اوړي او الله سره نور برابر وي)).

نو دلته د ((إله)) معنا د دې مخکينو شيانو پيدا کوونکی شوه.

((أَمَّن جَعَلَ الأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلالَهَا أَنْهَارًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا أَإِلَهٌ مَّعَ اللَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ))[2]

((هغه څوک دی چې زمکه يې د آرام ځای پيدا کړی دی، منځ کې يې ويالې پيدا کړې دي، غرونه يې پکې پيدا کړي دي او د دوه دريابونو منځ کې يې پرده پيدا کړې ده؟ آيا الله سره بل معبود شته؟ بلکه د دوی زيات خلک نهٔ پوهېږي)).

دلته د ((إله)) معنا د دغو يادو شويو کارونو کوونکی شوه.

---

[1] - سورة النمل: ٦٠.
[2] - سورة النمل: ٦١.

((أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاء الأَرْضِ أَإِلَهٌ مَّعَ اللَّهِ قَلِيلاً مَّا تَذَكَّرُونَ))[1]

((هغه څوک دی چې محتاج هې راوبلي نو دعاء یې قبلوي، کړاو لرې کوي او تاسو د زمکې خلیفه ګان ټاکي؟ آیا الله سره بل معبود شته؟ تاسو ډېر لږ پند اخلئ)).

دلته هم د ((إله)) معنا د دغو یادو شویو کارونوکوونکی ده.

• ((أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَن يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ أَإِلَهٌ مَّعَ اللَّهِ تَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ))[2]

((هغه څوک دی چې تاسو ته د وچې او لمدې په تیارو کې لارښوونه کوي او څوک د خپل رحمت مخکې بادونه د زېري لپاره لېږي؟ آیا الله سره بل معبود شته؟ الله هغو شریکانو نه ډېر هسک دی چې دوی یې ورسره شریکوي)).

دلته هم ((إله)) د لارښوونکي او بادونو لېږونکي په معنا دی.

((أَمَّن يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَمَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ أَإِلَهٌ مَّعَ اللَّهِ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ))[3]

(( هغه څوک دی چې په نویو پیدا کولو پیل کوي، بیا راژوندي کول کوي؟! او څوک تاسو لپاره له اسمان او زمکې څخه روزي درکوي؟ آیا الله سره بل معبود شته؟ ورته ووایه: که تاسو رېښتیني یئ نو خپل دلیل راوړئ)).

---

[1] سورة النمل:٦٢.
[2] - سورة النمل:٦٣.
[3] - سورة النمل:٦٤.

دلته ((إله)) د پیدا کوونکي او روزي ورکوونکي په معنا راغلی دی بل ځای فرمایي:

((قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَاء أَفَلاَ تَسْمَعُونَ))[1]

((ورته ووایه: ما ته دا ووایئ چې که الله په تاسو شپه تر قیامته تل کړي نو له الله پرته بل کوم معبود دی چې تاسو ته رڼا راوړي؟ نو آیا تاسو نه اورئ)).

((قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ أَفَلاَ تُبْصِرُونَ))[2]

((ورته ووایه: دا راته ووایئ چې که الله په تاسو ورځ تر قیامته تل کړي نو له الله پرته بل کوم معبود دی چې تاسو ته شپه راوړي چې دمه پکې کوئ نو آیا تاسو نه وینئ)).

په دې ټولو ځایونو کې إله د ((رب)) په معنا راغلی او په هر آیت کې د سیاق او سباق او محتوی سره سم په خپله معنا راغلی دی. دلته په هر آیت کې د ربوبیت أفعال یاد شوي دي، بیا وریسې ((أإله مع الله)) یا ((من إله غیر الله)) راغلی دی او ((إله)) د هر آیت د ربوبیت د افعالو د کوونکي په معنا راغلی دی. نو څرګنده شوه چې د توحید د هر ډول په ترڅ (ضمن) کې نور ډولونه هم پراته دي او د ((لا إله إلا الله)) سپېڅلې کلمې کې د توحید ټول ډولونه پراته دي

---

[1] - سورة القصص: ۷۱.

[2] - سورة القصص: ۷۲.

نو د ((لا إله إلا الله)) معنا خو دا ده چې له الله پرته بل حق معبود نشته .خو څرنګه مو چې وويل: د توحيد د هر ډول په ترڅ کې نور ډولونه پراته دي . او د ((إله)) او ((الله)) په معنا کې د توحيد ټول ډولونه ضمنا ، معنا او د لالتا پراته دي . نو د ((لا إله إلا الله)) جامعه، مانعه، اصطلاحي او بشپړه معنا داسې کولی شو چې:

((لــه الله پرتــه بــل د عبــادت وړ، پيــدا کــوونکی، پنــا کــوونکی، د بنسېګرې او زيــان واکــدار، پــالونکی، د ســتونزو لــرې کوونکی، قانون جوړوونکی، مطلق حاکم، بشپړبرلاسی، مددګار، خپلــواک، ټولــواک، پــه ټــو پــوه، د بــشپړو بنــو نومونــو او صــفتونو څښتن ...... بل نشته)).

## د کلمې أرکان او شرطونه

د سپېڅلې کلمې دوه رکنونه او نهه شرطونه دي.

## د کلمې أرکان

د سپېڅلې کلمې ((لا إله إلا الله)) دوه رکنونه او بنسټونه دي چې يو ((نفې)) او بل ((اثبات)) دی ((لا إله)) نفې ده او ((إلا الله)) اثبات دی. نفې په اثبات مقدمه او وړاندې ده او دا ځکه چې لومړی ((تخليه)) ده او بيا ((تحليه)). تخليه دا معنا چې لومړی تشول او پاکول دي بيا تحليه يعنې ښکلې کول او پسولل دي؛ لومړی د يو ځای پاکول او جارو کول دي، بيا ورباندې فرش غوړول دي، لومړی له بدنه خيري او ککړتيا لرې کول دي، بيا د پاکو جامو اغوستل او د عطرو استعمال دی.

نو له همدې امله په ((لا إله)) باندې لومړی د ټولو باطلو معبودانو ړنګول دي بيا په ((إلا الله)) د الله تعالی د توحيد اثبات دی. لومړی بايد زمونږ دماغونه، زړونه، اندونه او ګروهې له ټولو باطلو معبودانو او باطلو عقيدو پاک شي، تر څو د الله تعالی د توحيد د سپېڅلې عقيدې ځای پکې پيدا شي، بيا پکې د توحيد عقيده کېښودل شي، ځکه چې شرک او توحيد په يو ځای کې نه ځايېږي، الله تعالی ځان سره هيڅ شريک نه مني او نه شته.

((لاإلـه)) هـُم ټـول باطـل معبـودان ړنګـوي، هـم هـر ډول طاغوتان ړنګوي، هم هر ډول هغه انداد او شریکان ړنګوي، چې له الله نه دې اړوي، هـم هغـه اربـاب او د منلـو مـشران ړنګوي، چـې د هغوی په امر او باطلو فتوو حلال او حرام قبلوي او یو الله ته قصد او اراده کول، د هغهﷻ لوی والی او محبت هغه نه خوف او رجاء او همغه ته طاعت او عبادت ثابتوي.

## دٔ کلمې شرطونه

د توحیـد سـپېڅلې کلمـه ((لاإلـه إلاالله)) هـسې منتـر نـه دی چې په ژبه وویل شي، پهٔ معنا او مفهوم یـې پوه نهٔ شې، پهٔ عقیـدې او عمل کې پرې کـوم بـدلون مرتـب نهٔ شي او کـومې ځانګړتیـاوې، غوښتنې او شرطونه ونهٔ لري. بلکه د توحید د کلمې د ویلو او منلو لپـاره څهٔ شرطونه دي چـې هغـه پکـې پوره شوي نهٔ وي نـو د کلمـې ویل نه کومـه ګټـه لـري او نـه پرې کـوم اثـر مرتـب کېږي. د توحیـد د سپېڅلې کلمې شرطونه دادي:

١- علم (پوهه).
٢- کفر بالطاغوت (له هر طاغوت نه انکار کول).
٣- یقین (باور).
۴- قبول (منل).
۵- إنقیاد (غاړه اېښودل).

۶- إخلاص ( د زړه سپينوالى او نړه توب).
۷-محبت (مينه).
۸-صدق (ريښتينولي).
۹- إستقامت ( په دې باندې کلک ودرېدل، ټينګه ګروهه او بې له کوم شک او تردد تر مرګه ټينګ پاتې کېدل).

## (۱) علم (پوهه)

د ((لا إله إلا الله)) د سپېڅلې کلمې لومړى شرط علم دى چې ((لا إله إلا الله)) کې کوم توحيد پروت دى په هغه پوه شي چې ((لا إله)) ټول معبودان رنګوي، ټول ربان ردوي، ټول طاغوتان نړوي ،د شرک ټول ډولونه او صورتونه ماتوي او ردوي او ((إلا الله)) د الله سبحانه وتعالى خالص، نړه، پياوړى، غښتلى، بې ګرده، بې غباره، بې شکه او بې التباسه ډاګيز، جوت او څرګند توحيد او يووالى ثابتوي.

الله تعالى فرمايي:

((فَاعْلَمْ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ))[1]

(( په دې وپوهېږه چې له الله پرته بل حق معبود نشته)).

نو معلومه شوه چې په لا إله إلا الله پوهېدل او په دې علم د دې کلمې لومړى شرط دى.

---

[1]- سورة محمد:۱۹.

او د ((لا إله إلا الله)) علم پۀ معنا زده کېږي. د عربو جاهلان د ((لا إله إلا الله)) پۀ معنا پوهېدل نو ځکه عنادیانو او سرغړوونکیو نه ویله او ایمان یې نۀ راوړ. هغوی پوهېدل چې ((لا إله إلا الله)) زمونږ ټول معبودان رنګوي، زمونږ ټول بوتان ماتوي، زمونږ ملنګي او منجاوري لۀ منځه وړي، زمونږ منښتې، نذرانې او شکرانې له لاسه اوځي، زمونږ نظام، قانون. خرافي دودونه، او د دې ټولو له سوبه چې زمونږ مشري او حکومت د عربو په جاهلو قبیلو قائم دی ،دا رنګېږي او له منځه ځي، یو نوی انقلاب او اووښتون راځي، بدلون او سمون راځي، او بیا د دې کلمې قانون او حکومت پلی کېږي، نو ځکه د داسې انقلابي کلمې ویلو ته تیار نۀ شول.

او چا چې د دې کلمې انقلاب غوښتۀ، د جاهلیت تور قانون او نظام یې نۀ خوښاوۀ او پۀ یو الله ګروهه یې د زړه تل ته ښکته شوې وه نو هغوی ایمان راوړ، دې کلمې ته یې بلنه پیل کړه، پۀ دې لار کې یې ستونزې او کړاوونه وګالل، هجرتونه یې وکړل، خپل کور، کورنۍ، کلی، وطن، خپل خپلوان، یاران دوستان، مال او هال، زمکې او هر څۀ یې د دې کلمې د هسکولو لپاره وښندل، تردې چې پۀ دې لار کې یې دخپل رب پۀ حکم وسله وال جهاد او قتال وکړ، شهادتونه او ټپونه یې وګالل، نو ځکه د دې انقلابي کلمې انقلاب راغی، د عربو د سوونو کلونو جاهلي دښمنۍ لۀ منځه لاړې، پخواني دښمنان اوس د دې کلمې ویوونکي ورونه شول او د ژوند پۀ هر اړخ کې یو پیاوړی، سپېڅلی او شامل بدلون، اووښتون او سمون راغی، او د دې کلمې ویونکي پۀ دې

ويوهېدل چې دا کلمه د کوم ځانګړي قوم او خېل، رنګ او ژبې، نسل او پرګنې، زمکې او وخت پورې اړه نهٔ لري، بلکه دا د ګردې نړۍ عرب او عجم، تور او سپين، ختيز او لوېديز، شمال او جنوب سره رايوځاى کوي. دا نړيواله لاځهٔ چې د کائناتو او موجوداتو کلمه ده، نو ځکه د دې انقلابي کلمې انقلابي منونکيو، ويونکيو او ګروهمنو په کومو ځانګړيو زمکنيو سياسي بريدونو بسنه او اکتفا ونهٔ کړه، بلکه تل د پاځون او يون په حال کې وو. د دې انقلابي کلمې د انقلاب لمن پراو په پراو پراخېده او پلنېده، تر څو چې په ختيز کې د هند نيمې وچې او په لوېديز کې تر اندلس (هسپانيې) او موريتانيې پورې ورسېده. تر څو چې د دې ويونکي د دې په معنا پوهېږي او د دې غوښتنې مني، نو دا به لاروانه وي، تر هغې چې د امام مهدي او عيسىٰ عليه السلام د راتګ سره به د دې کلمې انقلاب ګرده نړۍ ونيسي او د دې هيڅ کوم مخالف به د زمکې پهٔ مخ پاتې نهٔ شي.

او کله چې د دې کلمې يو، ويونکى هم پهٔ زمکه پاتې نهٔ شي نو بيا به په هغو بدمرغو خلکو قيامت راځي.

نو د کلمې په معنا د اقرار او ګروهې (عقيدې) لپاره د دې پهٔ معنا او غوښتنو علم او پوهه لومړنى شرط دى.

إمام بخاری رحمه الله تعالی پهٔ خپل کتاب: ((صحيح البخاري)) کې په کتاب العلم کې ترجمة الباب او د باب عنوان داسې ږدي:

((باب العلم قبل القول و العمل لقوله تعالى فاعلم أنه لا إله إلا الله))

((دا باب په دې هکله دی چې علم له وینا او عمل نه مخکې دی، څکه چې الله تعالی فرمایي: ((فاعلم أنه لا إله إلا الله)) ((په دې پوه شه چې له الله پرته بل حق معبود نشته)).

نو دلته الله تعالی لومړی علم یاد کړی دی، بیا یې ((لا إله إلا الله)) فرمایلي دي، نو معنا دا شوه چې تر ټولو د مخه د ((لا إله إلا الله)) علم حاصل کړه.

الله تعالی فرمایي:

((إِلاَّ مَن شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ))[1]

((له هغو پرته چې د حق ګواهي ورکوي او هغوی پوهېږي)).

نو د حق له ګواهۍ سره یې دا شرط کېښود، چې هغوی په دې حق پوهېږي. او د حق تر ټولو لوړه او پیاوړې ګواهي د ((لا إله إلا الله)) ګواهي ده.

رسول اللهﷺ فرمايي:

((من مات وهو يعلم أنه لا إله إلا الله دخل الجنة))[2]

((څوک چې په داسې حال کې مړ شو چې په ((لا إله إلا الله)) پوهېده نو هغه جنت ته ننووت)).

نو څرګنده شوه چې په ((لا إله إلا الله)) پوهېدل او علم د دې کلمې لپاره یو اړین او پیاوړی شرط دی.

[1] - سورة الزخرف: ۸۶.
[2] - رواه مسلم.

## (۲) کفر بالطاغوت (هر طاغوت او معبود نه انکار)

طاغوت باندې کفر او هر طاغوت او معبود نه انکار هم د ((لا إلـه إلا الله)) د سپېڅلې کلمې د شرطونو نه یو شرط دی طاغوت شیطان هم دی، د هرې ګمراهۍ مشر او هر باطل معبود چې په خپل عبادت راضي وي او عبادت لپاره منتخب شوی وي هغه هم طاغوت دی. د وضعي قوانینو وضع کوونکي او جوړوونکي هم طاغوتان دي، د وضعي او انساني قوانینو نافذوونکي او ترې دفاع کوونکي هم طاغوتان دي، د غیبو د علم دعوه کوونکي هم طاغوتان دي، کوډګر او جادوګر هم طاغوتان دي، جابر حاکمان هم طاغوتان دي، یواځې د ځان طاعت ته رابلونکي هم طاغوتان دي، د الله تعالی د رالېږل شوي دین (اسلام)، د هغهﷻ د رالېږل شوي پیغمبر (محمدﷺ) او د هغهﷻ د نازل کړي کتاب (قرآن) خلاف هر چارواکی، هر مشر او هر سرکښ طاغوت دی، د مذهب، دین، سیاست، قوم، نسل او رنګ په نامه الله تعالی نه هر سر غړوونکی مشر طاغوت دی. لنډه دا چې د هرې بې لارۍ هر مشر طاغوت دی. او الله تعالی نه د سرغړونې هر سر غړوونکی مشر طاغوت دی. او په دې ټولو طاغوتانو کفر او له دوی نه انکار د ((لا إلـه إلا الله)) د منلو او ګروهې پوخ او پیاوړی شرط دی.

طاغوت نه انکار د کلمې طیبې او ایمان لپاره ډېر مهم شرط دی او کفر بالطاغوت، ایمان بالله نه مخکې دی، که یو څوک کافر بالطاغوت نهٔ شي، هغه مؤمن بالله نهٔ شي جوړېدی او دا یو اړ او لغز هم جوړېدی شي چې چاته ووایې: تر څو کافر نه شې مسلمان کېدی نه شې، او مطلب دې د کفر نه کفر بالطاغوت وي، څکه چې الله تعالی فرمایي:

«فَمَنْ يكْفُرْ بِالطاغُوْتِ وَ يُؤْمِنْ بِاللهِ فَقَــدِ اسْتَمْــسَكَ بِالْعُرْوَةِ الوُثْقىٰ لاَ انْفِصَامَ لَهَا وَاللهُ سَمِيْعٌ عَلِيم»[1]

«چاچې طاغوت باندې کفر وکړ او په الله یې ایمان راوړ، نو هغهٔ بې شکه داسې غښتلې غړۍ ټینګه ونیوه، چې جلا کېدل یې نشته او الله بنهٔ اورېدونکی او ډېر پوه دی».

نو دلته کفر بالطاغوت د ایمان بالله نه وړاندې شو او دا څکه چې لکه مخکې مو چې وویل: لومړی تخلیه ده او بیا تحیله.

او الله تعالی فرمایي:

«أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذينَ أُوتُواْ نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذينَ كَفَرُواْ هَؤُلاء أَهْدَى مِنَ الَّذِينَ آمَنُواْ سَبِيلاً»[2]

---

[1] - سورة البقرة : ۲۵٦.
[2] - سورة النساء : ۵۱.

((آیا ته هغو خلکو نه خبرنهٔ یې چې د کتاب نه څهٔ برخه ورکول شوې ده. پهٔ جادو او طاغوت ایمان راوړي او د کافرانو پهٔ هکله وایي چې دوی مؤمنانو نه زیات پهٔ سمه لار دي)).

مجاهدین د الله پهٔ لار کې جنګېږي او کافران د طاغوت پهٔ لار کې الله تعالی فرمایي:

((الَّذِينَ آمَنُواْ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ فَقَاتِلُواْ أَوْلِيَاء الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا))[1]

((مؤمنان د الله پهٔ لار کې جنګېږي او کافران د طاغوت پهٔ لار کې جنګېږي، نو د شیطان ملګرو سره وجنګېږئ .د شیطان چل بې شکه کمزوری دی)).

د دې آیت د دواړو ډلو مصداق هر وخت شته، اوس هم د الله د لارې مجاهدین هم شته او د شیطان او طاغوتانو د لارې جنګیالي هم.

د اوسنیو طاغوتي نظامونو او مرتدو او منافقو حکامو پهٔ ملګرو او د هغوی د قوماندې لاندې چې پهٔ هر نامه او هر چا سره جنګېږي ،هغوی د طاغوت پهٔ لار کې جنګېږي او د هغوی خلاف چې د کلمة الله د إعلا لپاره جنګېږي هغوی د الله پـه لار کـې جنګېږي.

طاغوت نه انکار او د طاغوتانو د رد لپاره ټول پېغمبران رالېږل شوي وو.

---

[1] ـ سورة النساء :۷٦.

((وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ))[1]

((او مونږ بې شکه په هر اُمت کې پېغمبر لېږلی ؤ چې د الله عبادت وکړئ او طاغوت نه ځانونه وژغورئ))

او طاغوت نه د ژغورونکیو ستاینه داسې کوي

((وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرَى فَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُوْلَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُوْلَئِكَ هُمْ أُوْلُوا الأَلْبَابِ))[2]

((او هغه خلک چې د طاغوت لۀ عبادته یې ځانونه ژغورلي دي او الله ته یې رجوع کړې ده ،هغوی لپاره زېری دی نو زما هغو بندګانو ته زېری ورکړه چې خبره اوري او د ښو خبرو تابعداري کوي دوی ته الله لارښوونه کړې ده او همدوی هوښیاران دي))

نو د طاغوت عبادت د هغۀ اطاعت دی د اوسنیو مرتدو حاکمانو او شیطان خبره چې څوک مني او اطاعت یې کوي.د هغوی عبادت کوي

همدارنګه ټولو معبودانو نه انکار په دې کې داخل دی لکه چې یو حدیث کې داسې راځي

---

[1] - سورة النحل:٣٦.

[2] - سورة الزمر: ١٨\١٧.

ابومالک اشجعي له خپل پلار طارق نه روايت کوي هغه وايي چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: ((من قال لا إله إلا الله و كفر بما يعبد من دون الله حرم ماله و دمه و حسابه على الله))[1]

((چا چې لا إله إلا الله وويل او هغو معبودانو باندې يې کفر وکړ چې الله نه پرته يې عبادت کېږي، نو د هغه مال او وينه په مسلمانانو حرامه شوه او حساب يې په الله دی)).

د ((لا إله إلا الله)) د کلمې يواځې لوستل د مال او وينې د نجات او حرمت سبب نه جوړېږي، بلکه له نورو معبودانو انکار ورسره اړين شرط دی.

علامه ابن القيم رحمه الله د طاغوت معنى داسې کوي:

((الطاغوت كل ما تجاوز به العبد حده من معبود أو متبوع أو مطاع فطاغوت كل قوم: من يتحاكمون إليه غيرالله ورسوله أو يعبدونه من دون الله أو يتبعونه على غير بصيرة من الله أو يطيعونه فيما لا يعلمون أنه طاعة لله فهذه طواغيت العالم إذا تأملتها و تأملت أحوال الناس معها رأيت أكثرهم أعرض عن عبادة الله تعالى إلى عبادة الطاغوت ومن طاعة رسول الله إلى طاعة الطاغوت و متابعته))[2]

((طاغوت هر هغه څه ته وايي چې بنده پرې له خپل بريده تېر شوی وي، که هغه معبود وي، که د تابعدارۍ مشر وي او که د

---

[1] - رواه مسلم.
[2] - فتح المجيد: ٣٠

منلو کوم شخص وي. نو د هر قوم طاغوت هغه څوک دی چې د الله او د هغه د پېغمبر له پرېکړو پرته ورته فيصلې وروړي، يا يې له الله پرته عبادت کوي، يا يې د الله له پلوه د دليل نه پرته تابعداري کوي، او يا يې په هغه څه کې اطاعت کوي چې هغوی په دې نه پوهېږي چې دا د الله تعالی د طاعت حق دی. نو دا د خلکو طاغوتان دي. کله چې تا په دې کې فکر وکړ او له دې سره دې د خلکو په حالاتو کې فکر وکړ، نو دا به وګورې چې زياتو خلکو د الله تعالی له عبادت نه د طاغوت عبادت ته مخ اړولی دی او د الله د پېغمبر له طاعت نه يې د طاغوت طاعت او تابعدای ته مخه کړې ده)).

## (۳) يقين (باور)

د ((لا إله إلا الله)) د پاکې کلمې بل شرط پوخ او پياوړی باور دی، چې انسان د دې کلمې په معنی او غوښتنو پوخ او نه ماتېدونکی باور وکړي او هيڅ ډول شک او تردد پکې ونه کړي.

الله تعالی فرمايي: ((إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُوْلَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ))[1]

---

[1] - سورة الحجرات: ۱۵.

((مؤمنان بې شکه هغه خلک دي ،چې په الله او د هغه په پېغمبر يې ايمان راوړی دی او بيا يې شک نه وي کړی او په خپلو مالونو او ځانونو يې د الله په لار کې جهاد کړی دی ،همدوی رينښتيني دي)).

نو د ايمان له رينښتينولۍ سره دا شرط وتړل شو چې شک يې نه وي کړی او د شک په مقابل کې پوخ باور او يقين دی. نو ځکه باور د ايمان پياوړی شرط دی.

او حديث کې داسې راځي: ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ((**أشهد أن لا إله إلا الله و أني رسول الله، لا يلقى الله بهماعبد غير شاك فيهما إلا دخل الجنة**))[1]

((أشهد أن لاإله إلاالله وأشهد أن محمد رسول الله) داسې کلمې او خبرې دي چې ځوک په دې دواړو د پوخ باور سره الله سره مخ شي او هيڅ شک يې پکې نه وي کړی نو جنت ته ننووت)).

او بل روايت کې راځي چې: ((**يشهد أن لا إله إلا الله مستيقنا بها قلبه**))[2]

((چا چې د ((لا إله إلا الله)) ګواهي وکړه او له زړه نه پرې باوري وي)).

---

[1] - رواه البخاري.
[2] - رواه البخاری ومسلم.

## (۴) قبول (منل)

د ((لا إله إلا الله)) د پاکې کلمې بل اړین او پیاوړی شرط قبول دی ،معنا داچې د دې کلمې غوښتنې بشپړې ومني او په ژبې، زړه او عمل درې واړو یې ومني او تکبر، سرغړونه، او لویي ترې ونه کړي ،ځکه چې له دې کلمې څخه د لویي کوونکیو په هکله الله تعالی فرمایي:

((إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ))[1]

((دوی ته به چې ((لا إله إلا الله)) وویل شول نو لویي به یې کوله)).

همدارنګه ابلیس په دې پوخ باور او یقین لري او پرې پوهېږي چې له الله پرته بل حق معبود نشته او د لا إله إلا الله په معنی او ګروهې ښه خبر دی او الله تعالی سره یې خبرې کړې دي، قیامت منې...... خو د لویي کولو له امله ملعون شو او یواځې عقېدې ورته ګټه ونه رسوله.

همدارنګه په اوږد حدیث کې د بې ګټې زمکې مثال د هغه چا سره ورکول شوی دی چې: ((من لم یرفع بذلك راسا ولم یقبل هدی الله الذي أرسلت به))[2]

---

[1] - سورة الصافات:۳۵.

[2] - رواه البخاري و مسلم.

((چا چې پرې سر پورته نه کړ او د الله هغه لاربنوونه يې ونه منله چې زه پرې رالېږل شوی يم)).
نو مثال يې بې ګټې زمکې غوندې دی.

## (۵) إنقياد (غاړه ايښودل)

د ((لا إله إلا الله)) د سپيڅلې کلمې بل شرط إنقياد (غاړه ايښودل او تسليمېدل) دي. تر څو چې بنده الله تعالی ته پوره غاړه کې نۀ ږدي او بشپړ تسليم نۀ شي، نو د کلمې غوښتنې او شرطونه يې پوره کړي نه دي، اګر کۀ کلمه وايي، خو چې انقياد پکې نۀ وي نو د کلمې خلاف روان دی.

الله تعالی خپل پېغمبر ته فرمايي:

((قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَمَّا جَاءَنِيَ الْبَيِّنَاتُ مِن رَّبِّي وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ))[1]

((ورته ووايه: کله چې ماته د خپل رب له لوري څرګند دليلونه راغلل، نو زۀ لۀ دې منع شوی يم چې د هغو معبودانو عبادت وکړم چې لۀ الله پرته يې تاسو رابلئ او ماته پۀ دې امر شوی دی چې د ټولو خلکو رب ته غاړه کېدم)).

[1]- سورة المؤمن:٦٦.

او فرمايي:

((وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الأُمُورِ))[1]

(( او چا چې خپل مخ الله ته تسليم کړ او هغه نېکوکار ؤ نو هغهٔ بې شکه غښتلې غړی ونيوه او د ټولو کارونو پايلې الله پورې اړه لري)).

او فرمايي:

((وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ))[2]

((خپل رب ته راستانهٔ شئ او هغه ته غاړه کېدئ)).

او فرمايي:

((فَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ))[3]

((ستاسو معبود يو معبود دی نو يواځې همغه ته غاړه کېدئ او غاړه اېښودونکو ته زېرى ورکړه)).

## (۶) إخلاص (د زړه سپېنوالی او نړه توب)

د ((لا إله إلا الله)) دسپېڅلې کلمې بل شرط إخلاص (نړه والی) دی ،ځوک چې کلمه ووايي هغه د الله تعالی نړه بنده شي او

[1]- سورة لقمان: ٢٢.
[2]- سورة الزمر: ٥٤.
[3]- سورة الحج: ٣٤.

دا نږه توب هله نږه بلل کېږي چې الله تعالی سره هيڅ ډول شريک ونه ګڼل شي او الله ﷻ ته په بندګۍ او عبادت کې هيچا ته ونډه ورنه کړي. الله سبحانه وتعالی سره به نه په ذات، نه په عبادت او نه په نومونو او صفتونو کې څه شريک ګڼي.

د اخلاص څه دليلونه وروسته د عبادت په لومړي شرط کې هم راروان دي.

او الله سبحانه وتعالی فرمايي:

((فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ))[1]

((نو د الله عبادت په داسې حال کې وکړه چې يواځې همغه ته دې طاعت او عبادت نږه کړی وي)).

او فرمايي:

((وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ))[2]

((او دوی ته يواځې په دې امر شوی دی چې په داسې حال کې د الله عبادت وکړي چې همغۀ ته يې عبادت او طاعت نږه کړی وي)).

او حديث کې راځي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ((إن الله حرم على النار من قال: لا إلــه إلا الله يبتغــي بــذلك وجــه الله عــزوجل))[3]

---

[1]- سورة الزمر: ۲.
[2]- سورة البينة: ٥.
[3]- رواه البخاري ومسلم.

((الله هغه څوک په اور حرام کړی دی چې ((لا إله إلا الله)) یې ویلي وي او په دې دالله عزوجل مخ او رضا لټوي)).

## (۷) محبت (مینه)

د ((لا إله إلا الله)) د پاکې کلمې بل پیاوړی او غښتلی شرط مینه ده چې مؤحد مؤمن به الله تعالی سره داسې پیاوړې، سوچه او نږه مینه کوي چې په دې مینې کې به هیڅوک نه شریکوي، څکه چې دا خپل معبود سره مینه ده ،که دا ډول مینه بل چا سره وشي ((لا إله إلا الله)) ړنګوي.

الله تعالی فرمایي:

((وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللّهِ أَندَاداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللّهِ وَالَّذِينَ آمَنُواْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلّهِ))[1]

((او له خلکو ځینې داسې دي چې له الله پرته نور شریکان نیسي او هغوی سره داسې مینه کوي لکه الله سره او مؤمنان الله سره ډېره پیاوړې مینه کوي)).

اللهﷻ سره د محبت له مقتضیاتو او غوښتنو نه د هغه د پیغمبر او مؤمنانو سره مینه او د هغهﷻ دښمنانو سره دښمني هم

[1] - سورة البقرة:١٦٥.

ده. په دې هکله قرآن او حدیثو کې زیات نصوص دي زمونږ کتاب: ((ملګري او غلیمان)) وګورئ په همدې موضوع لیکل شوی دی.

## (۸) صدق (ریښتینولي)

د ((لا إله إلا الله)) د سپیڅلې کلمې بل شرط ((صدق)) ریښتینولي ده. څوک چې دا پاکه کلمه وایي، په معنا یې پوهېږي او په دې د ګروهې دعوه کوي، نو هغه به په دې خپلې دعوې کې بشپړ ریښتونی وي او که ریښتونی نه وي نو هغه منافق بلل کېږي او د نفاق او منافقینو په هکله د قرآن او حدیثو زیات نصوص راغلي دي چې هغه د دې شرط دلیلونه دي.

او الله تعالی فرمایي:

((فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ))[1]

((نو الله به هرو مرو، خامخا هغه خلک په ګوته کړي چې ریښتیا یې ویلي دي او دروغجنان به هم هرومرو، خامخا په ګوته کړي)).

او الله تعالی فرمایي:

((وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ))[2]

(( ریښتینو سره ملګري شئ)).

---

[1]- سورة العنكبوت: ۳.

[2]- سورة التوبة: ۱۱۹.

او حديث کې راځي: معاذبن جبل رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «ما من أحد يشهد أن لا إله إلا الله و أن محمدا عبده ورسوله صدقا من قلبه إلا حرمه الله على النار».[1]

«هر څا چې د زړه له ريښتينولۍ نه د «لا إله إلا الله» او د دې ګواهي وکړه چې محمدﷺ د الله بنده او د هغه پيغمبر دی ،نو الله هغه په اور حرام کړ».

د ريښتينولۍ شرط خودومره څرګند او پياوړی دی چې هر څوک پرې پوهېږي، تر دې چې ماشومان هم پرې پوهېږي.

## (۹) إستقامت (تر اخره ټينګ پاتې کېدل)

نهم او د دې ټولو راټولوونکی، پياوړی کوونکی او ساتونکی شرط «استقامت» دی استقامت دې ته وايي چې د «لاإله إلا الله» په ټولو بنسټونو او شرطونو باندې تر مړينې ټينګ پاتې شې او هيڅ تردد او شک پکې ونه کړې او نه ترې ستون شې. دا شرط نور شرطونه داسې راټولوي، ټينګوي او ساتي لکه د ګلونو يوه ښکلې غونچه او ګېډۍ چې په يو غښتلي تار او مزي راوتړې او سره ټينګ يې کړې.

[1]- رواه البخاري ومسلم.

داستقامت په هکله الله تعالی فرمايي:

((إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلاَّ تَخَافُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ))[1]

((هغه خلک چې ويې ويل: زمونږ رب الله دی او بيا په دې ټينګ شول نو په هغوی پرښتې راښکته کېږي چې مه وېرېږئ، مه خپه کېږئ او په هغه جنت خوشحاله شئ چې تاسو سره يې ژمنه کېده))

او الله سبحانه وتعالى فرمايي:

((إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ))[2]

((هغه خلک چې ويې ويل: زمونږ رب الله دی او بيا په دې ټينګ شول نو نه به په هغوی وېره وي او نه به هغوی خپه کېږي)).

همدارنګه فرمايي:

((وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ))[3]

((تر هغه د خپل رب عبادت وکړه چې مرينه درته راشي)).

همدارنګه أبو عمرو وايي: ما رسول الله ﷺ ته وويل چې ماته په اسلام کې داسې يوه پخه خبره راوښيه چې له تا پرته هيچا نه

[1] - سورة حم السجدة (فصلت): ۳۰.
[2] - سورة الاحقاف: ۱۳.
[3] - سورة الحجر: ۹۹.

د هغې په هکله پوښتنه ونه کړم. هغه وفرمایل: ((قل ءامنت بالله ثم استقم)).[1]

((ووایه چې ما په الله ایمان راوړی دی او بیا په دې ټینګ پاتې شه)).

نو کله چې د ((لا إله إلا الله)) په ویونکي کې دا نهه شرطونه بشپړ شي، بیا یې د ویونکي عقیده د الله تعالی په توحید پیاوړې او پخه شي، بیا د دغه پیاوړې، درندې او سپیڅلې کلمې: ((لا إله إلا الله)) په هغه پیاوړتیا کره پوره ګروهمن شي چې حدیث کې یې دروندوالی او پیاوړتیا داسې راغلې ده:

عن أبي سعيد الخدری قال: قال رسول اللهﷺ: (( قال موسٰی: يارب! علمنی شيئاً أذكرك وأدعوك به. قال: (( قل يا موسٰی ((لا إله إلا الله)) قال: يا ربّ! كل عبادك يقولون هذا. قال: ((يا موسیٰ لو أن السماوات السبع و عامرهن غيري والأرضين السبع فی كفة و لا إله إلا الله فی كفة، مالت بهن لاإله إلاالله))[2]

أبو سعيد خدري‌ﷺ نه روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: (( موسیٰ‌ﷺ الله تعالی ته وویل: ای زما ربه! داسې څه راته رازده کړه چې تا پرې یادوم او تا پرې رابلم. الله تعالی ورته وفرمایل ((ای موسیٰ! ((لا إله إلا الله)) وایه)) هغه وویل: ((ای زما ربه! دا خو

---

[1] - رواه مسلم.
[2] - رواه إبن حبان و الحاكم.

ستا ټول بندګان وايي: هغه وفرمايل: ((اې موسیٰ! که دا اوه اسمانونه او له ما پرته د هغو اوسېدونکي او دا اوه ځمکې د تلې په يوه پله کې شي او ((لا إله إلا الله)) په بله پله کې شي نو ((لا إله إلا الله)) به پرې درنده شي)).

نو ((لا إله إلا الله)) د توحيد هغه پياوړې، سپېڅلې او درنده کلمه ده چې د الله تعالى د ټولو مخلوقاتو نه درنده ده او دا ځکه چې په دې کې د دې ټولو د خالق يو والی نغښتی دی.

## د سپېڅلې کلمې نومونه

د ((لا إله إلا الله)) د کلمې ډېر نومونه دي چې ځينې يې دا دي:

۱- الكلمة الطيبة (پاکه کلمه).

۲- كلمة التوحيد (د الله تعالی د يو والي کلمه).

۳- كلمة الإخلاص ( د نږه توب کلمه).

۴- كلمة النور (د رڼا کلمه).

۵- كلمة الإحسان (د ښېګړې او سپېڅلتيا کلمه).

۶- كلمة العدل (د انصاف کلمه).

۷- كلمة الحق (د حق کلمه).

۸- دعوة الحق (د حق بلنه).

۹- القول الطيب (پاکه خبره).

۱۰- الكلمة الثابتة ( جوته خبره).
۱۱- الكلمة الباقية (پاتې كېدونكې كلمه).
۱۲- كلمة السواء (د برابرۍ كلمه).
۱۳- كلمة التقوىٰ (د پرهېزګارۍ كلمه).
۱۴-كلمة النجاة ( د خلاصون كلمه).
۱۵-كلمة الله العليا ( د الله تعالی هسكه كلمه).
۱۶- كلمة العهد (د تړون كلمه).
۱۷- المثل الأعلى (لوړ او هسک ساری).
۱۸- كلمة الإستقامة (د ټينګار، غښتلتيا او ټينګ پاتې كېدو كلمه).
۱۹- الصراط المستقيم (سمه لار).
۲۰- مقاليد السماوات و الأرض (د اسمانونو او ځمكې كونجياني).
۲۱-كلمة الحسنى (د ښكلا او سپېڅلتيا ښكلې او پاكه كلمه).
۲۲- القول السديد (سمه غښتلې او پياوړې خبره).
۲۳- كلمة الصدق (د رښتينولۍ كلمه).
۲۴- الدين الخالص (نره دين).
۲۵- العروة الوثقىٰ (غښتلې او پياوړې غړۍ).
۲۶- كلمة البر (د نېكۍ كلمه).
۲۷- القول الثابت ( پياوړې، جوته او ثابته وينا).
۲۸- أفضل الذكر (تر ټولو ښه او غوره يادونه).
۲۹- بطاقة المؤمن ( د مؤمن پېژند پاڼه (كارډ).

۳۰- أحسن القول (تر ټولو ښه، پیاوړې او کره وینا).
۳۱- کلمة الله (د الله سبحانه وتعالی کلمه).

او دا ټول نومونه په قرآن کریم او صحیحو احادیثو کې ثابت دي چې مونږ د اختصار له کبله راوانه خیستل.

قرآن کریم ټول یواځې الله تعالی ته د الوهیت د اثبات نه ډک دی خو مونږ ځینې آیاتونه د بېلګو په توګه راوړو.

الله تعالی فرمایي:

((وَإِلَـهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ))[1]

(( او ستاسو معبود یو معبود دی لۀ هغۀ پرته بل معبود نشته چې ډېر زیات مهربان او خورا زیات لورونکی دی)).

((اللّهُ لا إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ))[2]

((الله هغه ذات دی چې لۀ هغۀ پرته بل معبود نشته چې ژوندی او تدبیر کوونکی دی)).

((هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ فِي الأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاء لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ))[3]

((هغه هغه ذات دی چې تاسو ته د مور پۀ خېټو کې داسې صورتونه درکوي چې خوښه یې شي لۀ هغۀ پرته بل معبود نشته چې غالب او د حکمت څښتن دی)).

---

[1]- سورة البقرة : ۱٦۳.
[2]- سورة البقرة: ۲۵۵. سورة آل عمران: ۲.
[3]- سورة آل عمران: ٦.

((شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ))[1]

((الله ګواه دی حقیقت دا دی چې له هغه پرته بل معبود نشته. پرښتې او په انصاف ولاړ د علم خاوندان هم ګواهي کوي له هغه پرته بل معبود نشته چې غالب او د حکمت څښتن دی)).

((لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُواْ إِنَّ اللّهَ ثَالِثُ ثَلاَثَةٍ وَمَا مِنْ إِلَـهٍ إِلاَّ إِلَـهٌ وَاحِدٌ وَإِن لَّمْ يَنتَهُواْ عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ))[2]

(( هغو خلکو بې شکه کفر کړی دی چې وايي: الله بې شکه د دريو دريم دی. او له يو معبود پرته بل کوم معبود نشته او که هغوی له هغو خبرو منع نه شي چې وايي يې خامخا به هغوی کافرانو ته دردناک عذاب ورسېږي)).

((وَإِذْ قَالَ اللّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَـهَيْنِ مِن دُونِ اللّهِ قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ إِن كُنتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلاَ أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ))[3]

((او هغه وخت ته پام وکړئ چې الله د مريم زوی عيسی ته وويل: آيا تا خلکو ته ويلي دي چې زه او زما مور له الله پرته دوه

---

[1]- سورة آل عمران: ۱۸.
[2]- سورة المائده ۷۳.
[3]- سورة المائدة: ۱۱٦.

معبودان ونيسئ؟ هغهٔ وويل: تهٔ پاک يې ماته دا اختيار نشته چې هغه څه ووايم چې زما حق نه دی، کهٔ ما ويلي وي نو تهٔ پرې پوه يې زما په زړهٔ کې چې څهٔ دي ته پرې پوهېږې او ستا په نفس کې چې څهٔ دي زه پرې نهٔ پوهېږم ،بې شکه ته چې يې يواځې همدا تهٔ پهٔ پټو ډېر زيات پوه يې)).

((قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادةً قُلِ اللّهُ شَهِيدٌ بِيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللّهِ آلِهَةً أُخْرَى قُل لاَّ أَشْهَدُ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَـهٌ وَاحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ))[1]

((ورته ووايه چې پهٔ ګواهۍ کې څه شی ډېر لوی دی؟ ورته ووايه چې: زما او ستاسو پهٔ منځ کې الله ګواه دی. او ماته د دې قرآن وحې د دې لپاره شوې ده چې تاسو او هغه خلک پرې ووېروم چې چا ته رسېدلی وي. آيا تاسو خامخا ګواهي کوئ چې الله سره نور معبودان دي؟ ورته ووايه چې زهٔ خو د دې ګواهي نهٔ کوم. ورته ووايه: حقيقت دا دی چې هغه يو معبود دی او زهٔ بې شکه لهٔ هغو معبودانو څخه بېزار يم چې تاسو يې ورسره شريکوئ)).

((قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلَى قُلُوبِكُم مَّنْ إِلَـهٌ غَيْرُ اللّهِ يَأْتِيكُم بِهِ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الآيَاتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ))[2]

---

[1]- سورة الانعام: ١٩.
[2]- سورة الانعام:٤٦.

((ورته ووایه: ماته دا ووایئ چې که الله ستاسو غوږونه او سترګې واخلي او ستاسو په زړونو مهر ولګوي نو لهٔ الله پرته به بل کوم معبود وي چې تاسو ته دا شیان راوړي؟ وګوره چې مونږ څرنګه آیاتونه بیانوو خو دوی بیا هم سرغړونه کوي)).

((لاَ إِلَـــهَ إِلاَّ هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ))[1]

((لهٔ الله پرته بل معبود نشته چې د هر شي پیدا کوونکی دی ،نو د هغهٔ عبادت وکړئ او هغه د هر شي ذمه وار دی)).

((اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُواْ إِلاَّ لِيَعْبُدُواْ إِلَـــهًا وَاحِدًا لاَّ إِلَـــهَ إِلاَّ هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ))[2]

((دوی خپل علماء، پیران او د مریم زوی مسیح له الله پرته پهٔ ربوبیت نیولي دي ،او دوی ته یواځې د دې امر شوی دی چې د یو معبود عبادت وکړي، لهٔ هغهٔ پرته بل معبود نشته هغه لهٔ هغو شریکانو پاک دی چې دوی یې ورسره شریکوي)).

الله تعالی موسی علیه السلام ته وفرمایل:

((إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلاَةَ لِذِكْرِي))[3]

[1]- سورة الانعام: ١٠٢.
[2]- سورة التوبة: ٣١.
[3]- سورة طه: ١٤.

((بې شکه زه الله يم له ماپرته بل معبود نشته نو زما عبادت وکړه او زما د ياد لپاره لمونځ وکړه)).

ټولو پيغمبرانو د يو الله عبادت ته بلنه ورکړې ده او دا ځکه چې د عبادت په مسئله کې زيات خلک ښويېږي او بې لارې کېږي.

الله تعالى فرمايي:

((وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلاَّ نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدُونِ))[1]

((او مونږ چې تا نه مخکې هر پيغمبر لېږلی دی هغهٔ ته مو وحې کوله چې لهٔ ما پرته بل معبود نشته نو زما عبادت وکړئ)).

((لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـهٍ غَيْرُهُ إِنِّيَ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ))[2]

((مونږ بې شکه نوح خپل قوم ته لېږلی ؤ نو هغهٔ وويل: اى زما قومه د الله عبادت وکړئ تاسو لپاره لهٔ هغهٔ پرته بل معبود نشته بې شکه زه پهٔ تاسو د لوی عذاب لهٔ راتګه وېرېږم)).

((وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُوداً قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـهٍ غَيْرُهُ أَفَلاَ تَتَّقُونَ))[3]

---

[1]- سورة الانبياء: ۲۵.
[2]- سورة الاعراف: ۵۹.
[3]- سورة الاعراف: ٦۵.

((او عادیانو ته مو د هغوی قومي: هود لېږلی ؤ هغه وویل: ای زما قومه د الله عبادت وکړئ تاسو لپاره له هغه پرته بل معبود نشته نو آیا تاسو خپل ځانونه نه ژغورئ؟))

((وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ))[1]

((او ثمودیانو ته مو د هغوی قومي: صالح لېږلی ؤ هغه وویل: ای زما قومه د الله عبادت وکړئ تاسو لپاره له هغه پرته بل معبود نشته تاسو ته بې شکه د خپل رب له لوري څرګند دلیل راغی)).

((وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَوْفُواْ الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلاَ تَبْخَسُواْ النَّاسَ أَشْيَاءهُمْ وَلاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاَحِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ))[2]

((او مدین ته مو د هغوی قومي: شعیب لېږلی ؤ هغه وویل: ای زما قومه د الله عبادت وکړئ تاسو لپاره له هغه پرته بل معبود نشته، تاسو ته بې شکه د خپل رب له لوري څرګند دلیل راغی نو پیمانه او تول پوره کړئ او خلکو ته د هغوی شیان مه کموئ او په زمکه کې ددې د اصلاح نه وروسته فساد مه کوئ ،که تاسو مؤمنان یئ نو دا تاسو لپاره غوره ده)).

---

[1] - سورة الاعراف: ۷۳.
[2] - سورة الاعراف: ۸۵

او زمونږ آخري پېغمبر خاتم النبين و المرسلين محمد ﷺ ته هم الله امر کوي چې:

((قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لا إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ يُحْيِـي وَيُمِيتُ فَآمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ))[1]

((ورته ووايه چې اى خلکو حقيقت دا دى چې زه تاسو ټولو لپاره د هغه الله له لوري پېغمبر يم چې د اسمانونو او زمکې اختيار يواځې د هغهٔ دی، له هغهٔ پرته بل معبود نشته، هغه مړهٔ کول او ژوندي کول کوي ،نو پهٔ الله او د هغهٔ پهٔ هغه نالوستي پېغمبر ايمان راوړئ چې په الله او د هغه پهٔ خبرو ايمان او باور لري او د دې لپاره چې سمه لار ومومئ ،د هغهٔ تابعداري وکړئ)).

نو ((لا إله إلا الله)) د توحيد هغه پاکه کلمه ده چې ټول پېغمبران د دې د رسولو لپاره رالېږل شوي وو، دهمدې کلمې په ويلو او د همدې د غوښتنې سره سم عقيده انسان د کفر او شرک له تپو تيارو راباسي او د اسلام په رڼا او روښانه لار يې ورسموي، همدا کلمه د هر عبادت لپاره يو پوخ او پياوړی بنسټ دی، د همدې کلمې د منلو لپاره د منکرانو په خلاف جهاد فرض شوی دی، همدا کلمه ده چې د هر نږدې سره ببلوي او د هر لرې سره رانږدې کوي، د همدې کلمې په منلو انسان له دنيوي او اخروي بدمرغيو،

---

۱- سورة الاعراف:۱۵۸.

بې لاريو، کړاوونو او کړو وړو نه ژغورل کېږي او د نېکمرغۍ، پاکۍ او خوشحالۍ په سمې او سپېڅلې لار روانېږي او د همدې کلمې په منلو انسان د کرامت، پت، عزت، عفت، عصمت، ننګ، غيرت، عزيمت، سپېڅلتيا، مېړانې، مروئت، سيادت، حرمت، حريت، اخلاقو او آدابو لوړو پوړيو باندې هسکېږي، د ناپوهۍ او جهل له تيارو د علم او تهذيب رڼا ته راوځي.......

ځرنګه چې هغوی عرب وو او د «لا إله إلا الله» په معنا پوهېدل نو ځکه يې انکار وکړ، او دا له دې امله چې په «لا إله إلا الله» باندې د هغوی ټول معبودان، بوتان، باباګان، منجاوري او ملنګي رنګېده او د يو الله توحيد پاتې کېدۀ او دا خبره د هغوی د عناديانو پۀ زړۀ نه ځايېده، نو ځکه يې د دغه سپېڅلې کلمې د منلو نه انکار وکړ. زمونږ د زمانې قبرپرستان چې د هرې ستونزې د حل او د ګټې د لاس ته راوړلو لپاره يې پۀ قبرونو ګومبزې جوړې کړې دي، جنډې يې پرې لګې کړې دي، منجاوران او ملنګان پکې ناست دي، خوردې او شکرانې راټولوي، منبتې او نذرونه ورته راځي او د شرک، کفر او بدعملۍ مرکزونه يې جوړ کړي دي، قبرونو نه يې روغتونونه جوړ کړي دي او د ناپوهو وګړيو ګروهې (عقيدې) او صحتونه يې رنګ ، تباه او برباد کړل، کۀ د «لا إله إلا الله» په معنا پوه شي نو يا به يې پۀ منلو سم نږه مؤحدين شي او يا به له عناده کلمه پرېږدي او بيا به يې نه وايي، ځکه چې د «لا إله إلا الله» سپېڅلې او پاکه کلمه د توحيد کلمه ده او د دې پۀ معنا باندې دا ټول زيارتونه، باباګان، منجاوران، ملنګان، منبتې او

نذرانې، خوردې او شكرانې، جنډې او ګومبزې، طاغوتان او وضعي قوانين، تعويذونه، بندونه، كونجكې، مرى، كوډې او نور ټول شركونه او خرافات رڼګېږي او لۀ منځه ځي.

عبادت د الوهيت په ترخ كې هم راغلى دى او د عبادت پۀ نوم هم پۀ قرآن كريم كې ځاى پۀ ځاى څرګند شوى او يواځې د الله تعالى حق ګڼل شوى دى. الله تعالى د فاتحې پۀ سورت كې مونږ ته لاربنوونه كوي چې تل او د هر لمانځه په هر ركعت كې ووايو چې:

((إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ))[1]

(( اى الله مونږ يواځې ستا عبادت كوو او يواځې لۀ تا مرسته غواړو)).

((يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ))[2]

((اى خلكو د دې لپاره چې خپل ځانونه وژغورئ ،د خپل هغه رب عبادت وكړئ چې تاسو او هغه خلک يې پيدا كړي دي چې له تاسو مخكې وو)).

((وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لاَ تَعْبُدُونَ إِلاَّ اللّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً وَذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسْناً وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلاَّ قَلِيلاً مِّنكُمْ وَأَنتُم مِّعْرِضُونَ))[3]

---

[1]- سورة الفاتحه:٥.
[2]- سورة البقرة:٢١.
[3]- سورة البقرة:٨٣.

((او هغه وخت ته پام وکړئ چې مونږ له بني اسرائيلو نه کلکه ژمنه واخيسته چې تاسو به له الله پرته د هيچا عبادت نۀ کوئ مور او پلار، خپلوانو،، يتيمانو او بې وزلانو سره به ښېګړه کوئ، خلکو ته ښۀ خبره وکړئ، کره پوره لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ بيا پۀ تاسو کې لۀ لږو پرته نورو شا کړه او تاسو مخ اړوونکي وئ)).

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُواْ لِلّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ))[1]

((اى مؤمنانو له هغو پاکو شيانو خورئ چې مونږ درکړي دي او کۀ يواځې د الله عبادت کوئ نو د هغه شکر وکړئ)).

((إِنَّ اللّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَـذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ))[2]

((الله بې شکه زما او ستاسو رب دی نو د هغۀ عبادت وکړئ همد اسمه لاره ده)).

((لَن يَسْتَنكِفَ الْمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبْداً لِّلّهِ وَلاَ الْمَلآئِكَةُ الْمُقَرَّبُونَ وَمَن يَسْتَنكِفْ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيهِ جَمِيعًا))[3]

((مسيح هېڅکله له دې سرغړونه نۀ کوي چې د الله بنده وي، او الله ته نږدې پرښتې هم دا بده نۀ ګڼي او چاچې د الله لۀ

[1]- سورة البقرة: ١٧٢.
[2]- سورة آل عمران: ٥١.
[3]- سورة النساء: ١٧٢.

عبادت څخه سرغړونه وکړه نو ډېر زر به یې خپل ځان ته ټول را ټول کړي».

«قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللّهِ مَا لاَ يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلاَ نَفْعًا وَاللّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ»[1]

«ورته ووایه آیا تاسو لهٔ الله پرته د هغو معبودانو عبادت کوئ چې نه تاسو ته د ضرر رسولو واک لري او نهٔ د ګټې، او الله ډېر ښه اورېدونکی او ډېر پوه دی».

«ذَلِكُمُ اللّهُ رَبُّكُمْ لا إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيل»[2]

«دا ستاسو رب دی لهٔ هغهٔ پرته بل معبود نشته چې د هر شي پیدا کوونکی دی نو د هغهٔ عبادت وکړئ او هغه په هر شي ځارونکی دی».

«أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ اللّهَ إِنَّنِي لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ»[3]

«له الله پرته به د بل چا عبادت نهٔ کوئ زهٔ بې شکه تاسو لپاره د هغهٔ له لوري وېروونکی او زېری ورکوونکی یم».

«قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي شَكٍّ مِّن دِينِي فَلاَ أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللّهِ وَلَـكِنْ أَعْبُدُ اللّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ»[4]

---

[1]- سورة المائدة: ٧٦.
[2]- سورة الانعام: ١٠٢.
[3]- سورة هود:٢.
[4]- سورة يونس: ١٠٤.

((ورته ووايه: اى خلكو! كه تاسو زما د دين په هكله په شک كې يئ نو زۀ د هغو معبودانو عبادت نه كوم چې تاسو يې لۀ الله پرته عبادت كوئ. زه خو يواځې د هغه الله عبادت كوم چې تاسو مړۀ كوي او ما ته امر شوى دى چې لۀ مؤمنانو څخه شم)).

((وَلِلّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ الأَمْرُ كُلُّهُ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ))[1]

(( او د اسمانونو او زمكې پټ رازونه يواځې الله لپاره دي او يواځې هغۀ پورې ټول كارونه اړه لري، نو د هغۀ عبادت وكړه او پۀ هغۀ خپل ځان وسپاره او ستا رب لۀ هغو كړو ناخبره نه دى چې تاسو يې كوئ)).

((وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاء وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ))[2]

(( او دوى ته يواځې د دې امر شوى ؤ چې پۀ داسې حال كې د يو الله عبادت وكړي چې هغۀ ته يې طاعت نږه كړى وي، باطل نه حق ته راګرځېدونكي وي، پوره كرۀ لمونځ وكړي او زكات وركړي او دا پياوړى دين دى)).

نو مؤحد او مؤمن به د يو الله عبادت كوي او لۀ هغه سره به د هغۀ په مخلوق كې هيڅوک او هيڅ شى هيڅكله نۀ شريكوي او په دې سربېره به د مشركانو او د هغوى د معبودانو نه د برائت او بېزارۍ اعلان هم كوي.

---

[1]- سورة هود: ۱۲۳.
[2]- سورة البينه: ۵.

الله تعالی فرمايي:

((لَقَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَاؤُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ)) [1]

((تاسو لپاره بې شکه په ابراهيم او هغه سره مؤمنانو کې ښۀ اقتدا ده چې کله هغوی خپل قوم ته وويل: مونږ بې شکه تاسو او ستاسو له هغو معبودانو څخه بېزار يوو چې تاسو يې له الله پرته عبادت کوئ مونږ لۀ تاسو انکار کړی دی او زمونږ او ستاسو تر منځ تل تر تله تر هغۀ دښمني او کينه څرګنده شوې ده تر څو چې تا سو پۀ يو الله ايمان راوړئ)).

او د الله سبحانه وتعالی عبادت به تل ترتله او تر مرګه کېږي. الله تعالی خپل آخري پېغمبر محمد رسول الله ﷺ ته فرمايي:

((وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ)) [2]

((او تر هغۀ د رب عبادت وکړه چې مرګ درته راشي)).

---

[1]ـ سورة الممتحنة: ٤.

[2]ـ سورة الحجر: ٩٩.

یعقوب علیه السلام خپلو بچو ته د الله تعالی د عبادت کولو وصیت کوي. الله تعالی فرمايي:

((أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاء إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِي قَالُواْ نَعْبُدُ إِلَـهَكَ وَإِلَـهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَقَ إِلَـهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ))[1]

((آیا تاسو حاضر وئ چې کله یعقوب ته مرګ راغی؟ کله چې هغهٔ خپلو بچو ته وویل: تاسو به لهٔ ما وروسته د څهٔ شي عبادت کوئ؟ هغوی وویل: مونږ به ستا د معبود او ستا د پلرونو: ابراهیم، اسماعیل او اسحاق د معبود عبادت کوو چې یو معبود دی او مونږ یواځې هغهٔ ته غاړه اېښودونکي یوو)).

او یواځې انسانان نه بلکه انسانان او پېریان ټول د الله د عبادت لپاره پیدا شوي دي.

الله تعالی فرمايي:

((وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ))[2]

((او مونږ پېریان او انسانان یواځې د دې لپاره پیدا کړي دي چې زما عبادت وکړي)).

او هر پېغمبر چې الله سبحانه وتعالی کوم امت ته لېږلی ؤ نو هغوی یې د الله عبادت ته رابللي وو.

الله تعالی فرمايي:

---

[1]- سورة البقرة: ١٣٣.

[2]- سورة الذاريات: ٥٦.

((وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ))[1]

((او مونږ بې شکه په هر امت کې په دې خبره پېغمبر لېږلی ؤ چې د الله عبادت وکړئ او طاغوت نه خپل ځانونه وژغورئ)).

د ((طاغوت)) معنا او ډولونه وروسته د ((تحاکم)) په بحث کې راځي او مخکې د کلمې په شرطونو کې هم تېره شوه.

او الله تعالی رسول اللهﷺ ته فرمايي:

((قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللّهَ وَلا أُشْرِكَ بِهِ إِلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ مَآبِ))[2]

((ورته ووايه: ماته بې شکه امر شوی دی چې د الله عبادت وکړم او هغه سره شريک پيدا نه کړم يواځې هغه ته خلک رابلم او يواځې همغه ته د ورګرځېدو ځای دی)).

او فرمايي:

((وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللّهِ مَا لاَ يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ شَيْئًا وَلاَ يَسْتَطِيعُونَ))[3]

((او دوی له الله پرته د هغو عبادت کوي چې دوی لپاره له اسمان او زمکې څخه د هيڅ روزۍ واک نه لري او نه څه کولی شي)).

---

[1]- سورة النحل: ٣٦.
[2]- سورة الرعد: ٣٦.
[3]- سورة النحل: ٧٣.

او فرمايي:

((وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلاً كَرِيمًا))[1]

((او ستا رب پرېکړه کړې ده چې له هغه پرته به د بل هېڅا عبادت نه کوئ او مور او پلار سره به ښېګړه کوئ. که تاسره په هغوی کې يو يا دواړه زړبودي ته ورسېدل نو بيا ورته مه د اندېښني خبره کوه او مه يې رټه او دواړو ته د احترام خبرې کوه)).

(( وَ إِنَ اللهَ رَبّيْ وَرَبكُمْ فَاعْبُدُوْهُ هَذَا صِرَاطٌ مسْتَقِيْم ))[2]

(( او الله بې شکه زما او ستاسو رب دی نو د هغه عبادت وکړئ همدا سمه لار ده )).

او موسیٰ عليه السلام ته الله تعالی وفرمايل:

((إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلاَةَ لِذِكْرِي))[3]

((زه بې شکه الله يم له ما پرته بل معبود نشته نو زما عبادت وکړه او زما يادولو لپاره کره پوره لمونځ وکړه)).

او الله تعالی ټولو پېغمبرانو ته دا حکم کړی ؤ چې زما عبادت وکړئ:

---

[1]- سورة الاسراء: ۲۳.
[2]- سورة مريم: ۳٦..
[3]- سورة طه : ۱٤.

((وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلاَّ نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدُونِ))[1]

(( او مونږ چې له تا مخکې هر پيغمبر لېږلی دی هغۀ ته مو وحې کړې ده چې لۀ ما پرته بل معبود نشته نو زما عبادت وکړئ)).

او فرمايي:

((إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ))[2]

((دا ستاسو امت بې شکه يو امت دی او زۀ ستاسو رب يم نو زما عبادت وکړئ))

او د نورو باطلو معبودانو د عبادت پۀ هکله فرمايي:

((وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِ عِلْمٌ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ))[3]

((او دوی لۀ الله پرته د هغو عبادت کوي چې نۀ پرې الله دليل رالېږلی دی او نه دوی ته پرې علم شته او ظالمانو لپاره هيڅ کوم مددګار نشته)).

او فرمايي:

((وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لاَ يَنفَعُهُمْ وَلاَ يَضُرُّهُمْ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلَى رَبِّهِ ظَهِيرًا))[4]

---

[1] ـ سورة الانبياء:۲۵.
[2] ـ سورة الانبياء: ۹۲.
[3] ـ سورة الحج: ۷۱.
[4] ـ سورة الفرقان: ۵۵.

((لهٔ الله پرته د هغو عبادت کوي چې نه ورته ګټه رسولی شي او نهٔ ضرر .او کافر د خپل رب پهٔ خلاف ملاتړ کوونکی دی)).

او رسول الله ﷺ ته فرمایي:

((قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ))[1]

((ورته ووایه چې ماته بې شکه امر شوی دی چې پهٔ داسې حال کې د الله عبادت وکړم چې هغهٔ ته د خپل طاعت نږه کوونکی یم)).

د قیامت په ورځ به الله تعالی مشرکان اود هغوی معبودان راټول کړي او وبه یې پوښتي:

((وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ فَيَقُولُ أَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي هَؤُلَاء أَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيلَ قَالُوا سُبْحَانَكَ مَا كَانَ يَنبَغِي لَنَا أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَاء وَلَكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَآبَاءهُمْ حَتَّى نَسُوا الذِّكْرَ وَكَانُوا قَوْمًا بُورًا))[2]

(( او پهٔ هغه ورځ چې دوی او لهٔ الله پرته یې چې د چا عبادت کاوه، سره راټول کړي نو ورته وبه فرمایي: آیا تاسو زما دغه بندګان بې لارې کړي وو او کهٔ دوی خپله سمه لار ورکه کړې وه؟ هغوی به ووایي: تهٔ پاک یې مونږ ته دا مناسب نهٔ دي چې لهٔ تا پرته نور مددګاران او باداران ونیسو . خو تا دوی او د دوی پلرونو ته تر

---

[1]- سورة الزمر: ۱۱.

[2]- سورة الفرقان: ۱۷- ۱۸.

هغه د ژوند اسانتیاوې ورکړې وې چې ستا یاد یې هېر کړ او هلاکېدونکی قوم شول».

## د عبادت معنیٰ

اوس چې کله دا ثابته شوه چې عبادت د توحید یوه برخه ده، ټولو پېغمبرانو خلک د الله تعالی عبادت ته رابللي دي، پېریان او انسانان د عبادت لپاره پیدا شوي دي، لهٔ الله تعالی پرته د بل چا یا بل شي عبادت کول شرک دی او عبادت تر مرګه کول دي؛ نو عبادت باید وپېژنوو.

عبادت پهٔ لغت کې بندګۍ، خوارۍ، لمانځنې او عاجزۍ ته ویل کېږي.

او په اصطلاح کې د الله تعالی بندګۍ، د هغهٔﷻ پهٔ وړاندې خپل ځان عاجز ګڼلو، د هغهٔﷻ لمانځنې او هر پټ او ښکاره عمل پهٔ هغه ډول کولو ته عبادت ویل کېږي چې الله سبحانه وتعالی پرې راضي کېږي.

نو ښکاره شوه چې یواځې لمونځ، روژه، زکات، حج او ...... عبادت نهٔ دی بلکه دا د عبادت له ګڼو ډولونو څخه څهٔ ډولونه دي.

مونږ کال دولس میاشتې، څلرویشت ساعته شپه او ورځ ټول عمر تر مرګه د عبادت لپاره پیدا شوي یوو او پهٔ دې کې داسې یوه شېبه هم نشته چې پهٔ هغې کې د عبادت او بندګۍ لهٔ غړوندي

ازاد يوو، نو خپل ټول ژوند او د ژوند هر اړخ : ويښه او خوب، ناسته او ولاړه، خوراک او څښاک، صنعت او تجارت، حرفت او زراعت، حکومت او سياست، اړيکې او سلوک، فرهنګ او ثقافت، سيرت او صورت..... داسې عيارول، څرګندول او برابرول چې الله تعالى پرې راضي کېږي دا عبادت دی.

او الله تعالى په هغه کار راضي کېږي چې هغه د اسلامي شريعت: قرآن او سنت د لارښوونو سره سم وي.

اوس نو که چا لمونځ وکړ خو د اسلام د لارښوونې سره سم نه ؤ نو هغه عبادت ونه کړ بلکه ګناه يې وکړه او که د ساري په توګه: انساني حاجت يې پوره کړ (اودس ماتی يې وکړ) يايې خپلې ښځې سره کور والی وکړ خو د اسلام د لارښوونو سره سم يې وکړ نو عبادت يې وکړ.

## د عبادت د قبول شرطونه

د عبادت د قبول لپاره دوه عمده او بنسټيز شرطونه دي چې که دا دواړه شرطونه په کوم عبادت کې بشپړ شوي وو نو هغه د الله تعالى په دربار کې قبول دی او که نه وو نو هغه عبادت د قبول وړ نه دی او دا دواړه شرطونه له ايمان نه وروسته دي.

هغه دوه شرطونه دا دي:
(۱) إخلاص.
(۲) إتباع.

## لومړی: إخلاص

د عبادت د قبول لپاره لومړی شرط دا دی چې إخلاص به پکې وي او إخلاص دې ته وايي چې يواځې او نېږه د الله تعالی به وي او هيڅوک به پکې شريک نهٔ وي.
دا شرط مخکې هم د ګڼو نصوصو په ترځ کې څرګند شو.
الله تعالی فرمايي:
((وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ))[1]
(( او دوی ته يواځې د دې امر شوی دی چې په داسې حال کې د الله عبادت وکړي چې هغهٔ ته د طاعت نږه کوونکي وي)).
او الله تعالی فرمايي:
((وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا))[2]
((د الله عبادت وکړئ او هغهٔ سره هيڅ شی مهٔ شريکوئ)).
معنا دا چې عبادت يواځې هغهٔ ﷻ ته نږه کړئ.

[1]- سورة البينة: ٥.
[2]- سورة النساء: ٣٦.

او فرمايي:

((قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلاَ يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا))[1]

((ورته ووايه: زه بې شکه تاسو غوندې بشر (انسان) يم ماته د دې وحې کېږي چې ستاسو معبود بې شکه يو معبود دی نو څوک چې د خپل رب سره د مخ کېدو هيله لري نو نېک عمل دې وکړي او د خپل رب عبادت کې دې هېڅوک نه شريکوي)).

نو نېک عملونه عبادت دی او عبادت هغه وخت د قبول وړ دی چې يواځې الله تعالى لپاره وي او هيڅوک پکې شريک نه وي.

او فرمايي:

((فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ أَلاَ لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ))[2]

((نو پهٔ داسې حال کې د الله عبادت وکړه چې هغهٔ ته دې طاعت نږه کړی وي. په دې خبر اوسئ چې نږه طاعت يواځې الله لپاره دی)).

او فرمايي:

((قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِينَ))[3]

---

[1] - سورة الكهف: ۱۱۰.
[2] - سورة الزمر: ۲-۳.
[3] - سورة الزمر: ۱۱.

((ورته ووایه چې ماته بې شکه د دې امر شوی دی چې په داسې حال کې د الله عبادت وکړم چې اطاعت مې یواځې هغهٔ ته نږه کړی وي او ماته امر شوی دی چې تر ټولو لومړی غاړه ایښودونکی شم)).

((قُلِ اللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُ دِينِي))[1]

(( ورته ووایه چې زهٔ پهٔ داسې حال کې د الله عبادت کوم چې هغهٔ ته د خپل طاعت نږه کوونکی یم))

((هُوَ الْحَيُّ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ))[2]

((هغه ژوندی دی لهٔ هغهٔ پرته بل معبود نشته نو هغه پهٔ داسې حال کې راوبلئ چې د هغهٔ لپاره د طاعت نږه کوونکي اوسئ)).

## دوهم: إتباع

د عبادت د قبول لپاره دویم شرط إتباع ده. اتباع د رسول اللهﷺ تابعداري ته وایي نو هغه عبادت د قبول وړ دی چې هغه د رسول اللهﷺ د لارښوونې سره سم وي او د رسول اللهﷺ اتباع چې په کوم عبادت کې نهٔ وي هغه په اسلام کې عبادت نه بلکه بدعت ګڼل کېږي

---

[1]- سورة الزمر: ١٤.
[2]- سورة مومن: ٦٥.

حديث کې راځي:

عائشې ﷺ نه روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: ((من أحدث في أمرنا هذا ماليس منه فهو رد))[1]

((چاچې زمونږ په دې دين کې کوم نوی کار پيدا کړ هغه مردود دی)).

نوی کار هغه دی چې د رسول اللهﷺ په وخت کې نه وي شوی او د هغهٔ إتباع پکې نه وي او د ثواب په نيت کېږي نو دا عبادت نه بلکه بدعت دی.

حديث کې راځي: جابرﷺ نه روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

((و شر الأمور محدثاتها و كل محدثة بدعة و كل بدعة ضلالة و كل ضلالة في النار))[2]

((او د دين په کارونو کې ډېر ناوړه کارونه هغه دي چې نوي وي او هر نوی بدعت د ی او هر بدعت بې لازي ده او هر بې لار ي به په اور کې وي)).

د همدې او نورو دلائلو نه فقهاؤ دا اصل او قاعده رااېستلې ده چې اصل په عبادت کې تحريم دی معنا دا چې ټول عبادتونه حرام دي يواځې هغه عبادت ثواب دی چې صواب وي يعنې دليل ولري.

---

[1] - رواه البخاري ومسلم.
[2] - رواه مسلم.

دا هم د الله تعالی یوه لوربنه ده چې په دین کې یې له ځانه د نوي عبادت د بنسټ ایښودلو لارې تړلې دي.

که داسې نه وای او هر چاته د عبادت د نویو ډولونو او نویو لارو د راایستلو اجازه وای او هغه دین او عبادت ګڼل کېدی نو د دین نه به داسې یو شی جوړ شوی ؤ چې د انسان په وس کې به د هغه په ځای کول او عملي کول نه وو. نو دین پوره دی او داسې پوره دی چې نه زیاتی او بدعت پکې ځایېږي او نه کمی او نقصان مني.

الله تعالی فرمایي:

«الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا»[۱]

«نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دین بشپړ کړی دی او په تاسو مې خپل نعمت پوره کړی دی او تاسوته مې اسلام د دین او قانون په حیث خوښ کړی دی».

دین چې کله پوره شوی دی په دې کې اوس نه زیاتی کول روا دي او نه پکې کمی او نقصان کول روا دي.

نو څرګنده شوه چې عبادت کې د رسول الله ﷺ اتباع ډېره ضروري ده او همدا اتباع د عبادت د قبول لپاره دوهم اساسي او بنسټیز شرط دی او د رسول الله ﷺ اتباع د ژوند په ټولو اړخونو کې فرض او ضروري ده. او د الله تعالی محبت هم د رسول ﷺ اتباع کې دی.

---

[۱]- سورة المائدة: ۳.

الله تعالی فرمايي:

((قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ قُلْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَالرَّسُولَ فإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبُّ الْكَافِرِينَ))[1]

(( ورته ووايه: که تاسو د الله سره مينه لرئ نو زما تابعداري وکړئ الله به تاسو سره مينه وکړي او ګناوې به مو درووبښي. الله ډېر ښنونکی او خورا زيات لوروونکی دی)).

او اِتباع د رحم لامل او لويه برياده:

((وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ))[2]

(( او دې لپاره چې رحم درباندې وشي د الله او د هغهٔ د رسول ومنئ)).

((تِلْكَ حُدُودُ اللّهِ وَمَن يُطِعِ اللّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ))[3]

((دا د الله بريدونه دي او چا چې د الله او د هغهٔ د پېغمبر ومنل نو هغو جنتونو ته به يې ننباسي چې ويالې پکې بهېږي تل به پکې وي او دا لويه بريا ده)).

د شخړو، جګړو او اختلافونو په حل کې هم د الله تعالی او د پېغمبر طاعت فرض دی:

---

[1]- سورة آل عمران: ۳۱- ۳۲.
[2]- سورة آل عمران: ۱۳۲.
[3]- سورة النساء: ۱۳.

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ منكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً))[1]

((اى مؤمنانو! د الله ومنئ او د هغهٔ د پېغمبر او هغو اميرانو ومنئ چې لهٔ تاسو وي. که پهٔ څهٔ شي کې مو شخړه وکړه نو که په الله او د قيامت پهٔ ورځ ايمان لرئ نو الله او پېغمبر ته يې پرېکړه وروړئ دا ډېر ښهٔ کار دی او ډېرې ښې پايلې (نتيجې) لري)).

د الله طاعت مستقل، بې قيده او بې شرطه دی او د پېغمبر طاعت هم د الله لهٔ طاعته دی ځکه چې الله تعالى فرمايي:

((مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّهَ وَمَن تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا))[2]

(( چا چې د پېغمبر ومنل نو هغهٔ بې شکه د الله ومنل او څوک چې شاته وګرځېد نو مونږ تهٔ په هغوی ساتونکی نه يې لېږلی)).

او دا ځکه چې پېغمبر لهٔ الله څخه سرغړونه نهٔ کوي او نهٔ لهٔ ځانه څهٔ وايي:

((وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحَى))[3]

((او پېغمبر لهٔ خپله ځانه خبرې نهٔ کوي دا يواځې وحې ده چې ورته کېږي)).

[1]- سورة النساء: ٥٩.
[2]- سورة النساء: ٨٠.
[3]- سورة النجم: ٣ - ٤.

خو د امیرانو طاعت مستقل نهٔ دی بلکه هغه مشروط او مقید دی.

د امیرانو پهٔ طاعت کې یو قید دا دی چې ((منکم)) ((چې له تاسو وي)) معنادا چې مسلمان وي او بل شرط دا دی چې د هغهٔ امر د اسلام د لارښوونو سره سم وي او د الله تعالی او د هغهٔ د پیغمبر مخالفت پکې نه وي. لکه چې حدیث کې راځي:

علی ﷺ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (( لا طاعة في معصية الله إنما الطاعة فى المعروف))[1]

((د الله په نافرمانۍ کې د هیچا منل او طاعت نشته طاعت یواځې په نېکیو کې دی))

د اختلاف پهٔ وخت کې الله او د هغهٔ پیغمبر ته فیصلې وړل دا معنا چې په قرآن او حدیثو فیصلې کول.

پهٔ قرآن او حدیثو (اسلامي شریعت) فیصلې نهٔ کول، فیصلې نهٔ وروړاندې کول او فیصلې یې نه خوښول کفر دی چې پهٔ دې کفر کې نن ډېر د نوم مسلمانان اخته شوي دي حتی چې ډېر ملانما او عالم نما شخصیتونه د پیغمبر پرېکړه نهٔ مني او طاغوتانو ته پرېکړې وروړي.

الله تعالی فرمايي:

((فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا))[2]

---

[1] - رواه البخاري ومسلم و ابوداود والنسائي .
[2] - سورة النساء: ٦٥.

((نو داسې نه ده لکه دوی يې چې ګمان کوي ستا په رب قسم دی چې دوی تر هغه مؤمنان کېدی نهٔ شي تر څو چې تا په هغو جګړو کې حاکم او منځګړی ونه ګڼي چې د دوی تر منځ پيدا شوې دي او بيا چې تا کومه پرېکړه کړې وي د هغې په هکله په زړونو کې تنګي هم ونهٔ مومي او پوره غاړه کېښږدي)).

د رسول الله ﷺ طاعت د الله تعالی طاعت دی او د رسول الله ﷺ احاديث منل د قرآن منل دي حديث کې راځي:

**عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قال: ((لعن الله الواشمات والمستوشمات والمتنمصات والمتفلجات للحسن المغيرات خلق الله فجاءته إمرأة فقالت : إنه بلغني أنك لعنت كيت وكيت، فقال: مالى لا ألعن من لعن رسول الله ﷺ و من هو فى كتاب الله. فقالت: لقــد قرأت ما بين اللوحين فما وجدت فيه ما تقول. قال: لئن كنتِ قرأتيه لقد وجدتيه. أما قرأت: (( ما أتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا)) قالت: بلى. قال: فإنه قد نهى عنه))**[1]

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه وويل: ((په شنو خالونو لګوونکيو او دشنو خالونو غوښتونکيو ښځو، د وروځو او مخ نه د وېښتانو ايستونکيو ښځو او د ښکلا لپاره د غاښونو ازادوونکيو ښځو باندې دې الله لعنت وکړي چې د الله جل جلاله د

[1] - رواه البخارى ومسلم.

پیداوښت بد لوونکې وي. یوه ښځه ورته راغله او ویې ویل: زه خبره شوې یم چې تا په داسې باندې لعنت ویلی دی. هغه وویل: زه به په هغه چا ولې لعنت نه وایم چې رسول اللهﷺ پرې لعنت ویلی دی او چې څوک د الله په کتاب کې شته؟! هغې ورته وویل: ما خو د دوه پوخونو منځ کې ټول قرآن لوستی دی ته چې څه وایې دا مې پکې نه دي موندلي. هغه ورته وویل: که تا لوستی وي نو خامخا به دې پکې ذا لوستي وي چې: ((پیغمبر چې څه درکړي وي هغه واخلئ او له څهٔ شي یې چې منعه کړي یئ له هغې منع شئ)) هغې وویل: ولې نه ((لوستې مې دي)) هغه ورته وویل: نو رسول اللهﷺ له دغو کارونو نه منع کړې ده)).

د الله او د هغهٔ د پیغمبر د طاعت په هکله فرمایي: چې اطاعت کوونکي به د پیغمبرانو، رېښتینو، شهیدانو او صالحانو ملګري وي.

((وَمَن يُطِعِ اللّهَ وَالرَّسُولَ فَأُوْلَـئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاء وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَـئِكَ رَفِيقًا))[1]

((او چاچې دالله او د پیغمبر ومنل نو هغوی د هغو خلکو ملګري دي چې الله پرې پېرزوینه کړې ده چې هغه پیغمبران، رېښتیني، شهیدان او نېکان دي، او دوی ښهٔ ملګري دي)).

[1] - سورة النساء ٦٩.

((وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَاحْذَرُواْ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُواْ أَنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلاَغُ الْمُبِينُ))[1]

((او د الله ومنئ، د پېغمبر ومنئ او ووېرېږئ؛ كهٔ سرغړونه مو وکړه نو پوه شئ چې زمونږ پهٔ پېغمبر ځرګند رسول دي)).

او د پېغمبر ﷺ پهٔ تابعدارۍ کې دا سې هدايت دی:

((قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لا إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ يُحْيِـي وَيُمِيتُ فَآمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ))[2]

((ورته ووايه چې ای خلکو! زهٔ بې شکه تاسو ټولو ته د هغه الله پېغمبر يم چې د اسمانونو او زمکې ټولواکي يواځې د هغهٔ ده، لهٔ هغهٔ پرته بل معبود نشته چې ژوندي کول او مړهٔ کول کوي. نو پهٔ الله او د هغه پهٔ هغه نالوستي پېغمبر ايمان راوړئ چې پهٔ الله او د هغهٔ پهٔ خبرو ايمان راوړي او د دې لپاره چې سمه لار ومومئ، د پېغمبر تابعداري وکړئ)).

د الله تعالی او پېغمبر طاعت د ايمان شرط دی:

((وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ))[3]

((او که مؤمنان يئ نو د الله او د پېغمبر ومنئ)).

طاعت فرض او سرغړونه ناروا ده:

---

[1]- سورة المائدة:۹۲.
[2]- سورة الاعراف:۱۵۸.
[3]- سورة الانفال:۱.

((وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَاحْذَرُواْ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُواْ أَنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلاَغُ الْمُبِينُ))[1]

((او د الله ومنئ، د پېغمبر ومنئ او ووېرېږئ؛ که سرغړونه مو وکړه نو پوه شئ چې زمونږ په پېغمبر څرګند رسول دي)).

او د پېغمبرﷺ په تابعدارۍ کې دا سې هدايت دی:

((قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لا إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ يُحْيِـي وَيُمِيتُ فَآمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ))[2]

((ورته ووايه چې ای خلکو! زه بې شکه تاسو ټولو ته د هغه الله پېغمبر یم چې د اسمانونو او زمکې ټولواکي يواځې د هغه ده، له هغه پرته بل معبود نشته چې ژوندي کول او مړه کول کوي. نو په الله او د هغه په هغه نالوستي پېغمبر ايمان راوړئ چې په الله او د هغه په خبرو ايمان راوړي او د دې لپاره چې سمه لار وموميئ، د پېغمبر تابعداري وکړئ)).

د الله تعالی او پېغمبر طاعت د ايمان شرط دی:

((وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ))[3]

((او که مؤمنان يئ نو د الله او د پېغمبر ومنئ)).

طاعت فرض او سرغړونه ناروا ده:

---

[1] ـ سورة المائدة: ۹۲.
[2] ـ سورة الاعراف: ۱۵۸.
[3] ـ سورة الانفال: ۱.

((یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ أَطِیعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ))[1]

((ای مؤمنانو د الله او د پیغمبر ومنئ او په داسې حال کې چې تاسو اورئ له هغه سرغړونه مه کوئ))

د الله تعالی او پیغمبر ومنئ او د پیغمبر بلنه کې ژوند دی

((یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ اسْتَجِیبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا یُحْیِیكُمْ))[2]

((ای مؤمنانو کله مو چې هغه څه ته رابلي چې تاسو ژوندي کوي نو د الله او د پیغمبر بلنه ومنئ))

اطاعت وکړئ او خلاف مه کوئ چې ناکامي ده:

((وَأَطِیعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِیحُكُمْ وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِینَ))[3]

((د الله او د پیغمبر ومنئ او جګړې مه کوئ چې ناکام به شئ او قوت به مو لاړ شي او صبر وکړئ الله بې شکه صبر کوونکیو سره دی))

مؤمن به الله تعالی او د هغه پیغمبر ته په بشپړه توګه غاړه ږدي

((إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِینَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِیَحْكُمَ بَیْنَهُمْ أَن یَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ))[4]

---

[1] - سورة الانفال: ۲۰.
[2] - سورة الانفال: ۲٤.
[3] - سورة الانفال: ٤٦.
[4] - سورة النور: ٥١.

((مؤمنان چې کله الله او د هغهٔ پېغمبر ته د دې لپاره راوبلل شي چې د هغوی په منځ کې پرېکړه وکړي نو د هغوی وینا دا وي چې مونږ واورېدل او ومو منل او همدوی بریالي دي)).

طاعت بریا او هدایت دی:

((وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَخْشَ اللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ))[1]

((او چا چې دالله او د هغهٔ د پېغمبر ومنل او د الله نه ووېریدهٔ او خپل ځان یې ورځخه وژغورهٔ نو همدوی بریالي دي)).

((قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِن تَوَلَّوا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُم مَّا حُمِّلْتُمْ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلاَّ الْبَلاَغُ الْمُبِينُ))[2]

((ورته ووایه: د الله ومنئ او د پېغمبر ومنئ؛ که هغوی سرغړونه وکړه نو په پېغمبر بې شکه هغه مسؤلیت دی چې ورپهٔ غاړه دی او پهٔ تاسو هغه مسؤلیت دی چې درپهٔ غاړه دی او کهٔ تاسو د پېغمبر ومنئ نو سمه لار به ومومئ او په پېغمبر یواځې څرګند رسول دي)).

د پېغمبر اتباع د رحم لامل دی:

((وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ))[3]

---

[1] - سورة النور: ٥٢.
[2] - سورة النور: ٥٤.
[3] - سورة النور: ٥٦.

((او د دې لپاره چې رحم در باندې وشي، پوره کره لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او د پيغمبر ومنئ))

((وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَـئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ))[1]

((مؤمنان او مؤمنانې ځينې د ځينو دوستان دي چې په نېکيو به امر کوي، له بديو به منع کوي، پوره کره لمونځ به کوي، زکات به ورکوي او د الله او د هغۀ د پيغمبر بۀ مني، الله به ډېر زرېۀ دوی رحم وکړي، الله بې شکه غالب او د حکمت څښتن دی))

د پيغمبر اتباع پۀ هر څۀ کې ده:

((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا))[2]

(( تاسو لپاره بې شکه د الله پۀ پيغمبر کې ښۀ تابعداري ده او دا د هغه چا لپاره ده چې د الله او د قيامت سره د مخ کېدو هيله لري او الله يې ډېر ياد کړی وي))

اګر چې ښځې پۀ هر ځای او هر خطاب کې د نارينه و سره شريکې دي يواځې پۀ قرينې او دليل ترې مستثنیٰ کېدی شي خو

---

[1]- سورة التوبه: ۷۱.
[2]- سورة الاحزاب: ۲۱.

د الله تعالی او د پیغمبر پهٔ طاعت کې ښځو ته ځانګړی حکم هم شوی دی.

الله تعالی فرمايي:

«وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلاَةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ»[1]

«او په خپلو کورو کې اوسئ، د پخواني جاهلیت د بې سترۍ پهٔ څېر بې ستري مهٔ کوئ، کره پوره لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او د الله او د هغهٔ د پېغمبر ومنئ»

بل آیة کې فرمايي چې د الله او د هغهٔ د رسول منل بریاده:

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلاً سَدِيدًا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا»[2]

«ای مؤمنانو! الله نه خپل ځانونه وژغورئ اوسمه وینا وکړئ، ستاسو عملونه به درته اصلاح کړي او ګناوې به مو دروبښي. چاچې د الله او د هغهٔ د پېغمبر ومنل نو هغه بې شکه پهٔ لويه بريا بريالی شو»

کوم عمل کې چې د الله تعالی او د هغهٔ د پېغمبرﷺ اطاعت نهٔ وي هغه باطل دی.

---

[1] - سورة الاحزاب: ۳۳.
[2] - سورة الاحزاب: ۷۰- ۷۱.

الله تعالی فرمایي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلاَ تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ))[1]

((ای مؤمنانو! د الله او د پېغمبر ومنئ او خپل عملونه مهٔ بربادوئ))

معنا دا چې که د الله تعالی او د پېغمبرﷺ مو ونهٔ منل نو عملونه به مو باطل او برباد شي. بل ځای کې فرمایي چې د الله تعالی او د پېغمبرﷺ منونکي ته جنت او سرغړوونکي ته عذاب دی:

((وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ وَمَن يَتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا أَلِيمًا))[2]

((او چا چې د الله او د هغهٔ د پېغمبر ومنل نو داسې جنتونو ته به يې ننباسي چې ويالې به پکې بهېږي او چاچې سرغړونه وکړه نو هغهٔ لپاره درد ناک عذاب دی))

او منونکي ته پوره بدله ده لکه چې فرمایي:

((وَإِن تُطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ لاَ يَلِتْكُم مِّنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ))[3]

((او کهٔ د الله او د هغهٔ د پېغمبر ومنئ نو ستاسو لهٔ ښو عملونو به هېڅ شی کم نه کړي الله بې شکه ډېر بښونکی او خورا زيات لورووونکی دی))

---

[1]- سورة محمد: ۳۳.
[2]- سورة الفتح: ۱۷.
[3]- سورة الحجرات: ۱۴.

«فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ»[۱]

«نو پوره کړه لمونځ وکړئ او د الله او دهغهٔ د پيغمبر ومنئ او الله په هغو کړو ښهٔ خبر دی چې تاسو يې کوئ».

بل ځای کې د پيغمبر ﷺ منل پهٔ هر څه کې فرض ګڼل کېږي او مخالفت يې ناروا.

«وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ»[۲]

«او څه چې پيغمبر درکړي وي وايې خلئ او له کوم شي نه يې چې منع کړي يئ نو منع شئ او الله نه خپل ځانونه وژغورئ الله بې شکه د سخت عذاب څښتن دی».

«وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ»[۳]

«او د الله او د پيغمبر ومنئ او که سرغړونه مو وکړه نو زمونږ په پيغمبر بې شکه څرګند تبليغ دی».

په قرآن کريم کې ځای پهٔ ځای د الله سبحانه وتعالی او د پيغمبر ﷺ په منلو حکم شوی دی او د پيغمبر ﷺ اتباع د عبادت او نېکو اعمالو د قبول لپاره شرط ګڼل شوی دی او د ټولو پيغمبرانو امتونو ته د خپل پيغمبر په اتباع او طاعت امر شوی دی.

---

[۱]- سورة المجادلة: ۱۳.
[۲]- سورة الحشر: ۷.
[۳]- سورة التغابن: ۱۲.

الله تعالى فرمايي:

((وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّهِ))[١]

((او مونږ هر پېغمبر د دې لپاره لېږلى دى چې د الله په حكم د هغهٔ تابعداري وشي)).

د قيامت پهٔ ورځ بهٔ الله تعالى ټول پېغبران وپوښتي چې آيا د هغوى أُمت د هغوى خبره منلې وه او كهٔ نه؟

الله تعالى فرمايي:

((يَوْمَ يَجْمَعُ اللّهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ قَالُواْ لاَ عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ))[٢]

((هغه ورځ چې الله به پېغمبران راټول كړي او ورته وبه وايي چې تاسو ته څهٔ ځواب دركول شوى ؤ؟ هغوى به ووايي مونږ ته علم نشته يواځې همداتهٔ پهٔ پټو ډېر زيات پوه يې)).

او امتونه به هم وپوښتل شي چې د پېغمبرانو خبره يې منلې وه او كه نهٔ؟

لكه چې فرمايي:

((وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَا أَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِينَ))[٣]

((او پهٔ هغه ورځ چې خلكو ته به غږ وكړي چې پېغمبرانو ته مو څه ځواب وركړى ؤ؟)).

---

[١]- سورة النساء: ٦٤.
[٢]- سورة المائدة: ١٠٩.
[٣]- سورة القصص: ٦٥.

د پخوانیو قومونو مؤمن سړي هم خپلو خلکو ته ویلي وو چې:
((اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِينَ))[1]
((د پیغمبرانو تابعداري وکړئ)).
هر پیغمبر خپل امت ته دا ویلي دي چې د الله د عذاب اوګناهونو نه ځان وژغورئ او زما خبره ومنئ او دا خبره قرآن کریم کې ځای په ځای راغلې ده:
عیسی ﷺ خپل امت ته ویلي وو:
((فَاتَّقُواْ اللّهَ وَأَطِيعُونِ))[2]
((نو الله نه خپل ځانونه وژغورئ او زما ومنئ)).
نوح ﷺ هم خپل قوم ته ویلي وو:
((فَاتَّقُواْ اللّهَ وَأَطِيعُونِ))[3]
((نو الله نه خپل ځانونه وژغورئ او زما ومنئ)).
هود ﷺ هم خپل قوم عادیانو ته ویلي وو:
((فَاتَّقُواْ اللّهَ وَأَطِيعُونِ))[4]
((نو الله نه خپل ځانونه وژغورئ او زما ومنئ)).
ثمودیانو ته هم صالح ﷺ ویلي وو:
((فَاتَّقُواْ اللّهَ وَأَطِيعُونِ))[5]
((نو الله نه خپل ځانونه وژغورئ او زما ومنئ)).

---

[1]- سورة يس: ۲۰.
[2]- سورة آل عمران: ۵۰. زخرف: ۶۳.
[3]- سورة الشعراء: ۱۱۰.
[4]- سورة الشعراء: ۱۲۶\۱۳۱.
[5]- سورة الشعراء: ۱۴۴\۱۵۰.

لوط ﷺ هم خپل قوم ته ویلي وو:

((فَاتَّقُواْ اللّهَ وَأَطِيعُونِ))[۱]

- ((نو الله نه خپل ځانونه وژغورئ او زما ومنئ))

شعیبﷺ هم خپل امت ته ویلي وو:

((فَاتَّقُواْ اللّهَ وَأَطِيعُونِ))[۲]

((نو الله نه خپل ځانونه وژغورئ او زما ومنئ)).

قرآن کریم او ټول اسماني کتابونه د دې لپاره راغلي دي چې هر امت د الله تعالی عبادت د خپل پیغمبر د لارښوونې سره سم وکړي. ((بیت المقدس)) نه د مکې مکرمې ((مسجد الحرام)) ته د قبلې بدلون هم د همدې ازمېښت لپاره شوی ؤ چې د پیغمبر منونکي او سر غړوونکي سره بیل او پۀ نښه شي.

الله تعالی فرمایي:

((وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا إِلاَّ لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَى عَقِبَيْهِ))[۳]

((او ته چې د کومې قبلې لورته وې هغه مو یواځې د دې لپاره ټاکلې وه چې څوک د پیغمبر تابعداري کوي، هغه له هغه چا جلا او په نښه کړو چې پۀ خپلو پوندو اوړي او سرغړونه کوي)).

د اطاعت او اتباع پۀ څنګ کې د پیغمبر د لارښوونو نه سرغړونه او مخالفت هم پۀ سختۍ سره منع شوی دی.

---

[۱]- سورة الشعراء: ۱۶۳.
[۲]- سورة الشعراء: ۱۷۹.
[۳]- سورة البقرة: ۱۴۳.

الله تعالی فرمايي : چې الله تعالی او پیغمبر نه سرغړوونکي لپاره د اور عذاب او سپکاوی دی :

((وَمَن يَعْصِ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُّهِينٌ))[1]

((او چاچې د الله او دهغه د پیغمبر نه سرغړونه وکړه او د هغهٔ له بریدونو تېر شو ، نو اور ته به یې ننه باسي، تل به پکې وي او هغهٔ لپاره سپکونکی عذاب دی)).

د قیامت پهٔ سخته ورځ به دپیغمبر نه سرغړوونکی ډېر پښېمان وي:

((يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُواْ وَعَصَوُاْ الرَّسُولَ لَوْ تُسَوَّى بِهِمُ الأَرْضُ وَلاَ يَكْتُمُونَ اللّهَ حَدِيثًا))[2]

((پهٔ دغه ورځ به هغه خلک چې کفر یې کړی او د پیغمبر نه یې سرغړونه کړې ده، دا خوښوي چې کاشکې پهٔ دوی زمکه اواره شوې وای او الله نه به هیڅ خبره نهٔ شي پټولی)).

بل ځای فرمايي چې سرغړوونکي لپاره جهنم دی :

((وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءتْ مَصِيرًا))[3]

((او چاچې د پیغمبر خلاف لهٔ هغهٔ وروسته وکړ چې سمه لار ورته څرګنده شوه او مؤمنانو نه بدله لار یې ونیوه. نو هغه لور ته به

---

[1] - سورة النساء: ١٤.
[2] - سورة النساء: ٤٢.
[3] - سورة النساء: ١١٥.

يې واړوو چې کوم لورته واووښت، دوزخ ته به يې ننه باسو او هغه د ورتللو ډېر بد ځای دی)).

((سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُواْ الرَّعْبَ فَاضْرِبُواْ فَوْقَ الأَعْنَاقِ وَاضْرِبُواْ مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ شَآقُّواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَمَن يُشَاقِقِ اللّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ))[1]

(( زه به ډېر زر د کافرانو په زړونو کې ډار واچوم نو دغاړو له پاسه يې ووهئ او هر بند ورڅخه ووهئ، دا ځکه دې امله چې دوی د الله او د هغهٔ د پيغمبر مخالفت کړی دی او چاچې د الله او دهغهٔ د پيغمبر مخالفت وکړ نو الله بې شکه د سخت عذاب څښتن دی)).

((أَلَمْ يَعْلَمُواْ أَنَّهُ مَن يُحَادِدِ اللّهَ وَرَسُولَهُ فَأَنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيهَا ذَلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيمُ))[2]

((آيا دوی نهٔ دي پوه شوي چې چا د الله او د هغهٔ د پيغمبر مخالفت وکړ نو هغهٔ لپاره بې شکه د دوزخ اور دی چې تل به پکې اوسي دا لويه رسوايي ده)).

د رسول اللهﷺ مخالفت پهٔ دنيا کې د فتنو او آخرت کې د عذاب لامل ګرځي:

((فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ))[3]

---

[1] - سورة الانفال: ۱۲- ۱۳.
[2] - سورة التوبة: ٦٣.
[3] - سورة النور: ٦٣.

((هغه خلک چې د پېغمبر مخالفت کوي له دې دې ووېرېږي چې فتنه به ورته ورسېږي او يا به ورته دردناک عذاب ورسېږي)).

فتنه: کفر، شرک، دنيوي ازمېښتونه، اندېښنې او مصيبتونه دي.

د الله سبحانه وتعالی او دهغهٔ د پېغمبرﷺ د پرېکړو نه وروسته هيچا ته دا اختيار نشته چې د هغو په خلاف او د هغو له پاسه بله پرېکړه وکړي يا يې ونه مني.

((وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلاَ مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً مُّبِينًا))[1]

((او کله چې الله او د هغهٔ پېغمبر د کوم کار په هکله پرېکړه وکړي بيا د مؤمن او مؤمنې لپاره دا نهٔ دي روا چې د هغوی لپاره دې خپل اختيار وي، او چا چې الله او د هغهٔ د پېغمبر نه سرغړونه وکړه نو هغه بې شکه په ښکاره بې لارئ بې لارې شو)).

همدا رنګه د الله سبحانه وتعالی او دهغهٔ د پېغمبرﷺ په فرمانونو خپله، ياد نل چا خبره وړاندې کول هم ناروا دي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ))[2]

---

[1] ـ سورة الاحزاب: ۳٦.
[2] ـ سورة الحجرات: ۱.

(( ای مؤمنانو! د الله او د هغهٔ د پیغمبر مخکې مهٔ وړاندې کېږئ او الله نه څانونه وژغورئ الله بې شکه د ہر بنه اورېدونکی او د ہر پوه دی)).

((إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ كُبِتُوا كَمَا كُبِتَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَقَدْ أَنزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ))[1]

((هغه خلک چې د الله او د هغهٔ د پیغمبر مخالفت کوي هغوی بې شکه داسې سپک شوي دي لکه هغه خلک چې سپک شوي وو چې دوی نه مخکې وو اومونږ بې شکه څرګند دليلو نه راښکته کړي دي او کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب دی)).

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ))[2]

((ای مؤمنانو! کله مو چې پټې جرګې کولې نو د ګناه، تېري او د پيغمبر نه د سرغړونې جرګې مهٔ کوئ؛ د نېکۍ او پرهېزګارۍ جرګې وکړئ او هغه الله نه څانونه وژغورئ چې يواځې هغهٔ ته به ورټولول کېږئ)).

((وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا))[3]

---

[1]- سورة المجادلة: ٥.
[2]- سورة المجادلة: ٩.
[3]- سورة الجن: ٢٣.

((او چا چې الله او د هغۀ پېغمبر نه سرغړونه وکړه نو هغۀ لپاره بې شکه د دوزخ اور دی تل تر تله به پکې وي)).

((إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ فِي الأَذَلِّينَ))[1]

((هغه خلک چې د الله او د هغه د پېغمبر مخالفت کوي هغوی بی شکه په ډېرو ذليلو او خوارو کې ګډل شوي دي)).

د الله تعالی او پېغمبر ﷺ مخالفت خو ناروا دی خو چاچې د الله او د پېغمبر مخالفت کاوۀ هغوی سره دوستي او ملګري هم ناروا ده:

((لاَ تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءهُمْ أَوْ أَبْنَاءهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ))[2]

(( داسې خلک به ونۀ مومې چې په الله او د قيامت پۀ ورځ ايمان لري او بيا د هغو خلکو سره دوستي کوي چې د الله او د هغۀ د پېغمبر مخالفت کوي اګر کۀ د دوی پلرونه، يازامن، يا وررونه او يا خپل او تبر هم وي)).

په دې کې ټول کافران او د الله تعالی او د پېغمبر ﷺ دښمنان داخل دي. او د هغو د نوم مسلمانانو پۀ حال افسوس دی چې د خپلمنځي اختلافونو او وړو وړو مسائلو کې د اختلاف په وخت کې خويو په بل باندې داسې آياتونه تطبيقوی ،خو نن ورځ چې د قرآن

---

[1]- سورة المجادلة: ۲۰.
[2]- سورة المجادلة: ۲۲.

او صلیب تر منځ څرګنده جګړه نښتې ده نو کافرانو او یا د هغوی مسلمان نما مرتدو ګوډاګیانو سره ولاړ دي او د هغوی ملګري کوي دا خلک هېڅکله مؤمنان کېدی نه شي. وَ إِنْ صَامَ وَصَلَّى وَ زَعَمَ أَنَهُ مُسْلِم او څوک یې چې مسلمان ګڼي هغه اصلا اسلام نه خبر نه دی هغهٔ ته پهٔ کار دي چې اسلام زده کړي.

همدارنګه د الله تعالی او دهغهٔ د پېغمبرﷺ د مخالفت پهٔ هکله فرمايي:

((ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَمَن يُشَاقِّ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ))[1]

((دا عذاب له دې امله دی چې هغوی د الله او د هغه د پېغمبر مخالفت کړی ؤ او چا چې دالله مخالفت وکړ نو الله بې شکه د سخت عذاب ښبتن دی)).

مخکنیو قومونو او اُمتونو چې د خپل پېغمبر مخالفت کړی ؤ نو د هغوی پهٔ هکله الله تعالی فرمايي:

((فَعَصَوْا رَسُولَ رَبِّهِمْ فَأَخَذَهُمْ أَخْذَةً رَّابِيَةً))[2]

(( نو هغوی دخپل پېغمبر نه سر غړونه وکړه نو هغوی خپل رب په سختو نیولو ونیول)).

د قرآن او ُپېغمبرﷺ د طاعت او تابعدارئ نه منافقان خلک منع کوي:

---

[1]- سورة الحشر: ٤.
[2]- سورة الحاقة: ١٠.

«وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ إِلَى مَا أَنزَلَ اللّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا»[۱]

«او کله چې دوی ته وویل شي چې هغه کتاب ته چې الله نازل کړی دی او پيغمبر ته راشئ ته به منافقان ګورې چې تا نه خلک بيابيا ايساروي».

«وَإِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم مُّعْرِضُونَ وَإِن يَكُن لَّهُمُ الْحَقُّ يَأْتُوا إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ»[۲]

«او کله چې دوی الله او د هغهٔ پيغمبر ته د دې لپاره وبلل شي چې د هغوی منځ کې پرېکړه وکړي نو ناڅاپه د هغوی يوه ډله سرغړوونکي وي او که حق د هغوی لپاره وي نو پوره غاړه اينبودونکي ورته رادرومي».

«وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ إِلَى مَا أَنزَلَ اللّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُواْ حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ شَيْئًا وَلاَ يَهْتَدُونَ»[۳]

« او کله چې دوی ته وویل شي چې هغه کتاب ته چې الله نازل کړی دی او پيغمبرته راشئ نو هغوی وايي چې مونږ لپاره هماغه دودونه او دين بس دی چې خپل پلرونه مو پرې موندلي وو. اګر کهٔ د دوی پلرونه پهٔ هيڅ نه پوهېدل او نهٔ يې سمه لار موندله هم؟ » .

---

[۱]- سورة النساء: ٦١.
[۲]- سورة النور: ٤٨- ٤٩.
[۳]- سورة المائدة: ١٠٤.

د قیامت په ورځ به له پیغمبرﷺ نه د سرغړوونکي حال داسې وي:

((وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَى يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلاً يَا وَيْلَتَى لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلاً لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلإِنسَانِ خَذُولاً))[1]

((او په هغه ورځ چې ظالم به په خپلو لاسونو غاښونه ولګوي او وايي به چې کاشکې ما د پیغمبر لاره نیولې وای های زما بدمرغي کاشکې ما فلانی په دوستی نه وای نیولی؛ هغه خو زه له دې وروسته له قرآنه بې لارې کړم چې ماته راغلی او شیطان انسان لپاره ښویوونکی او بې مرستې پرېښودونکی دی)).

نو اعمال هله نېک دي، عبادت دی او د قبول وړ دي چې له اخلاص نه وروسته پکې د رسول اللهﷺ اتباع وي او په دلیل برابر وي. اسلام کې اتباع یو ډېر اړین او پیاوړی شرط دی.

هر عمل په اتباع باندې ښکلی کېږي او مونږ د عمل په ښکلا مامور یو چې باید خپل هر عمل د رسول اللهﷺ په تابعدارۍ او دلیل باندې ښکلی کړو.

الله تعالی فرمایي:

((الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً))[2]

---

[1]- سورة الفرقان: ۲۷- ۲۹.
[2]- سورة الملك: ۲.

((هغه الله چې مرګ او ژوند يې د دې لپاره پيدا کړي دي چې تاسو وازمېيي چې کوم يو مو د ښه عمل څښتن دی)).

او فرمايي:

((إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً))[1]

((په زمکه کې چې څهٔ دي مونږ هغه د زمکې لپاره ښکلا ګرځولې ده او دا د دې لپاره چې دوی وازمېيوو چې کوم يو يې ښايسته عمل کوي)).

نو ښهٔ او ښايسته عمل پهٔ کار دی او هغه هغه دی چې اخلاص او اتباع پکې وي لکه څرنګه چې دنيوي کارونه ښکلي او ښه پهٔ کار دي همداسې ټول عملونه کره پوره پهٔ کار دي.

هر کار د پېغمبرﷺ د اتباع سره سم کول عبادت او ثواب دی او د هغه کوم سنت يا حديث سپک ګڼل کفر دی.

علامه إبن البزاز الکردري الحنفي رحمه الله وايي:

((قيل قلم الأظافر سنة لما قال النبيﷺ فقال: لا أفعل و إن كان سنة، كفر))[2]

((که چاته وويل شول چې د نوکانو غوڅول سنت دي ځکه چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي، او هغه وويل اګر که سنت وي هم نه يې کوم نو دا انسان کافر شو)).

همدارنګه وايي:

---

[1] ـ سورة الكهف:٧.
[2] ـ البزازية على هامش العالمكيرية: ٦/ ٣٢١.

(( و من سمع حديثه ﷺ فقال: سمعناه كثيرا بطريق الإستخفاف، يكفر ))[1]

((که چا د پیغمبرﷺ حدیث واورېد او د سپکاوي په توګه یې وویل: دا مونږ ډېر اورېدلی دی، نو په دې خبره کافر کېږي)).

او وایي:

((والحاصل أنه إذا استخف بسنة أو حديث من أحاديثه ﷺ كفر))[2]

((د دې ټولو نچوړ دا دی چې چا د پیغمبرﷺ د کوم سنت یا د هغه له احادیثو د کوم حدیث سپکاوی وکړ نو هغه کافر شو)).

## د عبادت ډولونه

عبادت ډېر ډولونه او انواع لري تر ټولو د مخه د اسلام پنځه بنسټونه:

د توحید منل، لمونځ کول، روژه نیول، زکات ورکول او حج ته تلل د عبادت ډولونه دي. همدارنګه جهاد او هجرت کول، نصرت .... ټول د عبادت ډولونه دي او ځینې نور ډولونه یې دا دي:

---

[1]- البزازية على هامش العالمكيرية : ٦/ ٣٢٨.

[2]- البزازية على هامش العالمكيرية : ٦/ ٣٢٨.

## دعاء (بلنه) او استغاثه

دعاء (بلنه) او استغاثه د عبادت او بندګۍ د ډولونونه یو ډول دی چې مونږ د خوښۍ او کړاو په وخت کې الله تعالی ته فریاد او دعاء وکړو، الله تعالی راوبلو او هر وخت کې یې راوبلو: د اړتیاو د پوره کولو لپاره، د ګټو د لاس ته راوړلو لپاره، د ستونزو، کړاوونو او ناروغیو د لرې کولو لپاره ..... او په دې بلنې او دعاء کې الله سره هیڅوک شریک نه کړو او هیچاته پکې ونډه ورنهٔ کړو. پرښتې، پیغمبران، صالحان، اولیاء، پیران، فقیران، پیریان او انسانان ټول د الله تعالی مخلوق دی او ټول هغهٔ ته اړ او محتاج دي لهٔ هغهٔ ﷻ پرته د هیچا په وس کې دا نشته چې مونږ یې دخپلو ستونزو او ناروغیو لرې کولو یا ګټې رسولو لپاره راوبلو او هغه دې د دنیوي اسبابو او اوزارو نه پرته زمونږ کار پوره کړي. او استغاثه بیاهغې بلنې ته وایي چې فریاد او د غوث او مرستې طلب پکې وي .نن چې زمونږ په چاپېریال کې ناپوهانو د قبرونو نه د شرک مرکزونه جوړ کړي دي، ګومبزې او ودانۍ یې پرې جوړې کړې دي، جنډې یې پرې لکې کړې دي، پوخونه او څادرونه یې پرې ځړولي دي، ملنګان او منجاوران ورسره ناست دي چې د پلیتیو او کثافتونو زېرمې او ډېرانونه دي، رنګینې خولۍ، شنې جامې او پګړۍ یې په سر کړې دي، کچکولونه ورسره دي، چرسونه څښي، سپي یې ساتلي دي، د شکرانو صندوقچې یې د قبرونو خواکې

اینبي وي، د دروغو خوبونه او کرامتونه يې مشهور کړي وي، مرۍ يې په غاړو او ګوتې يې په لاسونو کړي وي او د خلکو عقیدې، اقتصاد او صحتونه يې رنګ کړي دي او لاړنګوي يې. دا ټول شرک، خرافات او واهیات دي. پۀ اسلامي خلافت او حکومت، اسلامي ټولنې او اسلامي امت دا فرض دي چې دا د شرک مرکزونه رنګ کړي او پۀ دې منجاورانو توبه وباسي او کۀ نه يې باسي ويې وژني تر څو د اسلامي او بشري ټولنې نه دا ناسور او ککړتیا پاکه شي.

الله تعالی نه پرته بل چاته راورسېږه او رامددشه ویل لکه شیخ عبدالقادر جیلاني ته غږ کول، چې ای لویه څوانه راورسېږې او رامدد شې، ای مړنیه، ای فلانی بابا......... او د هغوی په واک کې د خیر او شر رسول ګڼل او هغوی ته منښتې او نذرونه منل......... دا ټول شرک او کفر دی. مؤحد مؤمن باید خپل ځان ورڅخه وژغوري او د نورو د ژغورلو هم کوښښ وکړي.

نو دعاء او بلنه عبادت دی او الله تعالی نه پرته بل چاته د عبادت کول شرک دی.

الله تعالی فرمایي:

«وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ»[1]

---

[1] - سورة المؤمن: ٦٠.

((او ستا رب ویلي دي چې ما راوبلئ زه به مو دعاء قبوله کړم، هغه خلک چې زما له عبادته لویي کوي ډېر زر به دوزخ ته ذلیله ننوځي)).

دلته الله سبحانه وتعالی په دعاء کولو امر کوي او بیا فرمایي چې: ((إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي)) نو څرګنده شوه چې د دې عبادت نه مراد همدغه مخکې دعاء ده.

قرآن کریم کې ځای په ځای الله تعالی مونږ ته امر کوي چې هغه ﷻ راوبلو او له هغهٔ پرته بل هیڅوک پهٔ غیاب کې د ستونزو د حل او داړتیاو د پوره کولو لپاره راونهٔ بلو.

((وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِي وَلْيُؤْمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ))[1]

((او کله چې زما بندګان تا زما پهٔ هکله وپوښتي نو زهٔ بې شکه نږدې یم بلونکي چې کله ما وبلي نو بلنه یې قبلوم نو د دې لپاره چې سمه لار ومومي مادې ومني او پهٔ ما دې ایمان راوړي)).

((قُلْ أَرَأَيْتَكُم إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللّهِ أَوْ أَتَتْكُمُ السَّاعَةُ أَغَيْرَ اللّهِ تَدْعُونَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِنْ شَاء وَتَنسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ))[2]

((ورته ووایه ماته دا ووایئ چې که تاسوته د الله عذاب راشي یا قیامت درته راشي نو که ریښتیني یئ آیا له الله پرته به نور

[1] - سورة البقرة: ١٨٦.
[2] - سورة الانعام: ٤١/٤٠.

څوک رابلئ؟ بلکه يواځې الله به رابلئ نو که خوښه يې شي نو کومې ستونزې ته يې چې رابلئ هغه به لرې کړي او هغه معبودان به هېر کړئ چې الله سره يې شريکوئ».

«قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ قُل لاَّ أَتَّبِعُ أَهْوَاءكُمْ قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَاْ مِنَ الْمُهْتَدِينَ»[1]

« ورته ووايه چې زه بې شکه له دې منعه شوی يم چې د هغو معبودانو عبادت وکړم چې تاسو يې له الله پرته رابلئ ورته ووايه چې زه ستاسو د نفسي غوښتنو پسې نه ځم که دا کار مې وکړ نو زه به په دغه وخت کې بې لارې شوی يم او زه به له سمې لار موندونکيو نه نه يم».

«قُلْ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُونَهُ تَضَرُّعاً وَخُفْيَةً لَّئِنْ أَنجَانَا مِنْ هَـذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ قُلِ اللّهُ يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ أَنتُمْ تُشْرِكُونَ»[2]

«ورته ووايه چې تاسو ته د وچې او درياب په تيارو کې څوک نجات درکوي چې په زارۍ او پټه يې رابلئ چې که مونږ ته يې له دې نجات راکړ نو هرومرو به له شکر کوونکيو شوو؟ ورته ووايه چې الله له دې ستونزې او له هر غم نه نجات درکوي خو بيا هم تاسو ورسره شريکان پيدا کوئ!»

[1]- سورة الانعام: ٥٦.
[2]- سورة الانعام:٦٣/٦٤.

«قُلْ أَنَدْعُو مِن دُونِ اللّهِ مَا لاَ يَنفَعُنَا وَلاَ يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَى أَعْقَابِنَا بَعْدَ إِذْ هَدَانَا اللّهُ كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيَاطِينُ فِي الأَرْضِ حَيْرَانَ لَهُ أَصْحَابٌ يَدْعُونَهُ إِلَى الْهُدَى ائْتِنَا قُلْ إِنَّ هُدَى اللّهِ هُوَ الْهُدَىٰ وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ»[1]

«ورته ووايه آيا له الله پرته هغه څوک را وبلم چې نه راته ګټه رسولی شي او نه راته څهٔ ضرر رسولی شي؟ او وروسته له دې چې الله راته سمه لار وښووله د هغه چا په څېر شاته وګرځول شوو چې شيطانانو پهٔ زمکه کې ورځخه لار ورکه کړې وي او حيران وي، د هغهٔ ملګري وي سمې لارې ته يې رابلي چې مونږ ته راشه. ورته ووايه: سمه لارښوونه بې شکه د الله لارښوونه ده او مونږ ته پهٔ دې امر شوی دی چې د عالميانو رب ته غاړه کېدو».

الله نه پرته د نورو رابلونکي به اعتراف وکړي چې هغوی کافران وو:

«حَتَّى إِذَا جَاءتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُواْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا وَشَهِدُواْ عَلَى أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُواْ كَافِرِينَ»[2]

«تر دې چې کله دوی ته زمونږ پرښتې راشي چې مرهٔ کوي يې نو ورته وبه وايي چې هغه معبودان چېرته دي چې تاسو له الله

---

[1] - سورة الانعام: ۷۱.
[2] - سورة الاعراف: ۳۷.

پرته رابلل؟ هغوی به ووايي هغوی مونږ نه ورک شول او په خپلو ځانونو به ګواهي وکړي چې هغوی کافران وو».

او الله فرمايي چې خپل رب راوبلئ

«ادْعُواْ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ»[1]

«خپل رب په زارۍ او په پټه راوبلئ هغه تېرى کوونکي نه خوښوي».

د هر قبر پرستان وايي چې دا او داسې نور آياتونه يواځې د بوتانو په هکله نازل شوي دي او نور باباګانو او د زيارتونو والا مړوته غږ کول او رابلل روا دي!

دا خبره بالکل ناسمه ده دا د بوتانو او ټولو په هکله نازل شوي دي او الله سره هيڅوک شريکول روا نه دي. لکه چې فرمايي

«إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ»[2]

«هغه څوک چې تاسو يې له الله پرته رابلئ بې شکه ستاسو په څېر بندګان دي که تاسو رښتيني يئ نو راويې بلئ هغوی دې ستاسو بلنه قبوله کړي».

نو د لته «عباد أمثالکم» په دې دلالت کوي چې همدا زمونږ په څېر بندګان رابلل مراد دي او بوتان خو زمونږ په څېر بندګان نه دي

[1] - سورة الاعراف: ٥٥.
[2] - سورة الاعراف: ١٩٤.

بله دا چې پخوانیو مشرکانو چې د کومو بوتانو عبادت کاوۀ هغه هم د مړو شویو صالحانو څېرې وې نو هغوی اصلا هماغه مړۀ صالحان رابلل

او الله تعالی فرمایي

((قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ وَمَا لَهُ مِنْهُم مِّن ظَهِيرٍ وَلَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ عِندَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ)) [1]

((ورتهووایه چې تاسو یې له الله پرته دعوه کوئ هغوی راوبلئ، هغوی نۀ په اسمانونو کې د یوې ذرې په کچ څۀ واک لري او نۀ په زمکه کې، هغوی لپاره په دې دواړو کې څه ونډه هم نشته، الله لپاره لۀ دوی څخه څوک ملاتړ هم نشته او هغۀ سره شفاعت د اجازې نه پرته هیڅ ګټه نۀ لري))

الله سبحانه وتعالی نه پرته چې نور رابلي هغه مشرکان او ناپوهان په څلور ډوله دي

۱ هغه خلک چې هغوی ګمان کوي چې دا مونږ یې چې له الله پرته رابلوو دوی څۀ واک او اختیار لري نو الله تعالی په هغوی رد وکړ او ویې فرمایل ((لا يملكون مثقال ذرة))

۲ هغه خلک دي چې وایي واک او اختیار نۀ لري خو د برخې خاوندان دي، د الله نازولي دي او الله ورته برخه ورکړې ده په

[1] ـ سورة سبا: ۲۲/۲۳.

هغوی هم الله تعالی رد وکړ او ویې فرمایل ((وماهم فیهما من شرك)).

۳- هغه خلک دي چې وایي واک او اختیار هم نۀ لري. ونډه او برخه هم نۀ لري خو الله سره مرسته کوي. پۀ هغوی هم الله تعالی رد وکړ او ویې فرمایل ((وما له منهم من ظهیر)).

۴- هغه خلک دي چې وایي: دا مونږ یې چې لۀ الله پرته رابلوو دوی نۀ واک اختیار لري، نۀ څۀ ونډه لري. نۀ د الله مرستیالان دي، خو دوی زمونږ شفاعت کوي نو پۀ دوی هم الله تعالی رد وکړ او ویې فرمایل: ((ولا تنفع الشفاعة عنده إلا لمن أذن له)).

او دا خو څرګنده ده چې الله تعالی ورته اجازه نۀ ده کړې نو دا دعوه هم باطله شوه.

همدارنګه الله تعالی فرمایي:

((وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ إِن تَدْعُوهُمْ لاَ يَسْمَعُوا دُعَاءكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ وَلاَ يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ))[1]

((او هغه څوک چې تاسو یې لۀ الله پرته را بلئ د خورما د زړي د پاسه د باریکې پردې واک هم نۀ لري. کۀ را ویې بلئ نو ستاسو بلنه نۀ اوري او کۀ فرضاً وایې وري نو ستاسو بلنه نۀ شي قبلولی. د قیامت پۀ ورځ به ستاسو د شرک نه انکار وکړي او د بنۀ خبردار ذات غوندې خبر به درنه کړي)).

---

[1] - سورة فاطر: ۱۳/ ۱۴

او فرمايي:

((قُلْ أَرَأَيْتُمْ شُرَكَاءكُمُ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَاوَاتِ أَمْ آتَيْنَاهُمْ كِتَابًا فَهُمْ عَلَى بَيِّنَةٍ مِّنْهُ بَلْ إِن يَعِدُ الظَّالِمُونَ بَعْضُهُم بَعْضًا إِلاَّ غُرُورًا))[1]

((ورته ووايه چې آيا تاسو خپل هغه شريکان ليدلي دي چې تاسو يې لۀ الله پرته رابلئ ماته وښايئ چې لۀ زمکې يې څۀ پيدا کړي دي؟ يا دوی لپاره پۀ اسمانونو کې څۀ برخه ده؟ او کۀ دوی ته مو کتاب ورکړی دی نو دوی د الله له لوري پۀ څرګند دليل دي؟ بلکه ظالمان خپلو منځو کې يو بل سره يواځې د ټګۍ ژمنې کوي))

او فرمايي:

((قُلْ أَرَأَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَاوَاتِ ايْتُونِي بِكِتَابٍ مِّن قَبْلِ هَذَا أَوْ أَثَارَةٍ مِّنْ عِلْمٍ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُو مِن دُونِ اللَّهِ مَن لاَّ يَسْتَجِيبُ لَهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَهُمْ عَن دُعَائِهِمْ غَافِلُونَ وَإِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوا لَهُمْ أَعْدَاء وَكَانُوا بِعِبَادَتِهِمْ كَافِرِينَ))[2]

((ورته ووايه چې آيا تاسو هغه څوک ليدلي دي چې تاسو يې لۀ الله پرته رابلئ ماته وښايئ چې هغوی لۀ زمکې څۀ پيدا کړي دي؟ او کۀ اسمانونو کې يې ونډه ده؟ کۀ رښتيني يئ نو لۀ دې مخکې

---

[1] سورة فاطر: [illegible]

[2] سورة الاحقاف: [illegible]

کوم کتاب یا د علم څۀ نښه خو راوړئ او لۀ هغه چا زیات بې لارې څوک دی چې لۀ الله پرته هغه څوک رابلي چې تر قیامته یې د عاء نۀ شي قبلولی او هغوی د دوی لۀ بلنې ناخبره دي او کله چې خلک را ټول کړی شي نو د دوی دښمنان به شي او د دوی د عبادت نه به انکار کوونکي شي))

او فرمايي

((وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا))[1]

((او جوماتونه بې شکه د الله دي نو الله سره هیڅوک مۀ رابلئ))

او الله تعالی د باطلو معبودانو پۀ هکله فرمایي

((وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ لاَ يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلآ أَنفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ))[2]

(( او هغه څوک چې تاسو یې له الله پرته رابلئ نۀ تاسو سره مرسته کولی شي او نۀ خپلو ځانونو سره کومه مرسته کولی شي))

او فرمایي

((وَلاَ تَدْعُ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لاَ يَنفَعُكَ وَلاَ يَضُرُّكَ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ الظَّالِمِينَ))[3]

---

1- سورة الجن: ١٨.
2- سورة الأعراف: ١٩٧.
3- سورة يونس: ١٠٦.

(( او لهٔ الله پرته هغه مهٔ رابله چې نهٔ درته ګټه رسولی شي او نهٔ ضرر دررسولی شي کهٔ دا کار دې وکړ نو تهٔ به بې شکه پهٔ دغه وخت کې لهٔ ظالمانو يې)).

او فرمايي:

((لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ لاَ يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيْءٍ إِلاَّ كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَاءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهِ وَمَا دُعَاء الْكَافِرِينَ إِلاَّ فِي ضَلاَلٍ))[1]

((يواځې الله لپاره حقه بلنه ده او هغه څوک چې لهٔ الله پرته نور رابلي هغوي ددوي هيڅ بلنه نهٔ شي قبلولی د هغوی مثال داسې دی لکه چا چې دواړه لاسونه اوبو ته له ورايه اوږدهٔ کړي وي چې خولې ته يې راشي او هغه نهٔ شي راتلی او دکافرانو بلنه يواځې پهٔ بې لارې کې ده)).

او بل ځای کې په صراحت سره فرمايي چې هغوی مړهٔ دي:

((وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ لاَ يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ أَمْواتٌ غَيْرُ أَحْيَاء وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ))[2]

(( او هغه خلک چې له الله پرته نور رابلي هغوی هيڅ نه شي پيدا کولی او هغوی پيدا کيږي، مړهٔ دي ژوندي نهٔ دي او پهٔ دې نهٔ پوهيږي چې کله به راژوندي کيږي))

---

[1] - سورة الرعد: ١٤.

[2] - سورة النحل: ٢٠/٢١.

نو دلته ورته ((أموات)) مړۀ وویل شول او بیا د تاکید لپاره ((غیر أحیاء)) وویل شول او بیا دا چې دوی نه پوهېږي چې بیا به کله راژوندي کېږي؟ لۀ دې نه هم څرګنده شوه چې لۀ دې نه مراد مړۀ دي او بوتان نه دي. خو پۀ ضمن کې یې بوتان او نور ټول باطل معبودان هم شاملېږي.

او فرمایي:

((قُلِ ادْعُواْ الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِ فَلاَ يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلاَ تَحْوِيلاً أُولَـئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا))[1]

(( ورته ووایه! لۀ الله پرته هغه څوک راوبلئ چې تاسو یې دعوه کوئ. هغوی تاسو لپاره نه تاسو نه د ضرر لرې کولو واک لري او نۀ د اړولو؛ دا دوی یې چې رابلي هغه خلک دي چې خپل رب ته د نېکیو وسیله لټوي، چې کوم یو ډېر نږدې دی. د الله د لورېنې هیله لري اولۀ عذابه یې وېرېږي. ستادرب عذاب بې شکه د وېرې دی )).

دلته نو خبره ښېخي څرګنده شوه چې لۀ الله تعالی پرته بلل شوي صالحان خلک دي ځکه چې الله تعالی وفرمایل: دا دوی یې چې رابلي هغوی خو خپل رب ته د نېکو عملونو وسیلې لټوي او لۀ عذابه یې وېرېږي. او بوتان خو دا کار نۀ شي کولی، نو څرګنده شوه

---

[1] - سورة الاسراء: ٥٦/٥٧.

چې له الله پرته د الله تعالی نېک او صالح ژوندي یا مړۀ بندګان رابلل او هغوی نه د الله تعالی کارونه غوښتل هم شرک دی

او فرمایي:

((یَدْعُو مِن دُونِ اللَّهِ مَا لاَ یَضُرُّهُ وَمَا لاَ یَنفَعُهُ ذَلِكَ هُوَ الضَّلاَلُ الْبَعِیدُ)) [1]

(( لۀ الله پرته هغه څوک رابلي چې نۀ ورته تاوان رسولی شي او نۀ ورته ګټه همدا لویه بې لاري ده)).

او فرمایي:

((یَا أَیُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ إِنَّ الَّذِینَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَن یَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ وَإِن یَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَیْئًا لاَّ یَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ)) [2]

((ای خلکو! یو مثال بیانېږي نو وایې وری. هغه څوک چې تاسو یې له الله پرته رابلئ که دا ټول سره راټول شي هیڅکله یو مچ هم نۀ شي پیدا کولی او که مچ ورڅخه څۀ شی وتښتوي نو ورڅخه نۀ یې شي خلاصولی. غوښتونکی او غوښتل شوی دواړه کمزوري دي)).

نو هغه څوک چې یو مچ نۀ شي پیدا کولی او د مچ پیدا کول خو لا لویه خبره ده کۀ مچ ورڅخه کومه هر کوچنی شی وتښتوي نو هم یې نۀ شي ژغورلی، هغوی به نورو ته کومه ګټه ورسولی شي او یا به

---

[1] - سور د الحج: ۱۲.
[2] - سور د الحج: ۷۳.

ورڅخه کوم ضرر دفع کړي. رېښتيا هم د قبرونو دپاسه چې کوم منجاوران او ملنګان ناست وي او زيارتونو ته کومې منښتې او شکرانې راځي، که هغه کوم غل، ځناور، سپی، پيشو، موږک، مچ او يا بل شی وتښتوي نو نه يې شي ژغورلی، بلکه شکرانو ته يې صندوقچې جوړې کړې وي او مضبوط قلفونه يې ورته اچولي وي، نو که زيارت او بابا څه واک او اختيار لري يا څه کولی شي دې صندوقچو او قلفونو ته څۀ ضرورت دی؟! بلکه خپله منجاوران يو بل ته سره غلۀ وي او ډېر ځله د قبرونو دپاسه ښکلي غوړېدلي پوخونه هم خلک پټوي. زۀ چې کله د ننګرهار د هډې نجم المدارس مدرسې کې متعلم وم، ما خپله ليدلي دي چې د هډې د نجم الدين اخونزاده صاحب رحمه الله پۀ قبر به چې کوم ښکلي او قيمتي پوخونه غوړېدلي ؤ، يا به ترې چاپېره سترنجۍ او يا نور د کار شيان وو، هغه به د هډې شپېخانو په خپل خپل نمبر کې د شپې له پلوه کورونو ته وړل او سهار به يې بيرته راوړل او پرې غوړول به يې، ما لۀ يوۀ شيخ نه پوښتنه وکړه چې دا پوخونه د شپې ولې نه پرېږدئ؟

هغۀ وويل چې د شپې يې بيا خلک پټوي. او کله چې له دې مخکې د مزار اسديې مدرسه کې وم نو مزار کې چې د سخي صاحب (علي ﷺ) په نوم کوم مزار او درګاه جوړه شوې ده، هلته يو ډېر لوی د مسو دېګ دی چې خلک پکې شکرانې وراچوي، هلته د زياتو ځارونکيو، منجاورانو او ملنګانو د موجوديت سره سره به د اسديې مدرسې طالبانو يو سوری ميکناتيس (اهن روبا)پيدا کړه يو مزې پورې به يې ګنډ کړ او به ګنه ګونه او د منجاورانو د غفلت په

وخت کې به يې د هغه لوی دېگ منځ ته ورواچوله هغې پورې به اوسپنېزې يوگيزې او پنځگيزې ونښتې بيا به يې ورو، ورو مزی راښکود او په دې ترتيب به يې د زيارت شکرانې غنيمت کړې.

همدارنګه پهٔ ټولو زيارتونو او د شرک په مرکزونو کې کېږي

او الله تعالی د ((وَ عِبَادُالرحْمَانِ الذيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الأَرْضِ هَوْنا)) لاندې د مومنانو ډېرې ښانګړتياوې څرګندوي په هغو کې دا هم دي چې

((وَالَّذِينَ لاَ يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلـهًا آخَرَ وَلاَ يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ وَلاَ يَزْنُونَ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا))[1]

((اومومنان هغه خلک دي چې الله سره بل معبود نه رابلي،له حق پرته هغه نفس نه وژني چې الله حرام کړی دی او زنانهٔ کوي او چا چې دا کارونه وکړل نو ګناه سره به مخ شي)).

او الله تعالی فرمايي:

((فَلاَ تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلـهًا آخَرَ فَتَكُونَ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ))[2]

((نو تهٔ الله سره بل معبود مهٔ رابله چې د عذاب ورکول شويو نه به وګڼل شې)).

اوسني قبرپرستان لهٔ پخوانيو مشرکانو هم ډېر بتر دي ځکه چې هغوی باندې به کله ډېره سختي راغله او کومې ستونزې

[1]- سورة الفرقان: ٦٨.
[2]- سورة الشعراء: ٢١٣.

سره به مخ شول نو یواځې الله به یې رابالهٔ او پهٔ دې وخت کې به یې ټول معبودان پرېښودل

الله تعالی د هغوی پهٔ هکله فرمايي

((فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ))[1]

((کله چې بېړۍ کې سپارهٔ شي نو یواځې الله په داسې حال کې رابلي چې هغهٔ ته یې طاعت خالص کړی وي او کله چې وچې ته نجات ورکړي بیا شرک کوي))

نو هغوی به د سختۍ په وخت کې الله ته نږه عبادت کاوه او نور به یې پرېښودل خو اوسني قبرپرستان هغوی نه ډېر وړاندې تللي دي او د سختۍ پهٔ وخت کې شیخ عبدالقادر جیلاني، پیربابا، سخي صاحب او نوروته چیغې وهي او راورسېږه را مددشه ورته وايي د پنجاب مشرکان خو په شرک کې دومره مخکې تللي دي چې د لاهور علي هجو یري ته گنج بخش (خزانه ببنونکی) وايي او د هغهٔ په مزار یې یوه لویه لوحه لگولې اوپرې لیکلي یې دي چې دلته تقدیرونه بدلېږي (العیاذ بالله) او د اردو یو شعر کې وايي چې

الله کے پلے میں توحید کے سوا کیا ھے
جو کچھ ھمیں لینا ھے لے لیں گے محمد سے

[1] - سورة العنکبوت: ٦٥.

«د الله په واک کې لۀ توحيد پرته نور څه دي؟، مونږ ته چې د څۀ شي ضرورت وي محمد نه يې غواړو او اخلو».

دا څومره لوی کفر دی چې د الله په لاس کې (العياذ بالله) هيڅ نشته او هر څه د محمدﷺ سره دي او زمونږ چې هر شي ته اړتيا وي هغۀ نه يې غواړو؟!

حال دا چې رسول اللهﷺ ته الله تعالی فرمايي:

«قُل لاَّ أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلاَ ضَرًّا إِلاَّ مَا شَاء اللّهُ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لاَسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَاْ إِلاَّ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ»[1]

«ورته ووايه: زه د خپل ځان لپاره نۀ د ګټې واک لرم او نۀ د ضرر يواځې هغه کېږي چې د الله خوښه شي او کۀ زۀ په پټو پوهېدی نو خامخا به مې ښېګړه ډېره کړې وه او هيڅ کړاو به نۀ ؤ رارسېدلی. زۀ هغو خلکو لپاره چې ايمان راوړي يواځې وېروونکی او زيری ورکوونکی يم».

رسول اللهﷺ کۀ په غيبو پوهېدی او يا ګټه رسول او ضرر دفع کول د هغه پۀ واک کې وی نو د احد پۀ ورځ به د هغۀ د ترۀ حمزه پۀ شمول او يا کسه صحابه ولې شهيدان کېدل؟! يا به هغۀ د هغۀ کور، کورنۍ او صحابه ؤ ته د هغه په ژوند ولې شهادتونه. ټپونه او کړاوونه رسېدل؟! او د هغه له مرګه وروسته به د صحابه ؤ، تابعينو او نورو مسلمانانو تر منځ ولې لويې لويې ستونزې پيدا

---

[1] سورة الاعراف: ۱۸۸.

کېدي. حسینؓ او نور اهل بیت به ولې شهیدان کېدل او اسلامي امت ته به تر اوسه نور ډول ډول کړاوونه ولې رسېدل؟!

نو معلومه شوه چې د رسول اللهﷺ په واک او اختیار کې هېڅ نشته او هر څهٔ د الله سبحانه وتعالی په واک کې دي او رسول اللهﷺ سیدالانبیاء والمرسلین سید ولد آدم (د ټولو پېغمبرانو او د آدمؑ د ټول اولاد سردار) دی، آخري پېغمبر دی، دهغهٔﷺ پهٔ فضائلو او مناقبو قرآن کریم ګواه دی او د هغهٔ پهٔ پېغمبری، فضیلت او سپېڅلتیا کې هېڅ شک نشته او کهٔ د دې امت ټول اولیاء، صالحین، شهداء او مؤمنان راټول شي د هغهٔ فضیلت ته نه شي رسېدی.

نو د دې دومره فضائلو سره سره چې هغه د ګټې او تاوان واکدار او بادار نه دی نو بل څوک کېدی شي؟!

او الله تعالی ورته فرمایي:

((وَإِن يَمْسَسْكَ اللّهُ بِضُرٍّ فَلاَ كَاشِفَ لَهُ إِلاَّ هُوَ وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدُيرٌ))[1]

((او کهٔ تاته الله څهٔ کړاو دررسوي نو لهٔ هغهٔ پرته بل لرې کوونکی نشته او کهٔ څهٔ ښېګړه دررسوي نو هغه په هر شي بر لاسی دی)).

او فرمایي:

((قُل لاَّ أَمْلِكُ لِنَفْسِي ضَرًّا وَلاَ نَفْعًا إِلاَّ مَا شَاء اللّهُ))[2]

[1]- سورة الانعام: ۱۸.
[2]- سورة یونس: ۴۹.

((ورته ووایه چې زه د خپل ځان لپاره نه د ضرر واک لرم او نه د ګټې یواځې هغه کېږي چې د الله خوښه شي))

((وَإِن يَمْسَسْكَ اللّهُ بِضُرٍّ فَلاَ كَاشِفَ لَهُ إِلاَّ هُوَ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلاَ رَآدَّ لِفَضْلِهِ يُصَيبُ بِهِ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ))[1]

((او که تا ته الله کوم ضرر دررسوي نو له هغه پرته یې بل لرې کوونکی نشته او که د ښېګړې رسول درته وغواړي نو د هغه د مهربانۍ ردوونکی څوک نشته، په خپلو بندګانو کې چې چاته وغواړي وررسوي یې او هغه ډېر بښونکی او خورا زیات لوروونکی دی)).

((قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لاَ يَنفَعُكُمْ شَيْئًا وَلاَ يَضُرُّكُمْ أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ))[2]

((ورته ووایه آیا تاسو له الله پرته د هغه عبادت کوئ چې نه درته کومه ګټه رسولی شي او نه ضرر دررسولی شي؛ تاسو او هغو ته افسوس دی چې له الله پرته یې تاسو عبادت کوئ نو آیا له عقل نه کار نه اخلئ؟)).

((قُلْ إِنَّمَا أَدْعُو رَبِّي وَلاَ أُشْرِكُ بِهِ أَحَدًا قُلْ إِنِّي لاَ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلاَ رَشَدًا))[3]

---

[1]- سورة یونس: ۱۰۷.
[2]- سورة الانبیاء: ٦٦/٦٧.
[3]- سورة الجن: ۲۰/۲۱

«ورتهووایه چې زهٔ بې شکه خپل رب رابلم او هغهٔ سره هېڅوک نه شریکوم ورته ووایه چې زهٔ بې شکه نه تاسو لپاره د ضرر واک لرم او نهٔ د لازښوونې»

دېر قبرپرست وایي چې مونږ خو یې لهٔ قبر نه نهٔ غواړو بلکه دا د الله نازولي دي مونږ دوی ته سوال کوو او دوی یې الله ته کوي دا زمونږ شفاعت او سپارښتنه کوي قبرته چې اودرېږي هم ورته وایي چې زهٔ ستا لمن نیسم ته د الله ونیسه......

الله تعالی پهٔ داسې خلکو رد کوي او فرمایي

«وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللّهِ مَا لاَ يَضُرُّهُمْ وَلاَ يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَـؤُلاء شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللّهِ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللّهَ بِمَا لاَ يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلاَ فِي الأَرْضِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ»[1]

«او دوی له الله پرته د هغو عبادت کوي چې نهٔ ورته کوم ضرر رسولی شي او نهٔ کومه ګټه ورکولی شي او بیا وایي چې دا الله سره زمونږ سفارشیان دي. ورته ووایه چې آیا تاسو الله پهٔ هغه څهٔ خبروئ چې نهٔ پهٔ اسمانونو او نهٔ زمکه کې پرې خبر دی؟! هغه پاک دی او لهٔ هغو شریکانو پورته دی چې دوی یې ورسره شریکوي»

معنا دا چې دا سفارشیان او شفاعت کوونکي خو الله نهٔ دي ټاکلي او که الله ټاکلي وای نو ورته به معلوم وو نو تاسو لهٔ کومه وټاکل؟!

[1] ـ سورة یونس: ۱۸.

((د شفاعت)) او (( وسیلې)) پهٔ هکله به وروسته ځانګړي بحثونه او څېړنې راشي.

نو څرګنده شوه چې عبادت یواځې د یو الله سبحانه وتعالی حق دی او دا حق له هغه جل جلاله پرته بل چا ته ورکول شرک دی نور تفصیل او د شرک په هکله څېړنه په وروسته بحثونو کې راروانه ده

## استعانت

استعانت (د مرستې او مدد غوښتل) هم د عبادت له ډولونو څخه يو ډول دی چې مونږ د دنيوي اسبابو نه پورته ستونزو او اړتياو کې يواځې له الله تعالی څخه مرسته او مدد وغواړو. اګر چې استعانت د دعاء په ترځ کې راځي او مخکې د دعاء د سرليک لاندې د دعاء په هکله بحث تېر شو خو د زيات وضاحت لپاره مو دلته دا عنوان کېښود او دا ځکه چې دعاء عامه ده او استعانت خاص دی نو د خپلو اړتياو د پوره کولو او د ستونزو د لرې کولو او د فع کولو لپاره بايد له الله مرسته وغواړو.

مونږ پنځه وخته او د نورو لمونځونو په هر رکعت کې وايو:

((إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ))[1]

((ای الله مونږ يواځې ستا عبادت کوو او يواځې له تا مرسته غواړو))

دا د الله تعالی لارښوونه ده چې مونږ ته يې کړې ده نو په دې ترون او ژمنې بايد وفا وکړو.

استعانت يا مرسته غوښتل په دوه ډوله دي يو د دنيوي اسبابو لاندې د بشري مرستې غوښتنه ده لکه انسانان چې يو بل نه

---

۱- سورة الفاتحة: ٥.

د څۀ کار کولو، د اړتيا د پوره کولو او ستونزو پۀ حل کې مرسته غواړي دا روا دي

بل ډول استعانت چې عبادت دی او له الله پرته بل چانه يې غوښتل شرک دی. هغه دا دی چې د انساني وس او دنيوي اسبابو نه پورته چانه مرسته وغواړې. لکه ناپوهان چې پير بابا نه ښځې غواړي، سخي صاحب نه مال، د سترګو رغول او يا نورو قبرونو او باباګانو نه د خپلو اړتياو پۀ پوره کولو او ناروغيو او نورو ستونزو په لرې کولو کې مرسته او استعانت غواړي نو دا ډول استعانت يا مرسته غوښتل عبادت دی او دا د الله نړه او ځانګړی حق دی. بل چاته د دې حق ورکول شرک دی

الله تعالی مونږ ته دا حکم فرمايي چې يواځې لۀ هغه مرسته وغواړو لکه مخکې مو چې د فاتحې د سورت په آية کې ولوستل

همدارنګه فرمايي

((وَاسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلاَّ عَلَى الْخَاشِعِينَ))[1]

(( او پۀ صبر او لمانځه مرسته وغواړئ او دا کار سخت دی خو پۀ عاجزي کوونکيو سخت نۀ دی))

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ))[2]

---

[1] - سورة البقرة: ٤٥.
[2] - سورة البقرة: ١٥٣.

((ای مؤمنانو: په صبر او لمانځه مرسته وغواړئ الله بې شکه د صبر کوونکیو سره دی)).

موسیٰ ﷺ هم خپل قوم ته فرمايلي وو:

((اسْتَعِينُوا بِاللّهِ وَاصْبِرُواْ إِنَّ الأَرْضَ لِلّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَاء مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ))[1]

((له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ ځمکه بې شکه د الله ده خپلو بندګانو نه یې چې چاته وغواړي ورکوي یې او ښې پایلې پرهېزګارانو لپاره دي)).

یعقوب ﷺ هم خپلو زامنو ته ویلي وو:

((بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ))[2]

((بلکه تاسو ته خپلو ځانونو څه خبره جوړه کړې ده نو تاسو چې څه بيانوئ په هغې الله د مدد غوښتلو ځای دی)).

الله سبحانه وتعالی د کامل قدرت ښښتن او په هرشي برلاسی دی. د هرچا غږ اوري، له هر څه خبر او په هر څه کره پوره پوه دی او له هر چا مهربان او لوروونکی دی. نو ولې له هغه ذات نه مدد او مرسته ونه غواړو چې مونږ او هر څه یې پیدا کړي دي؟!

مخلوق ټول بې وسه او محتاج دی او الله سبحانه وتعالی قادر، مقتدر، غني، ارحم الراحمین، احکم الحاکمین او خیر الرازقین دی.

---

[1] ـ سورة الاعراف: ۱۲۸.

[2] ـ سورة یوسف: ۱۸

حدیث کې راځي چې رسول الله ﷺ عبدالله بن عباس ته وفرمایل:

((یا غلام! إنی معلمك کلمات: إحفظ الله یحفظك احفظ الله تجده تجاهك و إذا سألت فاسأل الله و إذا استعنت فاستعن بالله واعلم أن الأمة لو اجتمعوا علی أن ینفعوك لم ینفعوك إلا بشئ قد کتبه الله لك و لو اجتمعوا علی أن یضروك لم یضروك إلا بشئ قد کتبه الله علیك رفعت الأقلام وجفت الصحف))[1]

((ای هلکه! زه تاته یو څو خبرې درزده کوم. ته د الله حقوق وساته، الله به تا وساتي، ته د الله د احکامو خیال وساته، ته به الله خپلې مخې کې ووینې (چې مرسته به درسره کوي) ، کله دې چې سوال کاوۀ نو یواځې الله نه سوال وکړه او کله دې چې مرسته غوښتنه نو یواځې الله نه یې وغواړه، په دې وپوهېږه که د دې أُمت ټول خلک را ټول شي چې تاته څه ګټه دروړسوي نو له هغې پرته بل هېڅ ګټه نه شي دررسولی چې الله تعالی درته لیکلې ده او که دې لپاره راټول شي چې څه زیان دروړسوي نو له هغه پرته بل هېڅ زیان نه شي دررسولی چې الله درته لیکلی دی. قلمونه پورته شوي او پاڼې وچې شوې دي)).

[1]- رواه الترمذی و احمد والبیهقی والطبراني وأبو یعلی والحاکم.

## نذر (منښته)

د عبادت د ډولونو نه بل ډول منښته یا نذر دی نذر دې ته وایي چې یو څوک ووایي:

که زما دا کار وشي نو زه به د الله په نامه مال ورکړم، یا به څاروی حلال کړم. یا به روژه ونیسم، یا به لمونځ وکړم، یابه حج یا عمرې ته لاړ شم......

دا ډول نذر چې چا ومانهٔ نو بیا پرې وفا کول فرض او عبادت دی.

الله تعالی فرمایي:

((يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا))[1]

((نېکان مؤمنان نذرونه پوره کوي او لهٔ هغې ورځې وېرېږي چې شر یې ډېر اوږد دی)).

او الله نه پرته د بل چا پهٔ نامهٔ د منښتې پهٔ هکله فرمایي:

((إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ))[2]

---

[1] - سورة الدهر: ۷.
[2] سورة البقرة: ۱۷۳.

((الله پهٔ تاسو بې شکه مرداره، وینه، د بد خناور غوښه او هغه شیان حرام کړي دي چې پهٔ هغو لهٔ الله پرته د بل چا لپاره غږ شوی وي، او کهٔ څوک سرغړوونکی او تېری کوونکی نهٔ وي ، او اړ شو نو پهٔ هغهٔ ګناه نشته الله بې شکه بښونکی او خورا زیات لوروونکی دی)).

الله تعالی نه پرته د بل چا غږ پرې کېدل که د حلالولو پهٔ وخت کې وي هم حرام دی او کهٔ الله تعالی نه پرته د بل چاپهٔ نامه د نذر غږ پرې شوی وي هم حرام دی.

پخوانیو مشرکانو به هم الله سبحانه وتعالی نه پرته د نورو معبودانو لپاره نذرونه او منښتې منلې.

الله تعالی فرمایي:

((وَيَجْعَلُونَ لِمَا لاَ يَعْلَمُونَ نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقْنَاهُمْ تَاللّهِ لَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَفْتَرُونَ))[1]

((او لهٔ هغو شیانو نه چې مونږ ورکړي دي هغو معبودانو ته څهٔ برخې ټاکي چې نهٔ یې پېژني. پهٔ الله قسم دی چې تاسو به هرومرو د هغو دروغو پهٔ هکله وپوښتل شئ چې تاسو جوړول)).

پخوانیو مشرکانو به د خپلو باطلو معبودانو پهٔ نامه ځینې شیان نذرول او پهٔ هغو کې به یې ډول ډول تصرفونه کول او بندیزونه به یې پرې لګول.

---

[1] سورة النحل: ٥٦

((وَقَالُواْ هَـذِهِ أَنْعَامٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ لاَّ يَطْعَمُهَا إِلاَّ مَن نّشَاء بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا وَأَنْعَامٌ لاَّ يَذْكُرُونَ اسْمَ اللّهِ عَلَيْهَا افْتِرَاء عَلَيْهِ سَيَجْزِيهِم بِمَا كَانُواْ يَفْتَرُونَ وَقَالُواْ مَا فِي بُطُونِ هَـذِهِ الأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَى أَزْوَاجِنَا وَإِن يَكُن مَّيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاء سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ إِنَّهُ حِكِيمٌ عَلِيمٌ))[1]

((او هغوی ویلي دي چې دا څاروي او کښتونه بند دي، د دوی په دعوې به دا یواځې هغه څوک خوري چې زمونږ خوښه شي او څهٔ څاوري دي چې د هغو شاګانې د سپرلۍ نه حرامې شوې دي او څهٔ څار وي داسې دي چې د الله نومونه پرې نهٔ یادوي، په الله دروغ تړي، الله به ډېر زر دوی ته دهغو دروغو سزا ورکړي چې دوی جوړول او ویل یې چې د دې څارویو پهٔ خېټو کې چې کوم بچي دي دا زمونږ نارینه ؤ لپاره ځانګړي دي او زمونږ پهٔ ښځو حرام دي او کهٔ مردار به ؤ نو هغوی به پکې سره شریکان وو الله به ورته ډېر زر د دې خوی سزا ورکړي، هغه بې شکه د حکمت څښتن او ډېر پوه دی)).

((وَجَعَلُواْ لِلّهِ مِمِّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالأَنْعَامِ نَصِيبًا فَقَالُواْ هَـذَا لِلّهِ بِزَعْمِهِمْ وَهَـذَا لِشُرَكَآئِنَا فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلاَ يَصِلُ إِلَى اللّهِ وَمَا كَانَ لِلّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَى شُرَكَآئِهِمْ سَاء مَا يَحْكُمُونَ))[2]

---

[1]- سورة الانعام: ۱۳۸/۱۳۹.

[2]- سورة الانعام: ۱۳۶.

«او الله چې کوم کښتونه او څاروي پیدا کړي دي دوي لـهٔ هغو نه الله لپاره برخه ټاکلې ده، نو ویل یې چې دا ـ د دوی په ګمان ـ الله لپاره دی او دا زمونږ شریکانو لپاره دی، نو کوم چې د دوی شریکانو لپاره ؤ هغه الله ته نه رسېږي او کوم چې الله لپاره ؤ نو هغه د دوی شریکانو ته رسېدهٔ دوی ډېرې ناوړه پرېکړې کوي».

مشرکانو به څهٔ منښتې د الله پهٔ نوم کړې او څهٔ به یې دخپلو مزعومو معبودانو پهٔ نوم کړې، بیا به یې د خپلو معبودانو پهٔ نوم منښتوکې دومره احتیاط کاوهٔ چې د الله په نوم منښتو نه به کهٔ څهٔ شی د باطلو معبودانو پهٔ نوم منښتو سره ګډ شو نو باک یې نهٔ ګاڼهٔ خو د معبودانو پهٔ نوم منښتې یې د الله پهٔ نوم منښتو سره نه ګډولې.

د مشرکانو یو بل ډول منښتو باندې الله تعالی داسې رد کوي:

«مَا جَعَلَ اللّهُ مِن بَحِيرَةٍ وَلاَ سَآئِبَةٍ وَلاَ وَصِيلَةٍ وَلاَ حَامٍ وَلَـكِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ يَفْتَرُونَ عَلَى اللّهِ الْكَذِبَ وَأَكْثَرُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ»[1]

« الله نه بحیره ټاکلې ده، نهٔ سائبه، نهٔ وصیله او نهٔ حام، خو زیاتو خلکو کفر کړی دی، پهٔ الله دروغ تړي او د دوی زیات خلک عقل نه کار نهٔ اخلي».

---

[1] ـ سورة المائدة: ۱۰۳.

دا ټول هغه څاروي وو چې د جاهليت په وخت کې مشرکانو د خپلو معبودانو په نامه نذر کړي وو او بې له ګټې اخيستلو يې پرې ايښي وو

((بحيره)) هغه اوښه وه چې د معبودانو لپاره يې د هغې شيدې پرېښودې او نه يې لوشلې.

((سائبه)) هغه وه چې د معبودانو په نامه وه او هېڅ بار يې پرې نه باراوه.

((وصيله)) هغه ځوانه اوښه وه چې لومړي او دوهم لنګوال کې يې ښځه جونګې زېږوله او منځ کې يې نر نه ؤ هغه يې هم د معبودانو په نامه کوله.

((حام))هغه يندۀ اوښ ؤ چې د څو اوښو له ټېرولو وروسته يې د معبودانو په نامه کاوۀ او هيڅ يې پرې نه بارول.

دا کار تر ټولو د مخه عمرو بن لحی رواج کړی ؤ او رسول الله ﷺ ليدلی ؤ چې دوزخ کې يې خپلې کولمې راښکودې.[1]

نو دې ډول منښتو او نذرونو باندې الله تعالی رد وکړ. لۀ ځانه حرام او حلال جوړول کفر دی. د مسلمان معامله بايد الله سبحانه وتعالی سره وي.

هر کار کې بايد شرعي احکامو او ملحوظاتو ته پاملرنه وکړي او د اسلام د لارښوونو سره سم يې وکړي.

[1]- رواه البخاري ومسلم و احمد والطبراني.

((قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ))[1]

((ورته ووايه: زما لمونځ، زما حلاله، زما ژوند او زما مرګ بې شکه يواځې الله لپاره دي، چې د ټولو مخلوقاتو رب دی. هغه لپاره شريک نشته او په همدې ماته امر شوی دی او زه لومړنی له غاړه اېښودونکيو يم))

بل حديث کې عائشې رضی الله عنها نه روايت دی، هغه وايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: من نذر أن يطيع الله فليطعه ومن نذر أن يعصى الله فلا يعصه.[2]

((چا چې دا نذرو مانه چې د الله تعالی اطاعت وکړي نو ودې يې کړي او چا چې دا نذر منلی ؤ چې د الله نافرماني او ګناه وکړي نو نه دې يې کوي)).

بل حديث کې داسې راځي

عن طارق بن شهاب أن رسول اللهﷺ قال: ((دخل الجنة رجل فى ذباب و دخل النار رجل فى ذباب)) قالوا: وكيف ذلك يا رسول الله؟! قال: ((مر رجلان على قوم لهم صنم لا يجوزه أحد حتى يقرب له شيئاً فقالوا لأحدهما: قرب. قال: ليس عندي شئ أقرب. قالوا له: قرب ولو ذبابا. فقرب ذبابا، فخلوا سبيله.

---

۱- سورة الانعام: ۱٦۲-۱٦۳.

۲- رواه البخاري.

فدخل النار. و قالوا للآخر: قرب. فقال: ماكنت لأقرب لأحد شيئًا دون الله عزوجل فضربوا عنقه فدخل الجنة»[1]

طارق بن شهاب ﷺ نه روايت دی چې رسول اللهﷺ وفرمايل «يو سړی په يو مچ کې جنت ته لاړ او بل سړی په يو مچ کې دوزخ ته لاړ» صحابه ؤ وويل اې د الله پيغمبره! دا څرنګه؟ هغه وفرمايل «دوه سړي په يو قوم تېرېدل دهغوی يو بوت او درګاه وه چې هېڅوک پرې تر هغه نه شو تېرېدی تر څو چې څه منښته او شکرانه ورته ورانډې کړي نو منجاورانو هغه يو ته وويل: څه شکرانه واچوه هغه ورته وويل ماسره هېڅ نشته چې شکرانې کې يې ورانډې کړم هغوی ورته وويل يو مچ ورانډې کړه خو ورانډې يې کړه نو هغه يو مچ ورانډې کړ هغه يې پرېښود نو هغه دوزخ ته لاړ هغه بل ته يې وويل څه ورانډې کړه هغه وويل زه له الله تعالی پرته د هيچا لپاره نذر او شکرانه نه ورکوم. هغه نه يې څټ پرې کړ هغه شهيد شو او جنت ته لاړ»

کوم ځای کې چې د شرک نذرونه، مېلې او درګاه ګانې تېرې شوې وي او يا موجودې وي هلته د الله په نوم نذر پوره کول هم ناروا دي

ثابت بن ضحاکﷺ نه روايت دی چې يو سړي نذر منلی ؤ چې «بوانه» ځای کې څه اوښان د الله په نامه حلال کړي. نو نبي کريمﷺ نه يې پوښتنه وکړه، هغه ورته وفرمايل «هل كان فيها وثن

[1] ـ رواه احمد.

من أوثان الجاهلية يعبد؟» «آيا هلته د جاهليت د وخت کوم بوت يا درګاه وه چې عبادت يې کېدۀ؟» هغوی ورته وويل نه بيا هغه وفرمايل «فهل كان فيها عيد من أعيادهم؟» «آيا هلته د جاهليت د خلکو کومه مېله کېده؟» صحابه ؤ وويل نه نو بيا رسول اللهﷺ ورته وفرمايل «أوف بنذرك فإنه لا وفاء لنذر في معصية الله ولا فيما لا يملك إبن آدم»[1]

«ته خپل نذر پوره کړه او دا پوهنتنه مې ځکه وکړه چې نه د الله په نافرمانۍ او ګناه کې نذر پوره کول شته او نه په هغه څه کې چې د بني آدم په واک کې نه وي».

مطلب دا شو چې کوم ځای کې له الله پرته د بل چاپه نامه نذرونه او مېلې شوې وي نو هلته د الله په نامه نذر پوره کول هم ناروا دي

او د چا په لاس او وس کې چې څه نه وي هغه نذر پوره کول هم نشته

بل حديث کې داسې راځي

عن علي ﷺ قال: حدثني رسول اللهﷺ بأربع كلمات: «لعن الله من ذبح لغيرالله، لعن الله من لعن والديه، لعن الله من آوىٰ محدثا، لعن الله من غير منار الأرض»[2]

---

[1]- رواه ابوداود.
[2]- رواه مسلم و احمد.

علي ﷺ نه روايت دی هغه وايي: ماته رسول الله ﷺ څلور خبرې راښوولې دي: « چاچې الله تعالی نه پرته د بل چا لپاره حلاله وکړه، الله پرې لعنت کړی دی، چاچې خپل مور او پلار باندې لعنت ووايه، الله پرې لعنت کړی دی، چاچې ورانکاري او بدعتي ته پنا ورکړه، الله پرې لعنت کړی دی او چاچې د ځمکې نښې بدلې کړې، الله پرې لعنت کړی دی».

لعنت له رحمت لرې والی او عذاب کې ننوتلو ته ويل کېږي او دا ډېره لويه او سخته خبره ده.

الله تعالی نه پرته بل چا لپاره حلاله د هغه په نوم نذر کول او منښته کول دي.

او د ځمکې نښې بدلول دا دي چې لارې شارې او بندې کړې، د چا پوله او بريد ووهې، د چا لختی او نښې مخکې وروسته يا بدلې کړې..... دا ټول ناروا دي.

نو نذر او منښته عبادت دی، چې يو څل ومنل شي بيا پرې وفاکول فرض دي او يواځې د الله پهٔ نامه بايد ومنل شي، الله تعالی زمونږ پهٔ نذرونو او نيتونو خبر دی:

«وَمَا أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ»[1]

«او تاسو چې کوم لګښت لګولی وي يا مو کومه منښته منلې وي نو الله بې شکه پرې پوهېږي او ظالمانو لپاره څوک مددګاران نشته».

---

[1] - سورة البقرة: ۲۷۰.

نذر او منبنته منل اصلا د فضیلت کارنۀ دی ځکه چې دا دالله تعالی پۀ نوم په شرط مال ورکول دي، چې کۀ دا کار دې راته وکړ ستا پۀ نامۀ به دا ورکړم او کۀ و دې نۀ کړنو نۀ یې ورکوم، نو دا کومه ښه خبره نۀ ده، د الله تعالی پۀ نامه تل بې نذره او بې شرطه مال لګول فضیلت دی، نذر اصلا ممنوع او مکروه دی، خو چې یو ځل نذر ومنل شي او شرط پوره شي نو بیا پۀ نذر وفا کول فرض شي او د دې فرض پوره کول بیا عبادت او ثواب شي

نذر باندې الله تعالی د بخیل د مال نه څۀ راباسي

حدیث کې راځي عن عبدالله بن عمر قال: نهى رسولﷺ عن النذر وقال: (( إنه لا يرد شيئاً ولكنه يستخرج به من البخيل))[1]

عبدالله بن ـ مرؓ نه روایت دی هغه وایي رسول اللهﷺ له نذر منلونه منع کړې ده او فرمایلي یې دي ((نذر منل هیڅ نه شي ردولی خو په دې باندې د بخیل نه څه راایستل کېږي))

بل حدیث کې داسې راځي عن ابن عمرؓ عن النبيﷺ قال: ((إن النـــذر لا يقدم شيئا و لا يؤخر و إنما يستخرج بالنذر من البخيل))[2]

---

[1] ـ رواه البخاری ومسلم و ابو داود و النسائی و ابن ماجه.
[2] ـ رواه البخاری ومسلم.

عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى چې پېغمبر ﷺ وفرمايل «نذر نه څه شى مخکې کولى شي او نه يې وروسته کولى شي خو په نذر له بخيل نه څه راايستل کېږي».

بل حديث کې داسې راځي: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال النبي ﷺ: «إن النذر لا يقرب من ابن آدم شيئا لم يكنِ الله قدره له ولكن النذر يوافق القدر فيخرج بذلك من البخيل مالم يكن البخيل يريد أن يخرج»[1]

أبوهريرة رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي: پېغمبر ﷺ وفرمايل: «الله چې بني آدم ته څه تقدير کې نه وي ټاکلي نو نذر ورته هيڅ نه شي رانږدې کولى خو نذر تقدير سره برابرېږي نو په دې له بخيل نه هغه څه راايستل کېږي چې هغه نه غوښتل چې ويې باسي».
او بل حديث کې نذر او منښته داسې منع شوې ده:

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: « لاتنذروا فإن النذر لايغنى من القدر شيئا و إنما يستخرج به من البخيل »[2]

ابو هريرة رضي الله عنه عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل «نذر مه منئ ځکه چې نذر له تقدير نه هيڅ نه شي ستنولى بلکه په دې باندې له بخيل نه څه راايستل کېږي».

[1]- رواه البخارى ومسلم.
[2]- رواه البخارى ومسلم.

نو څرګنده شوه چې د نذر منل اصلا ښه کار نه دی بلکه د نذر منل منع دي، چې ځینې علماء ورته حرام او ځینې ورته مکروه وايي، خو نذر منل ښه کار نه دی.

نو که د چا له وسه پوره نه وه یا یې نه پوره کاوۀ او یا یې دا عقیده وه چې نذر باندې کار کېږي، نو د هغه په هکله نذر حرام دی.

او که د چا دا عقیده نه وه او پوره کاوۀ یې خو د شرط نذر یې مانۀ نو د هغه په هکله مکروه دی.

او که چا بې شرطه د الله په نامه نذر ورکاوه نو د هغه په هکله مباح یا مستحب دی.

او دا ټول هغه نذرونه دي چې د الله تعالی په نامه منل کېږي د بل چا په نامه منل خونږه شرک دی او مخکې دا خبره تېره شوه. نو تر ټولو ښه خبره دا ده چې د الله تعالی په نامه بې له نذره خالص د هغهﷻ د رضا لپاره صدقه او خیرات ورکول شي. خو که چا نذر ومانۀ نو پوره کول یې بیا فرض دي.

دا نذر بیا کله مطلق وي او هیڅ شی یې معلوم کړی نه وي نو په هغه د قسم کفاره ده.

کله کله د غوسې نذر وي. کله د یو مباح کار نذر وي. کله د ګناه نذر وي چې پوره کول یې ناروادي او کله کله یواځې د ثواب په نیت وي.

خو له الله پرته د الله تعالی په مخلوق کې د هیچا په نامه نذر منل روا نه دي بلکه شرک دی.

فقهاء وايي

«و أما النذر الذي ينذره أكثر العوام على ما هو مشاهد كأين يكون لإنسان غائب أو مريض أو له حاجة ضرورية فيأتي بعض قبور الصلحاء فيجعل ستره على رأسه فيقول: يا سيدي فلان! إن رد غائبي أو عوفي مريضي أو قضيت حاجتي فلك من الذهب كذا و من الفضة كذا و من الطعام كذا و من الماء كذا و من الشمع كذا و من الزيت كذا. فهذا النذر باطل بالإجماع لوجوه منها: أنه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا يجوز لأنه عبادة والعبادة لا تكون للمخلوق. و منها : أن المنذور له ميت والميت لا يملك. ومنها : أنه ظن أن الميت يتصرف في الأمور دون الله تعالى و إعتقاده ذلك كفر».

«هغه نذر چې ډېر عوام يې مني او ليدل کېږي، لکه چې د چا څه شی ورک شوی وي، يا يې ناروغ وي يا بله کومه اړتيا وي، نو د ځينو نېکانو قبرونو ته ورځي، د هغه پرده په سر رااچوي، او وايي: زما فلانی مېړنيه! که زما ورک شوی راپيدا شو يا مې ناروغ روغ شو يا مې اړتيا پوره شوه، نو تا لپاره مې دومره سره زر يا دومره سپين زر يا دومره خواړه يا دومر اوبه يا دومره شمعې يا دومره تېل په نذر منلي دي. نو دا نذر د څو لاملونو له کبله د علماو په اجماع باطل دی: يو دا چې د امخلوق لپاره نذر دی او مخلوق لپاره نذر ناروا دی. ځکه چې نذر عبادت دی او عبادت مخلوق

لپاره نه وي. بل دا چې چا ته نذر منل شوی دی هغه مړ دی او مړ د څه شي مالک نه شي جوړېدی. بل دا چې دغه کس دا ګومان وکړ چې مړی له الله تعالی پرته د دنیا په چارو کې تصرف کوي او دا عقیده یې کفر دی)).

## بې کچه مینه او محبت

د عبادت لهٔ ډولونو څخه بل ډول بې کچه نهائي مینه او محبت دی.

محبت دوه ډوله دی:

(۱): دنیوي د مخلوق په کچ.

(۲) نهائي بې کچه د الله تعالی حق.

دنیوي د مخلوق پهٔ کچ هغه مینه ده چې انسان یې د مور او پلار، ښځې او بچو، خپل خپلوانو، دوستانو او ملګرو، کلي ولس او وطن، قوم او قبیلې او داسې نورو سره لري، دا روا او ښه مینه ده او هر چاسره د هغهٔ مناسبه مینه ده، د ساري پهٔ توګه: د مور سره چې کومه مینه په کار ده هغه ښځې سره نهٔ ده پهٔ کار او د ښځې سره چې کومه پهٔ کار ده هغه مور سره نهٔ ده پهٔ کار.

دوهم ډول مینه نهائي بې کچه او هغه مینه ده چې هغه عبادت دی او د الله تعالی حق دی نو داسې مینه د بل چا سره کول شرک دی.

الله تعالی فرمايي:

((وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللّهِ أَندَاداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللّهِ وَالَّذِينَ آمَنُواْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلّهِ))[1]

((او له خلکو ځینې هغه دي چې له الله پرته یې شریکان نیولي دي او الله سره د محبت غوندې محبت ورسره کوي او مؤمنان الله سره په محبت کې ډېر کلک دي)).

## بې کچه او غیبي وېره او ډار

د عبادت له ډولونو څه نهائي بې کچه او غیبي وېره هم ده. وېره دوه ډوله ده:

یو له ځرګندو او محسوسو دنیوي اسبابو نه وېره ده دا فطري وېره ده او دا عبادت نه دی او نه ګناه ده لکه چې انسان له دښمن، وسلې، ځیرونکیو ځناورو، زهرجنواوچیچونکیوخځنده و او داسې نورو شیانو او پېښونه وېرېږي.

دا وېره په توپیر او تفاوت وي، ځینې انسان زړور ؤي او ډېر نه وېرېږي او ځینې بې زړۀ او ډارن وي هغه ډېر وېرېږي، دا ډول وېره نه ګناه ده نه عبادت دی او نه ناروا ده، خو زړورتیا او جرات ښه صفتونه دي او بې زړۀ توب او بزدلي ناوړه صفت دی.

---

۱ ـ سورة البقرة: ۱۶۵.

خو غیبي ، نهائي او بې کچه وېره چې لهٔ محسوساتو او اسبابو نه لوړه وي دا وېره عبادت دی ، دا وېره یواځې یو الله سبحانه وتعالی نه ښایي ، دا وېره هر وخت پهٔ کار ده او له الله تعالی پرته د هغه په مخلوق کې بل چا نه دا ډول وېره کول شرک دی.

لکه ځینې جاهلان او قبرپرستان چې د قبرونو ، ملنګانو ، پیرانو ، منجاورانو ، جنډو او ګومبزو نه وېرېږي چې ګنې ځهٔ کړاو به راپېښ کړي.

له همدې امله پهٔ ډېرو قبرونو زړې زړې وچې ونې ولاړې وي چې کلونه او پېړۍ پرې اووښتې وي او څوک یو منډوکی او یوه لختنه هم ترې نهٔ ماتوي او وېرېږي چې زیارت او بابا به راته څهٔ ضرر ورسوي؛ دا ډول وېره عبادت دی او لهٔ الله تعالی پرته بل چانه دا ډول وېره کول شرک دی. دغه پهٔ زیارتونو ونې غنیمت دی باید ووهل شي ، وسوزول شي او په کار راوړل شي.

یا لکه د ځینو پیرانو ، منجاورانو ، ملنګانو ، سیدانو ، پاچایانو ، میرانواو میاګانو لمسي چې هر ناروا کوي خلک یې نازولي بولې او هیڅ ورته نهٔ وایي ، کهٔ هغه ظلم کوي هم څهٔ ورته نهٔ وایي او که لکۍ یې وشي هم ښهٔ یې بولي ، وېرېږي چې نیکه به یې راته څهٔ غیبي کړاو او ضرر ورسوي ، دې نازولتوب هغوی له انسانیت نه مینځلي دي او ډېر بې ادبه او بې تهذیبه رالوی شي.

نو دا ډول وېره د بل چانه ناروا او شرک دی او الله تعالی نه دغه رنګه وېره کول عبادت ، فرض او ثواب دی.

الله تعالى فرمايي:

((فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي))[1]

((نو هغوى نه مه وېرېږئ او لهٔ ما وويرېږئ))

او فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّهُ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ تَنَالُهُ أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ اللّهُ مَن يَخَافُهُ بِالْغَيْبِ فَمَنِ اعْتَدَى بَعْدَ ذَلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ))[2]

((اى مؤمنانو! الله به هرومرو تاسو په څهٔ ښکار ازمېيي چې ستاسو لاسونه او ستاسو نېزې به يې لاس ته راوړي، دا د دې لپاره چې الله هغه خلک معلوم او په نښه کړي چې په پټه لهٔ هغهٔ وېرېږي او چا چې لهٔ دې وروسته تېرى وکړ نو هغهٔ لپاره دردناک عذاب دى)).

او د پرښتو او نورو غاړه ايښودنکيو مخلوقاتو په هکله فرمايي:

((يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ))[3]

((د خپل هغه رب نه وېرېږي چې د هغوى دپاسه دى او هغه کارونه کوي چې حکم ورته کېږي)).

---

[1]- سورة البقرة: ۱۵۰.

[2]- سورة المائدة: ۹٤.

[3]- سورة النحل: ۵۰.

او فرمايي:

((إِنَّمَا ذَلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءهُ فَلاَ تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ))[1]

((دا بې شکه شیطان دی چې تاسو له خپلو ملګرو وېروي نو که مؤمنان يئ له هغوی مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ)).

او فرمايي:

((إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً))[2]

((نو بیا د هغوی یوه ډله له خلکو داسې وېرېږي لکه له الله وېره یا له دې هم سخت وېرېدل)).

او فرمايي:

((فَلاَ تَخْشَوُاْ النَّاسَ وَاخْشَوْنِ))[3]

((نو له خلکو مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ)).

او فرمايي:

((أَلاَ تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَّكَثُواْ أَيْمَانَهُمْ وَهَمُّواْ بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ وَهُم بَدَؤُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَوْهُ إِن كُنتُم مُّؤُمِنِينَ))[4]

---

[1]- سورة آل عمران: ١٧٥.
[2]- سورة النساء: ٧٧.
[3]- سورة المائدة: ٤٤.
[4]- سورة التوبة: ١٣.

((آیا هغو خلکو سره نهٔ جنګیږئ چې خپل قسمونه یې مات کړي دي، د پیغمبر د ایستلو هڅه یې کړې او دوی لومړی ځل پهٔ تاسو پیل کړی دی؟ آیا تاسو لهٔ دوی وېرېږئ؟ که مؤمنان یئ نو الله د دې ډېر حقدار دی چې ورڅخه ووېرېږئ)).

او فرمايي:

((إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ))[1]

(( هغه خلک چې له خپل رب نه پهٔ پټه وېرېږي هغوی لپاره بښنه او لوی اجر دی)).

((مَنْ خَشِيَ الرَّحْمَن بِالْغَيْبِ وَجَاء بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ))[2]

((څوک چې پهٔ غیبو لهٔ رحمٰن ذات ووېرېدهٔ او پهٔ راګرځېدونکي زړهٔ راغی)).

## إنابت (الله تعالی ته راستنېدل)

إنابت رجوع، پښېمانتیا او راګرځېدلو ته وايي، الله تعالی ته رجوع کول، راګرځېدل او د هغهٔ لهٔ وېرې یو کار پرېښودل او بل کول انابت دی او دا عبادت دی.

[1] - سورة الملك: ١٢.

[2] - سورة ق: ٣٣.

الله تعالی فرمایي:

((وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لاَ تُنصَرُونَ))[1]

((او لهٔ هغې مخکې خپل رب ته راوګرځئ او هغهٔ ته غاړه کېدئ چې عذاب به درته راشي بیا به تاسو سره مرسته نهٔ کېږي)).

او فرمایي:

((وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ))[2]

(( او د هغه چاپهٔ لار لاړ شه چې ماته راګرځېدلی وي)).

((إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ))[3]

((پهٔ دې کې بې شکه هر راګرځېدونکي بنده لپاره خامخا نښه ده)).

((وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلاَّ مَن يُنِيبُ))[4]

((او یواځې هغه څوک پند اخلي چې راګرځي)).

((اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاء وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ))[5]

((الله چې چاته وغواړي ځان ته یې غوره کوي او څوک چې راګرځي هغهٔ ته د خپل ځان لورته لارښوونه کوي)).

((مَنْ خَشِيَ الرَّحْمَن بِالْغَيْبِ وَجَاء بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ))[6]

---

[1] - سورة الزمر: ٥٤.
[2] - سورة لقمان: ١٥.
[3] - سورة سبا: ٩.
[4] - سورة المؤمن: ١٣.
[5] - سورة الشورى : ١٣.
[6] - سورة ق: ٣٣.

((څوک چې په نالیدلو له ډېر مهربان ذات نه ووېرېدهٔ او پهٔ راګرځېدونکي زړهٔ راغی))

## تحاکم (پرېکړه وړل)

تحاکم خپلې شخړې او جګړې د پرېکړې او فیصلې لپاره وړاندې کولوته ویل کېږي. حاکمیت د الله تعالی صفت دی او هغه به د توحید الاسماء والصفات د سرلیک لاندې وڅېړو. او تحاکم د بنده فعل دی. نو ځکه یې د الوهیت او عبادت پهٔ توحید کې رااخلوو. لکه مخکې مو چې د توحید الالوهیة یا توحید العبادة پهٔ تعریف کې وویل چې دا توحید دې ته وایي چې بنده په خپل فعل (عبادت) دا ثابته کړي چې زه الله سبحانه وتعالی یو ګڼم.

تحاکم هم د عبادت یو ډول دی نو ځکه د اسلامي شریعت (قرآن او حدیث) نه پرته بل قانون او دود ته پرېکړې وروړل شرک او کفر دی.

اوس چې زه دا کرښې لیکم او ۱۴۲۸/۸/۱۹ هـ ق تاریخ دی په دې عصر کې د ځمکې پهٔ مخ اسلامي نظام، اسلامي خلافت او اسلامي حکومت نشته، ټول نظامونه او حکام کافران او مرتدان دي ځکه چې ټولو وضعي قوانین د دستور او قانون پهٔ حیث نافذ کړي دي او اسلامي شریعت او اسلامي قانون یې رنګ کړی دی، هغه

څوک يې چې دعوې کوي هلته هم په سلوکې سل لاڅۀ چې پۀ سلو کې څلويښت هم اسلام نافذ نه دی. پۀ بې وزلانو د يو څو حدودو نافذولو باندې يو نظام اسلامي نۀ شي ګڼل کېدی الله سبحانه وتعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ ادْخُلُواْ فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ))[1]

((ای مؤمنانو! پۀ اسلام کې ټول بشپړ ننوځئ او د شيطان د پلونو پسې مۀ ځئ هغه بې شکه تاسو لپاره څرګند دښمن دی)).

دغه د اسلام دعوه داران حاکمان مرتد شوي دي، ځکه چې يواځې د جوماتونو په جوړولو او پۀ بې وزلو خلکو د ځينو حدودو نافذولو باندې نه هغوی مسلمانان ګڼل کېږي او نۀ د هغوی نظامونه اسلامي ګڼل کېږي، هلته پۀ اميرانو حدود نه نافذېږي، هلته اقتصادي نظام د سود او د اسلام د دښمنانو سره تړلی او د وضعي قوانينو مطابق چلېږي. هلته پوځي، سياسي، اداري، قضايي او نورو نظامونو لپاره پردي وضعي قوانين راوارد شوي او د قانون او دستور پۀ حيث نافذ دي.

د هغوی د ارتداد دا او داسې نور ډېر لاملونه دي چې دليلونه يې د حاکميت د عنوان لاندې راروان دي هلته يې وګورئ.

دلته زمونږ د بحث موضوع تحاکم دی نو هر هغه قانون، نظام او دود چې اسلام نه خلاف وي او انسان تاکلی وي، هغه

[1] - سورة البقرة: ۲۰۸.

وضعي بلل کېږي او د غه وضعي قوانينو. نظامونو او دودونو ته پرېکړه ورو ړل کفر او شرک دی
الله تعالی فرمايي
((أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُواْ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُواْ إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُواْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلاَلاً بَعِيدًا))[1]
((آيا تا هغه خلک نهٔ دي ليدلي چې هغوي دعوه لري چې هغوی بې شکه پهٔ هغه کتاب چې تا ته نازل شوی او پهٔ هغهٔ چې لهٔ تامخکې نازل شوی دی، ايمان راوړی دی. خو غواړي چې طاغوت ته پرېکړې وړاندې کړي او حال دا چې دوی ته امر شوی دی چې طاغوت نه انکار وکړي او شيطان غواړي چې دوی پهٔ لرې بې لارۍ بې لارې کړي))
دا آيه د همدغسې خلکو پهٔ هکله نازل شوی دی چې د ايمان دعوه لري او ځانونو ته مسلمانان وايي ،خو طاغوت ته فيصلې وړاندې کوي ،نو دا کار خو د ايمان خلاف دی ځکه چې مؤمنانو ته الله تعالی فرمايي
((فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً))[2]

---

[1]- سورة النساء: ٦٠.
[2]- سورة النساء: ٥٩.

(( او کۀ پۀ څۀ شي کې مو جګړه او اختلاف وکړ نو کۀ په الله او د قيامت پۀ ورځ مو ايمان راوړی وي نو الله او پيغمبر ته يې وړاندې کړئ دا غوره ده او ښې پايلې لري))

اسلامي شريعت نه پرته شريعت، قانون، رواج، دود او نظام ته په خپله خوښه پريکړه وړاندې کول کفر دی.

إمام ابن كثير وايي:

((فمن ترك الشرع المحكم المنزل على محمد بن عبد الله خاتم الأنبياء و تحاكم إلى غيره من الشرائع المنسوخة كفر، فكيف بمن تحاكم إلى الياسا و قدمها عليه؟ من فعل ذلك كفر بـــإجمـــاع المسلمين))[1]

((نو چا چې هغه غښتلی قانون پرېښود چې په خاتم الانبياء محمد بن عبدالله صلى الله عليه وسلم باندې نازل شوی دی او نورو منسوخو قوانينو ته يې پريکړه يوړه نو هغه کافر شو، نو هغه څوک به څرنګه کافر نه وي چې ((ياسا)) ته يې پريکړه يوړه او په اسلامي شريعت يې وړاندې کړ؟ چا چې داسې وکړل نو د ټولو مسلمانانو په اتفاق کافر شو.

إمام ابن البزار الكردري الحنفي رحمه الله وايي:

((چا چې خپل مخالف ته وويل: د شريعت په حکم به پريکړه وکړو او هغه وويل: زه په بل سياست او پريکړې کار کوم نو هغه کافر شو))[2]

---

[1] - البداية والنهاية: ۱۳۹/۱۳.
[2] - البزاز ية على هامش العالمكبر ية : ۳۳۸/٦.

همدارنګه وایي: ((که چا خپل مخالف ته وویل: راځه چې د شریعت او د الله په حکم فیصله وکړو او هغه وویل: زه د الله حکم نه پېژنم...... یا یې وویل: په رواج او دود پرېکړه کوو...... ((و إن قال لا أرید الشرع کفر)) ((او دایې وویل چې زه شریعت نه غواړم نو کافر شو))[1]

إمام أبوبکر الجصاص رحمه الله د دې آیة لاندې: (( فلا وربك لا یؤمنون......)) لیکي: (( وفی هذه الآیة دلالة علی أن من رد شیئًا من أوامرالله تعالی أو أوامر رسوله ﷺ فهو خارج من الإسلام، سواء رده من جهة الشك فیه أو من جهة ترك القبول والإمتناع من التسلیم و ذلك یوجب صحة ما ذهب إلیه الصحابة فی حکمهم بإرتداد من امتنع من أداء الزکات و قتلهم وسبی ذراریهم لأن الله تعالی حکم بأن من لم یسلم للنبی ﷺ قضاءه و حکمه فلیس من أهل الإیمان))[2]

(( په دې آیة کې په دې خبرې دلالت دی چې چا د الله تعالی یا دهغه د پیغمبرﷺ له اوامرو او پرېکړو څخه څه رد کړل نو که د شک له امله یې رد کړي وي، که د نه منلو له کبله یې رد کړي وي او یا یې د غاړې نه ایښودلو له کبله رد کړي وي، هغه اسلام نه وتلی (کافر) دی. له دې څخه د صحابه کرامو رضي الله عنهم د دې

[1] - البزازیة علی هامش العالمکیریة : ٣٢٥/٦.
[2] - احکام القرآن للجصاص : ١٨١/٣.

پرېکړې صحت ثابتېږي چې هغوی د هغو خلکو د مرتد ګڼلو پرېکړه کړې وه چې چا د زکات ورکولو نه انکار کړی ؤ، د هغوی د وژلو او د هغوی د اولادونو په غلامۍ د نيولو پرېکړه يې کړې وه. او دا ځکه چې الله تعالى دا حکم کړی دی چې چا د نبي کريم ﷺ پرېکړې او حکم ته غاړه کې نه ښوده نو هغه د ايمان له خاوندانو څخه نه دی».

نو مؤمنان به خپلې پرېکړې او فيصلې قرآن او سنت ته وړاندې کوي او مسلمانان به د عدل پرېکړې کوي.

الله تعالى فرمايي:

«إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ إِنَّ اللّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا»[1]

«الله بې شکه تاسو ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله مو چې د خلکو منځ کې پرېکړې کولې چې په انصاف پرېکړې وکړئ الله په دې ښه پند درکوي الله بې شکه ښه اورېدونکی او ښه ليدونکی دی».

د منافقانو د خويونو او ناوړه صفتونو نه يو دا هم دی چې قرآن او سنت ته د رجوع کولو نه خلک ايساروي:

«وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ إِلَى مَا أَنزَلَ اللّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا»[2]

---

[1]- سورة النساء: ۵۸.
[2]- سورة النساء: ٦١.

((او کله چې دوی ته وويل شي: هغه کتاب ته چې الله رالېږلی او پېغمبر ته راشئ نو منافقان به ګورې چې خلک له تا بيا بيا ايساروي)).

د اسلام پرېکړې چې په خلاص زړه ونه مني او خوشحال هم پرې نه شي مؤمن کېدی نه شي:

((فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا))[1]

((داسې نه ده چې دوی يې ګومان کوي، ستا په رب قسم دی چې دوی ترهغه مؤمنان کېدی نه شي، تر څو چې تا په هغو شخړو کې منځګړی حاکم ونه ټاکي چې د دوی تر منځ پيدا شوي، دي بيا په خپلو زړونو کې له هغې پرېکړې تنګي هم ونه مومي چې تا کړې ده او پوره غاړه کېدي)).

اوس نو د دې امت وګړو ته وګوره چې په دې معيار څومره وګړي برابر او پوره دي؟! څرګند، بې ګرده او صريح حکم دی چې څوک اسلامي شريعت ته خپلې پرېکړې نه وړاندې کوي او يا د اسلام د پرېکړو په هکله په زړه کې تنګي مومي او د اسلام پرېکړو ته بشپړه غاړه نه ږدي، هغه مؤمن نه دی او په دومره تاکيد او ټينګار يې وايي چې نورو ځايونو کې الله تعالی په، انځر، بنونه، مازيګر، اسمان، زمکې، لمر، سپوږمۍ او خپلو نورو مخلوقاتو لوړه کوي ،خو دلته په خپل ذات لوړه کوي او فرمايي چې ((وربك)) ((او ستا په رب لوړه کوم)).

---

[1] - سورة النساء: ٦٥.

اوس چې هم څوک په دې کې شک کوي چې وضعي قوانینو، قبیلوي دودونو او نورو د اسلام خلاف پرېکړوته غاړه اېښودل کفر دی، نو هغه دې توبه وباسي او نوی له پیله دې اسلام زده کړي، ایمان دې راوړي، ځکه چې هغهٔ د ایمان نه لاس مینځلی دی، ځکه چې هغهٔ الله تعالی سره په مخالفت اوجګړه کې واقع شوی دی.

دې موجوده نظامونو او حکومتونو باندې پهٔ خپله خوښه پرېکړې کول او د دوی پرېکړو ته غاړه اېښودل او د دوی ماموریتونو، تاڼو، قاضیانو، ججانو، کچرو او کورټونو ته پهٔ خپله خوښه عریضې او درخواستونه کول کفر دی. خو کهٔ څوک پهٔ زور نیول کېږي او په زور زولنو او زنځیرونو کې وروړاندې کېږي او هغه ترې کرکه کوي، نو دغه شخص معذور دی او دا د ده ګناهٔ ده، خو پهٔ خپله خوښه باید دغه وضعي قوانینو ته فیصله وړاندې نهٔ کړي.

اوس په دغه اوسني عصر کې چې پهٔ ګرده نړۍ کې اسلامي نظام او اسلامي حکومت نشته، نو مسلمانان باید د شخړو، جګړو او اختلافونو پهٔ وخت کې حق پرستو علماؤ ته پرېکړې وړاندې کړي او هغوی ته ووایي چې زمونږ تر منځ پهٔ قرآن او سنت پرېکړه وکړه. او کهٔ کوم ځای کې علماء هم نهٔ وي او څوک ورسره ظلم او تېری کوي نو اسلام ورته حق ورکړی دی چې د خپل ځان، مال او عرض نه دفاع وکړي او د ظالم مخه ونیسي، کهٔ پهٔ زور هم وي خپل حق ورڅخه اخیستی شي، خود خپل حق نه زیاتی او د خپل برید نه تېری ورته روانهٔ دی.

رسول اللهﷺ فرمايي: (( من قتل دون دينه فهو شهيد ومن قتل دون دمه فهو شهيد ومن قتل دون ماله فهو شهيد ومن قتل دون أهله فهو شهيد ))[1]

((څوک چې د خپل دين په دفاع کې ووژل شونو هغه شهيد دی، څوک چې دخپل ځان په دفاع کې ووژل شو هغه شهيد دی، څوک چې د خپل مال په دفاع کې ووژل شو هغه شهيد دی او څوک چې د خپل کهول، کور، ښځې او بچو په دفاع کې ووژل شو هغه شهيد دی)).

او کۀ خپله يې وس نۀ ؤ نو نور مسلمانان بايد مرسته ورسره وکړي، د ظالم مخه ونيسي او د مظلوم حق ورڅخه واخلي حديث کې راځي:

عن جابر أن رسول اللهﷺ قال: ((لينصر الرجل أخاه ظالما أو مظلوما إن كان ظالما فلينهه فإنه له نصر و إن كان مظلومـــا فلينصره))[2]

جابر ﷺ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ((يو سړی دی د خپل مسلمان ورور مرسته وکړي که ظالم وي او که مظلوم وي، که ظالم وي نو منع دې يې کړي همدا ورسره مرسته ده او که مظلوم وي نو مرسته دې ورسره وکړي)).

---

[1]- رواه الترمذی،أبو داود و النسائی و ابن ماجة.
[2]- رواه مسلم و الدارمي والبيهقی.

بل روایت کې انسؓ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل «انصر أخاك ظالما أو مظلوما» قالوا یا رسول الله هذا ننصره مظوما فکیف ننصره ظالما؟ قال: «تأخذه فوق یدیه»[1]

«د خپل ظالم او مظلوم ورور مرسته وکړه» صحابه ؤ وویل ای د الله پیغمبره! دا یو خو مظلوم دی مرسته به ورسره وکړو چې ظالم وي څرنګه ورسره مرسته وکړو؟ هغه وفرمایل: «ظلم نه یې لاس ونیسئ».

پۀ هر صورت باید کوښښ وکړي چې طاغوتي نظامونو او وضعي قوانینو ته خپلې فیصلې وروړاندې نۀ کړي. همدارنګه هغو جرګو ته هم د پرېکړو د وړاندې کولو حکم همدا دی چې اسلام سره په ټکر کې وي.

الله تعالی فرمايي:

«أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ»[2]

«نو آیا دوی د جاهلیت پرېکړې غواړي؟ او هغو خلکو لپاره چې باور کوي، پۀ پرېکړو کې لۀ الله څوک ښۀ کېدی شي؟»

د مؤمن صفت دا دی چې د الله سبحانه وتعالی او پیغمبر پرېکړو ته پوره تسلیم وي او بشپړه غاړه ورته ږدي. الله تعالی فرمايي:

---

[1] - رواه البخاری.
[2] - سورة المائدة: ۵۰.

((إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ))[1]

((مؤمنان چې کله الله او د هغهٔ پیغمبر ته د دې لپاره راوبلل شي چې د هغوی منځ کې پرېکړې وکړي نو د هغوی وینا به بې شکه دا وي چې ووايي: مونږ واورېدل او ومومنل او همدوی بريالي دي)).

او د الله سبحانه وتعالى او د هغه د پيغمبرﷺ پرېکړو ته چې غاړه نهٔ ږدي نو هغوی کهٔ د ايمان دعوه هم کوي، مؤمنان نهٔ دي الله تعالی فرمايي:

((وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِّنْهُم مِّن بَعْدِ ذَلِكَ وَمَا أُولَئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ وَإِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم مُّعْرِضُونَ وَإِن يَكُن لَّهُمُ الْحَقُّ يَأْتُوا إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ))[2]

((او دوی وايي چې مونږ پهٔ الله او پيغمبر ايمان راوړی دی او خبره مو منلې ده، بيا لهٔ دې وروسته لهٔ دوی يوه ډله شا اړوي او دوی مؤمنان نهٔ دي، او کله چې الله او د هغهٔ پيغمبر ته د دې لپاره راوبلل شي چې د دوی تر منځ پرېکړې وکړي، نو بيا له دوی يوه ډله سرغړوونکي وي او که حق دوی لپاره وي نو بشپړ غاړه ايښودونکي ورته راځي)).

---

[1]- سورة النور: ٥١.
[2]- سورة النور: ٤٧-٤٩.

نو څوک چې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د پيغمبر ﷺ پرېکړو ته بشپړه غاړه نه ږدي او يا دا چې که حق د دوی لپاره وي نو غاړه ورته ږدي او که حق د بل چا په خوا وي اودوی ملامت وي نو غاړه ورته نه ږدي، په دې دواړو صورتونو کې سره له دې چې د ايمان دعوه هم کوي، مومنان نه دي.
الله تعالی وفرمايل چې:

((وما أولئك بالمؤمنين)) ((او دوی مؤمنان نه دي)).

اوس نو د ايمان او اسلام مدعيان د قرآن کريم په دې تله وتلئ او ويې ګورئ چې ترکومه د اسلام پرېکړوته غاړه ږدي؟

عوام او ناپوهان خو پرېږده د هغو ملانماګانو او د بلعام باعور د ورونو عالمانو حال وګوره چې په خپله خوښه او رضا طاغوتي قانون ته تحاکم کوي!!!

طاغوتي قضايي ادارو ته عدالت وايي!!! او بيا د ډېر افسوس خبره خو داده چې په عقيدوي يا عملي فقهي اختلافي مسائلو کې په خپلو منځو کې اړم وي، لوی لوی اعلانونه به چاپوي او د ((ض)) مساله کې، د سنتو يا فرضو نه وروسته د دعاء په مساله کې، دمړو د خيراتونو په مسائلو کې، د قرائت خلف الامام، د جهر او خفيه آمين، رفع اليدين شيعه او سُني او داسې نورو عقيدوي او عملي مسائلو کې به يو بل ته دمناظرو تحدي او ننګونه ورکوي او بيابه ليکي چې عدالت کې مناظرې ته تيار يم، که پر شوم يولک، دوه لکه....... انعام په عدالت کې واخله...... چې داکار پنجاب کې ډېر زيات دی.

های افسوس!!! چې په یو فقهي اختلافي مساله کې ملا صاحب ځان کفر ته باسي او بل مسلمان ته د طاغوتي قانون لاندې طاغوت ته فیصلې وړي او تحاکم ورته کوي!!! په کار خو دا وه چې دې دوارو لومړی پخپله اسلام په صحیح معنا بشپړ منلی او عملي کړی وای، د انصاف په سترګو یې د اسلام د دلیلونو په تله خپل اختلافات ختم کړي وای، یو موټی ورونه ورونه شوي وای، حق ته یې غاړه ایښې وای، د ضد، عناد او مذهبي او مسلکي تعصب نه لوړ کردار یې ادا کړی وای، په ګډه یې د دغه طاغوتي نظام خلاف جهاد کړی وای او د اسلامي خلافت د قیام او اسلامي شریعت د نفاذ لپاره دواړه سره یو شوي وای. بیا ځینو د توحید مدعیانو خو توحید یواځې په دې کې راخلاصه کړی او محدود کړی دی چې قبرونه او زیارتونه څۀ نه شي کولی. بې شکه د قبر پرستۍ رد په کار دی او دا د توحید یوه څنډه او یوه برخه ده خو توحید یواځې همدا نۀ دی چې قبرونه څۀ نۀ شي کولی، د توحید دغه مدعیان په تشریعي توحید کې، د حاکمیت او تحاکم په توحید کې د شرک مرتکب دي، سیکولرستانو او علمانیانو سره یو ځای دي، طاغوت ته فیصلې وړي، طاغوتان خپل شرعي حاکمان ګڼي، د طاغوتانو خلاف جهاد بغاوت ګڼي، تر دې چې طاغوتي نظامونو ته جاسوسي کوي، د هغوی د استخباراتي ادارو فعال غړي دي او د هغوی په امر د مجاهدینو خلاف کار کوي!!!

له بله پلوه د اسلام د سیاسي اړخ مدعیان د کفر له لارې اسلام غواړي د طاغوتي قانون لاندې، ولسي جرګو، پارلمانونو او

اسمبلو ته د ځان رسولو لپاره د اسلام په نوم عوام غولوي او رايې ورڅخه غواړي، بيا چې کله پارلمان ته ورسيږي نو د الله تعالى نوم په ناروا استعمالوي او لوړه (قسم) کوي چې زه به د دې طاغوتي قانون احترام کوم!!! دا د اسلام او مسلمانانو سره لويه جفاده، دا نړه ارتداد دی، دا خالصه درغلي ده، دا العياذ بالله د الله تعالى د غولولو کوښښ دی، دا د اسلامي امت غولول دي، دا د اسلامي خلافت د قيام په لار کې لوی خنډ دی.

(( و ما أولئك بالمؤمنين )).

## مطلق طاعت

مطلق طاعت بې قيده او بې شرطه منلو او غاړه ايښودلو ته ويل کيږي او دا ډول طاعت عبادت دی. مخکې د عبادتِ د قبول په شرطونو کې د اتباع په شرط کې د الله تعالى او د هغهٔ د پيغمبرﷺ د طاعت په هکله ګڼ نصوص نقل شول.

طاعت په دوه ډوله دی:

(۱) مقيد او مشروط طاعت.

(۲) مطلق طاعت.

مقيد او مشروط طاعت دادی چې مامور د امير طاعت کوي، رعيت د خليفه او اميرالمؤمنين طاعت کوي، غلام د بادار طاعت کوي، اولاد د پلار طاعت کوي، ښځه د مېړهٔ طاعت کوي،

کشر د مشر طاعت کوي، مقتديان د امام طاعت کوي، عوام د علماؤ طاعت کوي او داسې نور...... دا ټول طاعتونه مشروط او مقيد دي او هغه دا چې: د دې ټولو به په هغو امورو کې طاعت کېږي چې د اسلامي شريعت (قرآن او سنت) خلاف نه وي او د ګناه امر نۀ وي، ځکه چې: رسول اللهﷺ فرمايي:

((لاطاعة فى معصية الله عزوجل إنما الطاعة فى المعروف)).[1]

((د الله تعالى په نافرمانۍ او ګناه کې د چا منل او طاعت نشته طاعت يواځې په نېکيو کې دى)).

او لکه څرنګه مو چې مخکې وويل:

د رسول الله ﷺ طاعت د الله تعالى طاعت دى:

الله تعالى فرمايي:

((مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّهَ))[2]

((چا چې د پيغمبر طاعت وکړ نو هغۀ بې شکه د الله طاعت وکړ)).

ځکه چې هغه لۀ ځانه خبره نه کوي، هغۀ ته وحې کېږي، نو هغه اصلا د الله طاعت ته خلک رابلي. نو د هغۀ طاعت هم مقيد شو معنا دا چې د هغه طاعت ځکه کوو چې پيغمبر دى او الله سبحانه وتعالى مونږ ته حکم کړى دى چې زما د پيغمبر ومنئ، ځکه چې د هغه طاعت زما طاعت دى او داسې نۀ ده چې ګنې د پيغمبر طاعت

---

[1] - رواه البخاري و مسلم و ابو داود والنسائي.
[2] - سورة النساء: ۸۰.

مطلق بې قیده او بې شرطه دی او کهٔ فرضا هغه پېغمبر نهٔ وای نو بیا هم د هغهٔ طاعت پهٔ مونږ فرض ؤ نه، بلکه کهٔ هغه پېغمبر نه وای نو یو عادي سړی به ؤ او بیا د هغهٔ طاعت د الله طاعت نهٔ ؤ، بلکه د نورو عادي انسانانو غوندې به ؤ.

خو د الله طاعت مطلق دی او پهٔ هغه کې هیڅ قید او شرط نشته او د هغهٔ ﷻ پهٔ شان کې هیڅ فرضي صورتونه نهٔ شي اټکل کېدی او دغسې طاعت عبادت دی، دا عبادت یواځې د الله حق دی او کهٔ چا الله نه پرته د بل چا دغسې مطلق طاعت وکړ نو هغهٔ د هغهٔ عبادت وکړ او دا شرک دی.

الله تعالی فرمايي:

«وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَآئِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ»[1]

«او شیطانان بې شکه خپلو دوستانو ته د دې لپاره خبرې پهٔ زړهٔ کې اچوي چې تاسو سره جګړې وکړي او کهٔ تاسو د هغوی ومنل نو تاسو به بې شکه مشرکان شئ».

نو دلته د شیطانانو طاعت شرک وګڼل شو.

او الله تعالی فرمايي:

«وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّه»[2]

«او کافرانو سره تر هغهٔ وجنګېږئ چې فساد پاتې نهٔ شي او طاعت او قانون ټول الله لپاره شي».

---

[1] - سورة الانعام: ۱۲۱.
[2] - سورة الانفال: ۳۹.

دلته ((فتنه)) شرک، کفر، طاغوتي نظامونه او وضعي قوانين دي او ((دين)) د طاعت او قانون په معنا دی او دا مطلق طاعت دی نو د قتال او جهاد في سبيل الله غايه او مقصد دا دی چې ((مطلق طاعت)) او قانون ټول الله لپاره شي

او طاعت داسې عبادت او بندګي ده چې کوم ځانګړی او ټاکلی وخت نۀ لري بلکه تل تر تله ده:

((وَلَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَلَهُ الدِّينُ وَاصِبًا أَفَغَيْرَ اللّهِ تَتَّقُونَ))[1]

((او په اسمانونو او زمکه کې چې څۀ دي ټول يواځې د الله دي او هغۀ لپاره تل تر تله طاعت دی نو آيا پرته لۀ هغۀ لۀ نورو وېرېږئ؟)).

ټول کائنات د الله په طاعت کې مشغول دي او د هغۀ لۀ تکويني حکم څخه هيڅ شی سرغړونه نۀ شي کولی خو انسانانو او پېريانو ته يې په شرعي طاعت کې اختيار ورکړی دی او دائم، لازم او تل تر تله طاعت ورڅخه مطلوب دی.

ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته فرمايلي وو:

((يَا أَبَتِ لاَ تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَنِ عَصِيًّا))[2]

((ای پلاره! د شيطان بندګي مۀ کوه شيطان بې شکه د رحمٰن ذات نه سرغړوونکی دی)).

---

[1]- سورة النحل: ٥٢.
[2]- سورة مريم: ٤٤.

طاعت عبادت دی نو ځکه دلته ترې تعبیر په عبادت وشو ابراهیمعليه السلام خپل پلار ته وفرمایل چې: ((د شیطان عبادت مه کوه)) د شیطان طاعت د هغه عبادت دی. لۀ همدې امله د خپلو نفسي غوښتنو طاعت چې هر څۀ زړۀ درته ووایي او نفس دې وغواړي هغه بې توپیره او بې تولـه کوې او د ښو بدو، حلالو حرامو، مناسب نامناسب او روا ناروا تر منځ تمیز نه پرته یې د لاس ته راوړلو هڅه کوې، هم عبادت بلل شوی دی.

الله تعالی فرمایي:

((أَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَـٰهَهُ هَوَاهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلاً))[1]

((آیا تا هغه څوک لیدلی دی چې د خپل نفس غوښتنې یې معبود نیولی دی؟ نو آیا تۀ د هغۀ ذمه وار یې؟))

دلته د خپل نفس غوښتنې ((إله)) او ((معبود)) نیول دا معنا چې د خپل نفس د غوښتنو بې قیده، بې شرطه، بې تمیزه او بې تولـه منل او طاعت کول د هغۀ پۀ معبود او إله نیول دي.

او فرمایي:

((أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَـٰهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَى عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَى سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَى بَصَرِهِ غِشَاوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِن بَعْدِ اللَّهِ أَفَلاَ تَذَكَّرُونَ))[2]

((نو آیا تۀ هغه چانه خبر یې چې خپلې نفسي غوښتنې یې معبود نیولی دی؟ او د علم سره الله بې لارې کړی دی او پۀ غوږونو

---

[1] - سورة الفرقان: ٤٣.

[2] - سورة الجاثية: ٢٣.

او زړهٔ یې ورته مهر لګولی دی، او په سترګو یې ورته پردې جوړې کړې دی؟ نو الله نه وروسته به څوک ورته سمه لار وښيئ؟ نو آیا تاسو پند نهٔ اخلئ؟››

دلته هم د نفسي غوښتنو طاعت د هغهٔ عبادت دی او د هغهٔ نه معبود جوړول دي او دا خبره هم ثابته شوه چې د علم سره سره هم یو څوک بې لارې کېدی شي څکه چې الله تعالی فرمايي: ((عَلٰی عِلْم)) ((چې د علم سره سره الله تعالی بې لارې کړی وي))

نو علم سره چې عمل نهٔ وي هغه علم د نجات او هدایت لامل نهٔ شي کېدی. رېښتیا هم مونږ ډېر ناوړه علماء، ملایان او مولویان ګورو چې د نفسي غوښتنو تابع دي، د یو موټي پیسو په بدل کې او د خېټې او حیواني نفس د څرولو لپاره طاغوتانو، د کافرو ګوډاګیانو او مرتدو حکامو سرهٔ ملهٔ دي، هغوی ته د هغوی د حیواني او کفري مقاصدو لاس ته راوړلو لپاره ناروا فتوې ورکوي، د جهاد او مجاهدینو مخالفت کوي او نور ډول ډول خرافات،

دودونه او ناروا حېروي........

تږ دي چې د مصر یو ملا ته د حکومتي تلوېزون یو مسؤل ویلي وو چې تاسو به په فلانی ورځې په ټاکلي نېټه په تلوېزون کې د تحدید النسل په هکله محاضره ورکوئ چې د بچو دنهٔ ډېرولو په هکله د اسلام دریځ څرګند کړئ، هغه چې کله کورته لاړ نو فکر کې شو چې د حکومت مقصد به څهٔ وي چې په بچو بندیز ښه کار دی او کهٔ ښه نهٔ دی؟ ملا صاحب سره دا غم نهٔ ؤ چې زه د اسلام صحیح دریځ څرګند کړم او د دلائلو په رڼا کې خبره وکړم، بلکه د یو موټي

پیسو او د یوې مړی غوړې ډوډی په بدل کې باید د حکومت د مقصد سره سم خبره وکړي، نو لۀ همدې امله یې دوه مقالې تیارې کړې او کله چې د محاضرې ټاکلې نېټه راغله او د تلوېزون کوټې ته لاړ نو مسؤل ته یې وویل چې اوس تۀ راته ووایه چې څه ووایم؟ کۀ غواړې چې ووایم چې د نسل تحدید روا دی نو مقاله مې په بښي جېب کې ده او کۀ ووایم چې ناروا دی نو مقاله مې په کیڼ جېب کې ده. نوهمدغه ډول طاعت عبادت دی او الله تعالی نه پرته بل چاته کول شرک دی.

او فرمایي:

«أَلاَ لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ»[1]

«خبردار، نړه طاعت یواځې الله لپاره دی».

دلته هم دین د طاعت او بندګۍ په معنا راغلی دی، معنا دا چې نړه او خالص طاعت چې بې قیده او بې شرطه وي او هیڅوک پکې شریک نۀ وي، دا یواځې الله لپاره دی او دا ځکه چې دا ډول طاعت عبادت دی او عبادت یواځې د الله سبحانه وتعالی حق دی.

او فرمایي:

«قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ»[2]

« ورته ووایه چې ماته بې شکه امر شوی دی چې په داسې حال کې د الله عبادت وکړم چې طاعت مې هغۀ لپاره نړه کړی وي».

دلته هم دین طاعت دی او د الله نړه حق دی.

---

[1] - سورة الزمر: ٣.

[2] - سورة الزمر: ١١.

يهيود او نصارا د خپلو ديني مشرانو هره خبره بې توپيره او بې تميزه مني نو د هغوى په هکله الله تعالى فرمايي:

((اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُواْ إِلاَّ لِيَعْبُدُواْ إِلَـهًا وَاحِدًا لاَّ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ))[1]

((دوى خپل علماء او خپل پيران لهٔ الله پرته ربان نيولي دي او د مريم زوى مسيح يې هم رب نيولى دى. حال دا چې دوى ته يواځې ددې حکم شوى دى چې د يو معبود عبادت وکړي، لهٔ هغهٔ پرته بل معبود نشته هغه لهٔ هغو شريکانو پاک دى چې دوى يې ورسره شريکوي)).

دلته هم د علماؤ او پيرانو پهٔ ربوبيت نيول دا وو چې دهغوى بې تولـه او بې توپيره طاعت يې کاوه، کهٔ هغوى به ورته حلال حرام کړل يا به يې حرام حلال کړل نو دوى به هماغسې ګڼل لکه چې د عدي بن حاتم پهٔ روايت کې به وروسته د تقليد پهٔ بحث کې راشي.

خو د عيسىٰ عليه السلام په ربوبيت نيول بيا په طاعت کې نه بلکه بل ډول دي او هغه دا چې هغوى عيسىٰ عليه السلام ته د الله زوى وايي يا ورته إله وايي ، يا ورته ثالث ثلاثة (د درې آلهه ؤ دريم) وايي او د هغه عبادت کوي

---

[1] ـ سورة التوبة: ۳۱.

# استعاذة

استعاذة پنا غوښتلو ته وايي او دا هم دوه ډوله ده، يوه دا چې د انسانانو افراد، کورونه، کورنۍ او قومونه قبيلې يې يو بل نه غواړي او ورکوي. دا د انساني او اسلامي همدردۍ او مرستې په بنسټ وي، دا روا ده لکه رسول اللهﷺ او صحابه ؤ رضی الله عنهم چې مدينې منورې ته هجرت کړی ؤ او هلته يې پنا اخيستې وه.

او بل ډول له دنيوي اسبابو نه پورته غيبي پنا غوښتل دي دا عبادت دی او دا ډول پنا غوښتل له الله پرته بل هيچانه روانه دي لکه جاهلان او ناپوهان يې چې له پيريانو، قبرونو، باباګانو او داسې نورو نه غواړي. او يا وايي چې زه د فلاني په بند کې يم، دا ډول پنا نيول شرک دی، دغه ډول غيبي او له دنيوي اسبابونه پورته پنا بايد يواځې الله تعالى نه وغوښتل شي، مونږ لمانځه کې او د قرآن کريم د لوستلو په وخت کې په دې مامور يوو چې ووايو:

((أعوذ بالله من الشيطان الرجيم)) (( زه رټل شوي شيطان نه په الله پنا غواړم )).

موسیٰ علیه السلام هم فرمايلي وو:

((أَعُوذُ بِاللّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ))[1]

((زه په الله له دې پنا غواړم چې ناپوهانو نه شم)).

---

[1] - سورة البقرة: ٦٧.

يوسف عليه السلام هم الله تعالى نه پنا غوښتي وه:

((قَالَ مَعَاذَ اللّهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ إِنَّهُ لاَ يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ)) [1]

((هغه وويل: الله نه پنا غواړم هغه زما بادار دی چې زما د اوسېدو ځای يې ښکلی کړی دی، ظالمان بې شکه نه بريالي کېږي)).

((قَالَ مَعَاذَ اللّهِ أَن نَّأْخُذَ إِلاَّ مَن وَجَدْنَا مَتَاعَنَا عِندَهُ)) [2]

(( هغۀ وويل: الله نه لۀ دې پنا غواړم چې لۀ هغه چاپرته بل څوک ونيسو چې مونږ ورسره خپل سامان موندلی دی)).

همدارنګه الله سبحانه وتعالى خپل پيغمبر ته فرمايي:

((قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ)) [3]

(( ووايه چې زۀ د سپېدو پۀ رب د هغو ټولو لـه شرنه پنا غواړم چې پيدا کړي يې دي)).

او فرمايي:

((قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ مَلِكِ النَّاسِ إِلَهِ النَّاسِ مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ)) [4]

---

[1] - سورة يوسف: ۲۳.
[2] - سورة يوسف: ۷۹.
[3] - سورة الفلق: ۱ - ۲.
[4] - سورة الناس: ۱ - ٦.

((ووايه چې زه د پېريانو او انسانانو د هغه وسوسو اچوونکيو او ګرځېدونکي شيطانه چې د خلکو په سينو اند ښنې اچوي د خلکو لۀ رب، د خلکو لۀ پاچا او د خلکو لۀ معبود پنا غواړم))

نو په دې دوه سورتونو کې هم الله تعالى مونږ ته لاربښوونه کوي چې يواځې الله نه پنا وغواړو او لۀ همدې امله رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې دا ډېر ښه دمونه دي. او تعويذ ته تعويذ ځکه وايي چې پۀ دې باندې د مرض او کړاو نه پنا غوښتل کېږي. او تعويذونه، بندونه او داسې نور تړل شرک دی چې وروسته به د شرک پۀ ډولونو کې وڅېړل شي، خو تعويذ د پنا نيولو په معنا دمول بيا شته چې همدا دواړه سورتونه تر ټولو ښه دم دی.

همدا رنګه پۀ ګڼو احاديثو کې راغلي چې رسول الله ﷺ به الله نه پناه غوښته لکه:

((اللهم إني أعوذ بك من عذاب جهنم و أعوذ بك من عذاب القبر و أعوذ بك من فتنة المسيح الدجال و أعوذ بك من فتنة المحيا والممات اللهم إني أعوذ بك من المأثم والمغرم)).[1]

((ای الله زه له تا د دوزخ له عذابه پنا غواړم، لۀ تا د قبر لۀ عذابه پنا غواړم، لۀ تا د مسيح دجال نه پنا غواړم، لۀ تا د ژوند او مرګ لـه ازمېښته پنا غواړم، ای الله زه لۀ تا د ګناه او پور نه پنا غواړم)).

---

[1] ـ رواه مسلم و الترمذی و أبوداود و مالك و النسائی و ابن حبان و ابن ماجه والبيهقی والطبرانی .

((اللهم إني أعوذ بك من الجبن و أعوذ بك من البخل و أعوذ بك من أرذل العمر و أعوذ بك من فتنة الدنيا وعذاب القبر))[1]

((اى الله زه بې شکه له بې زړۀ توبه پۀ تا پنا غواړم. له بخله پۀ تا پنا غواړم، د خوارۍ د زړبودۍ له عمر نه پۀ تا پنا غواړم او د دنيا له ازمېښت او د قبر له عذابه په تا پنا غواړم))

((اللهم إني أعوذ بك من علم لاينفع ومن قلب لا يخشع ومن نفس لا تشبع ومن دعوة لا يستجاب لها))[2]

((اى الله زۀ بې شکه د هغه علم نه چې ګټه نۀ رسوي، د هغه زړۀ نه چې نه وېرېږي، د هغه نفس نه چې نۀ مړېږي او د هغې دعاء چې نۀ قبلېږي په تا پنا غواړم))

((اللهم إني أعوذ بك من الهم والحزن و أعوذ بك من العجز والكسل و أعوذ بك من الجبن و البخل و أعوذ بك من غلبة الدين و قهر الرجال))[3]

((اى الله زۀ بې شکه د غم او خفګان نه په تا پنا غواړم. د بې وسۍ او لټۍ نه پۀ تا پنا غواړم، د بې زړۀ توب او بخل نه پۀ تا پنا غواړم او د پور د غلبې او د سړيو د زورور کېدو نه په تاپنا غواړم))

---

[1]- رواه البخارى و الترمذى والنسائى و احمد و البزار والبيهقى و ابن خزيمة و الطبراني .
[2]- رواه الترمذى و احمد ومسلم و الحاكم و ابن أبي شيبة والطبراني .
[3]- رواه البخارى و مسلم و احمد و النسائى و ابن خزيمة و ابوداود و مالك و ابن حبان و البيهقى فى السنن.

((اللهم إني أعوذ بك من زوال نعمتك و تحول عافيتك و فجاءة نقمتك و جميع سخطك))[1]

((ای الله زه بې شکه پهٔ تا ستا د نعمت د لـه منځـه تللو نـه. ستا د روغتیا او خوښئ د اوړېدلو نـه. ستا د ناڅاپي عذاب نـه او ستا د ټولو غوسو نه پنا غواړم))

((اللهم عالم الغيب والشهادة فاطر السماوات والأرض رب كل شئ و مليكه أشهد أن لا إله إلا أنت أعوذ بك من شر نفسي و شرالشيطان و شركه و أن أقترف على نفسي سوءً او أجره إلى مسلم))[2]

((ای الله! پهٔ پټو او ښکاره ښکندو پوهه! د اسمانونو او زمکې پیدا کوونکیه! د هرشي رب او ټولواکه! زه د دې ګواهي کوم چې لهٔ تا پرته بل معبود نشته. زهٔ پهٔ تا د خپل ځان لهٔ شره. د شیطان لهٔ شره او د هغهٔ لهٔ شریکېدو. او لهٔ دې پنا غواړم چې پهٔ خپل ځان ناوړه کار وکړم او یا یې کوم مسلمان ته راکاږم))

په احادیثو کې الله سبحانه وتعالی نه پنا غوښتل ډېر زیات راغلي دي.

پخوانیو مشرکانو او جاهلانو به لـه پېریـانو نـه غیبـي پنـا غوښتله

---

[1] - رواه ابو داود.
[2] - رواه الترمذي و احمد و الطبراني .

((وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا))[1]

((او حقیقت دا دی چې د انسانانو ځینو سړیو به د پېریانو په ځینو سړیو پنا نیوله نو د هغوی سرغړونه یې زیاته کړه)).

دا پنا غیبي او شرکي پنا وه.

# توکل

توکل اسرې او ځان سپارلو ته وایي، له دنیوی اسبابو نه پورته اسره هم یواځې الله تعالی ته په کار ده او خپل ځان اوهر څۀ هم الله ته سپارل په کار دي، همدې ته توکل ویل کېږي ، دا عبادت دی او عبادت د الله حق دی، نو په توکل او ځان سپارلو کې هم الله سره هیڅوک شریکول روا نۀ دي او دا شرک دی، لکه ډېر ناپوهان او جاهلان چې خپل ځان، اولاد ، یا مال په باباګانو او زیارتونو سپاري او دا ګومان کوي چې هغوی مونږ له شر څخه ژغوري، دې ډول سپارلو ته توکل وایي او په الله باندې د توکل په هکله قرآن کریم کې ډېر زیات آیاتونه راغلي دي چې ځینې یې دا دي:

((وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ))[2]

((او مؤمنان دې یواځې په الله ځانونه وسپاري)).

[1]- سورة الجن: ٦.
[2]- سورة آل عمران: ١٢٢/ ١٦٠. سورة المائدة: ١١.

رسول اللهﷺ ته الله تعالى فرمايي:

((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ))[1]

((نو د الله د لورېنې له امله ته دوى لپاره نرم شوى يې او كه ته سخت ژبى او سخت زړى واى نو هرو مرو به دوى ستا له چاپېر نه ترېدلي وو نو دوى ته تېر شه، ببښنه ورته وغواړه او په كارونو كې ورسره مشوره وكړه. كله دې چې ټينګه اراده وكړه نو په الله ځان وسپاره، الله بې شكه په هغه ځان سپارونكي خوښوي)).

او فرمايي:

((وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ وَكَفَى بِاللّهِ وَكِيلاً))[2]

((په الله ځان وسپاره او الله ذمه وار او مددګار بس دى)).

الله سبحانه وتعالى د مؤمنانو ځانګړتياوې داسې څرګندوي:

((إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ))[3]

((مؤمنان بې شكه هغه خلك دي چې كله الله ياد شي نو زړونه يې وويرېږي او كله چې پرې د هغه آياتونه ولوستل شي نو د دوى ايمان زيات كړي او په خپل رب ځانونه سپاري)).

---

[1] - سورة آل عمران: ۱۵۹.
[2] - سورة النساء: ۸۱.
[3] - سورة الانفال: ۲.

او فرمايي:

﴿فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُلْ حَسْبِيَ اللّهُ لا إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ﴾[1]

((که دوی مخ پهٔ شا شول نو ورته ووايه چې ماليپاره الله بس دی لهٔ هغه پرته بل معبود نشته ما يواځې پهٔ هغهٔ ځان سپارلی دی او هغه د لوی عرش رب دی)).

﴿وَلِلّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ الأَمْرُ كُلُّهُ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ﴾[2]

((د اسمانونو او زمکې پټ رازونه يواځې الله لپاره دي او ټول کارونه يواځې هغهٔ پورې اړه لري نو د هغهٔ عبادت وکړه او پهٔ هغهٔ ځان وسپاره او ستا رب لهٔ هغو کړو ناخبر نهٔ دی چې تاسو يې کوئ)).

يعقوب ﷷ خپلو زامنو ته د نصيحت په ترڅ کې دا هم ويلي وو چې:

﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ﴾[3]

((پريکړې يواځې الله لپاره دي يواځې پهٔ هغه مې ځان سپارلی او يواځې پهٔ هغهٔ دې ځان سپارونکي ځانونه وسپاري)).

---

[1]- سورة التوبة: ۱۲۹.
[2]- سورة هود: ۱۲۳.
[3]- سورة يوسف: ٦٧.

## د نومونو او صفتونو توحيد

د علمي توحيد يا د معرفت او اثبات د توحيد دوهم ډول ((توحيد الأسماء والصفات)) دی او دا د توحيد دريم ډول دی ((توحيد الأسمـــاء والـــصفات)) (( د نومونو او صفتونو توحيد )) دی د دې توحيد معنا دا ده چې الله سبحانه وتعالی په خپلو نومونو او صفتونو کې يو وګڼې، نۀ ورسره په نومونو او صفتونو کې څوک شريک وګڼې، نۀ يې له کوم نوم او يا صفت نه منکر شې، نۀ يې د هغۀ په مخلوق کې چا سره ورته او مشابه وګڼې او نۀ ورته مثال (ساری) او سيال وټاکې.

الله سبحانه وتعالی ډېر لوی ذات دی ، نۀ د هغۀﷻ لوی والی زمونږ په ذهن، خيال او تصور کې راتلی شي او نۀ د هغۀﷻ د ذات په هکله فکر او تصور کولای شوو. هغهﷻ زمونږ د پوهې، ګمان، وهم او خيال نه ډېر لوی او هسک دی او زمونږ پوهه، درک، احساس او ذهن د هغۀﷻ د ذات د حقيقت د معلومولو څخه قاصر، بې وسه او نېمګړی دی.

د الله سبحانه وتعالی د جلال او کمال په نومونو او صفتونو احاطه او استيعاب مونږ لپاره ممکن نه دی هغه يواځې همغۀ ﷻ ته معلوم دي. مونږ بايد يواځې هغه څۀ وواېوو، پخه عقيده پرې ولرو او هېڅ ډول شک او تردد پکې ونه کړو چې الله سبحانه وتعالی په خپل کتاب کې د خپل ذات په هکله فرمايلي وي او يا د هغۀﷻ

پیغمبر محمد رسول اللهﷺ د هغهٔ پهٔ هکله فرمایلي وي. مونږ لپاره همدا بریدونه دي او لهٔ دې تېرېدل ناروا دي.

مونږ باید بې لهٔ تاویل، تحریف، تمثیل او تشبیه پرې ایمان ولرو.

((لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ))[1]

(( د هغهٔ پهٔ شان هېڅ شی نشته او هغه ښهٔ اورېدونکی او ښه لیدونکی دی)).

په دې آیت کې هم پهٔ مشبهه ؤ رد وشو چې ((لیس کمثله شئ)) او هم پهٔ معطله ؤ رد وشو چې د ((سمعې او بصر)) صفتونه ورته ثابت شول.

د الله سبحانه وتعالی شان ډېر لوی دی:

((كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ))[2]

((هغه هره ورځ پهٔ یو جلا شان کې وي)).

هغه داسې ذات دی چې مونږ یې پهٔ دنیا کې نهٔ شوو لیدی خو هغه هر څهٔ ګوري او هیڅ شی ترې پټ او پنا نهٔ دی:

((لَّا تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ))[3]

((سترګې هغه نهٔ شي موندلی او هغه سترګې مومي او هغه باریکبین او ښه خبر دی)).

---

[1] - سورة الشورى: ١١.
[2] - سورة الرحمان: ٢٩.
[3] - سورة الانعام: ١٠٣.

((ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ فَتَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ))[1]

((دا ستاسو رب دی نو د ټولو مخلوقاتو رب د ډېر برکت څښتن دی)).

د ((نومونو او صفتونو توحید)) دوه څانګې لري:

(۱) نومونه.

(۲) صفتونه.

په راتلونکیو کرښو کې به د همدې دواړو په هکله بحث او څېړنه وکړو.

## سپېڅلي نومونه

مونږ باید په دې ایمان ولرو چې الله سبحانه وتعالی د کمال او جلال ښایسته نومونه لري.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

((قُلِ ادْعُواْ اللّهَ أَوِ ادْعُواْ الرَّحْمَـنَ أَيًّا مَّا تَدْعُواْ فَلَهُ الأَسْمَاء الْحُسْنَى))[2]

((ورته ووایه چې راوبلئ الله، یا راوبلئ رحمٰن، په هر یو یې چې رابلئ نو یواځې هغهٔ لپاره ښایسته نومونه دي)).

---

[1] - سورة غافر(مؤمن) : ٦٤.

[2] - سورة الاسراء: ١١٠.

((اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ لَهُ الأَسْمَاء الْحُسْنَى))[1]

((الله هغه ذات دی چې له هغه پرته بل معبود نشته، يوازې هغه لپاره ښايسته نومونه دي)).

((وَلِلّهِ الأَسْمَاء الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُواْ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَآئِهِ))[2]

((او يوازې الله لپاره ښايسته نومونه دي، نو په همغو يې راوبلئ او هغه خلک پرېږدئ چې د هغه د نومونو په هکله کږ ځي)).

((هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الأَسْمَاء الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ))[3]

((هغه الله دی، پيدا کوونکی، رغوونکی او صورت ورکوونکی دی، يوازې هغه لپاره ښايسته نومونه دي اسمانونو او زمکه کې چې څه دي، ټول د هغه پاکي يادوي او هغه غالب او د حکمت څښتن دی)).

((تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ))[4]

((ستا د لوی شان او د عزت څښتن د رب نوم د برکت والا دی)).

---

[1] ـ سورة طه: ۸.
[2] ـ سورة الاعراف: ۱۸۰.
[3] ـ سورة الحشر: ۲٤.
[4] ـ سورة الرحمن : ۷۸.

دا او داسې نور ډېر آیاتونه په دې دلالت کوي چې الله سبحانه وتعالی لپاره ښایسته نومونه دي او مونږ ته لارښوونه شوې ده چې الله تعالی په دغه أسماء الحسنی باندې یاد کړو او د هغه د نومونو په هکله کاږه لاړ نه شوو.

د الله سبحانه وتعالی نومونه په دوه ډوله دي، یو هغه دي چې بندګانو باندې یې هم اطلاق شوی دی لکه: ((رؤف)) او ((رحیم)) چې په رسول الله ﷺ یې هم اطلاق شوی دی لکه چې فرمایي:

((لَقَدْ جَاءكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَّحِيمٌ))[1]

((تاسو ته بې شکه ستاسو له جملې پېغمبر راغی، څه چې تاسو ته کړاو درکوي، په هغه سخت لګېږي، تاسو ته په ښېګړه رسولو حریص دی، او په مؤمنانو نرمي کوونکی او زیات لوروونکی دی)).

دا او ځینې داسې نور نومونه داسې دي چې په بندګانو یې اطلاق شوی دی خو دا د هغه بنده لپاره د بندګۍ صفتونه دي، هغه معنا چې د الله تعالی په نومونو کې ده، هغه په دې کې بالکل نه شي متصور کېدی.

او بل ډول نومونه د الله سبحانه وتعالی هغه نومونه دي چې نړه او ځانګړي د هغه دي او په بنده یې بالکل اطلاق نه شي کېدی لکه: ((الله، رحمن، قدوس ......))

---

[1] - سورة التوبة: ۱۲۸.

دا بندګانو لپاره اخيستل ناروا دي. له همدې امله د پښتو ژبې نوميالي شاعر: عبدالرحمن بابارحمه الله ته «رحمن بابا» ویل ناروا دي، ځکه چې د «رحمن» اطلاق په بنده نه کېږي او د هغه پلار چې پرې نوم ایښی نو هغهٔ الله تعالی ته منسوب کړی چې «عبد» «رحمن» ته مضاف شوی دی او معنا یې دا ده چې د رحمن بنده اوس مونږ ته دمضاف حذفول او د مضاف الیه اطلاق په عبدالرحمن بابا کول روانهٔ دي او د عبدالرحمن بابا په شعر کې چې هغهٔ د خان لپاره یواځې «رحمن» استعمال کړی دی هم ښهٔ یې نهٔ دي کړي مونږ ورته الله تعالی نه ښښنه غواړو هغه د پښتو ژبې خوږ ژبی، نومیالی، پیاوړی او ماهر شاعرؤ او مونږ یې قدر کوو. خو د دیني علومو متمکن عالم نهٔ ؤ نو ځکه دې خبرې ته متوجه شوی نهٔ دی، هغه انسان ؤ او انسانانو نه تېروتنې کېږي، خو مونږ باید دا ضد، عناد او جهالت ونهٔ کړو چې د هغهٔ تېروتنو پسې لاړ شوو او په بې ځایه تاویلونو یې سمې وګڼوو.

نو د الله سبحانه وتعالی په نومونو او صفتونو کې چې کوم د جلال، عظمت، کمال، کبریا او پاکۍ معاني پراتهٔ دي، هغه د انسان په نومونو او صفتونو کې ښخي نښته.

نو ځکه فرمايي:

«رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا»[1]

---

[1] ـ سورة مريم:٦٥.

((د اسمانونو، زمکې او هغو شیانو رب دی چې د دې دواړو په منځ کې دي، نو د هغهٔ عبادت وکړه او د هغه عبادت لپاره ملا وتړه، آیا تا ته د هغهٔ په نوم څوک همنامی معلوم دی؟))

الله تعالی سره د هغه مخلوق هیڅکله نهٔ شي برابرېدی، تر دې چې یواځې په کوم نوم او کوم صفت کې ور سره هیڅوک نهٔ دي برابر.

((الْحَمْدُ لِلّهِ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّورَ ثُمَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِم يَعْدِلُونَ))[1]

(( کره پوره ستاینې یواځې هغه الله لپاره دي چې اسمانونه او زمکه یې پیدا کړي دي او تیارې او رڼا یې پنځولې دي بیا کافران خپل رب سره نور برابروي؟)).

نو څرګنده شوه چې اللهﷻ سره نور برابرول کفر دی.

شریح بن هانئ له خپل پلار (هانئ) نه روایت کوي چې هغه کله خپل قوم سره رسول اللهﷺ ته په یو وفد کې راغی نو رسول اللهﷺ د هغهٔ له ملګرو واورېدل چې هغه یې د ((أبوالحَکَم)) په کنیې یاداوه، نو رسول اللهﷺ راوغوښت او ورته ویې فرمایل: (( حکم خو یواځې الله دی او حکومت یواځې د هغه دی ته ولې د أبوالحَکَم په کنیې یادېږې؟)) هغه وویل: ((زما د قومیانو تر منځ به چې کله په څه شي کې اختلاف پیدا شو نو ما ته به راغلل، ما به د هغوی تر منځ پرېکړه وکړه او دواړه خواوې به زما په پرېکړې راضي شوې؛ (نو ځکه مې أبوالحکم بولي) رسول اللهﷺ وفرمایل: (( دا خومره ښه خبره

---

۱- سورة الانعام: ۱.

ده آیا ستا ځامن شته؟ )) هغه وویل:زما شریح، مسلم او عبدالله ځامن دي. هغه وفرمایل: ((مشر یې کوم دی؟)) هغه وایي: ما ورته وویل: شریح دی. هغه وفرمایل: ((نو ته أبو شریح یې)).

او فرمایي:

((وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاء الَّذِينَ كَذَّبُواْ بِآيَاتِنَا وَالَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ بِالآخِرَةِ وَهُم بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ))[1]

(( او د هغو خلکو خواهشاتو پسې مه ځه چې زمونږ آیاتونه یې دروغ ګڼلي دي او هغه خلک چې پهٔ آخرت ایمان نهٔ راوړي او هغوی خپل رب سره نور برابروي)).

نو الله تعالی سره د هغهﷻ په مخلوق کې هېڅوک او هېڅ شی هېڅکله نه شي برابرېدی.

## د الله تعالی پهٔ نومونو کې إلحاد (کږوالی)

الله سبحانه وتعالی فرمایي: ((وَذَرُواْ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَآئِهِ))[2]

(( او هغه خلک پرېږدئ چې د هغهٔ د نومونو پهٔ هکله کاږهٔ ځي)).

---

[1]- سورة الانعام: ۱۵۰.
[2]- سورة الاعراف: ۱۸۰.

د الله سبحانه وتعالى پۀ نومونو کې إلحاد، کجروي او کاږۀ تلل دا دي چې یا ترې انکار وکړې، یا پکې تحریف وکړې او معنا یې بدله کړې، یا ورسره نور مشابه او ورته وګڼې، یا ورته ساری او مثال وګڼې یا ورسره شریک پیدا کړې.

همدارنګه دا هم د الله تعالى پۀ نومونو کې زیاتول دي چې هغۀ ﷻ ته لۀ ځانه نوم کېدي ،لکه ((خدا)) یا ((خدای)).

څرنګه چې د یو انسان نوم څوک نۀ شي بدلولی او هره ژبه کې هماغه یو نوم ورته اخیستل کېږي چې مور او پلار پرې ایښی وي او یا یې خپله ځان لپاره غوره کړی وي، نو الله سبحانه وتعالى چې د ټولو کائناتو خالق، مالک، رب او مدبر دی او هېڅوک ورسره شریک، برابر او ورته نۀ دی، نو د هغۀ ﷻ د نوم بدلول یا پۀ هغۀ ﷻ لۀ ځانه نوم ایښودل به څرنګه روا شي؟

د الله تعالى د نومونو ژباړه او ترجمه کول روا دي لکه د ((مالک)) ژباړه ((څښتن)) دی د ((خالق)) ژباړه ((پیداکوونکی)) یا پنځوونکی دی......

خو پۀ الله نوم ایښودل ناروا دي.

أعمش د ((یلحدون)) معنا داسې کوي:

((أی یدخلون فیها ما لیس منها))[1]

((یلحدون معنا دا چې د الله پۀ نومونو کې هغه نوم یا نومونه ننباسي چې د هغۀ لۀ نومونو څخه نۀ وي)).

[1] - فتح المجید : ۶۲۲.

نو ((خدا)) ، يا ((خداى)) چې افريدي او شينواري ورته ((خلاى)) ، يا ((خلوى)) وايي. دا هم د اللهﷻ له نومونو څخه نۀ دي. دا ايرانيانو د اسلام نه مخکې خپل باطل معبود ته وايه کله يې چې اسلام راوړ نو بيا هماغه د باطل معبود نوم يې په الله تعالى کېښود لکه د چنګېز قوم ((مغلو)) چې د اسلام نه مخکې د اسمان عبادت کاوۀ او (( تينګري)) يې بالۀ، د (( تينګري)) معنا ((لوى شين اسمان)) ده، کله چې د هغوى ځينې مسلمانان شول نو د اسمان عبادت يې پرېښود . خو الله تعالى يې پۀ تينګري ياد کړ ، د هغوى پاتې کافران او مسلمانان اوس هم (( تينګري)) وايي. لکه د چين ، هند او افغانستان د پولو يوې او بلې خوا ته د شمالي غرنيو سيمو د چنګېزيانو او مغلو ځينې پاتې قومونه اوس هم ((تينګري)) وايي، خو کافران ترې معنا ((لوى شين اسمان)) اخلي او مسلمانان يې الله تعالى لپاره استعمالوي او (( تينګري تعالى)) يې بولي.

دا هم ناروا دي . الله سبحانه وتعالى پۀ خپلو هغو ښايسته نومونو يادول پۀ کار دي چې پۀ خپل کتاب: قرآن کريم کې يې څرګند کړي دي او يا د هغۀ پيغمبر محمدرسول اللهﷺ ياد کړي وي.

(( إلحاد )) په عربي لغت کږېدلو ته ويل کېږي، نو د الله تعالى په نومونو کې إلحاد له اسلامي شريعت نه کږېدل، الله تعالى سره شريک پيدا کول. د الله تعالى ځانګړي نومونه او صفات بل چاته ورکول، د الله تعالى د نومونو او صفاتو نه انکار، يا يې معنى بدلول، په الله تعالى له ځانه نوم ايښودل او داسې نور....... ټول په إلحاد کې داخل دي .

د الله سبحانه وتعالی د نومونو احترام فرض دی.

د الله سبحانه وتعالی نوم ډېر لوړ اومحترم دی او څومره چې د يو چا ايمان غښتلی وي همغومره يې په زړه کې د الله تعالی وقار او احترام پياوړی وي چې تر ټولو زيات پيغمبرانو سره او بيا پوړۍ په پوړۍ د ايمان د کچ سره سم لاندې راځي. خو د الله تعالی نومونه او صفتونه په هر وخت کې لوړ. لوی. ښکلي او بې مثاله دي.

حديث کې راځي

**عن أبي هريرة ﷺ قال: قال رسول اللهﷺ : ((رأى عيسى ابن مريم رجلا يسرق فقال له عيسى: ((سرقت)). قال: كلا والذى لا إله إلا هو. فقال عيسىٰ: ((ءامنت بالله وكذبت نفسي))**[1]

ابوهريرةﷺ نه روايت دی هغه وايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: ((د مريم ځوی عيسیٰ ﷺ يو سړی وليد چې غلا يې کوله نو عيسیٰﷺ ورته وويل چې: ((غلا دې وکړه)) هغه وويل: داسې نه ده په هغه ذات قسم کوم چې له هغه پرته بل معبود نشته (( چې غلامې نه ده کړې)) عيسیٰﷺ ورته وويل: (( ما په الله ايمان راوړی دی او خپل ځان مې دروغجن وګڼه)).

نو عيسیٰﷺ د الله تعالی د نوم په احترام او د قسم خوړلو له کبله ورته وويل چې تا قسم واخيست نو خير دی زه به دا ووايم

---

۱ـ رواه مسلم.

چې ماته زما سترګو دروغ وويل او تا به ريښتينې وګڼم او دايې د الله سبحانه وتعالى د نوم د احترام له کبله وويل ځکه چې هغه سړي د الله تعالى په نامه لوړه وکړه.

د الله سبحانه وتعالى نومونه به د هغه ﷻ په علم کې ډېر وي او ډېر دي لکه چې حديث کې راځي:

عبدالله بن مسعود ﷺ نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل چاچې دا دعاء وويله نو الله تعالى به يې اندېښنه او غم لرې کړي او خوشحالي به پرې راولي:

(( اللهم إني عبدك وابن عبدك و ابن أمتك ناصيتي بيدك ماض في حكمك عدل فى قضاءك أسالك بكل اسم هو لك سميت به نفسك أو أنزلته في كتابك أو علمته أحدا من خلقك أو استأثرت به في علم الغيب عندك أن تجعل القرآن ربيع قلبي ونور صدري وجلاء حزني وذهاب همي و غمي ))[1]

(( اى الله زه بې شکه ستا بنده يم. ستا د بنده زوى يم او ستا د وينځې زوى يم. زما تندې ستا په لاس کې ده. ما کې ستا حکم چلېږي، زما په هکله ستا پرېکړې د انصاف دي. له تا په هر هغه نوم سوال کوم چې هغه ستا وي. تا پرې خپل ځان نومولى وي. يا دې په خپل کتاب کې نازل کړى وي، يا دې د خپل مخلوق نه چاته ښوولى وي. يا تا د غيبو په علم کې غوره کړى وي، چې قرآن

---

[1]- رواه أحمد و ابن حبان والحاكم وابن ابي شيبة و أبو يعلى و الطبراني فى الكبير.

زما د زړهٔ خوښي، زما د سينې رڼا، زما د خفګان لرې والی او زما د اندېښنې او غم لهٔ منځه وړونکی کړې»

نو لـهٔ دې حديث معلومـه شـوه چـې د الله سبحانه وتعالی نومونه به د هغهٔ پهٔ علم کې زيات وي خو مونږ به يواځې هغه نومونه يادوو چې الله تعالی يا پهٔ خپل کتاب کې څرګند کړي وي او يا يې د خپل پيغمبر پهٔ ژبه ياد کړي وي.

# الأسماء الحسنیٰ

أسماء الحسنی يا د الله سبحانه وتعالی ښايسته نومونه مونږ ته ټول نهٔ دي څرګند شوي هغه يواځې دهمغهٔ ﷻ پهٔ علم کې دي خو مونږ ته چې د کومو پهٔ هکلـه لارښونه شوې ده هغه «۹۹» نهه نوي دي.

حديث کې راځي

عن أبي هريرة أن رسول الله ﷺ قال:

«إن لله تسعة وتسعون إسما من أحصاها دخل الجنة».[۱]

ابو هريرة ﵁ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي «د الله نهه نوي نومونه دي چې چا وشمېرل نو جنت ته ننواتهٔ».

[۱]- رواه البخاري ومسلم والترمذي، و ابن ماجه و احمد والبيهقی.

له شمېرلو يې مطلب دا دی چې په قرآن او حديثو کې يې ولټول. وګڼيل. معنا يې زده کړه، ياد يې کړل. ځان يې پرې پوه کړ. الله يې پرې راوبالـه . ذکر يې وکړ، عقيده يې پرې ټينګه کړه. پوخ باور يې پرې وکړ. خپل سيرت او صورت يې د هغو د غوښتنو سره برابر کړ. په توحيد يې عقيده برابره کړه، شرک يې ورسره ونه کړ. په اوامرو يې عمل وکړ او له نواهيو يې ځان وژغوره.

د دې نهه نوي نومونو په هکله داسې حديث راغلی دی

ابو هريرة ﷺ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل د الله تعالى نهه نوي داسې نومونه دي چې چا وشمېرل نو جنت ته ننواتـه

(( هو الله الذى لا إله الا هو الرحمٰن، الرحيم، الملك، القدوس، السلام، المؤمن، المهيمن، العزيز، الجبار، المتكبر، الخالق، البارئ، المصور، الغفار، القهار، الوهاب، الرزاق، الفتاح، العليم، القابض، الباسط، الخافض، الرافع، المعز، المذل، السميع، البصير، الحكم، العدل، اللطيف، الخبير، الحليم، العظيم، الغفور، الشكور، العلى، الكبير، الحفيظ، المقيت، الحسيب، الجليل، الكريم، الرقيب، المجيب، الواسع، الحكيم، الودود، المجيد، الباعث، الشهيد، الحق، الوكيل، القوى، المتين، الولى، الحميد، المحصى، المبدئ، المعيد، المحى، المميت، الحى، القيوم، الواجد، الماجد، الواحد، الصمد، القادر، المقتدر، المقدم، المؤخر، الأول، الآخر، الظاهر، الباطن، الوالى، المتعالى، البر، التواب، المنتقم،

العفو، الرؤف، مالك الملك، ذوالجلال والإكرام، المقسط، الجامع، الغنى، المغنى، المانع، الضار، النافع، النور، الهادي، البديع، الباقى، الوارث، الرشيد، الصبور ››[1]

او د ابن ماجة په روايت کې داسې راځي

ابو هريرة ﷺ نه روايت دی چې رسول اللهﷺ وفرمايل د الله تعالى نهه نوي (يو کم سل) نومونه دي هغه طاق (يو) دی او طاق خوښوي، چا چې دا نومونه ياد کړل نو جنت ته ننواته، هغه دا دي

‹‹ الله، الواحد، الصمد، الأول ، الآخر، الظاهر، الباطن، الخالق، البارئ، المصور، الملك، الحق، السلام، المؤمن، المهيمن، العزيز، الجبار، المتكبر، الرحمن، الرحيم، اللطيف، الخبير، السميع، البصير، العليم، العظيم، البار، المتعال، الجليل، الجميل، الحى، القيوم، القادر، القاهر، العلى، الحكيم، القريب، المجيب، الغنى، الوهاب، الودود، الشكور، الماجد، الواجد، الوالى، الراشد، العفو، الغفور؟ الحليم، الكريم، التواب، الرب، المجيد، الولى، الشهيد، المبين، البرهان، الرؤف، المبدئ، المعيد، الباعث، الوارث، القوى، الشديد، الضار، النافع، الباقى، الواقي، الخافض، الرافع، القابض، الباسط، المعز، المذل، المقسط، الرزاق، ذوالقوة المتين، القائم، الدائم، الحافظ، الوكيل، الفاطر، السامع،

---

[1] - رواه الترمذي والبيهقى فى شعب الايمان وابن حبان والحاكم.

المعطى، المحي، المميت، المانع، الجامع، الهادي، الكافي، الأبد، العالم، الصادق، النور، المنير، التام، القديم، الوتر، الأحد، الصمد، الذى لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفواً أحد»[1]

دا دواړه ضعیف دي

ما خپله چې د قرآن او حدیثو په رڼا کې نهه نوي «۹۹» نومونه راټول کړي دي هغه دا دي:

«الله، الرحمن، الرحيم، الملك، القدوس، السلام، المؤمن، المهيمن، العزيز، الجبار، المتكبر، الخالق، البارئ، المصور، الغفار، القهار، الوهاب، التواب، الخلاق، الرزاق، الفتاح، العليم، الحليم، الحكيم، الكريم، العظيم، العلى، الولي، الوالى، المتعالى، الكبير، القدير، البصير، الخبير، النصير، المولى، الأعلى، السميع، البديع، المجيب، القريب، الحسيب، الرقيب، المقيت، الواسع، الغنى، القوى، الشديد، الحميد، المجيد، الشهيد، المليك، المقتدر، القادر، القاهر، الشاكر، الشكور، النور، الغفور، الودود، العفو، الرؤف، اللطيف، الحفيظ، الوكيل، المالك، الحى، القيوم، البر، الأكرم، العلام، المستعان، الحكم، الكفيل، المحى، المميت، الكافى، المبدئ، المعيد، الوارث، المعز، المذل، الجامع، المنتقم، الصادق،

---

[1] ـ رواه ابن ماجه.

القابض، الباسط، الرب، الحق، المبين، المتين، الهادي، الأول، الآخر، الظاهر، الباطن، الواحد، الأحد، الصمد)) .

دا هغه نومونه دي چې په قرآن او حديثو دواړو کې راغلي دي، نو په دليل ښخي پاخه او راجح دي

د ترمذي او ابن ماجة دامخکني دواړه حديثونه ځينو نورو کتابونو هم راوړي دي.

خو دا ټول ضعيف دي. او د ابوهريرة رضي الله عنه په روايت کې چې ((ان لله تسعة وتسعون......)) راغلي دي، د دې دوه معناوې کېدی شي. يوه دا چې د الله تعالی همدا نهه نوي نومونه دي ، نور به صفاتو کې راشي. او بله معنا يې دا ده چې د الله تعالی ډېر نومونه دي خو دا نهه نوي پکې داسې دي چې چا ياد کړل او ځان يې پرې پوه کړ، نو جنت ته ننواته . ماته همدا دويمه معنا ښه او راجحه برېښي، ځکه چې يو بل حديث نه دا برېښي چې د الله تعالی ډېر داسې نومونه شته چې مونږ ته معلوم نه دي .

لکه د غم د لرې کولو په دعاء کې حديث کې راغلي دي او مخکې تېر شو.

مخکنی د ترمذي، ابن ماجه او بيهقي روايت چې ځينو نورو هم راوړی دی، په دې نومونو کې ځيني قرآن کريم او صحيحو احاديثو کې راغلي دي نو په دې کې چې کوم د قرآن کريم او صحيحو احاديثو سره برابر دي، هغه ټول صحيح شول.

دلته مونږ هغه نومونه رااخلو چې احادیثو او قرآن کریم دواړو کې راغلي دي او ځینې هغه هم رااخلو چې دې حدیثو کې نشته خو قرآن کریم کې راغلي دي او معناوې يې هم لیکو.

## د أسماء الحسنٰی معناوې

۱: ((الله)) حق معبود، د کره پوره ستاینو وړ او د کره پوره صفتونو او ځانګړتیاو څښتن، کره پوره برلاسی، د خپلې خوښې څښتن، بشپړ غالب، زورور او ډېر زیات پیاوړی، له هره عیبه پاک.

دا نوم د الله تعالی د ذات هغه نوم دی، چې ډېر زیات یادېږي، قرآن کریم کې ځای په ځای راغلی دی، په بسم الله کې لومړی پیل په همدې نوم شوی دی او د فاتحې په سورت: ((الحمد لله)) کې هم تر ټولو مخکې همدا نوم راغلی دی.

۲: ((الرحمٰن)): ډېر زیات مهربان، د بې پایه او بې ساري پېرزوینو څښتن، په هر چا مهربان او لوروونکی.

دا نوم هم قرآن کریم کې راغلی دی او په ((بسم الله)) او ((الحمد لله)) کې هم د ((الله)) له نوم وروسته همدا نوم راغلی دی.

۳: ((الرحیم)): خورا زیات لوروونکی، په مستحقو لوروونکی، د ځانګړې لوربنې څښتن

د انـوم هـم پـه قـرآن کـريم کـې راغلـی دی ، ((بـسم الله)) او ((الحمـد لله)) (د فـاتحې پـه سـورت) کـې د ((الله)) او ((رحمـن)) نـه وروسته همدا نوم راغلی دی.

۴: ((الملك)) : پاچا، ټولواک، ډېر عزتمند ، پیاوړی، نـړه او ځانګړی پاچا.

((هُوَ اللَّهُ الَّذي لاَ إلَهَ إلاَّ هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلاَمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ))[1]

((الله هغـه ذات دی چې لـه هغـه پرتـه بـل حـق معبـود نـشته، پاچا دی، سـپېڅلی دی، د سـلامتیا څـښتن او لـه عیبونـو پـاک دی، امـن ورکـوونکی دی، سـاتونکی دی، غـالـب دی، زورور دی، لـويي کـوونکی دی، الله لـه هغـو شـريکانو پـاک دی چـې دوی يـې ورسـره شريکوي)).

۵: ((القدوس)) : ډېر سپېڅلی، بې عیبه په هرڅه کره پـوره، بې شريکه او بې ساري، په هر صفت کې ځانګړی.
مخکني آية کې راغلی دی

۶: ((السـلام)) : د سـلامتيا څـښتن، لـه عيبونـو پـاک او بـې عيبه، سلامتيا ورکـوونکی، هغـه ذات چـې ظلـم نـه کـوي او مخلـوق يې له ظلم څخه په امن دی، جنت کې پـه مؤمنـانو سـلام اچـوونکی او

---
[1] - سورة الحشر : ۲۳

سلامتیا ورکوونکی، رغوونکی او شفا ورکوونکی، بې زواله او بې نقصانه مخکني آیة کې راغلی دی
۷: ((المؤمن)) : امن ورکوونکی، باور ورکوونکی، هغه ذات چې په هغه ایمان راوړل کېږي، ایمان ورکوونکی، بې زواله، بې سیاله، د وېرې لرې کوونکی، د امن پیدا کوونکی
مخکني آیة کې راغلی دی
۸: ((المهیمن)) : بنه ساتونکی، بشپړ مسلط، کره پوره واکمن
مخکني آیت کې راغلی دی
۹: ((العزیز)) : غالب، عزتمند، ډېر پیاوړی، د پنا او غوښتنې ځای. مخکني آیة کې راغلی دی
۱۰: ((الجبار)) : ډېر زیات زورور، ځواکمن، پیاوړی او غښتلی، هغه ذات چې هر څوک او هر شی د هغه په وړاندې بې وسه دی، ډېر لوی پاچا
مخکني آیة کې راغلی دی

۱۱: ((المتکبر)) : لویي کوونکی، د لویي څښتن، نه پړکېدونکی، بې پروا، پیاوړی پرځوونکی
مخکني آیة کې تېر شو
۱۲: ((الخالق)) : کره پوره پیدا کوونکی، پنځوونکی، د هر شي پیدا کوونکی، د ټولو کائناتو او مخلوقاتو پیدا کوونکی
((هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الأَسْمَاء الْحُسْنَى))[1]

[1] - سورة الحشر: ۲٤.

((هغه الله دی، پيدا کوونکی دی، جوړوونکی دی، صورت ورکوونکی دی، ښکلي نومونه يواځې د همغه دي)).

۱۳ ((البارئ)): نوی ښه پيدا کوونکی، جوړوونکی او رغوونکی، کره پوره پيدا کوونکی، توپير ورکوونکی
مخکني آية کې تېر شو

۱۴ ((المصور)): صورت ورکوونکی، شکل ورکوونکی، ښېره جوړوونکی، د پېتاړې جوړوونکی، انځورونکی
مخکني آية کې تېر شو

۱۵ ((الغفار)): ډېر زيات ښښونکی، پرده راوړونکی

((رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ))[1]

((د اسمانونو، ځمکې او هغو شيانو پيدا کوونکی، چې د دې دواړو تر منځ دي، پياوړی او ډېر زيات ښښونکی دی)).

۱۶ ((القهار)): ډېر زيات زورور، نه مغلوبېدونکی، کره پوره پياوړی، د ظالمانو، جابرانو، مستکبرينو، او متکبرينو خواروونکی، سپکوونکی او پرځوونکی.

((وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ))[2]

((او هغه يو او ډېر زيات زورور دی)).

۱۷ ((الوهاب)): ډېر زيات ډالی ورکوونکی، بې عوضه ورکوونکی، بې کچه سخي، د بې ساري ورکړې ښښتن.

((إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ))[1]

---

[illegible]

((همدا ته بې شکه ډېر زيات ډالۍ ورکوونکی یې))

١٨: ((التــواب)) : ببخـــي زيـــت راســتنېدونکی، راګرځېدونکی، ډېر زيات توبه قبلوونکی او لوروونکی

((إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ))[2]

(( همغه بې شکه ډېر توبه قبلوونکی او خورا زيات لورونکی دی)).

١٩: ((الخلاق)) : ډېر زيات پيدا کوونکی، کره پوره پنځوونکی

((إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلاَّقُ الْعَلِيمُ))[3]

((ستا رب چې دی همغه بې شکه ډېر زيات پيدا کوونکی او ډېر پوه دی)).

٢٠-: (( الرزاق)) : ډېر زيات روزي ورکوونکی، هر چا او هر شي ته روزي ورکوونکی

((إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ))[4]

(( الله چې دی همغه بې شکه ډېر زيات روزي ورکوونکی، د ځواک څښتن او ډېر پياوړی او غښتلی دی))

٢١: ((الفتاح)) ډېر زيات ښه پرانستونکی، فتح کوونکی، فتح ورکوونکی، پرېکړې کوونکی. د سختو اسانوونکی، د حقيقتونو ښکاره کوونکی

((وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيمُ))[1]

---

[1]- سورة آل عمران: ٨.
[2]- سورة البقرة: ٣٧.
[3]- سورة الحجر: ٨٦.
[4]- سورة الذاريات: ٥٨.

(( هغه ډېر زیات ښه پرېکړې کوونکی او ډېر پوه دی))

۲۲. ((العلیم)): ډېر زیات پوه، کره پوره عالم. هغه ذات چې هېڅ ترې پټ پنا نه دي

مخکني آیة کې تېر شو

۲۳. ((الحلیم)): ډېر زیات نرمي کوونکی، زغمونکی، صبر کوونکی

((وَاللّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ))[2]

(( او الله ډېر زیات بښونکی او ډېر زیات زغمونکی دی)).

۲۴. ((الحکیم)): د ډېر لوی علم او حکمت څښتن، په ډېرو باریکو او پېچلیو پوه، د کره پوره تدبیر څښتن، هغه ذات چې هېڅ یو کار یې عبث نه دی

(( إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ))[3]

((همدا ته بې شکه ډېر پوه او د کره پوره حکمت څښتن یې)).

۲۵. ((الکریم)): ډېر زیات سخي، عزتمند، د پیاوړي عزت څښتن، پیاوړی

((وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ))[4]

((او چا چې انکار وکړ نو زما رب بې شکه بې پروا او د ډېر پیاوړي عزت څښتن دی)).

۲۶. ((العظیم)): ډېر لوی، له هر څه، هر شي او هر چا لوی.

---

[1] - سورة سبأ: ۲٦.
[2] - سورة البقرة: ۲۲۵.
[3] - سورة البقرة: ۳۲.
[4] - سورة النمل: ٤٠.

((وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ))[1]

((او هغه ډېر هسک او ډېر لوی دی)).

۲۷: ((العلی)): ډېر پوره اوهسک، له هرې اړتيا لوړ، له هر شي اوهر چا لوړ او پورته.

مخکني آيت کې تېر شو.

۲۸: ((الولی)): ډېر ښه دوست، ښه مددګار، ښه بادار، ښه سرپرست.

((وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ))[2]

((او هغه ښه بادار او ډېر زيات ستايل شوی دی)).

۲۹: ((الوالي)): سرپرست، مددګار، چارواکی، حاکم، بادار.

((وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَالٍ))[3]

((او تاسو لپاره له هغه پرته کوم مددګار نشته)).

۳۰: ((المتعالي)) ((المتعال)): ډېر پورته، هسک، لوړ، اوچت، په هر صفت کې بې شريکه او بې سارې لوړ.

((عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيرُ الْمُتَعَالِ))[4]

((په پټ او ښکاره پوه ډېر لوی، ډېر پورته)).

۳۱: ((الکبير)): ډېر زيات لوی، له هر څه، هر شي او هر چا لوی، بې کچه او بې سارې لوي.

---

[1]- سورة البقرة: ۲۵۵.
[2]- سورة الشوری: ۲۸.
[3]- سورة الرعد: ۱۱.
[4]- سورة الرعد: ۹.

مخکني آیة کې تېر شو.

۳۲: ((القدیر)) : ډېر ښه برلاسی، کره پوره برلاسی، د پیاوړي قدرت څښتن.

((إِنَّ اللَّه عَلى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ))[1]

((الله بې شکه په هر شي ښه بر لاسی دی)).

۳۳: (( البصیر)) : ډېر ښه لیدونکی، کره پوره لیدونکی، په هر څه، هرشي او هر چا کره پوره لیدونکی او څارونکی، هغه ذات چې هېڅ ترې پټ پنا نه دي.

((لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ))[2]

((د هغه غوندې هېڅ شی نشته او همغه کره پوره اورېدونکی او کره پوره لیدونکی دی)).

۳۴: ((الخبیر)) : کره پوره خبر، ډېر زیات او ښه خبردار، هغه ذات چې په تېرو، موجودو او راتلونکو کره پوره خبر دی او هیڅ ترې پټ پنانه دي.

((وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ))[3]

((او هغه ډېر پوه او خورا زیات خبر دار دی)).

۳۵: (( النصیر)) : ډېر ښه مددگار ، مرستیال، مرسته کوونکی.

((نِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيرُ))[4]

---

[1]- سورة البقرة: ۲۰.
[2]- سورة الشورى: ۱۱.
[3]- سورة سبا: ۱.
[4]- سورة الانفال: ٤٠.

((د هر ښه بادار او د هر ښه مدد ګار دی)).

۳۶: ((المولی)) : ښه بادار، سرپرست، مددګار، خپلواک.

مخکني آیة کې تېر شو.

۳۷((الأعلیٰ)): د هر پورته، اوچت، لوړ، هسک، له هر څه، هر شي او هر چا پورته.

((سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الأَعْلى))[1]

((د خپل رب نوم په پاکۍ یاد کړه چې د هر هسک دی)).

۳۸: ((السمیع)) : کره پوره اورېدونکی، د هر ښه اورېدونکی.

مخکې تېر شو.

۳۹: ((البدیع)) : بې ساري او بې مثاله پیدا کوونکی، نا اشنا پیدا کوونکی، بې آلې، بې اسباسو، بې مادې، بې زمانه او بې مکانه پیدا کوونکی، د بې ساري او بې شریکه صفاتو، افعالو او مصنوعاتو څښتن.

((بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ))[2]

(( د اسمانونو او ځمکې نا اشنا پیدا کوونکی دی)).

۴۰: ((المجیب)) : قبلوونکی، ځواب ورکوونکی، منونکی، د سوال ښه قبلوونکی.

((إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُّجِيبٌ))[3]

---

[1]- سورة الاعلیٰ: ۱.
[2]- سورة البقرة: ۱۱۷.
[3]- سورة هود: ٦١.

(( زما رب بې شکه نږدې او ښه قبلوونکی دی)).

۴۱: (( القریب)) : نږدې، هغه ذات چې هیڅ شی ورڅخه پټ، پنا او لرې نه دی.

مخکني آیة کې تېر شو.

۴۲: ((الحسیب)) : د شمېر ښه پېژندونکی ، په حساب کره پوره پوه، د اجزاو او اندازو پېژندونکی، بدله ورکوونکی، د کره پوره شرف او عزت څښتن.

((وَكَفَى بِاللّهِ حَسِيبًا))[1]

(( او الله د شمېر ښه پېژندونکی بس دی)).

۴۳: (( الرقیب)) : ډېر ښه ساتونکی، کره پوره څارونکی، ښه پام کوونکی، هغه ذات چې هیڅ ترې نه شي پټېدی.

((وَكَانَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ رَّقِيبًا))[2]

((او الله په هر شي ښه څارونکی دی)).

۴۴: (( المقیت)) : ښه څارونکی، کره پوره ساتونکی، ښه روزي ورکوونکی، مهلت ورکوونکی.

((وَكَانَ اللّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا))[3]

((او الله په هر شي ښه څارونکی دی)).

۴۵: ((الواسع)) : پراخوونکی، د کره پوره پراخۍ څښتن، د پراخه علم او پراخه روزۍ ورکوونکی، د پراخه علم، قدرت او

---

[1] ـ سورة النساء: ٦.
[2] ـ سورة الاحزاب: ٥٢.
[3] ـ سورة النساء: ٨٥.

پاچايي څښتن، له تنګۍ، ستونزو او کړاوونو څخه پراخۍ، اسانۍ اوخوشحالۍ ته راایستونکی، د پراخه پېرزوینو او پراخه بښنې والا، د پراخه کائناتو خالق او مالک.

((إِنَّ اللّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ))[1]

((الله بې شکه د پراخۍ څښتن او ډېر پوه دی)).

۴۶: ((الغنی)) : بې پروا، بډای، د ډېرو شتو او هر څه څښتن، په هر څه کره پوره، بې احتیاجه.

((وَاللّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ))[2]

((او الله بې پروا او ډېر زغمونکی دی)).

۴۷: ((القوی)) : ډېر زورور، ځواکمن، غښتلی او پیاوړی.

((إِنَّ اللّهَ قَوِيٌّ شَدِيدُ الْعِقَابِ))[3]

((الله بې شکه ښه ځواکمن او د سخت عذاب څښتن دی)).

۴۸: ((الشدید)) : ډېر سخت، پیاوړی، غښتلی، نه ماتېدونکی، زورور، ځواکمن.

مخکني آية کې تېر شو.

۴۹: ((الحمید)) : ډېر ښه ستایل شوی، کره پوره ستایل شوی.

((إِنَّهُ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ))[4]

((هغه بې شکه ښه ستایل شوی او د لوی شان څښتن دی)).

---

[1]- سورة البقرة : ۱۱۵.
[2]- سورة البقرة: ۲۶۳.
[3]- سورة الانفال: ۵۲.
[4]- سورة هود: ۷۳.

۵۰: ((المجید)) : د لوی شان څښتن، د هر پیاوړی او بزرګ.
مخکني آیة کې تېر شو.
۵۱: ((الشهید)) :ګواه، ښه کره پوره کتونکی، هغه ذات چې هر څه ورته څرګند دي او هېڅ ترې پټ پنا نه دي.
((وَاللّٰهُ شَهِيدٌ عَلَى مَا تَعْمَلُونَ))[1]
((او تاسو چې څه کوئ الله پرې ګواه دی)).
۵۲: ((الملیك)) : بشپړ کره پوره ټولواک د ټولو کائناتو پاچا، لوی پاچا.
((عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ))[2]
((هغه لوی پاچا سره چې کره پوره برلاسی دی)).
۵۳: ((المقتدر)) : کره پوره برلاسی، د بشپړ ځواک او وس څښتن، لوی واکمن او ځواکمن.
مخکني آیة کې تېر شو.
۵۴: ((القادر)) : ښه برلاسی، په وس کره پوره.
((قُلْ إِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلَى أَن يُنَزِّلَ آيَةً))[3]
((ورته ووایه! الله بې شکه په دې برلاسی دی چې یوه معجزه راولېږي)).
۵۵: ((القاهر)) : ښه زورور، ځواکمن، برلاسی.
((وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ))[4]

---
[1]- سورة آل عمران: ۹۸.
[2]- سورة القمر: ۵۵.
[3]- سورة الانعام: ۳۷.
[4]- سورة الانعام: ۱۸.

(( او هغه دخپلو بنده ګانو له پاسه زورور دی)).

**۵۶**: ((الشاکر)) : ښه مننه کوونکی، ښه شکر کوونکی، شکر قبلوونکی، بدله ورکوونکی.

((فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ))[1]

((الله بې شکه ښه شکر کوونکی او ډېر زیات پوه دی)).

**۵۷**: ((الشکور)) : ډېر ښه مننه کوونکی، شکر کوونکی، شکر قبلوونکی، هغه ذات چې شکر یې کېږي، ډېر ښه کره پوره بدله ورکوونکی.

((إِنَّهُ غَفُورٌ شَكُورٌ))[2]

((هغه بې شکه ډېر ښښونکی او ډېر شکر قبلوونکی دی)).

**۵۸**: ((النور)) : رڼا، روښان، روڼ، رڼا ورکوونکی، روښانوونکی، رڼوونکی، په پخو او کره پوره دلیلونو څرګند.

((الله نور السماوات والارض))[3]

((الله د اسمانونو او ځمکې روښانوونکی دی)).

**۵۹**: (( الغفور)) : ډېر زیات ښښونکی، کره پوره ښښنه کوونکی.

((وَهُوَ الْغَفُورُ الْوَدُودُ))[4]

((او هغه ډېر زیات ښښونکی او ښېګړه کوونکی دی)).

---

[1]- سورة البقرة: ۱۵۸.
[2]- سورة فاطر: ۳۰.
[3]- سورة النور: ۳۵.
[4]- سورة البروج: ۱٤.

۲۰: ((الودود)) : ډېر ښه مینه کوونکی، دوستي کوونکی، ښېګړه کوونکی، لوروونکی، هغه ذات چې هغه سره باید مینه وشي.
مخکني آیت کې تېر شو.

۲۱: ((العفو)) : ډېر زیات تېرېدونکی، مخ اړوونکی، عفو کوونکی، اساني کوونکی.
((إِنَّ اللّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا))[1]
((الله بې شکه ډېر زیات تېرېدونکی او ډېر زیات ښښونکی دی)).

۲۲: ((الرؤف)) : ډېر ښه نرمي کوونکی، خورا زیات مهربان، ډېر زیات اساني کوونکی.
((إِنَّ اللّهَ بِالنَّاسِ لَرَؤُوفٌ رَّحِيمٌ))[2]
((الله بې شکه په خلکو ډېر زیات نرمي کوونکی او خورا زیات لوروونکی دی)).

۲۳: ((اللطیف)) : د ډېرو وړو وړو او باریکو لیدونکی، په ډېرو پټو، باریکو او پېچلیو پوه، د سختو باریکو او پېچلیو کارونو کوونکی، ډېر زیات نرمي، آساني او مهرباني کوونکی، د مخلوق له ادراکه ډېر لوړ.
((وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ))[3]
((او هغه ډېر زیات نرمي کوونکی او ښه خبر دی)).

---

[1] - سورة النساء: ۴۳.
[2] - سورة البقرة: ۱۴۳.
[3] - سورة الانعام: ۱۰۳.

۲۴: ((الحفـیظ)) : د هـر ښــه کــره پــوره ســاتونکی، ښــه څارونکی.

((إِنَّ رَبِّي عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ))[1]

((زما رب بې شکه په هر شي د هر ښه ساتونکی دی)).

۲۵: ((الوکیل)) : د هر ښه ذمه وار، ساتونکی، سر پرست، مددګار.

((وَقَالُواْ حَسْبُنَا اللّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ))[2]

((او هغوی وویـل: مـونږ لپـاره الله بـس دی او هغـه د هـر ښـه ذمـه وار دی)).

۲۶: (( المالـك)) : پـوره کـره واکـدار، واکمـن، ټولـواک، باچار

((مالك يوم الدين))[3]

((د قیامت د ورځې واکمن دی))

۲۷: ((الحی)) : ژوندی، کره پوره ژوندی، نه پنا کېدونکی او نه مړ کېدونکی ژوندی.

((لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ))[4]

((له هغه پر تـه بـل حق معبـود نـشته هغـه تـل ژونـدی او کـره پوره تدبیر نیوونکی دی)).

---

[1] - سورة هود: ۵۷.
[2] - سورة آل عمران: ۱۷۳.
[3] - سورة الفاتحة: ٤.
[4] - سورة: البقرة: ۲۵۵.

۶۸: ((القيوم)) : ډېر ښه تدبير نيوونکی، کره پوره سرشته نيوونکی.

مخکني آية کې تېر شو.

۶۹: ((البر)) : کره پوره احسان کوونکی، ښېګڼه کوونکی، پاک، نرمي او آساني کوونکی، مهربان،لوروونکی، تېرېدونکی.

((إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيمُ))[1]

((هغه بې شکه کره پوره ښېګڼه کوونکی او خورا زيات لوروونکی دی)).

۷۰: ((الأکرم)) : ډېر زيات سخي، خورا زيات عزتمند، پياوړی، اود عزت، پياوړتيا او سخا ښتن.

((اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ))[2]

((ولوله او ستا رب ډېر زيات سخي دی)).

۷۱: ((العلام)) : خورا زيات پوه، د کره پوره علم څښتن، په هر څه ډېر ښه پوه.

((وَأَنَّ اللّهَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ))[3]

((او الله بې شکه په پټو ډېر زيات پوه دی)).

۷۲: ((المستعان)) : هغه ذات چې له هغه مرسته او مدد غوښتل کېږي، پياوړی مددګار، غښتلی مرستندوی.

((وَرَبُّنَا الرَّحْمنُ الْمُسْتَعَانُ))[1]

---

[1]- سورة الطور: ۲۸.

[2]- سورة العلق: ۳.

[3]- سورة التوبة: ۷۸.

((او زمونږ رب ډېر زيات مهربان او ښه مددګار دی)).

۷۳: ((الحکم)) : ښه فيصله کوونکی، پياوړی حاکم، واکمن، چارواکی.

((أَفَغَيْرَ اللّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا))[2]

((نو آيا له الله پرته بل حاکم ولټوم)).

۷۴: ((الکفيل)) : ښه ذمه وار، پالونکی، ضمانت کوونکی، بادار، سرپرست.

((وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلاً))[3]

((او تاسو بې شکه الله په خپلو ځانونو ذمه وار ټاکلی دی)).

۷۵: ((المحی)) : ژوندی کوونکی، کره پوره خپلواک ژوندی کوونکی.

((إِنَّ الَّذِي أَحْيَاهَا لَمُحْيِي الْمَوْتَى))[4]

((هغه ذات چې ځمکه يې شنه کړې ده، هغه خامخا د مړو راژوندي کوونکی دی)).

۷۶: ((المميت)) : مړ کوونکی، کره پوره خپلواک مړ کوونکی.

له ډېرو آيتونو نه اخيستل شوی دی لکه:

((وَاللّهُ يُحْيِـي وَيُمِيتُ))[5]

---

[1]- سورة الانبياء: ۱۱۲.
[2]- سورة الانعام: ۱۱٤.
[3]- سورة النحل: ۹۱.
[4]- سورة حم السجدة(فصلت) : ۳۹.
[5]- سورة آل عمران: ۱٥٦.

(( او الله ژوندي کول او مړه کول کوي)).

۷۷: ((الکافي)) : کره پوره، هر څه ته بس، پوره کوونکی، بې احتیاجه.

((أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ))[1]

((آیا الله خپل بنده لپاره بس نه دی؟)).

۷۸: ((المبدئ)) : پیل کوونکی، لومړی کوونکی، لومړی پیدا کوونکی.

د دې آیة له معنا څخه اخیستل شوی دی.

((إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ))[2]

(( هغه بې شکه لومړی پیدا کول او بیا راژوندي کول کوي)).

۷۹: ((المعید)) : راستنوونکی، راګرځوونکی، بیا راپیدا کوونکی د پاسني آیة له معنا څخه اخیستل شوی دی.

۸۰: ((الوارث)) : میراث وړونکی، میراث ورکوونکی، بشپړ واکمن، هغه ذات چې هر څه د همغه دي.

د دې آیة له معنی اخیستل شوی دی:

((وَنَحْنُ الْوَارِثُونَ))[3]

(( او مونږ وارثان یو)).

۸۱: ((المعز)) :عزت ورکوونکی، پیاوړی کوونکی، لوړوونکی.

---

[1]- سورة الزمر: ۳٦.
[2]- سورة البروج: ۱۳.
[3]- سورة الحجر: ۲۳.

د دې لاندې آیة له معنٰی اخیستل شوی دی:
((وَتُعِزُّ مَن تَشَاء وَتُذِلُّ مَن تَشَاء))[1]
((چاته دې چې خوښه شي عزت ورکوې او څوک چې وغواړې خواروې یې)).

۸۲: ((المذل)) : ذلت ورکوونکی، سپکوونکی، خواروونکی.
د پاسني آیة له معنٰی اخیستل شوی دی.

۸۳: ((الجامع)) : راټولوونکی، یو ځای کوونکی، جمع کوونکی.
((رَبَّنَا إِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لاَّ رَيْبَ فِيهِ))[2]
((ای زمونږ ربه! ته هغې ورځې ته د خلکو راټولوونکی یې چې هېڅ شک پکې نشته)).

۸۴: ((المنتقم)) :غچ اخیستونکی، بدله اخیستونکی.
((إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ))[3]
((مونږ بې شکه له ورانکارانو څخه غچ اخیستونکي یو)).

۸۵: ((الصادق)) : ډېر رښتینی، کره پوره رښتینی.
((وِإِنَّا لَصَادِقُونَ))[4]
((او مونږ بې شکه خامخا رښتیني یو)).

---
[1]- سورة آل عمران: ۲٦.
[2]- سورة آل عمران ۹.
[3]- سورة السجدة : ۲۲.
[4]- سورة الانعام: ۱٤٦.

۸۶. ((القابض)) : راټولوونکی، تنګوونکی، نیوونکی، کموونکی، خپه کوونکی.
له دې آیة نه اخیستل شوی دی:
((وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ))[1]
((او الله تنګول او پراخول کوي)).
۸۷. ((الباسط)) : پراخوونکی، خپروونکی، زیاتوونکی، خوشحالوونکی.
پورتني آیت نه اخیستل شوی دی.
۸۸. ((الرب)) : پالونکی، واکمن، بادار، سرپرست، مالک، معبود.
((الْحَمْدُ للّٰه رَبِّ الْعَالَمِينَ))[2]
(( ټولې کره پوره ستاینې هغه الله لپاره دي، چې د ټولو مخلوقاتو واکمن دی)).
۸۹. ((الحق)) : حق، رینبتیا، ثابت، جوت، جوتوونکی، هغه ذات چې هیڅ انکار ورځخه نه شي کېدی.
((وَهُوَ الْحَقُّ الْمُبِينُ))[3]
((او هغه رینبتیا او ځرګند دی)).
۹۰. ((المبین)) : ځرګند، جوت ځرګندوونکی، په کره او پخو دلیلونو ثابت.

---

[1]- سورة البقرة: ۲٤٥.
[2]- سورة الفاتحة: ۲.
[3]- سورة النور: ۲٥.

پاسني آية کې تېر شو.

۹۱: ((المتين)) : ډېر غښتلی، پياوړی، ځواکمن، د لوی قدرت څښتن.

((إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ))[1]

((الله چې دی بې شکه همغه ډېر زيات روزي ورکوونکی، د ځواک څښتن او ډېر پياوړی دی)).

۹۲: ((الهادي)) : ښه لار ښوونکی، هدايت کوونکی، په سمه لار روانوونکی.

((وَكَفَى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا))[2].

((او ستا رب لارښوونکی او مددګار بس دی)).

۹۳: ((الأول)) : بې پيله لومړنی، ړومبی، همغه ذات چې له همغه مخکې هېڅ شی نشته.

((هُوَ الأَوَّلُ وَالآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ))[3]

((همغه لومړنی، وروستنی، څرګند او پټ دی او همغه په هر شي ډېر پوه دی)).

۹۴: ((الآخر)) : وروستنی، وروستی، تل پاتې، همغه ذات چې له همغه وروسته هېڅ شی او هېڅوک نه شي کېدی.

مخکني آية کې تېر شو.

---

[1]- سورة الذاريات: ۵۸.
[2]- سورة الفرقان: ۳۱.
[3]- سورة الحديد: ۳.

**۹۵**: ((الظاهر)) : ښه څرګند ، ښکاره، جوت، په هرشي، هر څه او هر چا دپاسه، په جوتو دلیلونو ثابت، څرګندوونکی.
مخکني آیة کې تېر شو.
**۹۶**: ((الباطن)) : پټ، پټوونکی، له سترګو پنا ، د مخلوق له ادراکه پنا ، په پټو پوه.
مخکني آیة کې تېر شو.
**۹۷**: ((الواحد)) : یو، یواځې یو، بې شریکه او بې ساري یو ، بې سیاله یو ، کره پوره ټولواک او خپلواک یو.
((أَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ))[1]
((آیا ګڼ مختلف باداران او معبودان ښه دي که الله چې یو او ډېر زورور دی؟)).
**۹۸**: ((الأحد)) : یو، یواځې یو، بې شریکه، بې مثاله او بې سیاله یو، ځانګړی یو.
((قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ))[2]
((ورته ووایه حقیقت دا دی چې الله یو دی)).
**۹۹**: ((الصمد)) : بې نیاز، نه بېلېدونکی، هغه ذات چې مخلوق ورته ډېر اړ دی؟ د زارۍ او عبادت مستحق.
((اللَّهُ الصَّمَدُ))[3]
((الله بې نیاز دی)).

---
[1] ـ سورة یوسف: ۳۹.
[2] ـ سورة الاخلاص: ۱.
[3] ـ سورة الاخلاص: ۲.

دا نومونه ځینې ذاتي او ځینې صفتي دي.

دا هغه ((أسماء الحسنٰی)) دي چې د قرآن کریم او حدیثو دواړو له تطبیق او توفیق نه راڅرګند ېږي. ما خپله په قرآن کریم کې لټولي او بیا مې احادیثو سره پر تله کړي دي. د ترمذي او ابن ماجة مخکني یاد شوي حدیثونه ضعیف دي خو کوم نومونه چې مونږ له قرآن کریم نه راوایستل، هغه په حدیثو کې هم قوي شول، اونور صفات شول.

په دې سربېره هم څه صفتي نومونه او صفات راغلي دي چې ځینې په قرآن کریم او ځینې یې په صحیحو احادیثو کې راغلي دي.

قرآن کریم کې چې راغلي دي هغه دا دي:

✿ ((المحیط)) : چاپېر، راګېروونکی، کره پوره پوه، کره پوره خبر، بشپړ واکمن.

((إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيطٌ))[1]

(( هغه بې شکه په هر شي چاپېر دی)).

✿ ((فعال)) : ډېر زیات کره پوره کوونکی، خپلواک او تولواک کوونکی.

((فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ))[2]

((ډېر زیات کوونکی دی د هغه چې ویې غواړي)).

---

[1]- سورة حم السجدة (فصلت): ٥٣.

[2]- سورة البروج: ١٦.

✿ ((الحفی)) : ډېر زيات مهربان، زيات لورووونکی، کره پوره خبر.

((إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا))[1]

((هغه بې شکه په ما ډېر زيات مهربان دی)).

✿ ((الغالب)) : زورور، تر ټولو ځواکمن او له پاسه، ډېر پياوړی، بشپړ واکمن او برلاسی.

((وَاللّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ))[2]

((الله په خپل کار پوره برلاسی دی)).

✿ ((الشفيع)) : شفاعت کوونکی، سپارښتنه کوونکی، شفاعت او سپارښتنه قبلوونکی، معبود.

((مَا لَكُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ شَفِيعٍ))[3]

(( تاسو لپاره له هغه پرته نه کوم مددګار شته او نه کوم شفاعت کوونکی)).

✿ ((ذوالجلال والإكرام)) : د لوی شان او عزت څښتن.[4]

✿ ((ذوالفضل العظيم)) : د لويې پېرزوينې څښتن.[5]

✿ ((ذوانتقام)) : د غچ اخيستلو څښتن.[6]

✿ ((ذوالعرش)) : د عرش څښتن.[7]

---

[1]- سورة مريم: ٤٧.
[2]- سورة يوسف: ٢١.
[3]- سورة السجدة: ٤.
[4]- سورة الرحمن: ٢٧.
[5]- سورة البقرة: ١٠٥.
[6]- سورة آل عمران: ٤.
[7]- سورة المؤمن: ١٥.

✿: (( ذومغفرة)) : د ښښنې څښتن.[۱]

✿: ((ذوعقاب أليم)) : د دردناک عذاب څښتن.[۲]

✿: ((ذوالقوة)) : د ځواک څښتن.[۳]

✿: ((ذورحمة)) : د لورېنې او پېرزوينې څښتن.[۴]

✿: ((ذوالرحمة)): د لورېنې او پېرزوينې څښتن.[۵]

✿: ((ذی الطول)) : د ځواک څښتن، واکمن، د مال او روزۍ څښتن.[۶]

✿: (( ذی المعارج)) : د پوړيو او درجو څښتن.[۷]

✿: (( الفاطر)) : پيدا کوونکی، پنځوونکی.

((فاطر السمٰوٰات والأرض))[۸]

((د اسمانونو او زمکې پيدا کوونکی)).

✿: ((جاعل الملائکة رسلا)).[۹]

((پرښتو نه د استازو جوړوونکی)).

✿: ((فالق الحب والنوىٰ)).[۱۰]

((د دانو او زړي چوونکی)).

✿: (( فالق الإصباح)).[۱]

---

[۱] ـ سورة طه: ۷۳.
[۲] ـ سورة حم السجدة: ٤۳.
[۳] ـ سورة الذاريات: ۵۸.
[٤] ـ سورة الانعام: ۱٤۷.
[۵] ـ سورة الانعام: ۱۳۳.
[٦] ـ سورة المؤمن: ۳.
[۷] ـ سورة المعارج: ۳.
[۸] ـ سورة فاطر: ۱.
[۹] ـ سورة فاطر: ۱.
[۱۰] ـ سورة الانعام: ۹۵.

((د سبا چوونکی، د سپېدو چوونکی)).

✿: (( مخرج الميت من الحی))[۲]

((له ژوندي نه د مړۀ راایستونکی)).

✿: ((أعلم بالمهتدين))[۳]

((په لار موندونکيو ډېر پوه)).

✿: ((سبوح)) : ((ډېرپاک)) لکه د مسلم او نورو په روایاتو کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په رکوع او سجدو کې داسې ویل : ((سبوح قدوس رب الملائکة والروح)) ((ډېر پاک او ډېر سپېڅلی دی د پرښتو او روح رب دی)) همدارنګه ((سبحان)) ((پاک)) چې په یو لغت کې د عثمان او عمران په څېر نوم دی نو صفتي نوم جوړېدی شي . ((سبحان الذی أسریٰ بعبده))[۴]

(( هغه ذات پاک دی چې خپل بنده یې د شپې بوت)).

✿: (( تعالی)) : ډېر پورته، هسک، اوچت، لوړ

((سبحانه وتعالی عما یصفون)).[۵]

((له هغو شریکانو او ناوړه خبرو ډېر پاک او ډېر پورته دی چې دوی یې پرې ستایي)).

((تعالی الله عما یشرکون)).[۶]

---

[۱]- سورة الانعام:۹٦.
[۲]- سورة الانعام:۹۵.
[۳]- سورة الانعام: ۱۱۷.
[۴]- سورة الاسری: ۱.
[۵]- سورة الانعام : ۱۰۰.
[٦]- سورة النمل: ٦۳.

((الله لـه هغـو ډېـر اوچـت دی چـې دوی یـې ورسـره شریکوي)).

✿: (( قـائم علـی کـل نفـس)) :[1] (( پـه هـر نفـس ولاړ او څارونکی)).

✿: ((رفیع الدرجات)) :[2] ((د درجو لوړوونکی)).

✿: ((قابل التوب)) :[3] ((د توبې قبلوونکی)).

✿: ((أحکم الحاکمین)) :[4] (( تر ټولو پیاوړی حاکم)).

✿: ((أحسن الخالقین)) :[5] ((تر ټولو ښه پیدا کوونکی)).

✿: ((مخـزی الکـافرین)) :[6] (( د کـافرانو شـرموونکی او سپکوونکی)).

✿: (( برئ من المشرکین)) :[7] ((له مشرکانو څخه بېزار)).

✿: ((أرحم الراحمین))[8] : ((تر ټولو زیات لورووونکی)).

✿: ((أشد باسا و اشد تنکیلا)).[9] ((پـه جنـګ کـې ډېـر سخت او په عذاب ورکولو کې ډېر سخت)).

✿: ((غافر الذنب)). :[10] ((د ګناه ښښونکی)).

✿: ((سریع الحساب)) :[11] ((د ګړندي حساب والا)).

---

[1]- سورة الرعد: ۳۳.
[2]- سورة المؤمن: ۱۵.
[3]- سور المؤمن: ۲۳.
[4]- سورة هود: ٤٥.
[5]- سورة الصفت: ۱۲۵.
[6]- سورة التوبة: ۲.
[7]- سورة التوبة: ۳.
[8]- سورة الاعراف: ۱۵۱.
[9]- سورة النساء: ۸٤.
[10]- سورة المؤمن: ۳.
[11]- سورة البقرة: ۲۰۲.

✿ ((أهل التقوىٰ)):[۱] ((د تقوىٰ څښتن)).

✿ ((أهل المغفرة)) :[۲] (( د ښښنې څښتن)).

✿ ((خير حافظا)) :[۳] (( ډېر ښه ساتونکی)).

✿ ((خير و ابقىٰ)):[۴] ((ډېر ښه او ډېر پاتې کېدونکی)).

✿ ((خير الغافرين)) :[۵] (( تر ټولو ښه ښښونکی)).

✿ ((خير الراحمين)) :[۶] ((تر ټولو ښه لورونکی)).

✿ ((خير الرازقين)) :[۷] ((تر ټولو ښه روزي ورکوونکی)).

✿ ((خير الماكرين)) :[۸] ((تر ټولو ښه تدبير نيوونکی)).

✿ ((خير الناصرين)) :[۹] ((تر ټولو ښه مرسته کوونکی)).

✿ ((خير الفاتحين)) :[۱۰] ((تر ټولو ښه فيصله کوونکی، اسانوونکی، پرانستونکی)).

✿ ((خير الحاكمين)) :[۱۱] ((تر ټولو ښه حاکم، واکمن، پرېکړه کوونکی)).

✿ ((خير الفاصلين)) :[۱] ((تر ټولو ښه فيصله کوونکی، بېلوونکی، توپير کوونکی)).

---

۱- سورة المدثر: ٥٦.
۲- سورة المدثر: ٥٦.
۳- سورة يوسف: ٦٤.
٤- سورة طه: ٧٣.
٥- سورة الاعراف: ١٥٥.
٦- سورة المؤمن: ١٠٩.
٧- سورة المؤمنون: ٧٢.
٨- سورة ال عمران: ٥٤.
٩- سورة آل عمران: ١٥٠.
٦- سورة الاعراف: ٨٩.
٧- سورة الاعراف: ٨٧.
٨- سورة الانعام ٥٧.

✿: ((خیـــر المنـــزلین)) :[2] ((تـــر ټولـــو ښـــه مېلمـــستیا ورکوونکی، پالونکی)).

✿: ((خیـــر الـــوارثین)) :[3] ((تـــر ټولـــو ښـــه وارث، میـــراث وړونکی)).

✿: ((أسرع الحاسبین)) :[4] ((تر ټولو زیات ګړندی حساب کوونکی)).

✿: ((تبـارك الـذي نـزل الفرقـان)) :[5] ((هغـه ذات د برکـت څښتن دی چې توپیر کوونکی کتاب یې نازل کړی دی)).

✿: ((تبـارك الـذي بیـده الملـك)) :[6] ((هغـه ذات د برکـت څښتن دی چې د هغه په لاس کې پاچایي ده)).

✿: ((تبارك الله رب العالمین)) :[7] (( الله د برکت څښتن دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی)).

✿: ((الإله)) : دا قرآن او حدیثو کې ځای په ځای راغلی دی او ماپه نهه نوي نومونو کې ځکه ونه ګاڼه چې ((الله)) په اصل کې ((الإله)) دی ، هغه پکې راغلی دی او یواځې ((إله)) د معبود په معنا دی، دلته مې ولیکهٔ او قرآن کریم کې اکثره په إضافت راغلی دی لکه: إلهکم، إله الناس، إله موسٰی او داسې نور.

---

٩- سورة المؤمنون: ٢٩.
١٠- سورة الانبياء: ٨٩.
٣- سورة الانعام: ٦٢.
٥- سورة الفرقان: ١.
٦- سورة الملك: ١.
٧- سورة الاعراف: ٥٤.

او منکر موصوف هم راغلی دی لکه: ((إله واحد))[١]

او خبر هم واقع شوی دی لکه : ((وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاء إِلَهٌ وَفِي الأَرْضِ إِلَهٌ))[٢]

- ((المرسل)) : لیږونکی. ((إنا كنا مرسلين))[٣]
- ((المنذر)) : وېرووونکی. ((إنا كنامنذرين))[٤]
- ((المبرم)) : سرشته نیوونکی. ((فإنا مبرمون))[٥]
- ((القائم)) : ولاړ، څارونکی. ((أفمن هو قائم على كل نفس))[٦]
- ((العالم)) : پوه. ((عالم الغيب والشهادة))[٧]
- ((الأعلم)) : ډېر پوه ((وهو أعلم بالمهتدين))[٨]
- (([illegible])) : [illegible] ((وكنا لحكمهم شاهدين))[٩]
- ((الحاسب)) : حساب کوونکی. (( وكفا بنا حاسبين))[١٠]
- ((الموسع)) : پراخوونکی. ((و إنا لموسعون))[١١]

---

[١]- سورة البقرة: ١٦٣.
[٢]- سورة الزخرف: ٨٤.
[٣]- سورة المائدة: ٤٤.
[٤]- سورة آل عمران: ٤٤.
[٥]- سورة الزخرف: ٧٩.
[٦]- سورة الرعد: ٣٣.
[٧]- سورة الانعام: ٧٣.
[٨]- سورة القصص: ٥٦.
[٩]- سورة الانبياء: ٧٨.
[١٠]- سورة الانبياء: ٤٧.
[١١]- سورة الذاريات: ٤٧.

✿: ((المنزل)) : رالېږونکی. ((إنا منزلون))[1]

✿: ((المنجي)) : ژغورونکی. ((إنا منجوك))[2]

همدارنګه د الله تعالی ځینې نور صفتي نومونه او صفات په حدیثو کې راغلي دي چې ځینې یې د بېلګې په توګه رااخلو:

✿: ((المنـان)) : ډېر زیات احسان کوونکی، بښـېګړه کوونکی، مهربان، لوروونکی، زباتوونکی.

لکه حدیث کې په دعاء کې داسې راغلی دی:

((اللهم لا إله إلا أنت المنان بديع السماوات والأرض ذا الجلال والإكرام))[3]

((ای الله! له تا پرته بل حق معبود نشته ته ډېر زیات بښېګړه کوونکی او نوروونکی یې، د اسمانونو او ځمکې بې [illegible] کوونکی یې ای د لوی شان او عزت څښتنه)).

✿: ((الحنان)) : ډېر زیات مهربان، نرمي کوونکی.

حدیث کې راځي چې رسول الله ﷺ ته یو سړی راغی او دا دعاء یې ویله:

((اللهم إني أسالك بأن لك الحمد لا إله إلا أنت الحنان المنان بديع السماوات والأرض ذوالجلال والإكرام))[4]

((ای الله! زه په دې وسیلې له تا سوال کوم چې کره پوره ستاینې یواځې تا لپاره دي، له تا پرته بل حق معبود نشته، ته ډېر

---

[1]- سورة العنكبوت: ٣٤.

[2]- سورة العنكبوت: ٣٣.

[3]- رواه الترمذي و ابوداود و ابن ماجة.

[4]- رواه ابن حبان والطبراني .

نرمي کوونکی او احسان کوونکی یې، د اسمانونو او ځمکې بې ساري پیدا کوونکی یې، د لوی شان اوعزت څښتن یې)).

((الحنان)) او ((المنان)) د ابو هریرة رضي الله عنه په هغه روایت کې هم راغلي دي چې طبراني، حاکم، ابن مردویه، ابو نعیم، بیهقي، ابوالشیخ او ابن ابي الدنیا یې روایت کړی دی.

✿: ((الستیر)) : ډېر زیات پرده کوونکی، پرده اچوونکی، پردهٔ راوړونکی.

حدیث کې راځي: ((إن الله حيي ستير يحب الحياء والستر))[1]

((الله بې شکه ډېر زیات حیاناک او ډېر زیات پرده کوونکی دی، حیاء او پرده خوښوي)).

✿: (( الحیي)) : ((ډېر زیات حیاناک)) مخکښي حدیث کې تېر شو.

✿: ((الجمیل)) : ډېر ښکلی.

حدیث کې راځي: ((إن الله جميل يحب الجمال)).[2]

((الله بې شکه ښکلی دی ښکلا خوښوي)).

✿: (( الرفیق)) : ډېر نرمي کوونکی، مهربان.

حدیث کې داسې راځي:

((إن الله رفيق يحب الرفق))

---

[1]- رواه ابوداود و احمد والنسائي والبيهقي والطبراني و عبدالرزاق.

[2]- رواه مسلم و احمد والحاکم و الطبراني في الکبير.

((الله بې شکه نرمي کوونکی دی او نرمي کول خوښوي)).

الله تعالی غیرتي ذات دی غیرت کوي لکه حدیث کې راغلي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ((المؤمن يغار والله يغار ومن غيرة الله أن ياتي المؤمن شيئاً حرم الله)).[2]

((مؤمن غیرت کوي او الله غیرت کوي او د الله له غیرته دا هم ده چې مؤمن هغه کار وکړي چې الله پرې حرام کړی دی)) (نو الله غیرت کې راځي او پرې غوسه کیږي).

او په یو روایت کې راغلي چې: ((والله أغير مني))[3]

((او الله له ما ډېر غیرتمن دی)).

همدارنګه نور ډېر نومونه او صفتونه په احادیثو کې راغلي دي ،د بیهقي ((الأسماء و الصفات))، د ابن خزیمه او ابن منده ،کتاب التوحید او نور کتابونه وګورئ.

---

[1] - رواه احمد والبيهقى والبخاري فى التاريخ والادب المفرد والبزار والطبراني فى الاوسط والصغير ومكارم الاخلاق وابن أبى شيبة و أبو داود و الدارمي والبيهقى فى الاسماء والصفات.

[2] - رواه البخارى و مسلم و الترمذي وابن حبان والبيهقى فى شعب الايمان.

[3] - رواه البخاري ومسلم و احمد و الدارمي .

# بې علمه خبرې

د الله سبحانه وتعالى په هکله بې دليله او له ځانه خبره کول ناروا دي او د بې لارې او هلاکت سبب دى . د الله سبحانه وتعالى په هکله وينا که په ذات کې وي او که په صفاتو کې وي توقيفي ده معنا دا چې په قرآن او احاديثو کې څه راغلي وي د همغو سره به اودرېږو او وړاندې به نه ځو چې له ځانه، بې علمه او بې دليله خبره وکړو.

الله سبحانه وتعالى فرمايي:

((وَمِنَ النَّاسِ مَن يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَانٍ مَّرِيدٍ))[1]

((او له خلکو ځينې داسې دي چې د الله په هکله بې له علمه جګړه کوي او د هر سر غړوونکي شيطان پسې درومي)).

او فرمايي:

((وَمِنَ النَّاسِ مَن يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلاَ هُدًى وَلاَ كِتَابٍ مُّنِيرٍ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا

[1]- سورة الحج : ٣.

وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ يَدْعُوهُمْ إِلَى عَذَابِ السَّعِيرِ))[1]

((او لهٔ خلکو ځيني هغه دي چې د الله پهٔ هکله بې علمه، بې لارښوونې او بې لهٔ روښانه کتاب بحث کوي. او کله چې ورته وويل شي چې د هغه کتاب تابعداري وکړئ چې الله نازل کړی دی نو وايي: بلکه مونږ د هغه څهٔ پسې ځوو چې خپل پلرونه مو پرې موندلي دي. اګر کهٔ شيطان يې د ګرم دوزخ عذاب ته بلي هم؟))

نو جوته شوه چې د الله تعالی پهٔ هکله بې علمه او بې دليله بحث او چېړ کول ناروا دي.

## سپېڅلي صفتونه

د توحيد الأسماء والصفات يا د نومونو او ځانګړتياؤ د توحيد دويمه څانګه صفتونه يا ځانګړتياوې دي. د الله سبحانه وتعالی نومونه د هغهٔ لهٔ صفتونو څخه ډک دي.

لکه څرنګه چې د الله سبحانه وتعالی ښايسته نومونه دي، همدارنګه د هغهٔ ﷻ ښايسته صفتونه هم شته. د هغهٔ ﷻ صفتونه هم کره پوره او د جلال، کمال، پاکی، عظمت، کبرياء او لوی والي صفتونه دي، چې مونږ بايد بې

---

[1]- سورة لقمان : ۲۰- ۲۱.

تعطیله. بې تمثیله او بې تشبیه پرې ایمان ولرو. نهٔ یې معطل او بې معنا وګڼو، نه ورته ساری او مثال بیان کړو اونهٔ یې پهٔ مخلوق کې د چاسره ورته او مشابه وګڼو.

د الله سبحانه وتعالی صفتونه هم پهٔ دوه ډوله دي: یو هغه دي چې پهٔ بنده یې اطلاق نهٔ دی شوی لکه: ((علام الغیوب)): ((پهٔ پټو ډېر زیات پوه)) ((بکل شئ محیط)): ((پهٔ هر شي چاپېر او پوره کره پوه، خبر او بر لاسی)).

او دوهم ډول هغه دي چې پهٔ بنده یې اطلاق شوی لکه ((عالم)) خو د الله تعالی پهٔ علم او یا نورو صفاتو کې چې کوم معاني پراتهٔ دي هغه د بنده پهٔ صفاتو کې متصور نهٔ دي د الله سبحانه وتعالی د صفاتو او د بنده د صفاتو تر منځ هیڅ پرتله او مقایسه نهٔ شي کېدی.

د الله سبحانه وتعالی ذات، اسماء او صفات، زمونږ لهٔ ذهن، اند، خیال، تصور، ګمان او علم نه ډېر لوړ، هسک او پورته دي. مونږ یواځې پهٔ هغه څهٔ پوهېږو، وایوو یې او ګروهه پرې لرو چې الله تعالی یا پهٔ خپل کتاب: قرآن کریم او یا د خپل پیغمبر محمد رسول الله ﷺ په ژبه مونږ ته څرګند کړي دي. اود قرآن او پیغمبر ژبه عربي ده نو د عربي ژبې د معنا او د پیغمبر او صحابهٔ د فهم او پوهې مطابق مونږ د الله تعالی د نومونو او صفتونو نه معنا اخلوو او نورو ژبو ته یې ژباړو او د هغو همدغه ظاهري معنا او فهم باندې عقیده لرو لهٔ دې نه اخوا نه مونږ مامور یوو او نهٔ راته روا دي چې د

هغونه کومه بله داسې معنا واخلوو چې پیغمبر او صحابه و ورڅخه نهٔ وي اخیستې او نهٔ د عربي ژبې قواعداو محتوا پرې دلالت کوي.

الله سبحانه وتعالی لپاره چې کوم صفترنه قرآن او سنت کې ثابت دي هغه به ثابت ګڼوو، کوم چې نفې شوي دي هغه به نفې کوو او لهٔ کومو چې قرآن او سنت چپ شوي دي مونږ هم ترې چپ کېږو او هېڅ به پکې نهٔ وایوو. د اهل سنت والجماعت عقیده همدغه ده.

د الله سبحانه وتعالی صفتونه دوه ډوله دي:

(۱) سلبي.
(۲) ثبوتي.

## سلبي صفتونه

سلبي صفتونه هغه دي چې الله تعالی څخه نفې شوي دي چې دا صفت نهٔ لري، داسې نه دی، یا داسې نهٔ کوي لکه:

✿ ((لاشريك له)): ((شریک نهٔ لري))[1]

✿ ((وما الله بغافل عما تعملون)): ((او الله له هغو کړو بې غوره نهٔ دی چې تاسو یې کوئ))[2]

---

[1] - سورة الانعام: ١٦٣.
[2] - سورة البقرة: ٧٤.

✿ ((فلن يخلف الله عهده)) : ((نو الله لـهٔ تړون او ژمنې هېڅکله خلاف نهٔ کوي))[1]

✿ ((لايحب المعتدين)) : ((تېرى کوونکي نهٔ خوښوي))[2]

✿ ((لاتأخذه سنة ولانوم)) : ((نهٔ یې پرکالي نیسي او نهٔ خوب))[3]

✿ ((لا تدركه الأبصار وهو يدرك الأبصار)) : ((سترګې هغه نهٔ شي موندلی او هغه سترګې مومي))[4]

✿ ((لا يرضى عن القوم الفاسقين)) : ((بدکارانو خلکو نه نهٔ راضي کېږي))[5]

✿ ((لا يظلم الناس شيئًا)) : ((پهٔ خلکو هېڅ ظلم نهٔ کوي))[6]

✿ ((لايضيع أجرالمؤمنين)) : ((د مؤمنانو اجر نه ضايع کوي))[7]

✿ ((لا يؤده حفظهما)) : (( د اسمانونو او زمکې ساتل یې نه ستړی کوي))[8]

✿ ((و ما كنا غائبين)) : ((او مونږ پنا نهٔ یوو))[9]

✿ ((لم يلد ولم يولد)) : ((نه یې څوک زېږولي او نهٔ زېږول شوی دی))[1]

---

[1]- سورة البقرة: ۸۰.
[2]- سورة البقرة: ۱۹۰.
[3]- سورة البقرة: ۲۵۵.
[4]- سورة الانعام: ۱۰۳.
[5]- سورة التوبة: ۹۶.
[6]- سورة يونس: ٤٤.
[7]- سورة آل عمران: ۱۷۱.
[8]- سورة البقرة: ۲۵۵.
[9]- سورة الاعراف: ۷.

معنا دا چې نهٔ پلار دی او نهٔ زوی.

✿ ((وماكان ربك نسياً)) : ((او ستارب هېروونکی نهٔ دی))[2]

✿ ((لا يُسال عما يفعل)) : ((هغه ﷻ چې څهٔ کوي د هغو پهٔ هکله نهٔ پوښتل کېږي))[3]

✿ (( لا يموت)) : ((نهٔ مري))[4].

## ثبوتي صفتونه

د الله سبحانه وتعالى ثبوتي صفتونه هغه دي چې پهٔ خپل کتاب یاد خپل پیغمبر پهٔ ژبه یې د خپل ځان لپاره ثابت کړي وي چې داسې دی او داسې کوي. د ربوبیت د توحید او د نومونو د بحث ترڅ کې ډېر صفتونه تېر شول.

د الله تعالى ثبوتي صفتونه دوه ډوله دي:

(۱): ذاتي صفتونه.

(۲): فعلي صفتونه.

[1]- سورة الاخلاص: ۳.
[2]- سورة مريم: ٦٤.
[3]- سورة الانبياء: ۲۳.
[4]- سورة الفرقان: ٥٨.

## ذاتي صفتونه

د الله تعالی ذاتي صفتونه هغه دي چې د هغو په ضد الله تعالی نه ستایل کېږي او نه موصوفېږي او د هغهﷻ د ذات سره اړه لري.

لکه: ((علم)) چې ضد یې ((جهل)) دی په علم الله تعالی موصوف دی اودا د هغه ذاتي صفت دي الله تعالی هر وخت او تل ترتله عالم دی او په جهل هېڅکله نه موصوفېږي.

د الله تعالی ځنې ذاتي صفتونه په لاندې ډول دي:

## علم

الله تعالی د علم په صفت موصوف دی ((عالم الغیب والشهادة)) په پټو او ښکاره وو پوه دی. ((علیم)) او ((علام)) ډېر زیات پوه دی، له هغهﷻ څه پټ پنا نشته، د کائناتو ذره ذره ورته معلومه ده.

((عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ))[1]

[1]- سورة الانعام: ۷۳.

((په پټو او څرګندو پوه دی او هغه د حکمت څښتن او بنه خبر دی)).

((فَلَنَسْأَلَنَّ الَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْأَلَنَّ الْمُرْسَلِينَ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِم بِعِلْمٍ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ))[1]

((نو هرومرو به مونږ هغه خلک وپوښتوو چې پيغمبران ورته لېږل شوي وو او خامخا به پيغمبران هم وپوښتوو؛ نو هغوی ته به په علم د هغوی د تېرو کړو کيسې وکړو او مونږ پنا نه وو)).

نو الله نه څۀ پنا نشته او هر څه ورته څرګند او معلوم دي.

((ذَلِكَ لِتَعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ وَأَنَّ اللّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ))[2]

((دا د دې لپاره چې تاسو وپوهېږئ چې الله بې شکه پۀ هغو پوهېږي چې اسمانونو او زمکې کې دي او الله بې شکه پۀ هر شي ښه پوه دی)).

((قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ))[3]

((الله وفرمايل: آيا ما تاسو ته نۀ وو ويلي چې زۀ بې شکه د اسمانونو او زمکې پۀ پټو پوهېږم او پۀ هغو هم پوهېږم چې تاسو يې څرګندوئ او څۀ چې مو پټول)).

---

[1] - سورة الاعراف: ٦/ ٧.
[2] - سورة المائدة: ٩٧.
[3] - سورة البقرة: ٣٣.

((أَوَلاَ يَعْلَمُونَ أَنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ))[1]

((او آيا دوی نۀ پوهېږي چې الله بې شکه پۀ هغو پوهېږي چې دوی يې پټوي او څۀ چې ځرګندوي؟)).

((وَاللّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ))[2]

((او الله پوهېږي او تاسو نۀ پوهېږئ)).

((وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا فِي أَنفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ))[3]

((او پوه شئ چې الله بې شکه پۀ هغه څۀ پوهېږي چې ستاسو زړونو کې دي نو ترېووېرېږئ او پوه شئ چې الله بې شکه بښونکی او ډېر زغمونکی دی)).

((يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ))[4]

((الله پۀ هغو پوهېږي چې د دوی مخکې او د دوی وروسته دي)).

((وَاللّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ))[5]

((او الله پۀ هر شي ډېر ښۀ پوه دی)).

((قُلْ اِنْ تُخْفُوْا مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ يَعْلَمْهُ اللهُ وَيَعْلَمُ مَا فِيْ السمَاوَاتِ وَمَا فِيْ الاَرْضِ وَاللّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ))[1]

---

[1]- سورة البقرة: ۷۷.
[2]- سورة البقرة: ۲۱۶/ ۲۳۲.
[3]- سورة البقرة:۲۳۵.
[4]- سورة البقرة: ۲۵۵.
[5]- سورة البقرة: ۲۸۲.

((ورته ووايه: ستاسو په سينو کې چې څه دي که هغه پټ کړئ او که ښکاره يې کړئ الله به پرې پوه شي او الله په هغو پوهېږي چې په اسمانونو او په زمکې کې دي او الله په هر شي ښه برلاسی دی)).

((إِنَّ اللّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ))[2]

((الله د سينو په خبرو ډېر ښه پوه دی)).

((وَاللّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ))[3]

((او تاسو چې څه ښکاره کوئ او څه چې پټوئ الله پرې پوهېږي)).

((أَلَمْ يَعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُمْ وَأَنَّ اللّهَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ))[4]

((آيا دوی نه دي پوهېدلي چې الله بې شکه د دوی په پټو او جرګو پوهېږي او الله بې شکه په پټو ډېر زيات پوه دی)).

(( إنما الغيب لله))[5]

(( پټ بې شکه الله لپاره دي)).

((وَلِلّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ))[6]

((او د اسمانونو او زمکې پټ يواځې الله لپاره دي)).

---

[1]- سورة آل عمران: ۲۹.
[2]- سورة آل عمران: ۱۱۹.
[3]- سورة المائدة: ۹۹.
[4]- سورة التوبة: ۷۸.
[5]- سورة يونس: ۲۰
[6]- سورة النحل: ۷۷.

((لَهُ غَيْبُ السماوَاتِ وَ الارْضِ))[1]

(( د اسمانونو او زمکې پټې يواځې د هغه پورې اړه لري )).

((عَالِمِ الْغَيْبِ لاَ يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلاَ فِي الأَرْضِ وَلاَ أَصْغَرُ من ذَلكَ وَلاَ أَكْبَرُ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ))[2]

((پۀ پټو پوه ذات باندې لوړه کوم، پـه اسمانونو او زمکې کې د ذرې پۀ کچ لۀ هغۀ، نۀ پټېږي، او نۀ لـۀ دې وړ شـتـه او نۀ لـوی مګر پۀ څرګند کتاب کې دي)).

((قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلاَّمُ الْغُيُوب))[3]

(( ورته ووايه چې زما رب بې شکه حق څرګندوي پۀ پټو ډېر زيات پوه دی)).

((إِنَّ اللَّهَ عَالِمُ غَيْبِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ))[4]

(( الله بې شکه د اسمانونو او زمکې پۀ پټو پوه دی هغـه د سينو پۀ خبرو بې شکه ډېر زيات پوه دی)).

((إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ))[5]

---

[1]- سورة الكهف: ٢٦.
[2]- سورة سبا: ٣.
[3]- سورة سبا: ٤٨.
[4] سورة فاطر: ٣٨.
[5]- سورة الحجرات: ١٨.

((الله بې شکه د اسمانونو او زمکې په پټو پوهېږي او الله د هغو کړو ښه ليدونکی دی چې تاسو يې کوئ)).

((أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَى ثَلاَثَة إِلاَّ هُوَ رَابِعُهُمْ وَلاَ خَمْسَة إِلاَّ هُوَ سَادِسُهُمْ وَلاَ أَدْنَى مِن ذَلِكَ وَلاَ أَكْثَرَ إِلاَّ هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَامَة إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ))[1]

((آيا ته خبر نه يې چې اسمانونو او زمکې کې چې څه دي الله پرې بې شکه پوهېږي. هيڅ درې کسيزه پټه جرګه نه وي مګر هغه يې څلورم دی او نه پنځه کسيزه مګر هغه يې شپږم دی، او نه له دې لږ شته او نه ډېر مګر هر ځای کې چې وي هغه ورسره دی. بيا يې چې څه کړي دي د قيامت په ورځ به يې پرې خبر کړي، الله بې شکه په هر شي ډېر پوه دی)).

نو الله نه هيڅ پنا نشته او له مونږ په ټولو پټو پناؤ عالم او خبر دی. معيت نه مراد مشاهده او علم دی ځکه چې الله نه نه لرې شته او نه پنا، د معيت په هکله څېړنه وروسته راروانه ده. د لرې او نږدې نسبت يواځې مونږ انسانانو او نورو مخلوقاتو ته کېږي په کائناتو کې هيڅ داسې څه نشته چې يا له الله څخه لرې وي او يا پنا.

((وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا))[2]

((او الله بې شکه په هر شي د پوهې احاطه کړې ده)).

[1]- سورة المجادلة: ۷.
[2]- سورة الطلاق: ۱۲.

د ټولو پېغمبرانو همدا عقیده او دعوت ؤ چې د غیبو او پټو علم یوائې د الله تعالی صفت دی.

((یَوْمَ یَجْمَعُ اللّهُ الرُّسُلَ فَیَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ قَالُواْ لاَ عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنتَ عَلاَّمُ الْغُیُوبِ))[1]

((په هغه ورځ چې الله به پېغمبران راټول کړي نو ورته وبه وایي چې تاسو ته څه ځواب درکول شوی ؤ؟ هغوی به ووایي چې مونږ پوهه نه لرو یوائې همدا ته په پټو ډېر زیات پوه یې)).

د قیامت په ورځ به عیسی علیه السلام ته الله سبحانه وتعالی وفرمایي:

((أَأَنتَ قُلتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَـهَیْنِ مِن دُونِ اللّهِ))[2]

((آیا تا خلکو ته ویلي وو چې ما او زما مور له الله پرته معبودان ونیسئ)).

هغه به ووایي:

((سُبْحَانَكَ مَا یَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَیْسَ لِي بِحَقٍّ إِن كُنتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلاَ أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنتَ عَلاَّمُ الْغُیُوبِ))[3]

---

[1]- سورة المائدة: ۱۰۹.
[2]- سورة المائدة: ۱۱٦.
[3]- سورة المائدة: ۱۱٦.

((ته پاک يې ماته دا روا نهٔ دي چې هغه خبره وکړم چې زما حق نهٔ دی کهٔ ما ويلي وي نو تهٔ پرې پوه يې تهٔ په هغو خبرو پوهېږې چې زما پهٔ نفس کې دي او زهٔ په هغو نهٔ پوهېږم چې ستا پهٔ نفس کې دي يواځې همدا تهٔ پهٔ پټو ډېر زيات پوه يې)).

((مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلاَّ مَا أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ))[1]

((ما ورته يواځې هغه څهٔ ويلي چې تا راته پرې امر کړی دی چې د الله عبادت وکړئ چې زما او ستاسو رب دی او زهٔ تر هغهٔ پرې ګواه وم چې هغوی کې اوسېدم، کله دې چې وفات کړم يواځې همدا ته پرې څارونکی وې او تهٔ پهٔ هر شي ګواه يې)).

نو د پټو علم يواځې الله تعالی سره دی او پهٔ کائناتو کې بل هېڅوک او هېڅ شی پهٔ پټو او غيبو نه پوهېږي.

((وَلِلّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ الأَمْرُ كُلُّهُ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ))[2]

((د اسمانونو او زمکې پټ رازونه يواځې الله لپاره دي او ټول کارونه يواځې د هغهٔ پورې اړه لري نو د هغهٔ عبادت وکړه، پهٔ هغهٔ ځان وسپاره او ستا رب هغو کارونو نه بې غوره نهٔ دی چې تاسو يې کوئ)).

---

[1]- سورة المائدة: ۱۱۷.
[2]- سورة هود: ۱۲۳.

نو د پټو او ښکاره علم یواځې الله سره دی. مونږ انسانانو نه دخپل بدن د برې برخې پنا دي، د الله تعالی په مخلوق کې هېڅوک داسې نشته چې هغه د غیبو علم ولري او په پټو پوه شي. کۀ د الله سبحانه وتعالی دا صفت چا بل چاته ورکړ او داعقیده یې ولرله چې دالله پۀ مخلوق کې کومه پرښته، کوم پېغمبر، کوم ولي، کوم انسان یا پېرى هم پۀ پټو او غیبو پوهېږي نو هغۀ د الله شریک پیدا کړ، د غیبو پۀ علم کې یې ورته ونډه ورکړه، مشرک شو او اسلام نه ووائۀ.

رسول الله ﷺ چې آخري پېغمبر ؤ او «سید ولد آدم»: «د آدم عليه السلام پۀ اولاد کې سردار» «سید الانبیاء والمرسلین»: «د پېغمبرانو سردار» او پۀ ټولو انسانانو کې د لوړې مرتبې او فضایلو څښتن ؤ هغه هم په غیبو نۀ پوهېدۀ او الله تعالی ورته امر کوي چې:

«قُل لاَّ أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَآئِنُ اللّهِ وَلا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلاَّ مَا يُوحَى إِلَيَّ»[1]

«ورته ووایه چې زۀ تاسو ته دانۀ وایم چې ماسره د الله خزانې دي او نۀ زۀ په غیبو پوهېږم او داهم درته نۀ وایم چې زۀ پرښته یم؛ زۀ یواځې د هغه څۀ تابعداري کوم چې ماته یې وحې کېږي».

---

۱- سورة الانعام : ۵۰.

او فرمايي:

((قُل لاَّ أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلاَ ضَرًّا إِلاَّ مَا شَاء اللّهُ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لاَسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَاْ إِلاَّ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ))[1]

((ورته ووايه: زه د خپل ځان لپاره نۀ د کومې ګټې واک لرم او نۀ د تاوان؛ يواځې هغه کېږي چې د الله خوښه شي، او کۀ زۀ په پټو پوهېدی نو هرومرو به مې د خپل ځان لپاره ښېګړه زياته کړې وه او هېڅ کړاو به راته نۀ و رسېدلی، زۀ مؤمنانو خلکو لپاره يواځې وېروونکی او زېری ورکوونکی يم)).

کۀ رسول اللهﷺ پۀ غيبو پوهېدی نو هغۀ او صحابه ؤ ته به ولې کړاوونه رسېدل؟! د احاديثو ډېر روايات هم پۀ دې دلالت کوي چې رسول اللهﷺ پۀ غيبو نۀ پوهېدۀ لکه:

عائشې رضی الله عنها نه روايت دی هغه وايي: زه رسول اللهﷺ سره په يو سفر کې وم کله چې بيداء يا ذات الجيش ته ورسېدو هلته زما غاړکۍ پرېوته رسول اللهﷺ او صحابه ؤ لټوله، هلته او به هم نه وې؛ د لمانځه وخت راغی، ابوبکر رضي الله عنه زه ورټلم........ بيا د تيمم حکم نازل شو، هلته مو شپه راغله...... بيا چې ټول نهيلي شو نو زه په اوښ سپره شوم چې له هغۀ ځايه کوچ وکړو، کله چې مو اوښ پاڅاوۀ، چې ګورو غاړکۍ ورلاندې پرته وه))[2]

---

۱ـ سورة الاعراف: ۱۸۸.
۲ـ راوه البخاري ومسلم والنسائی وغيرهم.

اوس نو وګورئ چې خاتم الانبیاء والمرسلین اوصحابه کرام رضي الله عنهم چې ټول د الله تعالی ولیان وو، هغوی ټول په غیبو خبر نه وو، غاړکۍ اوښ لاندې پرته وه او هغوی نورو ځایونو کې لټوله، نو که هغوی په غیبو پوهېدی، ولې به دومره کړاو سره مخ کېدل ؟!.

همدارنګه د رسول اللهﷺ بي بي : عائشې رضی الله عنها باندې منافقانو تور ولګاوهٔ او رسول اللهﷺ او صحابه کرام رضي الله عنهم ټول تر هغه د هغه تور په رښتیا او دروغو نه پوهېدل، تر څو چې وحې نازل شوه او الله تعالی د عائشې رضی الله عنها برائت او پاکي د وحې په ذریعې هغوی ته معلومه کړه، د «إفك» مشهوره واقعه سورة النور کې یاده شوې ده او حدیثو کې یې تفصیل راغلی دی همدارنګه د همدې افک په کیسې کې عائشه رضی الله عنها په دغه سفر کې د حاجت رفع کولو ته تللی وه او رسول الله ﷺ او ټولو صحابهؤ ته دا معلومه نه شوه چې هغه په کجاوه کې نشته، دهغې د موجودیت په ګمان یې کجاوه اوښ ته ورپورته کړه او بیا د افک مشهوره پېښه منځ ته راغله، نو که رسول الله ﷺ او صحابه کرام په غیبو خبر وای ولې به له دومره کړاوونو سره مخ کېدل؟! د غیبو علم یواځې د الله تعالی صفت دی . که د الله تعالی په مخلوق کې د چا په هکله څوک دا عقیده ولري چې هغه په غیبو پوهېږي، هغهٔ د الله تعالی په دې ځانګړي صفت کې هغه سره شریک پیدا کړ او مشرک شو.

همدارنګه نوح عليه السلام چې د آدم عليه السلام په اولاد کې لومړنی پېغمبر ؤ او د آدم عليه السلام نه وروسته د اوسنۍ انساني نړۍ پلار ؤ، هغه هم په غيبو نه پوهېدۀ او خپل امت ته يې ويلي وو:

((وَلاَ أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَآئِنُ اللّهِ وَلاَ أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلاَ أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ))[1]

((او زۀ تاسو ته دانۀ وايم چې ماسره د الله خزانې دي او نۀ زه به پټو پوهېږم او نۀ زۀ دا وايم چې زه پرښته يم)).

سليمان عليه السلام چې هم پېغمبر ؤ او هم يو ځواکمن پاچاؤ، د مرغانو او مېږيو پۀ خبرو پوهېدۀ خو پۀ غيبو نۀ پوهېدۀ، ملا چرګک چې کله د سبا ښارته تللی ؤ نو سليمان عليه السلام خبر نۀ ؤ چې چېرته دی؟ د مرغانو حاضري يې واخيسته او چې ملا چرګک يې ونۀ موندۀ نو ويې فرمايل:

((مَا لِيَ لاَ أَرَى الْهُدْهُدَ أَمْ كَانَ مِنَ الْغَائِبِينَ لأُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ لأَذْبَحَنَّهُ أَوْ لَيَأْتِيَنِّي بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ))[2]

(( زۀ ولې ملا چرګک نۀ وينم؟ او کۀ هغه غائب شويو نه دی؟ هرومرو به ورته سخت عذاب ورکوم يا به يې هرومرو حلالوم او يا به راته څرګند دليل راوړي)).

نو سليمان عليه السلام خبر نۀ و چې ملا چرګک چېرته دی؟ نو ځکه يې وويل چې که دليل ورسره نۀ ؤ نو يابه ورته سخته سزا ورکوم او يابه يې حلالوم.

---

۱- سورة هود: ۳۱.
۲- سورة النمل: ۲۰/۲۱.

بيا ملا چرګک يو مرغۀ دی خو هغه هم پۀ دې پوهېدۀ چې علم غيب يواځې د الله تعالى صفت دی او پېغمبر هم پۀ غيبو نۀ پوهېږي نو ځکه يې سليمان عليه السلام ته وويل:

((أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِ وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ))[1]

((زۀ پۀ داسې څۀ خبر شوم چې تۀ پرې خبر نۀ يې د سبا ښار نه مې درته باوري خبر راوړی دی)).

نو لۀ همدې امله ((هد هد)) ته پښتانه ملا چرګک وايي چې د علم خبرې يې وکړې . يوه يې دا وکړه چې سليمان عليه السلام پۀ غيبو نۀ پوهېږي او دا يې هم وويل چې:

((إِنِّي وَجَدتُّ امْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِن دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لاَ يَهْتَدُونَ أَلاَّ يَسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ))[2]

(( ما يوه ښځه وموندله چې دهغوي پاچايي کوي ، دهر شي برخه ورکول شوې ده او لوی تخت لري. ما هغه او د هغې قوم وموندل چې لۀ الله پرته لمر ته سجدې کوي او شيطان ورته عملونه ښايسته کړي دي، د سمې لار نه يې بند کړي دي، نو هغوی سمه لار

[1] - سورة النمل: ۲۲.
[2] - سورة النمل: ۲۳- ۲٦.

نهٔ مومي، هغوی ولې هغه الله ته سجدې نهٔ کوي چې د اسمانونو او زمکې پټې راباسي او پهٔ هغو پوهېږي چې تاسو يې پټوئ او ښکاره کوئ. الله هغه ذات دی چې لهٔ هغهٔ پرته بل معبود نشته چې د لوی عرش څښتن دی))

وګورئ چې ملاچرګک څومره فصيحې او بليغې خبرې کړې دي؟! ريښتيا هم چې ملاچرګک ملا دی، څو زمونږ ډېر ملانما ملايان ملايان نه دي او د ملاچرګک په کچ علم هم نه لري چې ځان يې هم برباد کړ او ډېر عوام يې هم له ځان سره د هلاکت کندې ته وغورځول.

همدارنګه مېږی هم پهٔ دې پوهېږي چې پېغمبران پهٔ غيبو نهٔ پوهېږي، کله چې سليمان عليه السلام د خپل لښکر سره روان ؤ نو مېږي خپل قوم ته وويل:

((يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لاَ يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لاَ يَشْعُرُونَ))[1]

((ای مېږيو! خپلو کورونو ته ننوځئ چې سليمان او د هغهٔ لښکرې به نهٔ پوهېږي هسې نه چې پښو لاندې مو کړي))

سبحان الله! مرغان او مېږيان څومره ښهٔ فهم لري او څومره بليغې خبرې کوي! کاشکې مونږ د نورو ژويو پهٔ خبرو پوهېدی چې د الله تعالی دا ګڼ مخلوقات به نورې څومره ښې ښې، خوږې خوږې او د کار خبرې کوي؟!

[1]- سورة النمل: ۱۸.

یاالله! تهٔ څومره لوی یې! او ستا څومره لوی قدرت دی. چې مېږي ته دې دومره فهم، شعور او ښه عقیده ورکړې ده. د هغهٔ ماغزهٔ یا د فهم او درک ځواک به څومره ووړ وي؟! د هغهٔ اعصاب او ژبه به څومره وړه وي او څومره هوښیارې خبرې کوي؟!

همدارنګه پېریان هم په غیبونهٔ پوهېږي، سلیمان عليه السلام چې کله مړ کېدهٔ نو د ښیښې په یوه کوټه کې یې په امسا مخامخ تکیه وکړه او وفات شو. پېریانو چې د هغهٔ په ژوند کې کوم دراندهٔ دراندهٔ او عجیبه عجیبه کارونه کول، هسکې ماڼۍ، تصویرونه، د لویولویو ډنډونو په کچ خانکونه، ځای په ځای پراتهٔ او نهٔ خوځېدونکي لوی لوی دېګونه او داسې نور یې جوړول. هماغسې دوام یې ورکړ اوهغوی به چې سلیمان عليه السلام لیده، چې ولاړ دی. امسا یې په دواړو لاسونو کې نیولې ده او زنه یې پرې تکیه کړې ده، نو ګمان یې کاوه چې ګنې هغه ژوندی دی او د هغهٔ لهٔ وېرې یې دا ټول کارونه کول.

خوکله چې یو کال یا څهٔ موده وروسته د هغهٔ امسا له لاندې نه ویانو وخوړه او هغه راپرېواته، نو پېریانو ته خبره څرګنده شوه او ویې ویل:

((لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ))[1]

((که هغوی په غیبو پوهېدی نو په سپکوونکي عذاب کې به یې درنګ نهٔ ؤ تېر کړی)).

---

[1] - سورة سبا : ۱٤.

همدارنګه پرښتې هم علم غیب نهٔ لري، کله چې الله تعالی آدمﷺ ته دشیانو نومونه وروښوول نو پرښتو ته یې هغه شیان ورڅرګند کړل او ورته یې وفرمایل:

((أَنبِئُونِي بِأَسْمَاء هَـؤُلاء إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ))[1]

((کهٔ تاسو رېښتيني يئ نو د دې شيانو نومونه راوښيئ)).

پرښتو وويل:

((سُبْحَانَكَ لاَ عِلْمَ لَنَا إِلاَّ مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ))[2]

((تهٔ پاک يې، مونږ علم نهٔ لرو، يواځې پهٔ هغه څهٔ پوهېږو چې تا راته ښوولي دي، يواځې همدا تهٔ ډېر زيات پوه او د حکمت څښتن يې)).

نو پرښتې هم پهٔ غيبو نهٔ پوهېږي او يواځې هغه څهٔ ورمعلومېږي چې الله تعالى يې وروښئ.

او الله تعالی فرمايي:

((إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ))[3]

((الله سره بې شکه د قيامت علم دی، باران وروي، پهٔ هغه څهٔ پوهېږي چې د میندو پهٔ خېټو کې وي، هیڅوک نهٔ پوهېږي چې

[1]- سورة البقرة: ٣١.
[2]- سورة البقرة: ٣٢.
[3]- سورة لقمان: ٣٤.

سبا ته به څهٔ کوي او هیڅوک نهٔ پوهېږي چې په کومه زمکه به مري؟ الله بې شکه ډېر زیات پوه او خبردار دی»

دې پنځو کارونو ته حدیث کې د غیبو کونجیانې هم ویل شوي دي چې پهٔ دې لهٔ الله پرته هیڅوک نهٔ پوهېږي

اوس دلته پوښتنه راپیدا کېږي چې اوس د آلاتو په ذریعه دا څرګندېږي چې سبا ته به باران ورېږي، یا به باد ولګېږي او کله کله همداسې وشي؟ نو ځواب یې دا دی چې دا د غیبو علم نه دی په آلاتو هوا کې د باران د موادو د ترکیب او وخت معلومول مشاهده ده دا غیب نه دي او دا هم اټکل وي کله ریښتیا شي او کله دروغ د دې او د باد داسې مثال دی لکه چې څوک د دریاب غاړې سره ولاړ وي او د آلاتو پهٔ ذریعه د سختې سیلۍ د ګرندیتوب کچ معلوم کړي چې فرضاً پهٔ یو ساعت کې سل میله ځغاسته کوي او د سمندرنه «۲۴۰۰» دوه زره څلور سوه میله وړاندې یو ښار پروت دی او د سیلۍ مخ هم د دغه ښار په لور دی نو څرګنده ده چې کهٔ دا سیلۍ دهمدې یون سره همدغه لورته روانه وي نو «۲۴» څلرویشت ساعته وروسته به دغه ښار ته سیلۍ ورسېږي. اوس کهٔ نن د تیلفون، فاکس، رادیو یا نورو وسایلو له لارې د دغه یا د بل ښار څوک خبر شي او نن ووایي چې پهٔ دې ښار به سباته پهٔ دومره بجو سخته سیلۍ راوالوځي او هغه ریښتیا شي نو دا خو کوم د غیبو خبر نهٔ دی بلکه د مشاهدې خبر دی.

همدارنګه بله پوښتنه دا راپیدا کېږي چې اوس د آلاتو پهٔ ذریعه دا معلومېږي چې د مور پهٔ خېټه کې بچی هلک دی کهٔ

جلې؟! د الټراساونډ او نورو آلاتو په ذريعه دا کار ډېر په اسانۍ کېږي.
نو آيا دا د دې مذکورآيت سره ټکر نهٔ کوي؟

د دې ځواب دا دی چې دا هم کوم دغيبو خبره نهٔ ده دا خو مشاهده ده، لکه چې د پښتورګيو او تريخي کاڼي، مات هډوکي، او نورې دانې او ځينې ناروغۍ د ايکسرۍ (عکس)، الټراساونډ، سيټي سکين او نورو آلاتو په واسطه ښکاره کېږي، د مور په رحم کې د بچي عکس او تصوير هم د الټراساونډ په واسطه ښه ازاد ښکاره کېږي، چې د هلک يا جلۍ د تناسل غړي پکې ښکاري، نو دا نوموړي ايت سره هيڅ ټکر نهٔ کوي دا خو مشاهده ده، د دې مثال داسې دی لکه چې يو ماهر جراح ډاکټر د حاملې ښځې خېټه څيرې کړي، بچی وګوري چې هلک دی کهٔ جلۍ او بيا يې بېرته وګنډي او دهغې نه وروسته ووايي چې د مور په خېټه کې هلک دی کهٔ جلۍ؟ نو دا مشاهده ده په آلاتو معلومول هم مشاهده ده او په سترګو ليدل دي. لهٔ آلاتو پرته هيڅ يو ډاکټر په دې نهٔ پوهېږي چې نر دی کهٔ ښځه؟! نو د غيبو علم خو دې ته وايي چې بې لهٔ اسبابو او آلاتو ووايي چې آيا دا د مور په خېټه کې بچی څرنګه دی او د کوم جنس والا دی؟ او داسې ډاکټر تر اوسه نهٔ پيدا شوی دی او نهٔ به پيدا شي.

نو علم غيب، يا په پټو پوهېدل يوازې د الله سبحانه وتعالی صفت دی، لهٔ هغهٔ پرته نهٔ پرښتې په غيبو پوهېږي، نهٔ پېغمبران، نه اولياء کرام او نه بل څوک.

پیغمبرانو یا زمونږ آخري پیغمبر محمد رسول اللهﷺ چې د مخکنیو یا راتلونکیو حالاتو، فتنو، د قیامت دنښو، د قیامت د راتلو، حشر، جنت، دوزخ یا نورې د غیبو خبرې کړې دي نو هغه ټول الله سبحانه وتعالی ورته وحې کړې ده، له ځانه یې هیڅ خبره نه ده کړې.

((وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحى))[1]

((او پیغمبر له ځانه خبره نه کوي دا یوازې وحې ده چې ورته کیږي)).

د دې ټولو په هکله الله تعالی ورته وحې کړې دي او خبر یې ورکړی دی چې یو ډول د قرآن کریم په شکل ((متلو)) ((لوستل شوې)) وحې ده او بل ډول ((غیر متلو)) ((نالوستې)) وحې ده چې هغه د رسول اللهﷺ د احادیثو په شکل مونږ ته راپاتې دي.

الله سبحانه وتعالی رسول اللهﷺ ته فرمایي:

((تِلْكَ مِنْ أَنبَاء الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَا أَنتَ وَلاَ قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَـذَا فَاصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ))[2]

((دا د غیبو له خبرونو څخه دي چې تا ته یې وحې کوو له دې مخکې نه ته پرې پوهېدې او نه ستا قوم. نو صبر وکړه ښې پایلې بې شکه پرهېزګارانو لپاره دي)).

او فرمایي:

((ذَلِكَ مِنْ أَنبَاء الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ))[1]

---

[1]- سورة النجم: ۳/۴.

[2]- سورة هود: ۴۹.

((دا د غيبو لۀ خبرونو څخه دي چې تاته يې وحې کوو))۔

لنډه دا چې د غيبو علم د الله سبحانه وتعالى پۀ مخلوق کې هيڅوک نۀ لري او د دې د اثبات لپاره دا يو آيت بس دى چې الله تعالى فرمايي:

((قُل لاَّ يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ الْغَيْبَ إِلاَّ اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ))[۲]

((ورته ووايه چې لۀ الله پرته چې پۀ اسمانونو او زمکې کې هر څوک دي، پۀ پټو نۀ پوهېږي او دوى نۀ پوهېږي چې کله به بيا راژوندي کېږي؟))۔

نو پۀ اسمانونو کې پرښتې او ځينې پېغمبران دي او پۀ زمکې کې پرښتې، پېغمبران، اولياء، صالحين، شهداء او ټول مؤمنان دي او دې ټولونه الله تعالى د غيبو علم نفې؛ کړ نو څرګنده شوه چې د الله تعالى په مخلوق کې هيڅوک پۀ غيبو نۀ پوهېږي او د غيبو د علم دعوه هېڅ پرښتې، پېغمبر، ولي او کوم نېک مؤمن نۀ ده کړې.

کوم دروغجن پيران، ملنګان، کوډګر او منجاوران چې . دغيبو د علم دعوه کوي، دا طاغوتان دي، پۀ دوى توبه ايستل پۀ کار دي، کۀ توبه يې وايسته ښه ده کۀ نه وژل يې پۀ کار دي.

او کوم کوډګر، جادوګر، پير او فقير چې کله کله خبره وکړي او رېښتيا شي، هغه شيطان ورته کړې وي او شيطان د

---

[۱]- سورة يوسف: ۱۰۲.
[۲]- سورة النمل: ٦٥.

اسمان پرښتو نه اورېدلې وي چې الله تعالى ورته وحې کړې وي، نو دا کوډګر، جادوګر، پير او فقير د يوې سره نهه نوي دروغ يو ځاى کړي او د هغه يوې لۀ امله نهه نوي دورغ هم خلک ريښتيا ګڼي.
لکه چې حديث کې راځي:
ابوهريرةﷺ نه روايت دى چې نبي كريمﷺ وفرمايل:
(( **إذا قضى الله الأمر فى السماء ضربت الملائكة بأجنحتها خضعانا لقوله كأنه سلسة على صفوان ينفذهم ذلك حتى إذا فزّع عن قلوبهم قالوا: ماذا قال ربكم؟ قالوا الحق و هوالعلى الكبير فيسمعها مسترق السمع ومسترق السمع هكذا بعضه فوق بعض – وصفه سفيان بكفه فحرفها وبدد بين أصابعه – فيسمع الكلمة فيلقيها إلى من تحته ثم يلقيها الآخر إلى من تحته حتى يلقيها على لسان الساحر أو الكاهن فربما أدركه الشهاب قبل أن يلقيها، وربما ألقاها قبل أن يدركه فيكذب معها مائة كذبة. فيقال: أليس قد قال لنا يوم كذا و كذا، كذا وكذا؟ فيصدق بتلك الكلمة التى سُمعت من السماء** ))[١]

((کله چې الله تعالى په اسمان کې د څه کار پرېکړه وکړي نو د الله تعالى وينا ته د عاجزۍ او غاړې ايښودلو لپاره پرښتې خپل وزرونه ووهي او داسې برېښي لکه په يوه ښويه تيږه چې زنځير راکاږي، ټولو ته دا وينا ورسېږي، تر دې چې کله د هغوى له زړونو

١ـ رواه البخارى و ابو داود و احمد.

وېره لرې شي نو وايي: ستاسو رب څه وويل، هغوی وايي: هغه حق وفرمايل او هغه ډېر پورته او ډېر لوی دی. نو دا خبره غوږ اېښودونكې شيطان واوري، او غوږ ايښودونكي شيطانان داسې يو د بل له پاسه وي - سفيان يې په خپل لاس طريقه وښوده نو لاس يې كوږ كړ او ګوتې يې سره خپرې كړې- نو خبره واوري، هغه يې هغه چاته وكړي چې ورڅخه لاندې وي، بيا يې هغه هغه ته ووايي چې ور لاندې وي، تر دې چې د كوډګر يا جادوګر په ژبه يې وغورځوي. كله كله يې لمبه له دې مخكې راګېر كړي چې هغه لاندې راورسوي او كله كله يې له دې مخكې راورسوي او كوډګر ته يې وكړي، نو هغه ورسره سل نور دروغ راجوړ كړي. بيا خلك وايي: آيا دې دې ورځې باندې يې داسې نه وو ويلي؟ نو د هغې خبرې له كبله يې خلک ريښتينی ګڼي چې له اسمانه اورېدل شوې وي)).

ابن البزاز الكردري الحنفي رحمه الله وايي:

((كه چا بې له ګواهانو نكاح وكړه او ويې ويل: د الله پېغمبر او پرښتې مې ګواهان دي:

((يكفر لأنه إعتقد أن الرسول والملك يعلمان الغيب))[1]

(( په دې خبره كافر كېږي ځكه چې دا عقيده يې ولر له چې پېغمبر او پرښتې په غيبو پوهېږي)).

---

[1]- البزازيه على حاشية العالمكيريه: ٦/٣٢٥.

همدارنګه وايي:

((قال علماءنا: من قال أرواح المشائخ حاضرة يكفر وإذا قال الرجل أو المرأة أنا أعلم المسروقات يكفر ولو قال أنا أخبر عن أخبار الجن يكفر أيضا لأن الجن كالإنس لا تعلم الغيب قال الله تعالى: ((لو كانوا يعلمون الغيب)) الاية.[1]

((زمونږ علماؤ ويلي دي: چاچې دا وويل چې د مشائخو او پيرانو روحونه حاضر دي، نو په دې خبرې کافر کيږي او که کوم سړي يا کومې ښځې وويل چې زه غلا شوي شيان پيژنم يا يې معلوموم، نو هغه هم په دې خبرې کافر کيږي او که دايې وويل چې د پيريانو له خبرونو يې معلوموم نو هم کافر کيږي، ځکه چې پيريان هم انسانانو غوندې په غيبو نه پوهيږي الله تعالى فرمايلي دي:

(( که هغوی په غيبو پوهيدای نو په سخت عذاب کې به نه وو پاتې شوي)).

فتاوی قاضيخان، البحر الرائق، الرد المختار او نورو فقهاو هم همداسې ليکلي دي:

(( رجل تزوج بغير شهود و قال : أشهدت الله ورسوله و الملك. قالوا: يكفر. لأنه إعتقد أن رسول الله صلى الله عليه وسلم والملك يعلمان الغيب, وهو صلى الله عليه وسلم ما كان يعلم الغيب حينما كان في الأحياء فكيف بعد الموت؟ )).[2]

---

[1] - البزازيه على حاشية العالمكيريه: ٣٢٦/٦.

[2] - البحر الرائق : ٥ / ١٢٠، الرد المختار بحاشية ابن عابدين : ٣ / ٢٩ .

(( که کوم سړي بې له ګواهانو نکاح وکړه او ویې ویل: ما الله، د هغه پیغمبر او پرښته ګواه کړي دي. نو فقهاء وايي چې دا سړی په دې خبرې کافر کېږي، ځکه چې ده دا عقیده جوړه کړه چې د الله پیغمبر صلی الله علیه وسلم او پرښته په غیبو پوهېږي. حال دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کله په ژوندیو کې ژوندی و نو هم په غیبو نه پوهېده، نو له مړینې وروسته به څرنګه وپوهېږي؟! ))

## قدرت

د الله سبحانه وتعالى د ذاتي صفتونو نه بل صفت ((قدرت)) (وس) دى. الله سبحانه وتعالى د هر شي او د هر كار د كولو پوره كره وس لري، پۀ هر شي بر لاسى دى او هېڅ داسې كوم كار نشته چې د الله سبحانه وتعالى لۀ وسه بهر وي. هغه جل جلاله قادر ، قدير او مقتدر دى. د هغۀ د قدرت سره د هېڅ كوم مخلوق قدرت هېڅ ورته والى او مشابهت نۀ لري.

((إِنَّ اللَّه عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ))[1]

((الله بې شكه پۀ هر شي ښۀ برلاسى دى)).

((قُلْ إِنَّ اللّهَ قَادِرٌ عَلَى أَن يُنَزِّلَ آيَةً))[2]

(( ورته ووايه چې الله بې شكه پۀ دې برلاسى دى چې كومه نښه راولېږي)).

((قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ))[3]

(( ورته ووايه چې هغه پۀ دې برلاسى دى چې پۀ تاسو ستاسو لۀ پاسه يا ستاسو د پښو لاندې عذاب راولېږي)).

---

[1]- سورة البقرة: ٢٠.
[2]- سورة الانعام: ٣٧.
[3]- سورة الانعام: ٦٥.

((وَكَانَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا))[۱]
(( او الله پهٔ هر شي کره پوره بر لاسی دی)).

## حیات

د الله سبحانه وتعالی د ذاتي صفتونو نه بل صفت ((حیات)) (ژوند) دی، الله سبحانه وتعالی تل تر تله ازلاً، ابداً او سرمداً ژوندی دی، د هغهٔ ژوند نهٔ ابتدا او پیل لري او نهٔ انتها او پای لري، ژوندی ؤ ژوندی دی او تل تر تله به ژوندی وي، د هغهٔ ژوند سره د هیڅ ژوندي ژوند څهٔ ورته والی او مشابهت نهٔ لري.

((اللَّهُ لا إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ))[۲]

(( الله هغه ذات دی چې لهٔ هغهٔ پرته بل معبود نشته چې ژوندی او تدبیر کوونکی دی)).

د دې صفت په هکله هم زیات نصوص راغلي دي او قرآن او حدیثو کې یې مسلمانان لولي.

[۱]- سورة الكهف: ٤٥.
[۲]- سورة البقرة : ٥٥.

# سمع او بصر

د الله سبحانه وتعالی لهٔ ذاتي صفتونو څخه نور صفتونه ((سمع)) (اورېدل) او ((بصر)) (لیدل) دي. هغهﷻ اوري او ګوري او کره پوره اورېدونکی او کره پوره لیدونکی دی هېڅ ورڅخه پټ او پنا نهٔ دي.

دهغهٔﷻ لیدل او اورېدل د هیچا او هېڅ شي سره ورته والی او مشابهت نهٔ لري.

((لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ))[1]

((هغهٔ غوندې هېڅ شی نشته او هغه ښهٔ اورېدونکی او ښه لیدونکی دی)).

((لاَ تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ))[2]

((سترګې هغه نهٔ شي موندلی او هغه سترګې مومي او هغه باریکبین او ښه خبردار دی)).

---

[1] - سورة الشورى: ۱۱.

[2] - سورة الانعام: ۱۰۳.

# نفس

د الله سبحانه وتعالی د ذاتي صفتونو نه یو صفت نفس ((ځان)) دی. الله سبحانه وتعالی نفس لري چې د هر ډول عیب نه پاک دی او د کره پوره ستاینو وړ دی. نفس د هغهٔ ﷻ صفت دی او د هیڅا او هیڅ شي د نفس سره هیڅ ډول ورته والی او مشابهت نهٔ لري، مونږ یې بې تشبیه او بې تمثیله (بې ساري ورکولو) منو او ایمان پرې لرو، د هغهٔ ﷻ پهٔ علم کې چې څنګه وي او څرنګه دهغهٔ ﷻ د شان سره وړاو لایق وي همغسې دی، مونږ یې د کیفیت (څرنګوالي) نه خبرنه یوو، نهٔ یې د کیفیت پوښتنه کوو او نهٔ پرې علم لرو.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

((كَتَبَ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ))[1]

((الله په خپل نفس رحمت لیکلی دی)).

((وَيُحَذِّرُكُمُ اللّهُ نَفْسَهُ))[2]

((او الله تاسو لهٔ خپل ځان څخه وېروي)).

---

[1]- سورة الانعام: ۱۲.

[2]- سورة آل عمران: ۲۸/۳۰.

په قرآن او حديثو کې داسې نصوص ډېر زيات دي. او مونږ يې په منلو او پرې ايمان راوړلو باندې مامور يو، په تاويلونو يې مامور نه يو.

## وجه

د الله تعالى د ذاتي صفتونو نه بل صفت وجه (مخ) دی، الله تعالى مخ لري او دا د هغهٔ ﷻ صفت دی، دهيچا او هېڅ شي د مخ سره هېڅ ډول ورته والى او مشابهت نهٔ لري، څنګه چې د هغهٔ ﷻ د شان سره لايق وي او د هغهٔ ﷻ پهٔ علم کې وي، هماغسې دی، مونږ بايد بې تشبيه، بې تمثيله او بې لهٔ کيفيت بيانولو پرې ايمان ولرو، د الله تعالى داسې صفتونه اعضاء او غړي نه شي بلل کېدی بلکه دايې صفات دي.

الله تعالى فرمايي:

((وَمَا تُنفِقُونَ إِلاَّ ابْتِغَاء وَجْهِ اللّهِ))[1]

((او تاسو يواځې دالله دمخ لټولو لپاره لګښت کوئ)).

او فرمايي:

((وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ))[2]

---

[1]- سورة البقرة : ۲۷۲.

[2]- سورة الكهف: ۲۸.

((او خپل ځان ته د هغو خلکو سره صبر ورکړه چې سبا او بېګا خپل رب رابلي او د هغه مخ غواړي)).

او حدیث کې راځي:

عن أبي موسٰى قال: قام فينا رسول اللهﷺ بخمس كلمات فقال: ((إن الله لاينام ولا ينبغى له أن ينام يخفض القسط ويرفعه يُرفع إليه عمل الليل قبل عمل النهار و عمل النهار قبل عمل الليل حجابه النور لوكشفه لأحرقت سبحات وجهه ما انتهٰى إليه بصـــره من خلقه))[1]

ابو موسیٰ‌رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي: رسول اللهﷺ مونږ ته ودرېد، پنځه خبرې یې وکړې او ویې فرمایل: ((الله تعالی نه ویده کېږي او ورته نه ښایي چې ویدهٔ شي، د انصاف تله ښکته پورته کوي، د شپې عمل ورته د ورځې له عمل مخکې پورته کېږي او د ورځې عمل ورته د شپې له عمل مخکې پورته کېږي، پردهٔ یې نور دی که لرې یې کړي نو د مخ رڼا به یې ټول هغه څه وسوځوي چې په خپل مخلوق کې یې ورته د سترګو دید رسېږي)).

الله تعالی نه څه پنا نشته نو مطلب دا چې هر څه به وسوځېږي.

[1]- رواه مسلم.

## یدین

یدین (لاسونه) د الله تعالی د ذاتي صفتونو نه یو صفت دی چې هیڅا او هیڅ شي سره هیڅ ډول ورته والی او مشابهت نهٔ لري مونږ باید بې تشبیه، بې تمثیله او بې تکییفه پرې ایمان ولرو، أعضاء او غړي یې ونه بولو بلکه دا د هغهٔ ﷻ صفتونه دي.

الله تعالی فرمایي:

((بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَاء))[1]

(( بلکه دهغه دواړه لاسونه پراخه دي څرنګه چې وغواړي لګوي یې)).

او إمام ابوحنیفه رحمه الله په ((فقه أکبر)) کې وایي:

((ولا یقال أن یده قدرته)).

((دانه شي ویل کېدای چې د الله تعالی لاس دهغه قدرت دی)).

ځکه چې د ((ید)) تثنیه راغلې ده که دید نه قدرت واخیستل شي نو بیابه د ((یداه)) مطلب ((قدرتاه)) ((د هغه دواړه قدرتونه)) شي (العیاذ بالله) او دابېخي ناسمه ده ځکه چې بیا خو په قدرت کې تجزیه راځي او دابېخي ناسمه ده د الله تعالی کره پوره، بشپړ او کامل قدرت دی، قدرت یې جلا صفت دی او ((یدین)) یې

[1] - سورة المائدة : ٦٤.

جلا صفت دی، لکه څرنګه چې د هغهﷻ په علم کې دي او ورسره ښايي همغسې دي او مونږ بايد هېڅ تاويل او زياتي بې دليله خبرې پکې ونه کړو.
حديث کې راځي:

عن أبي هريرة ﷺقال: قال رسول اللهﷺ : ((يدالله ملأى لا تغيضها نفقة سحاء الليل والنهار أرأيتم ما أنفق مذ خلق السماوات والارض فإنه لم يغض ما في يده وكان عرشه على الماء و بيده الميزان يخفض ويرفع)).[1]

أبو هريرهﷺ نه روايت دی هغه وايي: رسول اللهﷺ فرمايلي دي: ((د الله لاس ډک دی هېڅ کوم لګښت يې نه کموي، د شپې او ورځې راتويوونکی دی، آيا تاسو خبر ياست؟ له هغه وخته چې الله اسمانونه او ځمکه پيدا کړي دي او عرش يې لا په اوبو باندې ؤ او لګښتونه يې کړي دي، نو دې ټولو لګښتونو له هغه څه نه هېڅ نه دي کم کړي چې د هغهﷻ په لاس کې دي؛ او تله د هغه په لاس کې ده چې ښکته پورته کېږي)).

[1] - متفق عليه.

## حاكميت

د الله سبحانه وتعالى د عظمت، جلال اوكمال د صفاتو نه حاكميت هم يو صفت دى، مطلق حاكم يواځې يو اللهﷻ دى دا زمكه د الله ده او په دې به يواځې د الله سبحانه وتعالى حكم نافذ وي.

د الله تعالى حاكميت په دوه ډوله دى:

(۱) تكويني.

(۲) تشريعي.

## تكويني حاكميت

تكويني حاكميت د الله سبحانه وتعالى د هغه فطري نظام، سننو او قانون حكومت دى چې په كائناتو كې تل لپاره نافذ دى او د كائناتو ذره ذره يې غاړه اېښودلو ته مجبوره ده؛ هېڅ شى او هيڅوک ورڅخه سرغړونه نۀ شي كولى؛ كۀ څوک يې مني او كۀ نه، خوښه يې وي او كۀ نه، د الله حكم به پكې تل نافذ وي، لكه پيدا كول، چې هر جنس الله تعالى وغواړي د هغه په حكم پيدا كېږي، بيا لوېدل، شكل او صورت، رنګ، ولړه، تنده، ناروغي، پېښې او مرګ دا ټول د الله تعالى تكويني حكم لاندې چلېږي، كۀ څوک الله تعالى مني او كۀ نه، تشريعي حكم يې مني او كۀ نه، خوښه يې

وي او که نه، دا کارونه به د الله تعالی د تکویني حکم سره سم پرې راځي او کېږي به او هېڅ سرغړونه ترې نهٔ شي کولی.

همدارنګه، لمر، سپوږمۍ، ستوري، زمکه، ورځ او شپه، د کال د څلور فصلونو: پسرلي، اوړي، مني او ژمي بدلون او داسې نور تل د الله تعالی دتکویني حکم تابع دي او د الله تعالی د تکویني حکم د قانون او نظام لاندې روان دي ، تر څو چې دا نړیوال وي هېڅ بدلون پکې نهٔ لیدل کېږي او کله چې الله تعالی وغواړي نو رنګ به یې کړي.

د نظام دغه فطري او طبیعي جریان د الله سبحانه وتعالی تکویني حاکمیت بلل کېږي.

تکویني حاکمیت باندې د نورې ربنا او څېړنې لپاره د ربوبیت د توحید بحث وګورئ د ربوبیت د افعالو تشریح، تحقیق او څېړنه د تکویني حاکمیت څېړنه ده.

په هغهٔ سربېره هم پهٔ قرآن کریم کې ځای پهٔ ځای د تکویني حاکمیت پهٔ هکله آیاتونه راغلي دي.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

«بَل لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ كُلٌّ لَّهُ قَانِتُونَ بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِذَا قَضَى أَمْراً فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ»[1]

«بلکه پهٔ اسمانونو او زمکې کې چې څهٔ دي ټول هغهٔ ته غاړه ایښودونکي دي، د زمکې او اسمانونو بې سارې پیدا

[1]- سورة البقرة: ۱۱۶/۱۱۷.

کوونکی دی او کله چې د یو کار په هکله پرېکړه وکړي نو ورته وايي چې وشه، نو هغه وشي)).

دا غاړه اېښودل او د پرېکړو پلي کېدل او عملي کېدل د الله هغه تکویني حاکمیت دی چې تل نافذ دی.

او فرمايي:

((وَاللّهُ يَحْكُمُ لاَ مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ))[1]

((او الله حکم کوي، د هغهٔ د حکم وروسته کوونکی نشته او هغه د ګړندي حساب والادی)).

نو دا هم د الله تعالی تکویني حکم دی.

او فرمايي،

((وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ))[2]

((او د خپل رب حکم ته صبر وکړه، ځکه چې ته زمونږ د سترګو لاندې یې او کله چې اودرېږې نو د پوره کره ستاینې سره خپل رب په پاکۍ یاد کړه)).

دلته د الله سبحانه وتعالی تکویني حکم مراد دی.

---

[1]- سورة الرعد: ٤١.

[2]- سورة الطور: ٤٨.

# تشریعي حاکمیت

د الله سبحانه وتعالی تشریعي حاکمیت د هغهﷻ هغه شریعت دی، چې د پیغمبرانو، کتابونو او صحیفو په واسطه یې د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره وخت په وخت د ضرورت او اړتیا سره سم رالیږلی دی.

مونږ اخري امت ته یې اخري پیغمبر: محمدﷺ رالیږلی دی، په هغهٔ یې خپل سپیڅلی کتاب: قرآن کریم نازل کړی دی او مونږ ته یې حکم کړی دی چې خپل ژوند د همدې کتاب او همدغه پیغمبرﷺ د لارښوونو په رڼاکې تېر کړو.

د همدې قرآن کریم او د همدې پیغمبرﷺ لارښوونې د الله تعالی.په زمکه د الله په بندګانو پلي کول او نافذول د الله تعالی تشریعي حاکمیت بلل کېږي.

قرآن کریم د اللهﷻ کلام او دهغهٔ کتاب دی. دمحمد رسول اللهﷺ ویناوې، کړهٔ، تقریر او صفتونه احادیث بلل کېږي، او د قرآن کریم او نبوي احادیثو د لارښوونو مجموعه اسلامي شریعت بلل کېږي. الله سبحانه وتعالی په دې زمکه اسلامي شریعت د خپلو بندګانو لپاره د ژوند نظام، قانون او کړنلاره ټاکلی دی.

نو حاکم او قانون ساز یواځې یو الله دی، نور ټول حکمونه د هغه د حکم لاندې اود هغهٔ دحکم تابع دي.

په دې تشريعي حاكميت، شريعت، نظام او قانون کې هغهٔ ﷻ سره هيڅوک شريک نشته. او د تشريعي حاكميت حق يواځې د الله ﷻ دی. له هغهٔ پرته بل قانون ساز نشته، که چاپهٔ دې حاكميت او قانون سازۍ کې بل چاته برخه ورکړه نو هغه مشرک او له اسلام څخه وتلی دی.

الله تعالى فرمايي:

((إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ))[1]

((حکم يواځې الله لپاره دی هغه حق څرگندوي اوتر ټولو د ښهٔ فيصله کوونکی دی)).

((أَلاَ لَهُ الْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ الْحَاسِبِينَ))[2]

((خبردار يواځې هغهٔ لپاره حکم دی او هغه ترټولو د ډېر گړندی حساب کوونکی دی.))

((إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ أَمَرَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَـكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ ))[3]

((حکم يواځې الله لپاره دی، هغهٔ امر کړی دی چې يواځې دهغهٔ عبادت به کوئ، همدا مضبوط دين دی خو زيات خلک نهٔ پوهېږي)).

[1]- سورة الانعام: ٥٧.
[2]- سورة الانعام: ٦٢.
[3]- سورة يوسف: ٤٠.

((وَهُوَ اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ لَهُ الْحَمْدُ فِي الأُولَى وَالآخِرَةِ وَلَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ))[1]

((او هغه الله دی، لۀ هغۀ پرته بل معبود نشته، دنيا او اخرت کې يواځې هغۀ لپاره کره پوره ستاينه ده ، يواځې هغۀ لپاره حکم دی او يواځې هغۀ ته ورګرځول کېږئ))

او فرمايي:

((مَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا))[2]

((دوی لپاره لۀ الله پرته څوک بادار نشته او الله پۀ خپل حکم کې هيڅوک نۀ شريکوي))

نو الله سبحانه وتعالی سره نۀ پۀ تکويني حکم کې څوک شريک شته او نۀ پۀ تشريعي کې رسول اللهﷺ ته الله تعالی حکم کوي چې خلکو ته ووايي:

((أَفَغَيْرَ اللّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنَزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلاً))[3]

(( آيا لۀ الله پرته بل حاکم ولټوم؟ حال دا چې هغه، هغه ذات دی چې تاسو ته يې بېل بېل بيان شوی کتاب نازل کړی دی ))

نو حاکم، حَکَمْ او قانون ساز يو الله دی نور حاکمان به د هغۀ د حکم تابع وي او د هغۀ پۀ حکم به پرېکړې کوي، نافذوي او

[1]- سورة القصص: ۷۰.
[2]- سورة الكهف: ۲۶.
[3]- سورة الانعام: ۱۱٤.

پلي کوي به يې د الله سبحانه وتعالی د حکم نه پرته بل حکم چې څوک غواړي د هغوی په هکله فرمايي:

((أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ))[1]

(( نو آيا دوی د جاهليت حکم غواړي؟ او باور کوونکو خلکو لپاره په حکم کې له الله ډېر ښهٔ څوک کېدی شي؟)).

نو معلومه شوه چې حقيقي حاکم يواځې الله دی او پهٔ دې زمکه کې به د همغهٔ تشريعي حکم پلی او نافذ وي.

د زمکې حاکمان او اميران به د الله حکم نافذوي، لهٔ ځانه تشريع او قانون نه شي جوړولی او الله سبحانه وتعالی ټول پېغمبران د همدې لپاره رالېږلي وو چې د الله تعالی تشريعي حکم نافذ کړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

((كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُواْ فِيهِ))[2]

((ټول خلک يو امت ؤ چې اختلاف يې وکړ، الله زېرى ورکوونکي او وېروونکي پېغمبران راولېږل او هغوی سره يې د حق کتاب د دې لپاره را ولېږه چې دخلکو منځ کې پهٔ هغو شخړو کې پرېکړه وکړي چې هغوی پکې اختلاف کړی ؤ)).

---

[1]- سورة المائدة: ۵۰.

[2]- سورة البقرة: ۲۱۳.

تورات هم د دې لپاره نازل شوی ؤ چې د خلکو منځ کې د قانون په حیث نافذ او پلی شي.

الله تعالی فرمایي:

((إِنَّا أَنزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُواْ مِن كِتَابِ اللّهِ وَكَانُواْ عَلَيْهِ شُهَدَاء))[1]

(( مونږ بې شکه تورات نازل کړی ؤ چې په هغې کې لارښوونه او رڼا وه، چې هغه پېغمبران به پرې یهودیانو لپاره فیصلې کوي چې غاړه یې اېښې ده او نېکان او علماء به هم پرې فیصلې کوي او دا ځکه دې امله چې هغوی د الله دکتاب ساتندویان ټاکل شوي وو او په دې ګواهان وو)).

انجیل هم د دې لپاره نازل شوی ؤ چې په دې زمکه به د قانون په حیث پلی او نافذ وي:

((وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ الإِنجِيلِ بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فِيهِ))[2]

((او د انجیل خاوندان دی په هغو حکمونو پرېکړې وکړي چې په هغې کې الله نازل کړي دي)).

د ټولو دینونو او ټولو کتابونو له منسوخېدو وروسته چې الله تعالی اخري پېغمبر محمد ﷺ را ولېږه او قرآن یې پرې نازل کړ هم د همدې لپاره چې دا قرآن به د ژوند د نظام او قانون په حیث تر

---

[1]- سورة المائدة: ٤٤.
[2]- سورة المائد:٤٧.

قيامته پلی او نافذ وي او همدا به حکومت کوي؛ الله سبحانه وتعالی رسول اللهﷺ ته فرمايي:

((وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ عَمَّا جَاءكَ مِنَ الْحَقِّ))[۱]

(( او مونږ تاته په حقه کتاب رالیږلی دی چې له دې نه دمخکې کتاب تصديق کوي او دهغه ساتندوی دی نو د دوی تر منځ په هغه کتاب فيصلې وکړه چې الله راليږلی دی او تاته چې کوم حق راغلی دی دهغهٔ نه په سرغړونه د دوی د نفسي غوښتنو پسې مهٔ ځه)).

او فرمايي:

(( وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ))[۲]

((او په کوم شي کې مو چې اختلاف راغی نو پرېکړه یې الله ته ده)).

او فرمايي:

((وَلاَ يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا))[۳]

((او الله په خپل حکومت او پرېکړې کې هيڅوک نه شريکوي)).

---

[۱]- سورة المائدة:٤٨.
[۲]- سورة الشورى: ١٠.
[۳]- سورة الكهف: ٢٦.

او فرمايي:

((وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللّهُ إِلَيْكَ))[1]

((او د دوی منځ کې په هغه قرآن پرېکړې وکړه چې الله تاته رالېږلی دی، ددوی د نفسي غوښتنو پسې مه ځه. او دوی نه ووېرېږه، هسې نه چې د ځینو هغو حکمونونه دې واړوي چې الله تاته رالېږلي دي)).

اوفرمايي:

((إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللّهُ وَلاَ تَكُن لِّلْخَآئِنِينَ خَصِيمًا))[2]

((مونږ بې شکه تاته د حق کتاب د دې لپاره رالېږلی دی چې د خلکو په منځ کې په هغو حکمونو پرېکړې وکړې چې الله درښوولي دي او د درغلګرو لپاره جګړه کوونکی مدافع وکيل مه کېږه)).

د قرآن کريم په هکله فرمايي:

((وَكَذَلِكَ أَنزَلْنَاهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءهُم بَعْدَ مَا جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللّهِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ وَاقٍ))[3]

---

[1]- سورة المائدة: ۴۹.
[2]- سورة النساء: ۱۰۵.
[3]- سورة الرعد: ۳۷.

((دا پۀ عربي ژبه قرآن مونږ د حکم لپاره نازل کړی دی او کۀ تا د علم لۀ راتګ وروسته د دوی دخواهشاتو تابعداري وکړه نو د الله له لوري به تا لپاره نۀ کوم دوست وي او نه ژغورونکی)).

نو ټول پيغمبران د دې لپاره رالېږل شوي وو چې پۀ زمکه کې د الله تعالی تشريعي حاکميت نافذ کړي او زمونږ اخري پيغمبر محمد ﷺ هم د همدې لپاره رالېږل شوی دی چې پۀ دې زمکه باندې د الله تعالی پۀ بندګانو د الله سبحانه وتعالی کتاب قرآن کريم د قانون پۀ حيث پلی او نافذ کړي او د هغۀ د وفات نه وروسته د مسلمانانو دا دنده، فريضه او مسؤليت دی چې د الله تعالی حکمونه به د الله پۀ زمکه، د الله تعالی پۀ نړۍ او د الله تعالی په بندګانو پلي کوي او نافذوي.

او الله تعالی فرمايي:

((إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ إِنَّ اللّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا))[1]

((الله بې شکه تاسو ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله مو چې د خلکو منځ کې فيصلې کولې، چې پۀ انصاف يې وکړئ، الله پۀ دې تاسو ته ښه پند درکوي، الله بې شکه ښه اورېدونکی او ښه ليدونکی دی)).

---

[1] - سورة النساء: ۵۸.

پهٔ دې آیت کې الله سبحانه وتعالی مؤمنانو ته حکم کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپاري اودا د ژوند پهٔ هر اړخ او هر ګوټ کې.

اودا حکم فرمایي چې د خلکو منځ کې د عدل پرېکړې وکړئ اود عدل پرېکړې د الله سبحانه وتعالی کتاب قرآن کریم او د هغهٔ د پېغمبرﷺ احادیث دي. او همدا د الله تعالی د تشریعي حاکمیت پلي کول او نافذول دي.

خو افسوس چې نن ډېر ملانما د اسلام دروغجن دعویداران د خپلو حیواني او نفسي غوښتنو د پوره کولو او د طاغوتي نظام لاندې د حکومت کرسۍ ته درسېدو لپاره دا آیت پهٔ جمهوري نظام کې د رایو د لاس ته راوړلو لپاره استعمالوي چې ماته ووټ او رایه راکړئ او زهٔ د دې اهل یم. حال دا چې اسلام کې نهٔ دغه بې توله بې توپیره جمهوریت شته، نهٔ طاغوتي نظام او وضعي کفري قوانینو لاندې د کارکولو اجازه شته او نهٔ طاغوتي نظام سره ملګری مسلمان پاتې کېدی شي.

د حاکمیت له دې توحید نه اوسني سیکولرستان او علمانیان اووښتي او نړه مشرکان دي ،ځکه هغوی وایي چې دین او سیاست یا دین او ژوندون سره جلا دي او دین باید د خپل معبد پورې محدود وي، دین باید حکومت ونه کړي. او همدا عقیده د شرک او کفر عقیده ده. بلکه دین همدې لپاره راغلی دی چې د عدل په بنسټونو به حکومت کوي، د قانون حق پواځې د الله تعالی دی، او دین د ژوند په هر اړخ کې د خیل دی.

إمام ابن كثير د دې آية ((أفحكم الجاهلية يبغون ومن أحسن من الله حكما لقوم يوقنون)) په تفسير کې وايي:

((ينكر تعالى على من خرج عن حكم الله المحكم المشتمل على كل خير الناهى عن كل شر وعدل إلى ماسواه من الآراء والأهواء والإصطلاحات التى وضعها الرجال بلا مستند من شريعة الله كما كان أهل الجاهلية يحكمون به من الضلالات والجهالات مما يضعونها بآرائهم و أهوائهم وكما يحكم به التتار من السياسات الملكية المأخوذة عن ملكهم جنكيزخان الذى وضع لهم الياسق، وهو عبارة عن كتاب مجموع من أحكام قد اقتبسها عن شرائع شتى من اليهودية والنصرانية والملة الإسلامية و فيها كثير من الأحكام أخذها من مجرد نظره وهواه، فصارت فى بنيه شرعا متبعا يقدمونها على الحكم بكتاب الله وسنة رسوله ﷺ ومن فعل ذلک منهم فهو كافر يجب قتاله حتى يرجع إلى حكم الله ورسوله ﷺ فلا يحكم سواه فى قليل ولا كثير)).[1]

((الله تعالى په هغه چا انکار کوي چې د الله تعالى له هغه پرېکړې نه وتلى وي چې هر خير پکې پروت دى او له هر شرنه منع کوونکى دى او نورو هغو رايو غوښتنو او اصطلاحاتوته اووښتى وي چې د الله تعالى د قانون له دليل پرته انسانانو ټاکلي وي. لکه

[1] - تفسير ابن كثير : ۱۳۱/۳.

د جاهليت خاوندانو چې په کومو هغو بې لاريو او ناپوهيو پرېکړې کولې چې په خپلو رايو او غوښتنو يې ټاکي او يالکه چې تاتاريانو (چنګېزيانو) په کومو هغو پاچاهي قوانينو پرېکړې کولې چې د هغوی چنګېزخان پاچا ورته د ((يساق)) په نامه قانون ټاکلی دی. او هغه داسې يو کتاب دی چې داسې احکام پکې راټول شوي دي چې له ګڼو قوانينو څخه يې اخيستي دي. لکه يهوديت، نصرانيت او له اسلامي دين څخه. او په هغو کې داسې ډېر احکام دي چې يوازې له خپلې رايې او خوښې نه يې اخيستي دي، چې هغه د هغه په بچو کې داسې يو منل شوی قانون جوړ شوی دی چې د الله په کتاب او د پېغمبرﷺ په سنتو يې وړاندې کوي، نو چاچې داسې کار وکړ هغه کافر دی او هغه سره تر هغه جنګېدل فرض دي تر څو چې د الله تعالی او دهغه د پېغمبرﷺ پرېکړو ته راستون شي او نه په لږو او نه په ډېرو کې له دې پرته کومه بله پرېکړه وکړي)).

امام ابن البزار الکردري الحنفي رحمه الله وايي

((من قال لسلطان زماننا أنه عادل يكفر لأنه جائر بيقين ومن سمى الجور عدلا كفر)).

((چا چې زمونږ د زمانې حاکم ته عادل وويل، کافر کېږي ځکه چې هغه په يقيني توګه ظالم دی او چاچې ظلم ته عدل وويل نو کافر شو)).

هغه د خپلې زمانې دظالم په هکله داسې وايي او زمونږ د زمانې مرتدانو ته چې څوک عادلان يا واجب الاطاعت حاکمان وايي نو هغوی خو په طريق أولی کافران دي.

او الله تعالى فرمايي:

((وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ))[1]

((او چا چې پۀ هغه کتاب پرېکړې ونۀ کړې چې الله رالېږلى دى نو هغوى کافران دي)).

او فرمايي:

((وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ))[2]

((او چا چې پۀ هغه کتاب فيصلې ونۀ کړې چې الله نازل کړى دى نو هغوى ظالمان دي)).

او فرمايي:

((وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ))[3]

((او چا چې پۀ هغه کتاب پرېکړې ونۀ کړې چې الله نازل کړى دى نو هغوى فاسقان دي)).

نو د الله تعالى پۀ رالېږل شوي قرآن فيصلې نۀ کوونکى د الله تعالى تشريعي حاکميت نۀ منونکى دى نو ځکه کافر دى او دلته ظالم او فاسق هم د کافر پۀ معنا دى ځکه چې ظلم ډېر ډولونه لري چې تر ټولو سخت او لوى ظلم کفر او شرک دى. او فسق هم ډېر ډولونه لري چې تر ټولو سخت او لوى فسق کفر او شرک دى. او ظلم او فسق دواړه پۀ قرآن کريم کې د کفر او شرک پۀ معنا راغلي دي او کفر او شرک ته هم ظلم او فسق ويل شوي دي.

---

[1]- سورة المائدة: ٤٤.
[2]- سورة المائدة: ٤٥.
[3]- سورة المائدة: ٤٧.

«لاَ تُشْرِكْ بِاللَّه إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ»[١]

«الله سره شریک مهٔ پیدا کوه شرک بې شکه لوی ظلم دی».

نو دلته شرک ته ظلم وویل شو.

همدارنګه کفر ته فسق ويل شوی دی:

«وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ»[٢]

«او چاچې لهٔ دې وروسته کفر وکړ نو دوی چې دي همدوی بدکاران دي».

نو دلته کفر ته فسق وویل شو او کافران فاسقان وګڼل شول.

د اسلامي شريعت «قرآن او سنت» نه پرته بل قانون جوړول، واردول او د قانون او دستور پهٔ حيث منل او نافذول د کفر نه وړه ګناه نه ده. او دا درې واړه آيتونه د کافرانو په هکله راغلي دي لکه چې حديث کې داسې راځي:

عن البراء بن عازب عن النبي صلى الله عليه وسلم في قوله : «ومن لم يحكم بما أنزل الله فاولئك هم الكافرون ، ومن لم يحكم بما أنزل الله فاولئك هم الظالمون، ومن لم يحكم بما أنزل الله فاولئك هم الفاسقون » قال: « هي في الكفار كلها ».[٣]

براء بن عازب رضي الله عنه نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې د دې آيتونو په هکله: « چا چې په هغه کتاب

---

١- سورة لقمان: ١٣.

٢- سورة النور: ٥٥.

٣- رواه مسلم و احمد .

پرېکړې ونه کړې چې الله نازل کړې دی نو همغوی کافران دي، چا چې په هغه کتاب پرېکړې ونه کړې چې الله نازل کړې دی نو همغوی ظالمان دي، چا چې په هغه کتاب پرېکړې ونه کړې چې الله نازل کړې دی نو همغوی فاسقان دي » ( رسول الله صلی الله علیه وسلم) وفرمایل چې : « دا درې واړه آیتونه د کافرانو په هکله راغلي دي ».

نو څرګنده شوه چې دلته درې واړو نه مراد کافران دي.

اوسني ځینې د طاغوتانو ګوډاګیان ملایان د دې لپاره په نصوصو کې تحریف کوي چې خپل باداران: طاغوتي حکمرانان له کفر څخه وژغوري، خو دې ته نه ګوري چې الله تعالی څوک کافر ګڼلی وي نو هغه دوی نه شي ژغورلی، بلکه دوی پخپله له ایمان څخه خلاصېږي، ځکه چې منصوصي کافر څوک کافر ونه ګڼي او یا یې په کفر کې شک وکړي نو هغه خپله کافر کېږي، او دا ځکه چې : الله څوک کافر ګڼلی وي او ته یې کافر نه ګڼې نو د دې معنا دا شوه چې ته د الله له حکم اعراض کوې، نه یې منې او تکذیب یې کوې او دا کفر دی. ځینې عبدالله بن عباس رضي الله عنه ته منسوب قول : « کفر دون کفر» باندې استدلال کوي او دا طاغوتان کافران نه ګڼي حال دا چې : دا قول عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه په صحیح سند نه دی ثابت او فرضا که ثابت شي نو بیا ورته ښه او مناسب محمل دا دی چې څوک په بډو اخیستو یا سپارښتنې یا د خپلوۍ او دوستۍ له کبله ناسمه پرېکړه وکړي او ځان ګناهګار هم بولي نو د عبدالله بن عباس رضي الله عنه قول

دې د هغه په هکله وي، ځکه چې هغه په کوم وخت او کومو ظروفو کې ویلي وو هغه وخت د قانون او دستور په حیث بشپړ اسلامي شریعت و خو نن چې کومو طاغوتانو د قانون او دستور په حیث کوم وضعي قوانین نافذ کړي دي، د دوی په هکله عبدالله بن عباس رضي الله عنه ته منسوب قول بېخي نه شي جوړېدی.

په دې کې لااختلاف دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په صحیح سند رسېدلي خبر واحد باندې د کتاب الله د عموم تخصیص، یا د مطلق تقیید، یا زیادت روا دی که نه؟ خو هیڅ دا نه دي ویلي چې د صحابي په قول ـ او هغه هم ضعیف ـ دې ګڼې د کتاب الله تخصیص یا تقیید وشي. او بیا ځینې خو د طاغوتانو د ژغورلو او رضا کولو لپاره دلته بېخي مرجئي شي او له زړه نه، او داسې نور ..... بابیزه اوهن من بیت العنکبوت بهانې او ناسم دلیلونه ورته ګوري.

آخر څه مانع دی چې د مسلمانانو په سر مسلط طاغوتان د قانون او دستور په حیث په مسلمانانو وضعي قوانین نافذوي؟ دا نړه کفر دی او که څوک یې کفر نه ګڼي او یا پکې شک کوي هغه هم کافر دی.

الله تعالی فرمایي:

«أَمْ لَهُمْ شُرَكَاء شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَن بِهِ اللَّهُ»[1]

---

[1] - سورة الشورى: ۲۱.

((آيا دوی لپاره شريکان دي چې داسې قانون يې ورته تاکلی چې الله پرې حکم نه دی کړی؟)).
دلته ((دين)) د قانون په معنا دی ځکه چې د ((شرعوا)) نه معلومېږي. معنا دا چې دوی لپاره يې شريعت او قانون جوړ کړی دی نودا شرک دی.
او الله تعالی مونږ ته په عدل حکم کوي لکه چې فرمايي:
((إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ))[1]
((الله بې شکه تاسو ته په عدل کولو او ښېګړې امر کوي)).
او رسول الله ﷺ ته الله تعالی فرمايي چې خلکو ته ووايه
((وَأُمِرْتُ لأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ))[2]
((او ما ته امر شوی دی چې ستاسو منځ کې عدل وکړم)).
نو عدل د ژوند په هر کوټ او هر اړخ کې مطلوب دی چې د ټولو سرکې د خلافت، امامت، حکومت او سياست اړخونه دي.
اوس نو د الوهيت د توحيد په بحث کې د تحاکم تر عنوان لاندې څېړنه را واخله، د حاکميت د دې څېړنې سره يې يو ځای کړه او بيا خپل ځان خپل چاپېريال، اسلامي نړۍ، اسلامي تنظيمونه، اسلامي ټولنه او دا اوسني اسلام نما مرتد حکومتونه پرې وتله، بيا د تعصب، تذبذب او تقليد چشمې لرې کړه، د عدل، انصاف، حقيقت او ديانت په روښانه سترګه ورته وګوره چې څوک تر کومه مسلمان دی او څوک د دعوې سره مرتد يا منافق دی؟

[1]- سورة النحل: ۹۰.
[2]- سورة الشورى: ۱۵.

الحمدلله اسلامي امت کې ډېر خیر دی، د اسلام مخلص بچي. حق پرست علماء، په اسلام مئین عوام، په اسلام ځان بښندونکي ځوانان او زړور، پیاوړي، ننګیالي او نومیالي مجاهدین، د اسلام په خدمت کې بوخت دي او هر څوک د خپل وس په کچ ونډه پکې اخلي، تردې چې تنکي زلمي او تنکۍ پېغلې خپل سرونه په لاس کې نیسي، خپل مال هال، کور، کورنۍ، مور او پلار خپل خپلوان د ځوانۍ خواږۀ او هر څۀ د اسلام په لوړولو کې د الله د رضا لپاره د الله په لار کې پرېږدي؛ د اسلام په دښمنانو او وحشي صلیبي یرغلګرو باندې استشهادي بریدونه کوي، د اسلام او اسلامي امت د ویاړ شمله هسکوي ، د اسلام بزدلو دښمنانو ته ماتې ورکوي اونږدې ده چې ان شاء الله تعالی د همدې قربانیو پایلې به د کفر د بشپړې ماتې او د اسلامي شامل، کامل او عادل خلافت قیام وي.

خوله بله پلوه د مسلمانانو په سرکفراً، ظلماً او عدواناً مسلط شوي طاغوتي حکومتونه او نظامونه وګورئ، هریو دعوه کوي چې زموږ نظام اسلامي دی او موږ مسلمانان یوو دهغوی دین پلورونکي ملانما ګوډاګیان او اسلام نما تنظیمونه د هغوی د خواهشاتو مطابق فتوې ورکوي او حتی ځینې داسې بې تمیزه هم شته چې د جوتو دلائلو او څرګندو نښو له امله نظام او قانون ته اسلامي نه شي ویلی خو چارواکي مسلمانان ګڼي او بیا د دغو مرتدو حکامو په ضد پاڅون او جهاد بغاوت ګڼي! انا لله و انا الیه راجعون.

راځئ چې وګورو: آيا بلا استثنا دې ټولو وضعي قوانين د دستور او قانون په حيث ظلماً او عدوناً نه دي نافذ کړي؟ آيا دا ټول د اسلامي امت په موجوده تقسيم او په اوه پنځوس (۵۷) دولتونو وېشلو خوښ نه دي او رسمي اعتراف پرې نه کوي؟ آيا دا ټول د ملل متحد دکفري اداري غړي نه دي او هلته د وضعي کفري قوانينو تابع نه دي او په خپله خوښه يې ورته غاړه نه ده اېښې؟

هغه ملګري ملتونه چې هلته د ((وېټو)) (د پرېکړې د ماتولو) حق يواځې د پنځو طاغوتانو: امريکا، روس، چين، برطانيې، اوفرانسې په لاس کې دی، هلته د اسلام نما حکومتونو نمايندګي يواځې د لاسونو وهلو او چکچکو پورې محدوده ده او تل د اسلام او اسلامي امت په خلاف پرېکړې کوي.......

د څو محدودو اسلامي شعائرو په وجود يو دولت، مملکت او حکومت اسلامي نه شي جوړېدی

الله تعالی فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ ادْخُلُواْ فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ))[1]

((ای مؤمنانو! په اسلام کې پوره ننوځئ او د شيطان د پلونو پسې مه ځئ هغه ستاسو څرګند دښمن دی)).

او دقتال في سبيل الله هدف او مقصد داسې څرګند وي

((وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّه))[2]

---

[1] - سورة البقرة: ۲۰۸.
[2] - سورة الانفال: ۳۹.

((او کافرانو سره تر هغۀ وجنګېږئ چې کفر او شرک پاتې نۀ شي او قانون او اطاعت ټول الله لپاره شي)).

نو ((يكون الدين كله لله)) هلته متحقق شي چې د الله تشريعي حاکمیت پۀ سلو کې سل د قانون او نظام پۀ حیث ومنل او نافذ شي، کۀ پۀ سلو کې يو هم د قانون او دستور پۀ حیث وضعي قوانین پکې ورګډ وي هغه نظام، قانون او حکومت اسلامي نۀ بلل کېږي. ځکه چې ((ويكون الدين كله لله)) نه دی متحقق. دانۀ ده چې ويكون الدين بعضه لله وبعضه لغيرالله. دين او قانون دې ځۀ الله او ځۀ غيرالله لپاره وي؛ ځۀ دې الله او ځۀ دې عبدالله لپاره وي! ځۀ دې الله او ځۀ دې امریکا لپاره وي، ځۀ دې الله او ځۀ دې د نفس، شيطان او ....... نورو لپاره وي!!! بلکه مونږ به تر هغۀ جنګېږو چې قانون، دستور، نظام، او طاعت، ((كُلُّهٗ لله)) شي. زما د دې کرښو دليکلو پۀ وخت کې اوس پۀ نړۍ کې هيڅ يو داسې نظام او حکومت نشته چې هلته دين ((كُلُه لله)) وي. نو ټولو سره قتال او جهاد فرض دی او اوس چې اسلامي خلافت ړنګ دی او هر ځای طاغوتي نظامونه دي نو د اسلامي خلافت تر قيام پورې پۀ ټولو مسلمانانو د دغو نظامونو پۀ خلاف جهاد فرض عين دی. جهاد هغه وخت فرض کفايي وي چې اسلامي خلافت على منهاج النبوة قائم وي اود جهاد پۀ لور دومره خلک وتلي وي چې د هغه لور او طرف لپاره بس وي، نو د نورو غاړه خلاصه ده. خو اوس چې اسلامي خلافت ړنګ شوی دی ، ټول نظامونه طاغوتي دي او د

اسلام په خاوره یرغل شوی دی، نو پۀ ټولو مسلمانانو تر هغۀ جهاد فرض عین ډی، تر څو چې دین ((کله لله)) شوی نۀ وي.

کۀ پۀ اسلامي امت دغه مسلط نظامونه او حکومتونه فرضًا اسلامي هم شي، د دوی پۀ خلاف پاڅون او جهاد تر هغۀ فرض دی چې ترڅو دا ټول یو شوی نۀ وي او یو اسلامي خلافت قایم شوی نۀ وي. ځکه چې په یو اسلامی امت کې دوه دولتونه نۀ ځایېږي.

الله تعالی فرمایي:

((إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ))[1]

((ستا دا امت یو امت دی او زۀ ستاسو رب یم نو زما عبادت وکړئ)).

اسلامي امت یو دی او د امت یو والی د حکومت، دولت او خلافت یووالی لازموي، ځکه چې د امت وحدت، د خلافت او دولت وحدت ته مستلزم دی. که څوک وغواړي چې دا یو امت او یو وجود دوه ټوټې کړي نود هغۀ وژل او هغۀ سره جنګېدل پۀ مسلمانانو فرض دي.

رسول اللهﷺ فرمایي:

((إذا بويع لخليفتين فاقتلوا الآخر منهما))[2]

((کله چې دوه خلفاؤ ته بیعت وشي نو دواړو کې وروستنی ووژنئ))

---

۱- سورة الانبياء: ۹۲.
۲- رواه مسلم.

((اقتلوا)) امر دی او فقهي قاعده دا ده چې کله د فرضیت نه استحباب یااباحت ته اړوونکې قرینه او دلیل نه وي نو امر د فرضیت لپاره وي، او دلته صارفه قرینه نشته نو وژل یې فرض دي.

او دا د کفر لهٔ امله نه دي . دواړه خلفاء دي، مسلمانان دي او اسلامي نظام یې نافذ کړی دی، خو پهٔ لومړني کې د عزل یا قتل شرطونه نهٔ دي برابر ، مسلمان دی، پهٔ سلو کې سل اسلام یې نافذ کړی دی، اداره یې غښتلې ده، د ارتداد مرتکب شوی نهٔ دی..... او بل راځي د هغهٔ پهٔ خلاف راپورته کېږي او اسلامي امت دوه ټوټې کوي نو ځکه یې وژل فرض دي.

اوس نو ووایئ چې یو اسلامي امت دوه ټوټې کوي او نور بشپړ مسلمان دی، د هغهٔ وژل فرض دي؛ او چې اسلامي امت یې اوه پنځوس ټوټې کړی دی، اوه پنځوس دولتونه او حکومتونه یې پکې تشکیل کړي دي او یو کمونست دی، بل نشنلست دی، بل سیکولرست دی، څوک د امریکا ګوډاګی دی ، څوک د روس، څوک د برطانیې لاسپوڅی دی، څوک د چین..... نو آیا د دوی خلاف پاڅون بغاوت دی؟ که څوک د دوي په خلاف پاڅون او د دوی وژلو ته بغاوت وایي نو هغه د اسلام نه خبر نهٔ دی. که دوه خلیفه ګانو ته بیعت وشي اود وروستني وژل فرض شي نو د دوی وژل او دوی سره جنګېدل خو په طریق اولی فرض دي.

اسلامي امت کې د مشرق او مغرب، شمال او جنوب، عرب او عجم، تور او سپین مسلمانان د یو بدن غړي دي، د دوی به یو دولت او یو خلافت وي. دوی لپارد نهٔ د پاسپورټ ضرورت

شته او نهٔ د وېزې، نهٔ د تذکرې، نهٔ د تابعیې او نهٔ د شناختي کارډ، د دوی معرفت، خپل او وطن اسلام دی. دوی نهٔ پهٔ ریاض کې پردي دي نهٔ پهٔ کابل کې، نهٔ پهٔ قاهرې کې او نهٔ پهٔ انقرې کې نهٔ پهٔ صنعاء کې او نهٔ پهٔ ډاکې کې، د دوی نوم مسلمان دی، د دوی وطن اودولت اسلامستان دی، د دوی سیاسي نظام اسلامي خلافت دی، دوی ټول د خلیج او نوور تېلو، زمکنیو طبیعي زېرمو، زمکې او اقتصاد، فرهنګ او تشخص کې سره شریک دي، پهٔ اسلامي خلافت کې چې چا شاړه زمکه ودانه کړه هغه د هغهٔ ده.

رسول اللهﷺ فرمایي:

«من أحیا أرضا میتة فهی له»[1]

«چا چې شاړه زمکه اباده کړه هغه د هغهٔ ده».

اسلامي خلافت کې کهٔ څوک حج ته ځي، کهٔ عمرې تهٔ، تجارت ته ځي او که بل کوم ضرورت ته، پهٔ هغه هیڅ ډول بندیز نشته، کهٔ الوتکې کې ځي او کهٔ ګړندي کې، ببړۍ کې ځي او کهٔ پهٔ اوښ، پهٔ اس یا خرهٔ سپرېږي، پیاده ځي او کهٔ سپور، هر وخت او هر ځای ته پهٔ ازاده توګه تللی شي، د هغهٔ د امن ذمه واري اومسؤلیت د اسلامي خلافت په غاړه دی.

اسلامي خلافت کې هر چاته خپل حق بې لګښته او بې کړاوه خپل کورته ورځي.

---

[1] - رواه الترمذی و ابوداود والنسائي و احمد ومالک والشافعی والبیهقی والبخاری معلقا و ابن حبان والطبراني فی الاوسط وابن أبی شیبة والدارمي.

اوس به د ساري په توګه له موجوده حکومتونو څخه يو اسلام نما حکومت را واخلوو چې هغه ځان د اسلام ټيکه دار ګڼي، نظام يې اسلامي(؟) ګڼي او نورې لويې لويې دعوې کوي.

آيا هلته وضعي قوانين نافذ نه دي؟ آيا هغه د ملل متحد غړی نه دی اود دغه کفري ادارې قوانينو ته يې غاړه نه ده ايښې؟ آيا دغه موجوده سياسي حدود نه مني؟ آيا دامريکا دوست، ملګری اوګوډاګی نه دی؟ په عراق ، افغانستان، اسلام او قرآن يرغلګرې امريکې سره ولاړ نه دی؟ د افغانستان او د عراق په مظلوم ولس، جوماتونو، کورونو او ښارونو باندې د بمبار لپاره يې امريکې ته هوايي ډګرونه نه دي ورکړي؟ په افغانستان او عراق باندې د يرغلګرې امريکې پوځونو ته مفت تيل اونقدې نه ورکوي؟

مونږ حج، عمرې، تجارت، او نورو اړتياؤ لپاره حجاز اونورو ځايونو ته ځوو د هغه ځای حکومت په کوم قانون مونږ منعه کوي او ويزې راځخه غواړي؟ په وضعي قوانينو او که په اسلامي؟ مونږ غواړو چې هلته شاړې زمکې ودانې کړو ځکه چې اسلام راته اجازه راکړې ده، آيا د هغه ځای حکومت مونږ ته د دغه شاړو زمکو د ابادولو او هلته د اوسيدلو اجازه راکوي؟ که ځواب ((نه)) وي نو په کوم قانون؟ په وضعي قوانينو او که اسلامي؟

آيا هلته په پاسپورټ او ويزې سربيره د اقامې قانون او دکفيل او عامل قوانين اسلامي دي کهٔ وضعي؟

هلته چې د اميرانو زامن د خلکو عفتونه، عزتونه،مال او هال په رښا ورځ لوټي، ولې پرې اسلامي حدود نه پلي کيږي؟

هلته چې د برطانيې او امريکې سره دوستي او ملګري کېږي، د ولاء او براء مفهوم، د موالاتو او معاداتو احکام چېرته لاړل؟

آيا دا آياتونه منسوخ شوي دي؟

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاء بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ))[1]

((اې مؤمنانو! يهود او نصارا په ملګرى مه نيسئ هغوى خپلو منځو کې يو تر بله دوستان دي او تاسو کې چې څوک د هغوى ملګرى شو نو هغه بې شکه له هغوى نه دى)).

((فإنه منهم)) دا معنا چې د هغوى غوندې کافر دى.

نو دا کوم اسلام دى چې د سعودي مرتد حکومت د وضعي قوانينو د نفاذ سره سره، د کافرانو د ملګرتيا سره سره او د اسلامي خلافت د مخنيوي سره سره اسلامي دى؟!

بيا د دې ټولو دليلونو سره سره چې د مرتد حکومت ملانما ګوډاګيان او شېخان وپوښتې نو د وضعي قوانينو د نفاذ او کافرانو سره د ملګرتيا او نورو نه څوانکارنۀ شي کولی خو وبه وايي چې دا (کفر دون کفر دى).

عجيبه اسلام، عجيبه ديانت، عجيبه علميت او عجيبه استدلال دى چې په خبر واحد باندې د قرآني نص په تخصيص، تقييد او زيادت کې دې اختلاف وي. سره لۀ دې چې هغه خبر واحد دې صحيح مرفوع هم وي.

---

[1] - سورة المائدة: ٥١.

خو عبدالله بن عباس ته منسوب ضعیف موقوف روایت باندې دې د کتاب الله د نصوصو، تخصیص، تقیید او زیادت خو لاځۀ چې اهمال دې پرې جائز بلکه فرض وي؟!

عجیبه اسلام دی چې تارک الصلاة خو دې پۀ دې عمل کافر وګڼل شي. او یوشیخ دې پۀ دې الفاظو وایي چې: کۀ پۀ حرم کې د رکن او مقام منځ کې ولاړ یم نوهم په الله قسم خورم چې تارک الصلاة کافر او اسلام نه خارج دی. خود طاغوتانو لاسپوڅو ګوډاګیانو: کبارالعملاء د فتوو په تیارو کې هغه حکومت چې پۀ اسلامي امت یې د قرآن خلاف وضعي قوانین نافذ کړي وي، یهودو اونصاراؤ او نورو کافرانو سره څرګنده ملګرتیا کوي، د قرآن پۀ خلاف او د اسلام پۀ خلاف جګړه کې دې د صلیب لاندې ولاړ وي او د صلیبي جنګ برخه دې وي نو هغه دې پۀ دې ټولو سربېره بیا هم اسلامي او مسلمان وي؟!

دا هیڅکله نۀ شي کېدی، خو دغه ملانما ګوډاګیان هغه څوک دي چې پۀ هکله یې الله تعالی فرمایي:

((وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَى عِلْمٍ))[1]

((د علم سره سره الله بې لارې کړی دی)).

عجیبه خبره خو داده چې دې اوه پنځوس طاغوتانو کې هریو سره بد دیانته ملایان شته او هر طاغوت نه راټول ملایان خپل طاغوت شرعي حاکم بولي ، د هغۀ خلاف پاڅون بغاوت بولي او بیا دا نور شپږپنځوس هم شرعي حاکمان ګڼي!!!

---

[1]- سورة الجاثية: ۲۳.

هغه اسلام چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او له هغه نه د راوروسته خلفاؤ په زمانو کې پکې دوه خلیفه ګان نه ځایېدل اوس پکې اوه پنځوس طاغوتان ځایېږي !!!

کۀ دې علماء نماؤ دین فروشو هر یو خپل طاغوت شرعي امام ګڼلی او د نورو خلاف جهاد یې فرض ګڼلی نو مونږ به ویلي وو چې ګنې د اسلام د زاویې نه خبرې کوي، خو دخپل طاغوت پۀ هکله غولېدلی دی خو دا چې داټول اوه پنځوس شرعي امامان ګڼي او پۀ دوی کې د هیچا خلاف پاڅون روانۀ ګڼي، نود دې کاواکې هیڅ پرتوګ نۀ جوړېږي دا نړه د نفسي او شیطاني غوښتنو ترجماني کوي دا حق پرست او اسلام ته مخلص علماء نۀ دي بلکه د بلعام باعور پرکتې، د عبدالله بن ابی بن سلول سکنې ورونه او د ابلیس خالص مخلص لاسپوخي، ګوډاګیان او غلامان دي.

د اسلام مخلص بچي او د اسلامي امت مجاهد ځوانان دې د دې بددیانتو او بې غیرتو پۀ تشو بې دلیله فتوو نۀ غولېږي، اسلام ته مخلصو او د حق پلویانو علماؤ ته دې غوږ کېدي ، د الله سبحانه وتعالی پۀ لار کې دې د هر طاغوت پۀ خلاف جهاد او قتال ته دوام ورکړي او دهیڅ ډول قربانۍ اوښندنې نه دې دریغ نۀ کوي. دا د ابتلا او ازمېښت شپې او دا د ظلم او وحشت تیارې، سبا او رڼا ته نږدې دي ، د سبا د ستوري تنده راښکاره شوې ده او سپېدوداغ د کېدو پۀ حالت کې دی.

((وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ))[1]

(( او الله به هرومرو هغه چاسره مرسته وکړي چې دهغهٔ مرسته کوي، الله بې شکه خامخا ځواکمن او غالب دی. هغه خلک چې کهٔ مونږ ورته زمکه کې حکومت ورکړو نو کره پوره لمونځ کوي، زکات ورکوي، پهٔ نېکيو امر کوي او لهٔ بديو منع کوي او د ټولو کارونو پايلې الله پورې اړه لري))

(( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ))[2]

((ای مؤمنانو! کهٔ تاسو دالله مرسته وکړه هغه به ستاسو مرسته وکړي او پښې به مو ټينګې کړي))

((إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ))[3]

((مونږ بې شکه خپلو پېغمبرانو او مؤمنانو سره دنيوي ژوند کې او پهٔ هغه ورځ مرسته کوو چې ګواهان به اودرېږي))

---

[1]- سورة الحج: ٤٠\٤١.
[2]- سورة محمد: ٧.
[3]- سورة المؤمن: ٥١.

# بې لارې مفتیان

د اوسني عصر ځینې ملانما بې لارې مفتیان، د طاغوتانو ګوډاګیان او تالي څټي ملایان د وضعي قوانینو د نفاذ او د حکم بغیر ما انزل الله سره د زړهٔ د رضا او محبت........ شرطونه لګوي حال دا چې دا نره او خالصه بې لاري او کفر دی، څرنګه کېدی شي چې یو حاکم دې د شریعت مخالف وضعي قوانین د قانون او دستور په حیث نافذ کړي وي او دهغهٔ په هکله دې دا وویل شي چې دا یې د زړهٔ نه نهٔ دي نافذ کړي؟! د یو هېواد او مملکت لپاره د قانون وضع کول او هغه نافذول لهٔ دې پرته بله هیڅ معنا نهٔ لري چې دا قوانین هېواد او مملکت لپاره غوره او خیر ګڼي.

ځینې بیا دا وایي چې کهٔ د ((ومن لم يحكم بما أنزل الله فاولئك هم الكافرون)) سره د زړهٔ د رضا شرط ونهٔ لګوو نو دا خو بیا د خوارجو مذهب شو. حاشا وکلا، دا بیخي ناسمه ده، ځکه چې خوارجو د علي رضي الله عنه غوندې د شرعي خلیفه تکفیر کاوهٔ چې هېڅ وضعي قانون یې نهٔ وُ نافذ کړی؛ بلکه دا چې هغوی د مسلمانانو منځ کې د حکمینو ټاکلو او صلحې ته کفر وایه، حال دا چې صلحه او سوله کول د قرآن حکم دی.

((وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا))[۱] ((فَابْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا))[۲] او داسې نور ډېر نصوص دي چې خوارجو ترې خلاف كاوه.

کهٔ د نني عصر غوندې کوم حاکم هغه وخت وای چې وضعي قوانين یې نافذ کړي وي، د کافرو ملګرتیا کوي........ نو علي ﷺ به هم ورته کافر ویلي وو او د سلف صالحینو منځ کې به پهٔ دې هکله هیڅ خلاف نهٔ ؤ.

دا مفتیان دخپلو طاغوتانو د خوشحالولو لپاره ناروا فتوې ورکوي او امت بې لارې کول غواړي.

عجیبه خبره ده چې يو حاکم د دستور او قانون پهٔ حیث، وضعي قوانین نافذ کړي وي او پهٔ سختۍ سره پرې عمل کوي، کفارو سره یې پخه دوستي وي او اعتراف پرې کوي، مسلمانان یواځې د اسلام پهٔ ګناه زندانونو کې اچوي، تعذیبوي یې، وژني یې، د مسلمانانو په سر د جوماتونو په سر د مدرسو په سر د بمبار لپاره کافروته هوايي میدانونه او اډې ورکوي. مفت تېل ورکوي خو د دې ټولو سره سره د طاغوت مفتي وايي چې دا لهٔ زړهٔ نهٔ نه کوي او دا کفر نهٔ دی؟!!!........

د دې مثال داسې دی لکه چې یوڅوک پهٔ ز نالګیاوي او مفتي صاحب وايي چې دازاني نهٔ دی دا لهٔ زړهٔ نه نهٔ کوي

---

[۱]- سورة الحجرات: ۹.
[۲]- سورة النساء: ۳۵.

یالکه چې یوڅوک په ډاګه وایي چې زۀ کافر یم، د اسلام دښمن یم، د قرآن دښمن یم، د الله دښمن یم د کافرو ملګری یم...... او مفتي صاحب وایي چې نه دا کافر نۀ دی دا لۀ زړۀ نه نۀ وایي او د ژبې پۀ ویلو نۀ کافر کېږي!!!
دا نړه او خالص ارتداد او انحراف دی او دا مفتیان طاغوتانو ته دعوت ورکوي، دوی لۀ مرجئه و هم بتر دي، ځکه چې مرجئه داسې خالصو او جوتو مرتدانو ته مسلمانان نۀ وایي بلکه کۀ پخواني مرجئه وای نو هغوی به هم دې مفتیانو ته مرتد ویلي وو، دوی د ارجاء لۀ بریده هم اووښتي دي.

## خروج علی الطاغوت

د طاغوتانو ګوډاګي ملایان د یوموټې روپواوکومې با بیزه دنیوي تمې پۀ بدل کې پۀ قرآني او نبوي نصوصو کې د طاغوت د خوشحالولو لپاره تحریف کوي او غلط استدلال پرې کوي، هر یو دا خبره کوي چې «خروج علی الإمام» ناروا دی. دا ښېخي سمه ده چې خروج علی الامام ناروا دی، خو خروج علی الطاغوت فرض دی. پۀ «الإمام» کې الف او لام د تعریف او عهد لپاره دي چې معروف او معهود امام دی. او هغه هغه امام دی چې مسلمان وي، یو وي، وضعي قوانین نه بلکه اسلامي شریعت یې نافذ کړی وي، د علم، جسم، عدل، فهم، فراست، دیانت، شجاعت، مروئت،

سپېڅلتيا........ شرطونه پکې پوره وي، د چا ګوډاګی نهٔ وي. د اسلام دښمنانو سره دوستي نهٔ کوي، اهل الحل والعقد ټاکلی وي. د ملل متحد د کفري اداري غړی نهٔ وي، مسلمانانو باندې يې د پاسپورټ او وېزې وضعي بنديزونه نهٔ وي لګولي، په اوسني صليبي جنګ کې نهٔ د صليب په خوا وي، نهٔ ځان بې طرفه ګڼي بلکه قرآن سره ولاړ وي...... اوس يې راوښايئ چې پهٔ دې اوه پنځوسو کې کوم يو پهٔ دې شرطونو برابر دی؟ چې مونږ بې پاسپورټه او بې وېزې پرېږدي، ورشو، بيعت ورسره وکړو او د همغهٔ د اسلامي نظام د سيوري لاندې هلته ميشت شوو، د همغهٔ د قوماندې لاندې جهاد في سبيل الله ته دوام ورکړو؟........

خو د طاغوتانو د يو ګوډاګي له وسه دا پوره نه ده چې مونږ ته داسې يو إمام را په ګوته کړي. او بيا خو لا لوی ناورين دا دی چې د هر طاغوت ګوډاګيان هم خپل طاغوت واجب الاطاعت ګڼي او هم دا نور همداسې ګڼي، د هيڅ کوم يو په خلاف پاڅون روانه ګڼي. که چېرته يې دا ويلی چې دا زمونږ أمير واجب الاطاعت دی او د دې نورو په خلاف پاڅون فرض دی، نو مونږ به ويلي ؤ چې د خپل طاغوت په هکله سهوه شوی دی او د دې نورو په هکله يې خبره سمه ده.

رسول اللهﷺ فرمايي:

((إذا بويع لخليفتين فاقتلوا الآخر منهما))[1]

---

[1]- رواه مسلم.

(( كله چې دوه خليفه ګانو ته بيعت وشي نو وروستنى يې ووژنئ)).

نو چې دوه شي وروستنى يې ووژنئ او چې اوه پنځوس وي نو يو يې هم مه وژنئ؟! دا خو عجيبه منطق دى!

داسې هيڅكله نه ده. بلكه اسلامي اُمت يو اُمت دى او د يو اُمت به يو امام او يو حاكم وي او بيا چې د اوسنيو مرتدانو غوندې حاكمان وي، د دوى وژل او د دوى په خلاف پاڅون خو تر ټولو لوى فرض دى.

إمام نووي رحمه الله له قاضي عياض رحمه الله نه نقل كوي چې هغه وايي:

((و قد أجمع العلماء على أن الإمامة لاتنعقد لكافر وعلى أنه لو طرأ عليه الكفر انعزل)) قال: ((وكذا ولو ترك إقامة الصلوات والدعاء إليها)) قال: ((وكذلك عند جمهورهم البدعة))......قال القاضي: ((فلو طرأ عليه كفر وتغيير للشرع أو بدعة، خرج عن حكم الولاية، وسقطت طاعته، ووجب على المسلمين القيام عليه، و خلعه، و نصب إمام عادل إن أمكنهم ذلك، فإن لم يقع ذلك إلا لطائفة، وجب عليهم القيام بخلع الكافر، ولا يجب فى المبتدع إلا إذا ظنوا القدرة عليه فإن تحققوا

العجز لم يجب القيام وليهاجر المسلم عن أرضه إلى غيرها ويفر بدينه))[1]

(( علماؤ په دې اجماع کړې ده چې کافر د مسلمانانو امام او حاکم نه شي جوړېدی او په دې يې هم اجماع کړې ده چې که امام کې کفر څرګند شو نو له امارت نه وغورځېد هغه وايي: همدارنګه که د لمونځونو کره پوره کول او لمونځونو ته بلنه يې پرېښوده هم له امارته غورځېږي بيا وايي: همدارنګه اکثره علماء وايي چې بدعت پکې څرګند شو هم له امارت او امامت نه ګوښه کېږي...... قاضي عياض بياوايي: که په حاکم او امير کفر يا د شريعت بدلول او يا بدعت جوت شو نو د امارت له حکم نه ووائۀ، طاعت يې له منځه لاړ او که د مسلمانانو له وسه پوره وه نو د هغه په خلاف پاڅون، دهغه لرې کول او د بل عادل امير ودرول پرې فرض دي. که داسې ونه شول او دڅه خلکو وس ؤ نو په هغوی د کافر لرې کول فرض دي او د بدعتي په هکله فرض نه دي. خوکه باور يې ؤ چې لرې کولی يې شي نو بيا پرې فرض دي. که دا ثابته شوه چې د دغه حاکم په خلاف پاڅون يې له وسه پوره نه وي، نو بيا پرې پاڅون فرض نه دی. خو مسلمان بايد له دغه ځمکې نه بل ځای ته هجرت وکړي اوخپل دين دې وژغوري)).

[1] ـ صحيح مسلم بشرح النووی کتاب الامارة.

## د ملوکيت او جمهوريت تر منځ اسلامي خلافت

اسلام کې نۀ ملوکيت او پاچايي نظام شته چې يو ټولواک پاچا به وي، تر مرګه به پاچا وي او د هغۀ لۀ مرګه وروسته به د هغۀ پۀ اولاد، کهول او نسل کې په ميراثي توګه پاچايي پاتې وي او داسلسله به همداسې روانه وي.

او نۀ پکې جمهوريت شته چې چا زيات ووټونه او رايې وګټلې هغه به جمهور رئيس وي او بې توله بې توپيره به سرونه شمېرل کېږي او تميز به پکې نۀ وي؛ که چېرته نهو پوهانو، نېکانو، هوښيارانو او د دين، وطن او نواميسو پېژندونکيو، ژغورونکيو او ساتونکيو يو سړي ته د لياقت، پوهې، ديانت او اهليت پۀ بنسټ رايې ورکړې، او لسو نالايقو، احمقانو، بدکارانو، او بې تميزو بدتميزو بل چاته د نفسي غوښتنو پۀ بنسټ او بې توله بې توپيره رايې ورکړې، نو د لسو رايو څښتن بۀ حکومت کوي.

بيا ډېر خلک د رايو ورکولو نه محروم ګڼل کېږي، اکثره درغلۍ پکې کېږي، دښمنۍ، جګړې او اختلافونه زېږوي، بې ځايه مالونه پکې مصرفېږي، د دروغو وعدې پکې کېږي، ډېر خلک د څۀ مودې لپاره د کارنه پاتې کېږي، کارخانې ودرېږي او بشري ټولنه د ډېرو ښېګړونه محرومېږي.

اسلام کې د سياسي نظام بنسټ اسلامي خلافت دی او خلافت او امامت پۀ اسلام کې ستر مسؤليت دی. د ملوکيت او

جمهوریت غونډې د اسراف، ترف،عیاشۍ، ظلم، ستم، استبداد او استعباد لوړې څوکې ته د رسېدو لار او پوره نهٔ ده. پهٔ اسلامي خلافت کې امام او خلیفه د علم، صحت، دیانت، تقوی، قوي اداري، سپېڅلتیا، عدل، عفت، مروئت او بصیرت ځانګړتیاوې او مشخصات لري، چې د همدې غونډې ځانګړتیاؤ لرونکي اهل الحل والعقد یې ټاکي. اوکه دعزل کوم لامل هرکله پکې وموندل شو، پهٔ همغه ورځ معزول دی.

## بشپړ اسلامي نظام

لکه مخکې مو چې دلیلونو سره وویل: الله سبحانه وتعالی مونږ نه بشپړ اسلامي نظام غواړي، چې هغه د ژوند پهٔ هر اړخ، پهٔ هرځای، هر وخت او هر چا حاوي او پلی وي. نیمګړی او لنډی بوچی اسلام الله تعالی ته منظور نهٔ دی. لکه چې فرمایي:

«أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ»[1]

«آیا نو تاسو د کتاب پهٔ ځینې برخې ایمان راوړئ او پهٔ ځینې کفر کوئ؟! نو تاسو کې چې څوک دا کار کوي د هغهٔ بدله

---

[1] - سورة البقرة:۸۵.

یواځې دا ده چې نږدې ژوند کې ورته رسوایي ده او دقیامت په ورځ به سخت عذاب ته وروګرځول شي او الله د هغو عملونو په هکله بې غوره نهٔ دی چې تاسو یې کوئ»

نو اسلام د ژوند بشپړ نظام دی او بشپړ پلي کېدل او نافذېدل غواړي. ځیني خلک ګومان کوي چې د اسلام نافذېدل یواځې د حدودو نافذول دي؛ دا بېخي ناسمه ده. اسلام سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، پوځي، اداري، ښووني او روزنې، روغتیا او نورو نظامونو لپاره کوټلي، ګټور او دعدل پهٔ بنسټ ولاړ قوانین او اصول لري.

کهٔ د اسلام پوره نظام نافذ شي نو جرمونه او جنایتونه به لهٔ ستېه ورک شي. شخړې او جګړې به نهٔ وي، سوکالي او امنیت به وي، د ښوونې او روزنې رڼا به عامه، بې کړاوه او وړیا وي، د حکومت به دا مسؤلیت، دنده او ذمه واري وي، چې هر چاته انصاف او حقوق د کور دروازې ته وړیا وررسوي، بندېزونه به یواځې په جرمونو، جنایتونو، ظلمونو. او ناروا وي، نور به پهٔ انسان هیڅ انساني بندیز نهٔ وي او هر انسان ته به خپل ټول حقوق بشپړ ورکول کېږي، پهٔ اسلامي نظام کې حکومتي چارواکي کوم امتیاز او فضیلت نهٔ دی بلکه یو لوی او درونډ بار او مسؤلیت دی.

پهٔ اسلامي نظام کې چې هر کله څوک کوم حکومتي چارواکی وګوري نو د امنیت، ښېګړې، لارښوونې، مرستې، لاسنیوي او خوښۍ احساس به کوي. او د اوسنیو ظالمانو چارواکو پهٔ څېر به څوک د حکومتي چارواکي پهٔ لیدو د وېرې، وحشت او

هيبت احساس نهٔ کوي. د اوسنيو طاغوتي نظامونو پوليس چې څوک ويني لکه ډاکو، غل او دښمن چې ويني.

په اسلامي نظام کې د رشوت اواداري فساد غونډې لعنتونو پهٔ کلکه مخنيوی کېږي.

د عمرﷺ د خلافت پهٔ دور کې يو قاضي دوه کاله بې کاره تېر کړل چې د دې دوه کلونو پهٔ اوږدو کې هيڅ ډول جرم، جنايت، ظلم او جګړه ونهٔ شوه چې قاضي ته د تللو اړتيا پيداشي. هغه به خپله دشپې او ورځې کوڅو کې ګرځېده، د رعيت حال احوال نه به يې ځان خبرواهٔ، هسې نه چې څوک وږی وي، او دخوراک څهٔ نهٔ لري، ناروغ وي، د علاج دارو درمل نهٔ لري، بله کومه ستونزه ورته نهٔ وي پېښه شوې، چې مرسته ورسره وکړم، چاپهٔ چا تېری نهٔ وي کړی، چې د ظالم مخه ونيسم، مظلوم ته خپل حق وسپارم، اوښکې يې وچې کړم او غېږ ورته واخلم.

زمونږ پهٔ عصر کې د اسلام ډېر دعوېدار او د علم حاملين د اسلام بشپړ نظام ته د هڅو پهٔ ځای د اسلام څو مسالې راټينګې کړې دي، يواځې همغه اسلام ګڼي، يواځې هغو ته بلنه ورکوي او يواځې د هغو پهٔ بنسټ دوستي او دښمني کوي، چا د اسلام يو شپږ احکام او محاسن د دعوت بنسټونه ګرځولي دي او نور ټول اسلام يې شاته غورځولی دی، اسلام يې د جومات پورې محدود کړی دی، سيکولرېزم ته عملي کار کوي، پهٔ اسلامي امت طاغوتي نظامونه مسلط دي، د قرآن او اسلامي شريعت پهٔ ځای وضعي قوانين نافذ دي،د اسلام پهٔ ګناه مسلمانان زندانونو اوجېلونو کې

پراتهٔ دي او یواځې نارینه نه بلکه ډېرې ښځینه د زندانونو د تورو تمبو شاته پرتې دي، عفتونه او عصمتونه یې لوټېږي، یواځې د اسلام پهٔ ګناه د ځوانانو، بوډاګانو، پېغلو او مړوخو نوکان او غاښونه ایستل کېږي، وهل کېږي، شهیدانېږي، د اسلامي امت پهٔ حریم او زمکنیو بریدونو تېری کېږي. پهٔ مظلومو ولسونو وسله وال یرغلونه کېږي، د درندو درندو بمونو، میزایلو او ګولیو لاندې د ښځو، ماشومانو، بوډاګانواو ځوانانو غوښې ټوټه ټوټه الوځي، جوماتونه او مدرسې ړنګېږي، کتابونه او قرآنونه ټوټه ټوټه پهٔ وینو کې پراتهٔ دي، صلیبیان د قرآن دپاسه پښې ږدي، پهٔ کموډ کې یې غورځوي.... خو د شپږ نمبرو مسلمان ته دا ټول بې تفاوته دي، هغه عملاً قرآن او جهاد نه منکر دی، هغه د حال پهٔ ژبه لاځهٔ چې د قال پهٔ ژبه وایي چې د کافر وژل کوم کمال نهٔ دی او د حال پهٔ ژبه وایي چې پېغمبر اوصحابه کرامو چې د بدر، احد، حنین او نورو غزواتو کې خپل سرونه پهٔ لاس کې نیولي وو او د الله پهٔ حکم یې د کلمة الله د اعلاء لپاره د اسلام دښمنان هم وژل او خپله هم شهیدانېدل، هغه (العیاذ بالله) ناپوهه وو!!!!

نورو بیا چا د لمانځه دوه درې مسالې راټینګې کړې دي. چا یواځې قبرونه او باباګان پسې راخیستي، پهٔ شرک القبور رد کوي خو د شرک القصور ارتکاب کوي.څوک د طاغوتي جمهوریت د چارواکي مسند ته د رسېدلو لپاره مرده باد. زنده باد وایي. د کفر له لارې اسلام ته د خدمت په نامهٔ اسلام سره جفا کوي

څوک يواځې د نوم پسې ننبتي دي... څوک څۀ او څوک څۀ غواړي. دې ټولونه لاره ورکه ده او په شاړو سر دي. يواځې هغه څوک پۀ صراط مستقيم روان دي، چې خپله هم پوره اسلام غواړي او نوروته هم د بشپړ اسلامي نظام د پلي کولو لپاره مسلح جهاد کوي ، خپل مال، ځان، عرض، پت او عزت اسلام نه قربانوي او د کلمة الله د اعلاء لپاره جنګېږي. د دې خلکو د پښنو تلې د ښکلولو دي، دوي د اسلامي امت سترګې دي، دوی د اسلامي امت د ويار شمله هسکه کړه، دوی اسلامي امت د شرم او پېغور نه وژغورۀ او د همدوی پۀ لاس به ان شاء الله بشپړ اسلامي نظام نافذ ېږي.
((ويومئذ يفرح المؤمنون)).

له بده مرغه اسلامي امت پۀ ورو دولتونو، تنظيمونو، ډلګيو، مذهبونو او مسلکونو وېشل شوی دی، عوام څوک د چا او څوک د چاپسې روان دي، د اسلامي خلافت د قيام او د اسلامي امت د جوړولو او رغولو پۀ ځای دغو تقسيمونو ته کار کېږي،امت لاړيات وېشل کېږي او اختلافات لاړياتېږي.

نن د اسلام د دروغجنو مدعيانو او طاغوتانو لۀ لاسه اسلامي نظام اصلا عوامو ليدلی نۀ دی چې ورته تشويق شي. خلک دغو د طاغوتي نظامونو نامسلمانو چارواکو، د تنظيمونو او ډلګيو مشرانو او دروغجنو مدعيانو ته ګوري او د دوی د دروغو پۀ دعوو، ناوړو اعمالو او درغليو اسلامي نظام پرتله کوي او قياسوي. د دوی عملي ژوند خو د کرکې وړ دی.

مونږ اوس پهٔ عمل کې چاته د اسلامي نظام ښېلګه نهٔ شو پهٔ ګوته کولی. هغه د عدل نظام یواځې پهٔ منابرو، دفاترو او مقابرو کې پاتې دی. پهٔ منبر یې د دین مخلص او متدین علماء بیانولی شي، کتابونو کې یې تفصیل او ښېلګې شته، او چاچې عملي کړی ؤ او د اسلامي نظام عملي ښېلګې وې هغوی پهٔ ادیرو کې پراتهٔ دي.

کهٔ اسلامي نظام او اسلامي خلافت په صحیح معنا پلی شي او پهٔ عمل کې نافذ او وښوول شي نو د اسلام معتنقین او بچي به د سوکالۍ او نېکمرغۍ ژوند وکړي، د خوښۍ احساس به وکړي او د اطمینان سا به واخلي په هر څهٔ کې به مثبت بدلون، اووښتون او سمون راشي او اسلام نه دباندې ولسونه او قومونه به دغه د عدل او ښېګړې نظام ته وپسخېږي.

((وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا))

إن شاء الله تعالى.

((وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ))[1]

((او مونږ غواړو چې پهٔ زمکهٔ کې کمزورو ګڼل شویو باندې احسان وکړو مشران یې وټاکو، وارثان یې کړو او زمکه کې ورته حکومت ورکړو)).

[1] - سورة القصص: ٥- ٦.

## معیت

معیت هم د الله سبحانه وتعالی د ذاتي صفتونو نه یو صفت دی. لکه مخکې مو چې وویل. الله سبحانه وتعالی ته هر څه څرګند، جوت او نږدې دي او هیڅ ورڅخه پټ، پنا او لرې نۀ دي. د لرې او نږدې نسبت د مخلوق تر منځ وي. الله سبحانه وتعالی عرش دپاسه دی، خو هر شي ته نږدې دی او هر څه ورته نږدې دي الله سبحانه وتعالی ډېر لوی دی. د هغۀ ﷻ لوی والی، عظمت او کبریاء زمونږ له ناقصو او قاصرو ذهنونو، اندونو او تصوراتو نه ډېر هسک دي. دا اوه اسمانونه او زمکې چې د هغۀ ﷻ په ورغوي کې د یوې دانې اورې او خاشخاش غوندې وي، نو مونږ د هغۀ ﷻ په هکله څۀ ویلی شوو؟ د هغۀ ﷻ په هکله چې قرآن کریم او نبوي احادیثو کې څۀ راغلي دي، دا د هغۀ صفتونه دي او د همغۀ ﷻ پورې اړه لري، د هغۀ ﷻ، استواء علی العرش، د هغۀ راتګ او اتیان، د شپې په اخري شپبه کې لومړي اسمان ته د هغۀ ﷻ نزول، دهغۀ ﷻ، وجه، یدین، عیون، قدم، او نور ټول صفات د مخلوق په څېر غړي او افعال نۀ دي، بلکه دا د الله تعالی د عظمت او کبریاء صفات دي. کیفیت او حقیقت یې همغۀ ﷻ ته معلوم دی، هغه د عرش دپاسه دی، خو مونږ ته د مرۍ له رګه نږدې دی، ځکه چې مونږ نه د مرۍ د رګ او له هغه دننه حقیقت پنا او لرې دی، خو الله

تعالی نه هيڅ پټ او پنا نشته او د هيڅ شي حقيقت هغهٔ ته مجهول نهٔ دی . داځکه چې هر څهٔ د هغهٔﷻ پيدا ونبت دی.

د الله سبحانه وتعالی پهٔ صفاتو کې مونږ ته هله اشکالونه او پوښتني را پيدا کېږي. چې هغه د مخلوق سره ورته وګڼوو او دهغهٔﷻ افعال او صفات د مخلوق سره پرتله کړو . دا بالکل ناروا بلکه کفر دی. مونږ پهٔ دې مامور نهٔ يوو چې د هغهٔﷻ پهٔ صفاتو کې داسې تاويلونه وکړو اوداسې معناوې ترې واخلوو، چې رسول اللهﷺ او صحابه ؤ ترې نهٔ وي اخيستې. قرآن پهٔ عربي ژبه راغلی اومونږ د الله تعالی د صفاتو پهٔ هکله پهٔ همدې ظاهري معنا اخيستلو مکلف يوو، خو بې لهٔ تشبيه، بې لهٔ تمثيل او بې لهٔ تکييف.

همدا د اهل سنت والجماعت مذهب او مسلک دی، چې څلور مشهور امامان امام ابوحنيفه رحمه الله. امام مالک رحمه الله. امام شافعی رحمه الله. امام احمد رحمه الله. او عام محدثين، فقهاء. اهل الحديث پکې داخل دي اهل سنت والجماعت د دې ټولو د مجموعې نوم دی، ددوی تر منځ پهٔ فقهي عملي مسائلو کې، اختلاف شته. چې په هغه له اهل سنت والجماعت نه نهٔ وځي، خو عقيده او ګروهه د ټولو يوه ده. عقيدوي اختلاف ډېرو راوروسته خلکو راپيدا کړی دی. د څلورو امامانو او اهل الحديثو منځ کې د عقيدې هيڅ اختلاف او توپير نشته. خو له بده مرغه زمونږ ډېر ورونه د څلورو امامانو او محدثينو له ګروهې اومسلک څخه ناخبره دي.

د الله سبحانه وتعالى دمعيت پهٔ هکله ډېر نصوص دي چې ځينې يې دا دي:

(( وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ))[1]

(( او تاسو چې هرځاى وئ هغه تاسو سره دى او تاسو چې څهٔ کوئ الله پرې ليدونکى دى)).

((أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَى ثَلَاثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَا أَدْنَى مِن ذَلِكَ وَلَا أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ))[2]

((آيا تاسو نهٔ دي ليدلي چې پهٔ اسمانونو او زمکې کې څهٔ دي الله بې شکه پرې پوهېږي ،هيڅ يوه درې کسيزه پټه جرگه نه وي مگر هغه يې څلورم دى او نهٔ پنځه کسيزه مگر هغه يې شپږم دى او نهٔ له دې لږ شته او نهٔ ډېر مگر هر ځاى کې چې وي هغه ورسره دى بيا يې چې څهٔ کړي دي د قيامت پهٔ ورځ به يې پرې خبر کړي الله بې شکه پهٔ هر شي ډېر پوه دى )).

نو دا او داسې نور نصوص پهٔ دې دلالت کوي چې الله تعالى مونږ سره دى خو دا معيت د علم دى هر ځاى کې چې معيت راغلى دى هلته مخکې وروسته ورسره د علم ذکر دى نو الله سبحانه وتعالى د عرش دپاسه دى خو مونږ نه لرې نهٔ دى او مونږ سره دى.

---

[1]- سورة: الحديد: ٤.
[2]- سورة المجادلة: ٧.

((وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ))[١]
((او مونږ انسان ته د مرۍ له رګه ډېر نږدې يوو)).
((وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِي وَلْيُؤْمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ))[٢]
((او کله چې زما بندګان تا نه زما په هکله پوښتنه وکړي نو زه بې شکه نږدې يم، دعاء کوونکی چې کله ما را وبلي نو زه يې بلنه قبلوم، نو د دې لپاره چې سمه لار ومومي، ما دې ومني او په مادې ايمان راوړي)).

نو الله سبحانه وتعالى مونږ سره دی، له هرڅه، هر ځای او هر چا خبر دی او دا ټول ورته څرګند او نږدې دي، له هغهﷻ څخه نه څه لرې شته او نه ترې پټ او پنا شته.

نو دې ځايونو کې معيت د علم دی او په ځينو ځايونو کې د نصرت (مرستې) او رعايت معيت وي، لکه:

((إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ))[٣] ((الله بې شکه د صبر کوونکيو سره دی)).

((وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ))[٤] (( او پۀ دې وپوهېږئ چې الله پرهېزګارانو سره دی)).

---

[١]- سورة ق: ١٦.
[٢]- سورة البقرة: ١٨٦.
[٣]- سورة البقرة: ١٥٣.
[٤]- سورة البقرة: ١٩٤.

((وَأَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ))[1] ((او الله بې شكه مؤمنانو سره دى)).

او رسول الله صلى الله عليه وسلم هم د ثور په غار يا سمخ کې ابوبکر رضي الله عنه ته فرمایلي وو

((لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللّهَ مَعَنَا))[2] (( مهٔ غمجنبږه الله بې شكه مونږ سره دى))

((وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ))[3] (( او الله بې شكه خامخا د نېکانو سره دى)).

((فَلاَ تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنتُمُ الأَعْلَوْنَ وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ))[4]

(( نو مهٔ سستېږئ، سولې ته بلنه مهٔ ورکوئ او تاسو ډېر لوړ يئ، الله تاسو سره دى او هيڅکله به ستاسو عملونه برباد نهٔ کړي)). نو پهٔ دې او داسې نورو ځايونو کې د مدد ، او رعايت معيت دى.

•

[1]- سورة الانفال: ۱۹.
[2]- سورة التوبة: ٤٠.
[3]- سورة العنكبوت: ٦٩.
[4]- سورة محمد: ٣٥.

## فعلي صفتونه

فعلي صفتونه هغه دي چې د الله تعالی د فعل او کړو پورې اړه لري. او د الله تعالی خوښه ده چې کوي یې او کهٔ نه؟ یا کله او څرنګه یې کوي؟ او کله یې نهٔ کوي؟ بالقوة د هغو په ضد الله تعالی نهٔ شي موصوفېدی، معنا دا چې الله تعالی د دغه فعل کولو ځواک تل تر تله لري او هر وخت یې پهٔ کولو برلاسی دی، خو بالفعل یې خپله خوښه او اختیار دی چې کوي یې او کهٔ نه؟ خو دا ویل صحیح نه دي چې فعلي صفت هغه دی چې الله تعالی د هغه پهٔ ضد موصوفېدی شي، ځکه چې «صدق» «رښتیا ویل» د الله تعالی فعلي صفت دی او د «صدق» ضد «کذب» «دروغ ویل» دي نو الله تعالی هیڅکله د صدق پهٔ ضد نهٔ موصوفېږي.

د الله سبحانه وتعالی فعلي صفتونه هم ډېر دي چې ځیني یې دا دي:

## خلق (پنځول او پیدا کول)

الله سبحانه وتعالی تل تر تله خالق دی، خلاق دی، څهٔ یې چې خوښه شي پیدا کوي یې او څهٔ یې چې خوښه شي پنا کوي یې،

دا ټول کائنات، موجودات او مخلوقات هغهٔﷻ پیداکړي دي او هیڅ یوه ذره اوعنصر داسې نشته چې هغهٔﷻ دې نهٔ وي پیدا کړی.

((وَ هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاء فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ))[1]

(( او هغه هغه ذات دی چې پهٔ زمکې کې ټول شیان یې تاسو لپاره پیدا کړي دي بیا یې اسمان ته اراده وکړه نو اوه اسمانونه یې جوړ کړل او هغه پهٔ هر شي ډېر پوه دی)).

((وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ وهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ذَلِكُمُ اللّهُ رَبُّكُمْ لا إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ))[2]

((هر شی یې پیدا کړی دی او هغه پهٔ هر شي ډېر پوه دی. دا الله دی چې ستاسو رب دی لهٔ هغهٔ پرته بل معبود نشته د هر شي پیدا کوونکی دی نو د هغهٔ عبادت وکړئ اوهغه د هرشي ذمه وار دی)).

((رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَى))[3]

((زمونږ رب هغه ذات دی چې هر شي ته یې د هغهٔ پیداوښت ورکړی دی او بیا یې لارښوونه ورته کړې ده)).

---

[1]- سورة البقرة: ۲۹.
[2]- سورة الانعام: ۱۰۱/۱۰۲.
[3]- سورة طه: ۵۰.

((أَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللَّهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ إِنَّ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ))[1]

(( آیا دوی نهٔ دي لیدلي چې الله څرنګه پهٔ پیداوښت نوی پیل کوي او بیا یې دویم ځل پیدا کوي ؟دا کار بې شکه په الله اسان دی)).

((أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لاَّ يَخْلُقُ أَفَلا تَذَكَّرُونَ))[2]

((نو آیا هغه څوک چې پیدا کول کوي د هغه چا غوندې دی چې پیدا کول نه شي کولی؟ نو آیا تاسو پند نهٔ اخلئ؟)).

((يَخْلُقُ مَا يَشَاء وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ))[3]

((څهٔ یې چې خوښه شي پیدا کوي یې او هغه پهٔ هر شي ښهٔ برلاسی دی)).

((وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاء وَيَخْتَارُ))[4]

((او ستا رب چې څهٔ وغواړي پیدا کوي یې او غوره کوي یې)).

((وَيَخْلُقُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ))[5]

((او هغه څهٔ پیدا کوي چې تاسو پرې نهٔ پوهېږئ)).

((صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ))[6]

---

[1] - سورة العنكبوت: ١٩.
[2] - سورة النحل: ١٧.
[3] - سورة المائدة: ١٧.
[4] - سورة القصص: ٦٨.
[5] - سورة النحل: ٨.
[6] - سورة النمل: ٨٨.

((د هغه الله جوړښت دی چې هر شی یې کره کړی دی))

((فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ))[1]

((نو الله د برکت څښتن دی چې تر ټولو ښه پیدا کوونکی دی)).

د الله سبحانه وتعالی په خالقیت ډېر زیات دلیلونه دي مونږ یې څو بېلګې ولیکلې او څهٔ دلیلونه د ربوبیت د توحید په ترخ کې مخکې تېر شوي دی.

# اراده

د الله سبحانه وتعالی له فعلي صفتونونه یو صفت اراده ده. الله سبحانه وتعالی چې څهٔ وغواړي اراده ورته کوي او همدا اراده یې غوښتنه ده، د هغهٔ ﷻ اراده په مخلوق کې د هیچا او هیڅ شي د ارادې سره ورته والی او تشبیه نهٔ لري، د هغهٔ اراده چې د هغهٔ په علم څرنګه ده هماغسې ده، مونږ پرې ایمان لرو.

((يُرِيدُ اللّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ))[2]

((الله په تاسو اساني غواړي او سختي درباندې نهٔ غواړي)).

---

[1]- سورة المؤمنون: ١٤.

[2]- سورة البقرة: ١٨٥.

«وَمَن يُرِدِ اللَّهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلإِسْلاَمِ وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاء »[1]

«الله چې چاته اراده وکړي چې لاربنوونه ورته وکړي نو سينه يې اسلام منلو لپاره پراخه کړي او چاته چې اراده وکړي چې بې لارې يې کړي نو سينه يې داسې تنګه او سخته کړي لکه چې اسمان ته پورته کېږي».

«قُلْ مَن ذَا الَّذِي يَعْصِمُكُم مِّنَ اللَّهِ إِنْ أَرَادَ بِكُمْ سُوءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً»[2]

«ورته ووايه ، هغه څوک دی چې که الله پهٔ تاسو د کړاو اراده وکړي او يا درباندې د رحمت اراده وکړي نو هغه مو ورڅخه وژغوري؟».

«وَيُرِيدُ اللَّهُ أَن يُحِقَّ الحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكَافِرِينَ»[3]

« او الله غواړي چې پهٔ خپلو خبرو حق ثابت کړي او د کافرانو بنسټ پرې کړي».

«وَلَـكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ»[4]

« خو الله چې څهٔ وغواړي کوي يې ».

---

[1] - سورة الانعام: ۱۲۵.
[2] - سورة الاحزاب: ۱۷.
[3] - سورة الانفال: ۷.
[4] - سورة البقرة: ۲۵۳

# رضاء

د الله سبحانه وتعالى له فعلي صفتونو څخه يو صفت ((رضا)) ده الله سبحانه وتعالى د خپلو غاړه ایښودونکیو بنده ګانو نه راضي کېږي.

د نورو ټولو صفتونو غوندې دالله تعالى رضاهم دهغه په مخلوق کې د هیچا او هیڅ شي د رضا سره هیڅ ورته والې او تشبیه نه لري او مونږ یې بې تشبیه بې تمثیل او بې تکییف منو، ایمان پرې لرو او د هغه ﷻ درضا هیله لرو.

الله تعالى فرمايي:

((وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّهِ أَكْبَرُ))[1]

((او د الله له لوري رضا ګانې ډېرې لویې دي)).

او موسى ﷺ الله تعالى ته ویلي وو:

((وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَى))[2]

((او اى زما ربه! ما تاته ددې لپاره بیړه وکړه چې تهٔ راضي شې)).

---

[1]ـ سورة التوبة: ٧٢.
[2]ـ سورة طه: ٨٤.

((وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللّهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ))[1]

(( او د مهاجرو او انصارو مخکني لومړني خلک او ځوک چې په نېکه لار د هغوی پسې تللي دي، الله هغوی نه راضي شوی دی او هغوی الله نه راضي شوي دي)).

((لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ))[2]

(( الله بې شکه مؤمنانو نه هغه وخت راضي شو چې تاسره يې د وني لاندې بيعت کاوۀ)).

## رحمت

د الله سبحانه وتعالی له فعلي صفاتو نه يو صفت رحمت دی. الله سبحانه وتعالی په خپل مخلوق ډېر زيات مهربان دی تر دې چې په دنيا کې په خپلو دوستانو او دښمنانو دواړو مهربان دی کافرانو سره هم ښېګړې کوي، پيدا کړي يې دي، ژوند يې ورکړی دی، د ژوند وسائل ورکوي، روغتيا ورکوي..... لنډه دا چې هر شي

[1] - سورة التوبة: ۱۰۰.
[2] - سورة الفتح: ۱۸.

ته د الله تعالى رحمت شامل دى. خو په اخرت کې يواځې مؤمنانو باندې مهربان دى.

الله سبحانه وتعالى فرمايي:

((الرحمن الرحيم)) (( ډېر زيات مهربان اوخورا زيات لوروونکى دى)).

((كَتَبَ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ))[1]

((الله په خپل ځان رحمت ليکلى دى)) معنا دا چې الله تعالى داپه ځان منلې چې په خپل مخلوق باندې به مهرباني او لورېنې کوي.

((فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَاسِعَةٍ وَلاَ يُرَدُّ بَأْسُهُ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ))[2]

((که دوى ته دروغجن وګڼلې نو ورته ووايه چې ستاسو رب د پراخه مهربانۍ څښتن دى او د ورانکارانو خلکو نه د هغه عذاب بيرته نه ګرځي)).

((ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ))[3]

((دا ستا د رب د مهربانۍ يادونه ده )).

((وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ))[4]

((او زما رحمت هرشي ته پراخه دى)).

---

[1]- سورة الانعام: ١٢.
[2]- سورة الانعام : ١٤٧.
[3]- سورةمريم: ٢.
[4]- سورة الاعراف: ١٥٦.

((إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَالَّذِينَ هَاجَرُواْ وَجَاهَدُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أُوْلَـئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللّهِ وَاللّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ))[1]

((هغه خلک چې ایمان یې راوړی دی او د الله په لار کې یې هجرت او جهاد کړی دی هغوی بې شکه دالله د رحمت هیله لري او الله بښونکی او خورا زیات لوروونکی دی)).

((إِنَّ رَحْمَتَ اللّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ))[2]

((د الله رحمت بې شکه نېکانو سره نږدې دی)).

((قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلأَخِي وَأَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ))[3]

((موسی وویل: ای زما ربه!ما او زما ورور ته بښنه وکړه او ستا په رحمت کې مو ننباسه تهٔ تر ټولو ښه رحم کوونکی یې)).

نو دېر نصوص پهٔ دې څرګند دلالت کوي چې د الله سبحانه وتعالی له فعلي صفتونو نه یو صفت رحمت دی، د نورو ټولو صفتونو غوندې د الله تعالی رحمت هم د هیڅا او هیڅ شي د رحمت او مهربانۍ سره کوم ورته والی او مشابهت نهٔ لري، مونږ یې بې تشبیه، بې تمثیل او بې تکییف منو، ایمان پرې لرو او هیله یې لرو چې الله سبحانه وتعالی مو پهٔ خپل رحمت کې دننه کړي.

---

[1] - سورة البقرة: ۲۱۸.
[2] - سورة الاعراف: ۵۶.
[3] - سورة الاعراف: ۱۵۱.

## غضب

غضب هم د الله سبحانه وتعالی د فعلي صفتونو نه يو صفت دی، الله ﷻ پهٔ ځينو سرغړوونکيو بندګانو غضب کوي او غوسه کېږي، د هغهٔ ﷻ غوسه او غضب هم د هيچا او هيڅ شي د غوسې سره ورته والی نهٔ لري مونږ پرې بې تشبيه، بې تمثيل او بې تکييف ايمان لرو او الله تعالی نه د هغهٔ ﷻ د غضب اوغوسې نه پنا غواړو.

مونږ پنځه وخته او د نورو لمونځونو پهٔ هر رکعت کې وايوو چې: ((غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ))[1]

((مونږ د غضب کړی شويو او بې لارو له لارې وژغوره)).

نو دلته د غضب کړی شويو نه مراد هغه خلک دي چې الله تعالی پرې غضب کړی دی لکه يهوديان او ځينې نور.........

او الله تعالی فرمايي:

((قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَلِكَ مَثُوبَةً عِندَ اللّهِ مَن لَّعَنَهُ اللّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ))[2]

---

[1]- سورة الفاتحة:٧.

[2]- سورة المائدة: ٦٠.

((ورته ووايه چې آيا زه تاسو الله سره لۀ دې بترو سزاګانو والا باندې خبر کړم؟ څوک چې الله پۀ لعنت کړي دي او غوسه شوی دی پرې)).

((وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلاَّ مُتَحَرِّفاً لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزاً إِلَى فِئَةٍ فَقَدْ بَاء بِغَضَبٍ مِّنَ اللّهِ))[1]

((او جنګ ته راګرځېدونکي او خپلې ډلې ته ورتلونکي نه پرته چې چا د جنګ پۀ ورځ کافرانو ته شا واړوله نو هغه بې شکه د الله پۀ غوسې اخته شو)).

((مَن شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ))[2]

((څوک چې پۀ پراخه سينه کفر باندې خوښ شو نو پۀ هغوی د الله غوسه ده او هغوی لپاره لوی عذاب دی)).

د لعان په مساله کې به ښځه پنځم ځل وايي

((أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِن كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ))[3]

((که سړی رېښتينی وي نو په دې ښځې دې د الله غضب وي)).

((وَغَضِبَ اللهُ عَلَيْهِمْ .وَلَعَنَهُمْ وأَعَد لَهُمْ جَهَنَمَ وَسَاءَتْ مَصِيْرا))[4]

---

[1]- سورة الانفال: ١٦.
[2]- سورة النحل:١٠٦.
[3]- سورة النور: ٩.
[4]- سورة الفتح: ٦.

((او پۀ دوی الله غوسه شوی دی، په لعنت کړي يې دي او دوزخ يې ورته تيار کړی دی او دوزخ د ورتللو ډېر بد ځای دی)).

((أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِم))[1]

(( آيا تا هغه خلک نۀ دي ليدلي چې هغو خلکو سره ملګري شوي دي چې الله پرې غوسه شوی دی؟)).

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ))[2]

((ای مؤمنانو! هغو خلکو سره مۀ ملګري کېږئ چې الله پرې غوسه شوی دی)).

دا او داسې نور ډېر زيات نصوص دي او پۀ دې څرګند دلالت کوی چې ((غضب)) د الله تعالى د فعلي صفتونو نه يو صفت دی.

## محبت

د الله سبحانه وتعالى لۀ فعلي صفتونو څخه يو صفت ((محبت)) دی. الله تعالى د خپلو غاړه ايښودنکيو بنده ګانو سره مينه کوي او خوښوي يې. ښه کارونه او ښۀ خويونه خوښوي

[1]- سورة المجادلة: ١٤.

[2]- سورة الممتحنه: ١٣.

د الله سبحانه وتعالى مينه او محبت هم د نورو ټولو صفاتو په څېر د هغهﷻ په مخلوق کې د هيڅ او هيڅ شي سره هيڅ ورته والى او مشابهت نه لري، مونږ يې بې تشبيه، بې تمثيله او بې تکييفه منوو، ايمان پرې لرو او هيله لرو چې مونږ الله تعالى د خپلې مينې او محبت مستحق کړي او د خپلې مهربانۍ او سخاوت له مخې راسره مينه وکړي.

الله تعالى فرمايي:

((وَأَحْسِنُوَاْ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ))[1]

((او نېکي وکړئ الله بې شکه نېکانو سره مينه کوي)).

((وَاللّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ))[2]

((او الله صبر کوونکي خوښوي)).

((إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ))[3]

((الله بې شکه توکل کوونکيو سره محبت کوي)).

((إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ))[4]

((الله بې شکه توبه کوونکيو سره هم مينه کوي او ځانونه ښه پاکوونکيو سره هم مينه کوي)).

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ))[5]

---

[1]- سورة البقرة: ۱۹۵.
[2]- سورة آل عمران: ١٤٦.
[3]- سورة آل عمران: ۱۵۹.
[4]- سورة البقرة: ۲۲۲.
[5]- سورة المائدة: ٥٤.

((ای مؤمنانو! تاسو کې چې څوک د خپل دین نه وګرځېد نو الله به ډېر زر داسې خلک راولي چې الله به هغوی سره محبت کوي او هغوی به الله سره محبت کوي)).

همدارنګه نور ګڼ نصوص دي چې د الله ﷻ په محبت څرګند دلالت کوي او الله تعالی د ډېرو سرغړوونکیو سره محبت نه کويَ چې قرآن کریم کې ځای په ځای راځي د بېلګې په توګه:

((إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبِّ الْمُعْتَدِينَ))[1]

((الله بې شکه تېري کوونکیو سره محبت نهٔ کوي)).

((وَاللّهُ لاَ يُحِبُّ الفَسَادَ))[2]

((او الله فساد نهٔ خوښوي)).

((وَاللّهُ لاَ يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ))[3]

((او الله هر ناشکره ګناهګار نهٔ خوښوي)).

((وَاللّهُ لاَ يُحِبُّ الظَّالِمِينَ))[4]

((او الله ظالمانو سره مینه نهٔ کوي)).

نور ډېر نصوص دي او په دې څرګند دلالت کوي چې الله تعالی د ((محبت)) صفت هم لري.

---

[1]- سورة البقرة: ۱۹۰.
[2]- سورة البقرة: ۲۰۵.
[3]- سورة البقرة: ۲۷۶.
[4]- سورة آل عمران: ۵۷.

# صدق

د الله تعالی فعلي صفتونو څخه یل صفت ((صدق)) ((رښتیا ویل)) دي. الله سبحانه وتعالی رښتونی دی او له دروغو ویلو څخه پاک او منزه دی، الله تعالی تل ترتله رښتونی دی او رښتیا وايي، د هغهﷻ رښتیا ویل هم د هر سپېڅلي، پاک او لوړ دي مونږ يې بې تشبیه، بې تمثیله او بې تکییفه منوو او ایمان پرې لرو.

الله تعالی فرمايي:

((قُلْ صَدَقَ اللّهُ))[1] (( ورته ووایه چې الله رښتیا ویلي دي)).

((وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّهُ وَعْدَهُ))[2] ((او الله بې شکه تاسو سره خپله ژمنه رښتیا کړه)).

((وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللّهِ حَدِيثًا))[3] ((او په خبرو کې الله نه زیات رښتونی څوک دی؟)).

((و إنا لصادقون))[4] ((او مونږ بې شکه رښتیني یوو)).

((وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الأَحْزَابَ قَالُوا هَذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ))[1]

[1]- سورة آل عمران: ۹۵.
[2]- سورة آل عمران: ۱۵۲.
[3]- سورة النساء: ۸۷.
[4]- سورة الانعام: ۱۴٦.

((او کله چې مؤمنانو د کافرانو ډلې ولیدلې نو ویې ویل دا هغه دي چې الله او د هغهٔ پیغمبر یې مونږ سره وعده کړې وه او الله او د هغه پیغمبر ریښتیا ویلي دي))[1].

((وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلاً لاَّ مُبَدِّلِ لِكَلِمَاتِهِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ))[2]

(( او ستا د رب خبره پهٔ ریښتینولئ او انصاف پوره ده د هغهٔ د خبرو بدلوونکی نشته او هغه ښه اورېدونکی او ښه لیدونکی دی)).

دا او داسې نور ډېر داسې نصوص شته او هغه په ډېر څرګند دلالت کوي چې الله تعالی د ((صدق)) صفت لري.

## کلام

د الله سبحانه وتعالی له فعلي صفتونو نه یو ((کلام)) (خبرې) دي، الله ﷻ چې کله وغواړي خبرې کوي، د هغهٔ ﷻ خبرې د هغهٔ پهٔ مخلوق کې د هیچا او هیڅ شي سره هیڅ ډول ورته والی او مشابهت نهٔ لري، څرنګه چې د هغهٔ ﷻ د شان سره ښایي او وړ وي، هغسې یې کوي، مونږ یې بې تشبیه، بې تمثیله او بې تکییفه منوو او ایمان پرې لرو. د الله تعالی د خبرو کیفیت موسی ﷺ او هغه

---

[1] ـ سورة الاحزاب: ۲۲.

[2] ـ سورة الانعام: ۱۱۵.

چاته معلوم دی چې خبرې یې ورسره کړې وي، مونږ ته یې کیفیت معلوم نهٔ دی.

قرآن کریم هم د الله تعالی کلام دی او د هغهٔ ﷻ صفت دی صفة الخالق (د خالق صفت) دی، د الله تعالی د کلام د صفت پهٔ هکله زیات نصوص راغلي دي چې ځینې یې دا دي:

الله تعالی فرمایي:

«أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُواْ لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلاَمَ اللّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ»[1]

«آیا تاسو هیله لرئ چې هغوی به تاسو سره ایمان راوړي؟ حال دا چې د هغوی یو ډلې د الله کلام اورېدهٔ بیا بنهٔ پوهېدل، خو له دې وروسته چې پرې وه شول لهٔ خپلې معنا یې اړاوهٔ».

او فرمایي:

«وَكَلَّمَ اللّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا»[2]

«او موسٰی سره الله بې شکه خبرې کړې وې».

«وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلاً لاَّ مُبَدِّلِ لِكَلِمَاتِهِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ»[3]

«او ستا د رب خبره په رېښتیا او انصاف کې پوره ده، د هغهٔ د خبرو بدلوونکی نشته او هغه بنهٔ اورېدونکی او ډېر پوه دی».

---

[1]- سورة البقرة: ۷۵.
[2]- سورة النساء: ۱٦٤.
[3]- سورة الانعام: ۱۱۵.

((فَآمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَكَلِمَاتِهِ))[1]

((نو پهٔ الله او د هغهٔ په هغه نالوستي پېغمبر ایمان راوړئ چې پهٔ الله او د هغهٔ پهٔ خبرو ایمان راوړي))

((وَيُرِيدُ اللّهُ أَن يُحِقَّ الحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكَافِرِينَ))[2]

((او الله غواړي چې پهٔ خپلو خبرو حق ثابت کړي او د کافرانو بنسټ پرې کړي))

((وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّى يَسْمَعَ كَلاَمَ اللّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لاَّ يَعْلَمُونَ))[3]

((او که د مشرکانو کوم کس لهٔ تا پنا وغوښته نو لهٔ دې امله پنا ورکړه چې د الله خبرې واوري، بیا یې د خپل امن ځای ته ورسوه؛ دا لهٔ دې امله چې دوی داسې خلک دي چې نهٔ پوهېږي))

دا او داسې نور ډېر نصوص دي چې د الله سبحانه وتعالی د ((کلام)) پهٔ صفت دلالت کوي او د الله کلام او کلمې (خبرې) د انسان پهٔ شمېر کې نهٔ راځي:

((قُل لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا))[4]

---

[1]- سورة الاعراف: ١٥٨.
[2]- سورة الانفال:٧.
[3]- سورة التوبة:٦.
[4]- سورة الكهف: ١٠٩.

((ورته ووايه چې کۀ زما د رب د خبرو لپاره درياب سياهي شي او دهغې دمرستې لپاره همدومره نوره هم راوړو نو زما د رب د خبرو له خلاصېدو نه مخکې به درياب وچ شي)).

((وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ))[1]

((که په زمکې کې ټولې ونې قلمونه شي او درياب يې سياهي شي، لۀ دې وروسته اوه نور دريابونه شي نو هم د الله خبرې به خلاصې نۀ شي، الله بې شکه غالب او دحکمت څښتن دی)).

((تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ اللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ))[2]

((دا پېغمبران وو ځينې مو پۀ ځينو غوره کړي وو ځينې يې هغه څوک وو چې الله ورسره خبرې کړې دي او ځينې يې پۀ درجو کې لوړ کړي دي)).

---

[1]- سورة لقمان: ٢٧.
[2]- سوورة البقرة٢٥٣.

## مشيئت

د الله سبحانه وتعالى له فعلي صفتونو نه يو صفت مشيئت (خوښه او غوښتنه) ده.

الله چې څۀ وغواړي او څۀ يې خوښه شي کوي يې، هغه ټولواک او خپلواک دى او دهغۀ د مشيئت نه هيڅ هم خلاف نه شي کېدى؛ چې د هغۀ ﷻ خوښه شي هغه کېږي او چې دهغه خوښه نۀ وي هغه نۀ کېږي.

دالله سبحانه وتعالى د مشيئت د صفت پۀ هکله هم ډېر نصوص راغلي دي چې څو بېلګې يې دا دي:

((وَلَوْ شَاء اللّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ إِنَّ اللَّه عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ))[1]

((او کۀ د الله خوښه وى نو د دوى اورېدل او ليدل به يې لۀ منځه وړي وو او الله بې شکه پۀ هر شي ښه برلاسى دى)).

((وَاللّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَن يَشَاءُ))[2]

((او الله چې چاته وغواړي پۀ خپل رحمت يې ځانګړى کوي)).

((وَلَوْ شَاء اللّهُ مَا اقْتَتَلُواْ وَلَـكِنَّ اللّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ))[3]

---

[1]- سورة البقرة: ۲۰.
[2]- سورة البقرة: ۱۰۵.
[3]- سورة البقرة: ۲۵۳.

(( او كۀ الله غوښتى واى نو هغوى به سره نۀ ووجنګېدلي خو الله چې څۀ وغواړي كوي يې)).

((إِنَّ اللّهَ يَرْزُقُ مَن يَشَاء بِغَيْرِ حِسَابٍ))[1]

((الله بې شكه هغه چاته بې حسابه روزي وركوي چې ويې غواړي )).

## إستواء على العرش

د الله سبحانه وتعالى د فعلي صفتونو نه بل صفت ((استواء)) ده الله سبحانه وتعالى په عرش استواء كړې ده (پۀ عرش پورته شوى دى).

د الله سبحانه وتعالى عرش د اوو اسمانونو نه پورته دى.

لكه د نورو ټولو صفتونو غوندې استواء على العرش هم د الله تعالى صفت دى، هغه پۀ عرش پورته شوى دى او هيڅ اړتيا ورته نۀ لري، مونږ يې بې تشبيه، بې تمثيل او بې تكييف منوو او ايمان پرې لرو.

بې تشبيه دا معنا چې د هغۀ ﷻ پۀ مخلوق كې د هيچا او هيڅ شي سره ورته والى او مشابهت نۀ لري او نۀ يې وركوو.

بې تمثيل دا معنا چې د هغۀ ﷻ د ذات او صفاتو هيڅ سارى اومثال نۀ شته او نۀ يې مونږ وركوو.

---

[1]- سورة آل عمران: ۳۷.

بې تکییف دا معنا چې کیفیت اوځرنګوالی یې مونږ ته نه دی معلوم نو ځکه یې نه بیانولی شو اونۀ باید خبرې پکې وکړو.

استواء علی العرش یا د الله سبحانه وتعالی نور صفات به په اصل حقیقت او د الله تعالی پۀ علم کې یو کیفیت لري، خو مونږ ته یې علم نشته، نو ځکه مونږ ته روانۀ دي چې په کیفیت کې خبرې یا پوښتنې وکړو، علماء چې ((بلا کیف)) وایي د هغې همدا معنا ده چې ((بلا تکییف)) یعنې بې لۀ کیفیت ورکولو او کیفیت بیانولو او دا معنا نۀ ده چې ګنې لۀ سره کیفیت نۀ لري، دا خوبه بیا هسې مهمله خبره شي، ځکه چې یو کیفیت خو به لري چې الله تعالی ته معلوم دی، نود هغۀ ﷻ د علم نه هم د کیفیت ((ځرنګوالي)) نفي کول زمونږ حق نۀ دی ځکه چې د هغۀ ﷻ لۀ علمه مونږ خبر نۀ یو، نۀ همدې امله امام مالک ((رحمه الله)) څخه چې د استواء علی العرش پۀ هکله پوښتنه وشوه نو ویې ویل:

((الإستواء معلوم والکیف مجهول والسؤال عنه بدعة))[1]

(( إستواء معلومه ده ځرنګوالی یې نامعلوم دی او د ځرنګوالي پوښتنه کول بدعت دی)).

نو ((والکیف مجهول)) (کیفیت یې نامعلوم دی) یې وویل، دا معنا چې مونږ ته یې کیفیت معلوم نۀ دی نو ځکه یې وویل چې د کیفیت په هکله پوښتنه کول بدعت دی، ځکه چې د رسول الله ﷺ او صحابه ؤ رضی الله عنهم پۀ وخت کې د کیفیت پوښتنه نۀ ده شوې نو مونږ یې هم باید ونۀ کړو.

---

[1] ـ الجامع لاحکام القرآن للقرطبي: ۱۹۶/۷ و رواه البیهقی.

دا یې ونه ویل چې ((والکیف معدوم)) (کیفیت بېخي نشته) ، ځکه چې د الله تعالی په علم کې خوبه کیفیت لري، خو مونږ ته معلوم نه دی، نو ځکه یې مجهول بولو، الله سبحانه وتعالی لپاره هیڅ شی مجهول نه دی، ځکه چې هغهﷻ عالم دی او مونږ جاهلان یوو مونږ یواځې هغه محدود علم لرو چې الله تعالی راښوولی دی، له دې اخوا هر څه مونږ لپاره مجهول دي.

الله سبحانه وتعالی نه هیڅ شی نه پټ پنا دی او نه لرې دی. لرې والی او نږدې والی د مخلوق تر منځ وي، سره له دې چې الله تعالی د عرش دپاسه دی، هر شي ته نږدې دی او هر شی ورته نږدې دی.

د الله سبحانه وتعالی د فوقیت، لوړوالي، پورته والي او په عرش باندې د استواء په هکله ډېر نصوص راغلي دي چې ځینې یې دا دي:

الله تعالی فرمايي:

((اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ))[1]

((الله هغه ذات دی چې اسمانونه یې بې ستنو پورته کړي چې تاسو یې وینئ بیا په عرش پورته شو)).

---

[1] - سورة الرعد: ۲.

او فرمايي:

((إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ))[1]

((ستاسو رب بې شکه هغه الله دی چې اسمانونه او زمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، بيا په عرش پورته شوی دی)).

((الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى))[2]

((رحمان ذات په عرش پورته شوی دی)).

((اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ))[3]

((الله هغه ذات دی چې اسمانونه، زمکه او څه چې د دې دواړو ترمنځ دي په شپږو ورځو کې يې پيدا کړي دي، بيا په عرش پورته شوی دی)).

((هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ))[4]

((هغه، هغه ذات دی چې اسمانونه او زمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، بيا په عرش پورته شوی دی)).

همدارنګه په سورة الفرقان کې فرمايي:

((ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ))[1]

---

[1] - سورة الاعراف: ٥٤. سورة يونس: ٣.
[2] - سورة طه: ٥.
[3] - سورة السجدة: ٤.
[4] - سورة الحديد: ٤.

((بیا په عرش پورته شوی دی)).[1]

همدارنګه الله تعالی لهٔ پاسه زمکې ته احکام رالېږي، لکه چې فرمايي:

((يُدَبِّرُ الأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ))[2]

((لهٔ اسمانه زمکې ته دکار تدبير کوي، بيا هغهٔ ته پهٔ هغه ورځ خېژي چې د هغې کچ لهٔ هغو ورځو، چې تاسو يې شمېرئ زر کاله دی)).

او فرمايي:

((إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ))[3]

((هغهٔ ته پاکې خبرې ورپورته کېږي او نېک عمل پورته کوي)).

الله تعالی پورته دی نو ځکه پاکې خبرې ورخېژي.

او فرمايي:

((أَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ أَمْ أَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ))[4]

---

[1] - سورة الفرقان: ۵۹.
[2] - سورة السجدة: ۵.
[3] - سورة فاطر: ۱۰.
[4] - سورة الملک: ۱٦- ۱۷.

((آيا تاسو د هغه چانه نهٔ وېرېږئ چې پهٔ اسمان کې دی چې تاسو پهٔ زمکه ننباسي نو ناڅاپه به هغه لړزېږي اوآيا تاسو د هغه چانه نهٔ وېرېږئ چې پهٔ اسمان کې دی چې پهٔ تاسو د کاڼو ورونکی باد راولېږي نو زر ده چې پوه به شئ چې زما وېرونکی څرنګه دی؟))

نو دلته په صراحت وويل شول چې الله تعالی پورته دی.

إمام بخاري مجاهد نه د ((استوىٰ)) معنیٰ داسې نقلوي:

((استوىٰ: علیٰ، علی العرش)) (( د استوىٰ معنا دا ده چې په عرش هسک شوی دی)).

اسحاق بن راهويه وايي: ((سمعت غيرواحد من المفسرين يقول: الرحمن على العرش استوىٰ: ارتفع)) (( ماله ډېرو مفسرينو نه اورېدلي دي چې د (( الرحمن على العرش استوىٰ)) معنیٰ داسې کوي چې: (( پورته شوی دی)).

عبدالله بن رواحهؓ وايي:

شهدت بأن وعدالله حق و أن النار مثوى الكافرينا

و أن العرش فوق الماء طاف و فوق العرش رب العالمينا

و تحمله ملائكة شداد ملائكة الإله مسومينا

((زه د دې ګواهي کوم چې د الله ژمنه رېښتيا ده او اور د کافرانو د اوسېدو ځای دی، عرش د اوبو له پاسه دی او د عرش له پاسه د مخلوقاتو رب دی، عرش پياوړيواو ځواکمنو پرښتو له پاسه

دی چې د الله تعالی په ننبه شوې پربنتې دي » او دا د هغه اوږد حدیث مفهوم دی چې بخاري، مسلم او نورو کتابونو راوړی دی.

عبدالله بن مبارک رحمه الله ته چاوويل: مونږ به خپل رب څرنګه پېژنو؟ هغه ورته وويل: «بأنه فوق السماء السابعة على العرش بائن من خلقه»[1]

«په دې چې هغه د اوم اسمان له پاسه په عرش باندې دی او خپل مخلوق نه جلا دی».

په دې خبره ډېر زيات دليلونه دي او علماؤ پرې کتابونه ليکلي دي. لکه : إمام ذهبي «کتاب العلو» ليکلی، إمام ابن خزيمه «کتاب التوحيد» ليکلی، إمام ابن منده «کتاب التوحيد» ليکلی، إمام بيهقي «الاسماء والصفات» ليکلی اونور ګڼ کتابونه دي. د اهل سنت والجماعت د څلورو واړو امامانو: إمام أبوحنيفه، إمام مالک، إمام شافعي، إمام احمد بن حنبل « رحمهم الله » او د نورو علماؤ، مفسرينو، فقهاؤ او محدثينو رحمهم الله همدا عقيده ده او دهغوی تر منځ په عقيدوي مسائلو کې بيا په ځانګړې توګه د الله تعالی په صفاتو کې هيڅ اختلاف نشته.

د الله تعالی د فوقيت او عرش باندې استواء نه لومړی انکار جعد بن درهم کړی ؤ، بيا هغه نه جهم بن صفوان دا عقيده واخيسته اوخپره يې کړه. خالد بن عبدالله قسري رحمه الله راپاڅېد او جعد بن درهم يې وواژه. دا د تابعينو په اخري عصر کې مشهوره کيسه ده.

---

[1] ـ رواه الدارمي والبيهقي.

بيا امام ابوحنيفه، إمام مالک، إمام اوزاعي، إمام ثوري، إمام حماد بن سلمة، إمام حماد بن زيد، إمام عبدالله بن المبارک، إمام ليث بن سعد رحمهم الله ، او له هغوى راوروسته، إمام شافعي، إمام أحمد بن حنبل رحمها الله او نورو د أهل سنت والجماعت إمامانو او علماؤ رحمهم الله، د جعد او جهم په عقيدې ډېر پياوړي ردونه وکړل او خلکو ته يې د قرآن او حديثو سپېڅلې اسلامي عقيده وړاندې کړه.

إمام اوزاعي رحمه الله دخپل وخت د علماؤ په هکله وايي:

((کنا والتابعون متوافرون نقول: إن الله فوق عرشه و نؤمن بما وردت به السنة من صفاته)).[1]

((زمونږ او د تابعينو په دې اتفاق ؤ او ويل مو چې: الله تعالى د خپل عرش له پاسه دى او دالله تعالى د صفاتو په هکله چې کوم احاديث راغلي دي په هغو ايمان لرو)).

إمام أبوحنيفه رحمه الله په فقه اکبر کې وايي: ((ولانقول إستوى بمعنى إستولى)) ((مونږ دانه وايو چې استوى د ((إستولى)) په معنا دى)).

جهميان د ((استوى)) معنى په ((استولى)) کوي معنى دا چې: ((غالب شوى دى)) دا معنى ښځي ناسمه ده بيا دې لپاره يو شعر دليل راوړي چې:

قد استوى بشر على العراق من غير سيف و دم مهراق

---

[1]- أخرجه البيهقى فى الاسماء والصفات.

((بشر بن مروان بې له تورې او بې له وینو تویېدو په عراق غالب شو)).

نو د الله تعالی استواء د بشر استواء ته ورته ګڼل تشبیه او تمثیل دی او ببخي ناروا دی ځکه چې بشر لومړی په عراق غالب نه ؤ او عراق د بل چا لاس کې ؤ نو الله تعالی خو په خپل مخلوق تل غالب دی دا هماغه خبره ده چې وایي: ((باران نه تښتېدۀ ناوې لاندې یې شپه شوه)).

د الله سبحانه وتعالی هیڅ صفت د هیچا سره ورته نه دی. (( استواء علی العرش)) د الله تعالی په عرش هغه پورته والی دی چې زمونږ له خیال، اند، فهم، او ادراک نه ډېر لوړ او پورته دی مونږ پرې ایمان راوړو، دا د اسماني کتابونو، د ټولو پېغمبرانو او زمونږ د آخري خاتم الانبیاء والمرسلین پېغمبر محمدﷺ، صحابه ؤ او د اهل سنت والجماعت دامامانو او علماؤ عقیده ده.

دا یو ناورین او د افسوس وړ خبره ده چې حنفي مذهب ته ځینې منسوب خلک په دې خبر نه دي چې هغوی د الله تعالی په نومونو او صفتونو کې د اهل سنت و الجماعت (د څلورو امامانو او محدثینو) له مذهب او عقیدې نه مخالف دي هغوی په فقهي عملي مسائلو کې حنفیان دي خو په عقیدې کې ماتریدیان او جهمیان دي او سلفیان (اهل حدیث) په عقیدې کې حنفیان او په عملي فقهي مسائلو کې د څلورو واړو په دلیل قوي خبرې رااخلي او کمزورې پرېږدي.

په عقیدې کې د څلورو امامانو : امام ابو حنیفه، امام مالک، امام شافعي، امام احمد بن حنبل رحمهم الله او د اهل سنت د نورو علماو تر منځ هیڅ اختلاف نشته او په دې د دې څلورو مذاهبو او له دوی دباندې پیاوړي او نومیالي علماء پوهېږي خو ځینې ملانما جاهلان او عوام ترې ناخبره دي.

د حنفي مذهب پیاوړی عالم او مفسر : علامه آلوسي رحمه الله په خپل تفسیر : روح المعاني کې د انعام د سورت د اتلسم آیت: « وهو القاهر فوق عباده » په تفسیر کې د الله تعالی د فوقیت او په عرش باندې د استواء په هکله مدلله څېړنه کړې ده چې ځینې برخې یې مونږ دلته رانقلوو. هغه وایي:

« و أنت تعلم أن مذهب السلف إثبات الفوقية لله تعالى كما نص عليه الامام الطحاوي و غيره ».[1]

« ته پوهېږې چې د سلفو صالحینو مذهب دا دی چې الله تعالی لپاره پورته والی ثابتوي لکه چې امام طحاوي او نورو همداسې راوړي دي ».

بیا د الله د فوقیت په هلکه ګڼ احادیث او دلیلونه راوړي او بیا د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب داسې بیانوي:

« وكذا كلام السلف في ذلك فمنه ما روى شيخ الإسلام أبو إسماعيل الأنصاري في كتابه : «الفاروق» بسنده إلى أبي المطيع البلخي أنه سأل أبا حنيفة رضي الله تعالى عنه عمن قال : لا

[1]ـ تفسیر روح المعاني : ۷ / ۱۱۴.

أعرف ربي سبحانه فى السماء أم في الارض؟ فقال : قد كفر لأن الله تعالى يقول : « الرحمن على العرش استوى » و عرشه فوق سبع سموات. فقال : قلت : فإن قال : أنه على العرش ولكن لا أدري العرش فى السماء أم فى الأرض؟ فقال رضى الله تعالى عنه: هو كافر لأنه أنكر أنه فى السماء، ومن أنكر أنه فى السماء فقد كفر ».[1]

« د سلفو (صحابه کرامو، امامانو او پخوانیو علماو) وینا په دې هکله همداسې ده، له دې جملې نه دا هم ده چې شیخ الاسلام ابو اسماعیل انصاري (رحمه الله) په خپل کتاب: «الفاروق» کې خپل سند ابوالمطیع بلخي (رحمه الله) ته رسوي چې هغه امام ابوحنیفه (رحمه الله) نه پوښتنه وکړه چې څوک ووایي: زه نه پوهېږم چې زما رب سبحانه وتعالی په اسمان کې دی او که په زمکه؟ هغه وویل: بې له شکه کافر شو، ځکه چې الله تعالی فرمايي: « رحمن ذات په عرش پورته شوی دی » او عرش یې له اوو اسمانونو پورته دی. (ابوالمطیع) وایي: ما ورته وویل: که دا یې وویل چې هغه (جل جلاله) په عرش دپاسه دی خو زه نه پوهېږم چې عرش په اسمان کې دی او که په زمکه؟ امام ابوحنیفه رحمه الله وویل: هغه کافر دی ځکه چې هغه له دې انکار وکړ چې هغه پورته دی او چا چې له دې انکار وکړ چې هغه په اسمان کې دی نو هغه بې شکه کافر شو ».

---

[1] - تفسير روح المغاني : ۷ / ۱۱۵، شرح الطحاوية لابى العز الحنفي : ۳۲۲.

علامه آلوسي حنفي رحمه الله له دې وروسته بيا عقلي دليلونه راوړي او د الله تعالی فوقيت او په عرش استواء ترې ثابتوي.

اوس دې په نوم هغه حنفيان چې دا عقيده نه لري ووايي چې په کومه روان دي؟!

د احنافو ځينې علماء په دې اعتراف کوي چې مونږ په عقيدې کې د امام ابوحنيفه رحمه الله مقلدين نه يوو بلکه اشعريان او ماتريديان يوو. خليل احمد سهارنپوري وايي:

«إنا بحمدالله و مشائخنا و جميع طائفتنا مقلدون للإمام أبي حنيفة في الفروع ومتبعون لأبي الحسن الأشعري و أبي المنصور الماتريدي في العقيدة .......».[1]

«الحمد لله مونږ، زمونږ استاذان او زمونږ ټوله ډله په فرعي مسائلو کې د امام ابوحنيفه مقلدين يوو او په عقيدې کې د ابو الحسن اشعري او ابو المنصور ماتريدي تابعدار يوو».

## إتيان

اتيان (راتګ) هم د الله سبحانه وتعالی له فعلي صفتونو نه دی. او دالله تعالی راتګ دهغهٔ ﷻ جلال، کمال او عظمت صفت

[1] ـ المهند : ۲۹ ـ ۳۰.

دی، د هغهٔ ﷻ پهٔ مخلوق کې د هیڅا او هیڅ شي سره هیڅ ډول ورته والی او مشابهت نهٔ لري، مونږ ته يې نهٔ حقيقت معلوم دی او نهٔ كيفيت، د الله تعالی په علم کې چې څرنګه وي او د هغهٔ ﷻ د شان سره څرنګه لايق او مناسب وي هماغسې دی، مونږ يې بې له تشبيه، تمثيل او تكييف منوو او ايمان پرې لرو.

د الله سبحانه وتعالى د إتيان په هکله هم ډېر نصوص دي چې ځينې يې دا دي:

الله تعالى فرمايي:

((هَلْ يَنظُرُونَ إِلاَّ أَن يَأْتِيَهُمُ اللّهُ فِي ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلآئِكَةُ وَقُضِيَ الأَمْرُ وَإِلَى اللّهِ تُرْجَعُ الأمُورُ))[1]

((دوی يواځې دې انتظار كوي چې الله ورته د وريځې پهٔ سپوري کې راشي او پرښتې هم او فيصله وشي او ټول كارونه الله پورې اړه لري)).

((هَلْ يَنظُرُونَ إِلاَّ أَن تَأْتِيهُمُ الْمَلآئِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِيَ بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ))[2]

((دوی يواځې د دې انتظار کوي چې پرښتې ورته راشي يا ستا رب راشي او يا ستا د رب ځينې نښې راشي)).

نو دې نه د رحمت يا د عذاب راتګ اخيستل صحيح نهٔ دی، ځکه چې پرښتې او ځينې نښې جلا ذکر دي، چې نښو کې رحمت، عذاب او نورې نښې شاملې دي او د قيامت حال داسې بيانوي:

---

[1]- سورة البقرة: ۲۱۰.
[2]- سورة الانعام: ۱۵۸.

((وَجَاء رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا))[1]

((او ستا رب راشي او پرښتې کتار کتار وي)).

حافظ إبن کثير د امام بخاري د استاد: نعيم بن حماد الخزاعی وينا داسې رانقلوي:

**((من شبه الله بخلقه فقد كفر ومن جحد ما وصف الله به نفسه فقد كفر وليس فيما وصف الله به نفسه و لا رسوله تشبيه فمن أثبت لله تعالى ما وردت به الآيات الصريحة والأخبار الصحيحة على الوجه الذي يليق بجلال الله تعالى و نفى عن الله تعالى النقائص فقد سلك سبيل الهدى))**[2]

((چا چې الله تعالی د هغهٔ ﷻ مخلوق سره ورته وګڼله نو هغه بې شکه کافر شو او چاچې د کوم هغه صفت نه انکار وکړ چې الله تعالی پرې خپل ځان ستايلی دی نو هغه بې شکه کافر شو او الله چې په کومو صفاتو خپل ځان ستايلی دی يا د هغه پېغمبر پرې ستايلی دی په هغو کې کومه تشبيه نشته، نو چاچې الله تعالی ته هغه صفتونه ثابت کړل چې څرګند آياتونه او صحيح حديثونه پکې راغلي دي او په هغه طريقه يې ثابت وګڼل چې د الله سبحانه وتعالی د لوی شان سره ورِ وي او الله تعالی يې له ټولو عيبونو او نقصانونو نه پاک وګڼه نو هغه په سمه لار روان شو)).

---

[1]- سورة الفجر: ٢٢.

[2]- تفسير ابن كثير: ١٦٦/٣.

# شرک

شرک پۀ لغت کې ونډې او برخې ته ويل کېږي او پۀ اصطلاح کې د الله سبحانه وتعالی پۀ ذات، صفاتو او عبادت کې چاته ونډه ورکول شرک بلل کېږي.

شرک د توحيد ضد دی نو لۀ همدې امله د توحيد پۀ ترڅ کې د شرک رد هم وشو. پۀ يو زړۀ او يوې عقيدې کې توحيد او شرک دواړه نۀ ځايېږي، توحيد د شرک ړنګونکی دی او شرک د توحيد.

شرک ډېره لويه ګناه ده الله تعالی شرک نۀ بښي.

((إِنَّ اللّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاء))[1]

((الله بې شکه دا نۀ بښي چې هغۀ سره شريک پيدا شي او چاته چې وغواړي د شرک نه لاندې ګناوې ورته بښي)).

قرآن کريم کې شرک ځای پۀ ځای غندل شوی، رد پرې شوی او منع ترې شوې ده.

((وَمَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا))[2]

---

[1]- سورة النساء:۱۱۶/٤٨.
[2]- سورة النساء:٤٨.

((او چاچې الله سره شريک پيدا کړ نو هغۀ بې شکه لويه ګناه وتړله)).

((وَمَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً بَعِيدًا))[1]

((او چاچې الله سره شريک پيدا کړ نو هغۀ بې شکه پۀ لرې بې لارې بې لارې شو)).

((إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّهُ عَلَيهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ))[2]

((چا چې الله سره شريک پيدا کړ نو الله بې شکه پۀ هغۀ جنت حرام کړې دی او د هغۀ دېره اور دی)).

((وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاء فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ))[3]

((او چاچې الله سره شريک پيدا کړ نو داسې شوه لکه چې لۀ اسمانه راپرېوځي او مرغان يې وتښتوي يا يې باد پۀ يوۀ لرې ځاى کې وغورځوي)).

او شرک نه پۀ سختۍ منع کوي او فرمايي:

((وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا))[4]

((د الله عبادت وکړئ او هغۀ سره هېڅ شى مۀ شريکوئ)).

---

[1]- سورة النساء:۱۱٦.
[2]- سورة المائدة:۷۲.
[3]- سورة الحج: ۳۱.
[4]- سورة النساء: ۳٦.

((قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلاَ يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا))[1]

((ورته ووایه چې زهٔ بې شکه تاسو غوندې انسان یم ماته د دې وحې کېږي چې ستاسو معبود بې شکه یو معبود دی نو څوک چې د خپل رب سره د مخ کېدو هیله لري نو نېک عمل دې وکړي او دخپل رب په عبادت کې دې هیڅوک نهٔ شریکوي)).

او مؤمنانو ته لاربنوونه کوي چې کله یې د حکومت چارې لاس ته راشي او د خلافت په مسند کېني نو هم به شرک نهٔ کوي:

((وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لاَ يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ))[2]

((تاسو کې چې چا ایمان راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي الله ورسره وعده کړې ده چې د هغو خلکو غوندې به د زمکې خلافت ورکړي لکه له دوی مخکې خلکو ته یې چې ورکړی ؤ، دوی لپاره به د دوی هغه دین ځواکمن کړي چې دوی لپاره یې غوره کړی دی او د دوی وېره به ورته په امن بدله کړي، زما عبادت

[1]- سورة الكهف: ۱۱۰.
[2]- سورة النور: ۵۵.

به کوي او ماسره به هیڅ شی نه شریکوي او چاچې له دې وروسته کفر وکړ نو همغوی بدکاران دي)).

((وَلَم يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْك))[1]

(( او هغهٔ سره پهٔ پاچایي کې هیڅوک شریک نشته)).

او فرمایي:

((وَادْعُ إِلَى رَبِّكَ وَلاَ تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ))[2]

(( او د خپل رب لورته خلک راوبله او هیڅکله لهٔ مشرکانو څخه نهٔ شې )).

او فرمایي:

((وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَلاَ تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ))[3]

((لمونځ وکړئ او له مشرکانو څخه مهٔ کېږئ)).

لقمان هم خپل زوی ته نصیحت کوي او ورته وایي:

((يَا بُنَيَّ لاَ تُشْرِكْ بِاللَّه إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ))[4]

((ای زویه! الله سره شریک مهٔ پیدا کوه شرک بې شکه لوی ظلم دی)).

د مور او پلار طاعت فرض دی خوکهٔ په شرک امر وکړي بیایې منل نشته

[1] ـ سورة بنی اسرائیل: ۱۱۱.
[2] ـ سورة القصص: ۸۷.
[3] ـ سورة الروم: ۳۱.
[4] ـ سورة لقمان: ۱۳.

الله تعالی فرمايي:

((وَإِن جَاهَدَاكَ عَلى أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلاَ تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ))[1]

((او که مور او پلار دربانديې دا کوښښ وکړي چې ماسره هغه څه شريک کړې چې علم دې پرې نشته نو بيايې مه منه، په دنيا کې ورسره ښه ملګرتيا کوه او د هغه چا د لارې تابع شه چې ماته راستون شوی دی)).

د مؤمناتو د بيعت په وخت کې الله تعالی رسول اللهﷺ ته فرمايي:

((يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَن لاَّ يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلاَ يَسْرِقْنَ وَلاَ يَزْنِينَ وَلاَ يَقْتُلْنَ أَوْلاَدَهُنَّ وَلاَ يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلاَ يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ))[2]

((ای پيغمبره! کله چې تاته مؤمنانې راشي او په دې بيعت درسره کوي چې الله سره به هيڅ شی نه شريکوي، غلا به نۀ کوي، زنا به نۀ کوي، خپل بچي به نۀ وژني، خپل مخکې وروسته به پۀ چاتور نۀ لګوي، او پۀ ښو کارونو کې به تانه سرغړونه نه کوي، نو بيعت ورسره وکړه، او الله نه ورته ښښنه وغواړه، الله بې شکه ډېر ښښونکی اوخورا زيات لورووونکی دی)).

---

[1]- سورة لقمان: ۱۵.
[2]- سورة الممتحنة:۱۲.

د قیامت په ورځ چې مشرکان د شرک بدې پایلې وګوري نو شرک نه به انکار وکړي:

((وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُواْ أَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ثُمَّ لَمْ تَكُن فِتْنَتُهُمْ إِلاَّ أَن قَالُواْ وَاللّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ انظُرْ كَيْفَ كَذَبُواْ عَلَى أَنفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ))[1]

((او په هغه ورځ چې مونږ به ټول را ټول کړو، بیا به مشرکانو ته ووایو: تاسو یې چې دعوه کوله ستاسو هغه شریکان چېرته دي؟ بیا به دهغوی هیڅ چل او ځواب نۀ جوړېږي خو وبه وايي: په الله مو قسم دی چې زمونږ رب دی چې مونږ مشرکان نۀ وو. وګوره چې څرنګه يې په ځانونو دروغ ووېل او هغه څۀ ترې ورک شول چې په دروغو به يې راجوړول)).

او څوک يې چې الله تعالی سره شریک کړی دی هغوی به هم ددوی له شرکه انکار وکړي:

((وَإِذَا رَأى الَّذِينَ أَشْرَكُواْ شُرَكَاءهُمْ قَالُواْ رَبَّنَا هَـؤُلاء شُرَكَآؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوْ مِن دُونِكَ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ))[2]

((او کله چې مشرکان خپل شریکان وګوري نو وبه وايي: ای زمونږ ربه! دا زمونږ هغه شریکان دي چې لۀ تاپرته به مو رابلل نو

[1] ـ سورة الانعام:۲۲ ـ ۲٤.
[2] ـ سورة النحل:۸٦.

هغوی به ورته په ځواب کې ووايي چې تاسو بې شکه هرومرو دروغجن يئ)).

څه مشرکان به خپلو معبودانو ته بلنه ورکړي:

((وَيَوْمَ يَقُولُ نَادُوا شُرَكَائِيَ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُم مَّوْبِقًا))[1]

((او په هغه ورځ چې الله به وفرمايي: زما هغو شريکانو ته غږ وکړئ چې تاسو يې دعوه کوله، نو راوبه يې بلي، هغوی به هيڅ ځواب ورنهٔ کړي او مونږ به دهغوی تر منځ د هلاکت پرده جوړه کړو)).

او د دواړو حال داسې څرګند وي:

((وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ الَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ قَالَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ رَبَّنَا هَؤُلَاء الَّذِينَ أَغْوَيْنَا أَغْوَيْنَاهُمْ كَمَا غَوَيْنَا تَبَرَّأْنَا إِلَيْكَ مَا كَانُوا إِيَّانَا يَعْبُدُونَ وَقِيلَ ادْعُوا شُرَكَاءكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَرَأَوُا الْعَذَابَ لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا يَهْتَدُونَ))[2]

((او په هغه ورځ چې غږ به ورته وکړي نو ورته وبه وايي: زما هغه شريکان چېرته دي چې تاسو يې دعوه کوله؟ چا باندې چې عذاب ثابت شوی دی، هغوی به ووايي: ای زمونږ ربه دا هغه خلک دي چې مونږ بې لارې کړي وو، لکه څرنګه چې مونږ سرغړوونکي وو دوی

---

[1]- سورة الكهف: ٥٢.

[2]- سورة القصص: ٦٢- ٦٤.

مو هم بې لارې کړي وو، مونږ تاته بېزار يوو، دوی زمونږ عبادت نهٔ کاوهٔ. او ورته وبه ويل شي چې تاسو خپل شريکان راوبلئ، نو راوبه يې بلي، هغوی به هيڅ ځواب ورنهٔ کړي، عذاب به وګوري او ارمان به وکړي چې کاشکې دوی لاره موندلې وای)).

((ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ مِن دُونِ اللَّهِ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا بَل لَّمْ نَكُن نَّدْعُو مِن قَبْلُ شَيْئًا كَذَلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ الْكَافِرِينَ)) [1]

((بيا به دوی ته وويل شي چې هغه معبودان چېرته دي چې له الله پرته تاسو هغه سره شريکول؟ هغوی به ووايي چې مونږ نه ورک شول بلکه لهٔ دې مخکې مونږ هيڅ شی نهٔ رابالهٔ کافران الله همداسې بې لارې کوي)).

((فَلَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا قَالُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَحْدَهُ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِ مُشْرِكِينَ [2] ))

((نو کله چې زمونږ عذاب وګوري نو وبه وايي چې مونږ يواځې پهٔ يو الله ايمان راوړی دی او په هغو معبودانو مو کفر کړی دی چې د هغوی له امله مونږ مشرکان وو)).

((وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَائِي قَالُوا آذَنَّاكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَدْعُونَ مِن قَبْلُ وَظَنُّوا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ)) [3]

---
[1] - سورة المؤمن: ۷۳/ ۷٤.
[2] - سورة المؤمن: ۸٤.
[3] - سورة حم السجدة: ٤۷ - ٤۸.

((په هغه ورځ چې غږ به ورته وکړي چې زما شریکان چېرته دي؟ هغوی به ووایي چې مونږ درته په ډاګه وایوو چې مونږ نه هیڅوک د دې ګواه نشته او هغه معبودان به ورځخه ورک شي چې مخکې یې رابلل او باور به وکړي چې دوی لپاره دخلاصي ځای نشته)).

د مشرکانو سره جنګېدل او جهاد فرض دی:

((وَقَاتِلُواْ الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَآفَّةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ))[1]

((ټولو مشرکانو سره داسې وجنګېږئ لکه هغوی چې تاسو ټولو سره جنګېږي او په دې پوه شئ چې الله بې شکه پرهېزګارانو سره دی)).

جهاد د دې لپاره دی چې مشرکانو او منافقانو لپاره دنیا کې عذاب، غضب او لعنت دی او اخرت کې جهنم:

((وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ الظَّانِّينَ بِاللَّهِ ظَنَّ السَّوْءِ عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ وَسَاءتْ مَصِيرًا))[2]

((او د دې لپاره چې منافقانو سړیو او منافقاتو ښځو. مشرکانو سړیو او مشرکاتو ښځوته عذاب ورکړي چې الله باندې بدګمان کوونکي دي، په دوی بدې پېښې دي. الله پرې غوسه شوی

[1] - سورة التوبة: ۳۶.
[2] - سورة الفتح: ٦.

دی، پهٔ لعنت کړي يې دي ، دوزخ يې ورته تيار کړی دی او دوزخ د ورګرځيدلو بدځای دی)).

مشرکانو نه الله تعالی او د هغهٔ پيغمبر بېزار دی او الله تعالی خپل پيغمبر ته امر کوي چې د لوی اختر په ورځ د مکې مکرمې پهٔ منی کې د دې بېزارۍ اعلان وکړه:

((بَرَاءةٌ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ))[1]

((تاسو چې کومو مشرکانو سره تړون کړی ؤ هغوی ته د الله او د هغهٔ د پيغمبر له لوري د بېزارۍ اعلان دی)).

او فرمايي:

((وَأَذَانٌ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الأَكْبَرِ أَنَّ اللّهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ))[2]

((او د لوی حج پهٔ ورځ د الله او دهغهٔ د پيغمبر له پلوه خلکو ته دا اعلان دی چې الله او د هغهٔ پيغمبر له مشرکانو نه بېزار دی)).

مشرکانو نه دجومات جوړول او نور ښهٔ کارونه هم نهٔ قبليږي:

(( مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُواْ مَسَاجِدَ الله شَاهِدِينَ عَلَى أَنفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ أُوْلَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ))[3]

---

[1] - سورة التوبة:١.
[2] - سورة التوبة:٣.
[3] - سورة التوبة:١٧.

((مشرکانو ته نهٔ ښايي چې د الله جوماتونه جوړ کړي هغوی پهٔ خپلو ځانونو د کفر ګواهان دي د دوی عملونه برباد شوي دي او دوی به پهٔ اور کې تل وي)).

او پېغمبرﷺ ته فرمايي:

((قُلْ إِنَّمَا أَدْعُو رَبِّي وَلاَ أُشْرِكُ بِهِ أَحَدًا))[1]

((ورته ووايه چې زهٔ بې شکه خپل رب رابلم او هغهٔ سره هیڅوک نهٔ شریکوم)).

((إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أُوْلَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ))[2]

((اهل کتاب او مشرکان کافران به د دوزخ پهٔ اور کې تل وي او دوی تر ټولو ډېر بد خلک دي)).

او رسول اللهﷺ ته فرمايي:

((قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ))[3]

((ورته ووايه! ای کتابيانو! داسې يوې خبرې ته راشئ چې زمونږ او ستاسو تر منځ برابره ده، هغه دا چې لهٔ الله پرته به د بل هیچا عبادت نه کوو او هغه سره به هیڅ شی نهٔ شریکوو مونږ به خپلو منځو کې يو بل لهٔ الله پرته ربان نهٔ نیسوو)).

---

[1] - سورة الجن: ۲۰.
[2] - سورة البينة: ٦.
[3] - سورة آل عمران: ٦٤.

((قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادةً قُلِ اللّهُ شَهِيدٌ بِيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللّهِ آلِهَةً أُخْرَى قُل لاَّ أَشْهَدُ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَـهٌ وَاحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ))[1]

((ورته ووايه چې په ګواهۍ کې څه شی ډېر لوی دی؟ ورته ووايه الله زمونږ او ستاسو تر منځ ګواه دی. او ماته د دې قرآن وحې د دې لپاره شوې ده چې زه پرې تاسو او هغه څوک ووېروم چې ورته ورسېږي؛ آيا تاسو د دې ګواهي کوئ چې الله سره نور معبودان دي؟ ورته ووايه چې زۀ ګواهي نۀ کوم؛ ورته ووايه چې هغه بې شکه يو معبود دی او زۀ بې شکه لۀ هغو معبودانو څخه بېزار يم چې تاسو يې الله سره شريکوئ)).

((قُلْ تَعَالَوْاْ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلاَّ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا))[2]

((ورته ووايه راشئ چې زه په تاسو هغه څۀ ولولم چې ستاسو رب په تاسو حرام کړي دي چې هغۀ سره به هيڅ شی نۀ شريکوئ)).

((قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ))[3]

---

[1]- سورة الانعام: ۱۹.
[2]- سورة الانعام: ۱۵۱.
[3]- سورة الانعام: ۱۶۲/۱۶۳

((ورته ووایه چې زما لمونځ، زما حلاله، زما ژوند او زما مرګ بې شکه یواځې الله لپاره دي چې د ټولو مخلوقاتو رب دی، هغهٔ سره شریک نشته، ماته پهٔ همدې امر شوی دی او زه لومړی له مسلمانانو یم)).

یوسفعليه السلام پهٔ زندان کې خپلو ملګرو ته وایي:

((مَا كَانَ لَنَا أَن نُّشْرِكَ بِاللّهِ مِن شَيْءٍ))[1]

((مونږ ته د دې اختیار نشته چې الله سره کوم شی شریک کړو)).

او رسول اللهﷺ ته فرمایي:

((قُلْ هَـذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَاْ وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللّهِ وَمَا أَنَاْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ))[2]

((ورته ووایه چې دا زما لار ده زهٔ الله ته پهٔ علم اودلیل خلک رابلم او څوک چې ماپسې راځي هغوی هم دا کار کوي، الله پاک دی او زهٔ له مشرکانو څخه نهٔ یم)).

((قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللّهَ وَلا أُشْرِكَ بِهِ))[3]

((ورته ووایه چې ماته بې شکه امر شوی دی چې د الله عبادت وکړم او هغه سره شریک پیدا نه کړم)

((وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَم يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُن لَّهُ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلَّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا))[1]

---

[1]- سورة يوسف:۳۸.
[2]- سورة يوسف: ۱۰۸.
[3]- سورة الرعد:۳٦.

((او ورته ووایه چې هغه الله لپاره کره پوره ثنا ده چې زوی یې نۀ دی نیولی، په پاچایي کې ورسره شریک نشته او د بې وسی له امله یې څوک مددګار هم نشته او په ډېرې لویي یې وستا یه)).

((اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ هَلْ مِن شُرَكَائِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن ذَلِكُم مِّن شَيْءٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ))[۲]

((الله هغه ذات دی چې تاسو یې پیدا کړي یئ، بیا یې روزي درکړې ده، بیا مو مړۀ کوي، بیامو را ژوندي کوي، آیا ستاسو په شریکانو کې داسې څوک شته چې له دې کارونو څخه کوم کار کوي؟ هغه پاک دی او له هغو شریکانو څخه لوړ دی چې دوی یې ورسره شریکوي)).

شرک دومره لویه او سخته ګناه ده چې الله تعالی په قرآن کریم کې په یو ځای کې د اتلسو پېغمبرانو یادونه کوي او بیا فرمایي:

((وَلَوْ أَشْرَكُواْ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ))[۳]

((که هغوی شرک کړی وای نو د هغوی هغه عملونه به ترې برباد شوي وو چې هغوی کول)).

---

[۱]- سورة الاسراء: ۱۱۱.
[۲]- سورة الروم: ۴۰.
[۳]- سورة الانعام:۸۸.

او رسول اللهﷺ ته فرمايي:

((وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ))[1]

((او بې شكه تا او تانه مخكې پېغمبرانو ته وحې شوې وه چې كۀ تا شرک وکړ نو عمل به دې خامخا برباد شي او هرومرو به لۀ تاوانیانو څخه شې)).

او د ابراهیم‌العلیه سساينه داسې کوي:

((إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ))[2]

((ابراهيم بې شكه الله ته غاړه ایښودونکی او حق ته راګرځېدونکی امت ؤ او لۀ مشرکانو څخه نۀ ؤ)).

- پخوانیو قومونو کې یو مشرک ته یو موحد نصیحت کاوه او هغۀ نۀ مانۀ کله چې الله د هغۀ باغ تباه کړ نو ويې ویل:

((يَا لَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّي أَحَدًا))[3]

((كاشكې چې ما خپل رب سره هیڅوک نه وای شریک کړي)).

ابراهیم‌العلیه خپل قوم ته ویلي وو:

((يَا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ))[4]

---

[1] - سورة الزمر:٦٥.
[2] - سورة النحل:١٢٠.
[3] - سورة الكهف:٤٢.
[4] - سورة الانعام:٧٨.

((ای زما قومه! زه هغه شرک نه بېزار یم چې تاسو يې کوئ)).

او رسول الله ﷺ ته فرمايي:

((قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُواْ بِاللّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَن تَقُولُواْ عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ))[1]

((ورته ووايه چې زما رب بې شکه څرګند او پټ بې حيا کارونه، ګناه، ناحقه بغاوت او دا حرام کړي دي چې الله سره هغه څۀ شريک کړئ چې دليل يې پرې نۀ دی رالېږلی او دا چې پۀ الله هغه څۀ ووايئ چې پرې نۀ پوهېږئ)).

او فرمايي:

((فَتَعَالَى اللّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ أَيُشْرِكُونَ مَا لاَ يَخْلُقُ شَيْئاً وَهُمْ يُخْلَقُونَ))[2]

((نو الله له هغو ډېر هسک دی چې دوی يې ورسره شريکوي. آيا دوی هغه څوک ورسره شريکوي چې هيڅ شی نۀ شي پيدا کولی او دوی پيدا کېږي؟)).

او فرمايي:

((قُلِ ادْعُواْ شُرَكَاءكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلاَ تُنظِرُونِ))[3]

---

[1]- سورة الاعراف: ۳۳.

[2]- سورة الاعراف: ۱۹۰- ۱۹۱.

[3]- سورة الاعراف: ۱۹۵.

((ورته ووایه چې تاسو خپل شریکان راوبلئ بیا ماته څۀ چل جوړ کړئ او مهلت مۀ راکوئ)).

((وَجَعَلُواْ لِلّهِ أَندَادًا لِّيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِهِ قُلْ تَمَتَّعُواْ فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ))[1]

((او الله ته یې شریکان د دې لپاره ټاکلي دي چې خلک د الله له لارې بې لارې کړي ورته ووایه: دنیا نه ګټه واخلئ ستاسو ورتګ اورته دی)).

او فرمایي:

((الَّذِينَ آمَنُواْ وَلَمْ يَلْبِسُواْ إِيمَانَهُم بِظُلْمٍ أُوْلَـئِكَ لَهُمُ الأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ))[2]

((هغه خلک چې ایمان یې راوړی وي او خپل ایمان یې شرک سره نۀ وي ګډ کړی نو دوی لپاره امن دی او همدوی لارموندونکي دي)).

دلته ظلم نه مراد شرک دی لکه چې حدیث کې یې تفسیر داسې راغې:

عبدالله بن مسعود ﷺ وایي: کله چې دا آیة نازل شو: ((ولم یلبسوا إیمانهم بظم)) نو صحابه ؤ وویل: مونږ نه به کوم یو ظلم نه وي کړی؟ رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: دې ظلم نه مراد شرک دی لکه

[1]- سورة ابراهيم: ۳۰.
[2]- سورة الانعام:۸۲.

چې لقمان خپل ځوی ته وايي: ((إن الشرك لظلم عظيم)).[1] ((شرک بې شکه لوی ظلم دی)).

صحابه کرامو دا ګمان وکړ چې دې ظلم نه عام له شرک نه لاندې او په ځان ظلم مراد دی نو ځکه اند ېښمن شول. رسول الله ﷺ په دې وپوهول چې دلته ظلم نه مراد شرک دی.

شرک ډېره لويه ګناه ده چې بې له توبې هیڅ نه ښښل کېږي حدیث کې راځي:

عن أبي ذر قال: قال رسول الله ﷺ: ((يقول الله: ((يا ابن آدم! لو عملت قراب الأرض خطايا ولم تشرك بي شيئا جعلت لك قراب الأرض مغفرة)).[2]

ابو ذر ؓ نه روايت دی هغه وايي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ((الله تعالى فرمايي: ((اى بني آدمه! که د ځمکې د ډکون په کچ ګناوې دې کړې وي او ماسره دې هيڅ شی شريک نه وي ګڼلی نو زه به درته د ځمکې د ډکون په کچ ښښنه وکړم)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة ؓ عن النبىﷺ قال: ((إجتنبوا السبع الموبقات)) قالوا: يا رسول الله وما هن؟ قال: ((الشرك بالله والسحر وقتل النفس التى حرم الله إلاباالحق و أكل الربا و أكل

---

[1] ـ رواه البخاري و أحمد.

[2] ـ رواه أحمد و الترمذي والبخاري فى خلق أفعال العباد، وابن حبان و البيهقى فى شعب الايمان والحاكم والبزار والدارمي و ابوعوانة.

مال اليتيم والتولى يوم الزحف و قذف المحصنات المؤمنات الغافلات)).[1]

ابو هريرةﷺ نه روايت دی چې نبي کريمﷺ فرمايلي دي: ((تاسو له اوو هلاکوونکو ګناهونو نه ځانونه وژغورئ)) صحابه ؤ وويل: ای د الله پېغمبره! هغه کوم دي؟ هغه وفرمايل: ((الله سره شريک ګڼل، کوډې کول، له حق پرته د هغه چا وژل چې الله حرام کړی وي، د سود خوړل، د يتيم د مال خوړل، دښمن سره د مخ کېدو په ورځ دښمن ته شا اړول او تښتېدل او په ناخبرو پاکو مؤمنو ښځو تور لګول)).

بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي بكرة قال: قال النبيﷺ: ((أكبر الكبائر الإشراك بالله))[2]

ابو بکره ﷺ نه روايت دی هغه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: ((ترټولو لويه ګناه الله سره شريک پيدا کول دي)).

عبدالله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه وايي ما رسول اللهﷺ نه پوښتنه وکړه چې په ګناهونو کې تر ټولو لويه ګناه کومه ده؟ هغه راته وويل: (( أن تجعل لله ندا وهو خلقك)) (( دا چې الله ته پيدا کړی يې او بيا هم ته ورسره شريک پيدا کړې)) ماورته وويل: بيا کومه ده؟ هغه وفرمايل: ((أن تقتل ولدك خشية أن يطعم معك)).

---

[1]- رواه البخارى ومسلم و الترمذى و أبو داود و الدارمي و ابن خزيمة وابن حبان والبيهقى.
[2]- رواه البخاري و مسلم.

(( دا چې ته له دې وېرې خپل بچی ووژنې چې ډوډۍ به درسره وخوري)) ما ورته وویل : بیا کومه ده؟ هغه وفرمایل: ((أن تزاني حليلة جارك)) (( دا چې د خپل ګونډي ښځې سره زنا وکړې)) بیا یې دا آیاتونه ولوستل: ((والذين لا يدعون مع الله إلها آخر و لايقتلون النفس التى حرم الله إلا بالحق و لايزنون.......))[1]

او معاذ بن جبل ﷺ نه روایت دی هغه وایي چې زه پېغمبر ﷺ پسې خرۀ باندې سپور وم نو راته وېې فرمایل: ای معاذه! آیا ته پوهېږې چې د الله حق په خپلو بندګانو څه شی دی او د بنده ګانو حق په الله څه شی دی؟ ما ورته وویل: الله او د هغه پېغمبر ښه پوهېږي. هغه وفرمایل:

((حق الله على العباد: أن يعبدوه ولا يشركوا به شيئاً و حق العباد على الله: أن لايعذب من لايشرک به شيئاً)).[2]

(( د الله تعالی حق په بنده ګانو دا دی چې یواځې د هغه عبادت وکړي او هیڅ شریک ورسره ونه ګڼي او د بندګانو حق په الله تعالی دا دی چې څوک ورسره هیڅ شریک نه وي ګڼلی هغه ته عذاب ورنه کړي)).

په الله تعالی حق داسې نه وي لکه بندګان یې چې یو په بل لري بلکه جنت د الله تعالی یوه جائزه او انعام دی او دا جائزه په توحید ګټل کېږي نو په الله حق دا معنی چې د الله تعالی د دې انعام

---

[1] ـ رواه البخاري و مسلم.
[2] ـ رواه البخاري و مسلم.

مستحق کېدل او ګڼل. او په الله تعالی حق د هغهﷻ د لویې مهربانۍ او پېرزوینې له مخې د دغې جائزې او انعام اعلان دی.

نو شرک ډېره لویه ګناه ده او د شرک په رد کې ډېر زیات نصوص راغلي دي. الله تعالی سره د هغهﷻ په مخلوق کې څه شی یا څوک برابر ګڼل هم شرک دی او که برابر يې نه ګڼي خو د الله تعالی په ځانګړتیاؤ یا حقوقو کې کوم ډول بل چاته وګڼي هم شرک دی. شرک او مشرک د نوم په بدلولو نه بدلېږي که هر تاویل او بدلون پکې وکړې خو چا چې شرک وکړ هغه مشرک دی خرۀ ته که نوم بدل کړې نوهم خر دی.

مخکې چې د توحید درې ډولونه تېر شول د هر ډول په مقابل کې د شرک یو ډول دی لکه:

(۱): ((توحید الربوبیة)) او په مقابل کې يې ((شرک فی الربوبیة)) دی.

(۲): ((توحید الالوهیة)) او په مقابل کې يې ((شرک فی الالوهیة)) دی.

(۳): ((توحید الاسماء والصفات)) او په مقابل کې يې ((شرک في الاسماء والصفات)) دی.

بیا هلته چې د هر ډول کوم تفصیل تېر شو د هغه په ترڅ کې د شرک یو ډول څرګند شو او د شرک دا ډولونه بیا په لاندې څو برخو وېشل کېږي:

## د شرک ډولونه

شرک په لومړي وېش په درې ډوله دی:
(۱) د ماهیت او څرنګوالي په توګه.
(۲) دلوی والي او وړوکوالي په توګه.
(۳) د څرګندوالي او پټ والي په توګه.

## د ماهیت په توګه شرک

دا شرک په دوه ډوله دی:
(۱) إعتقادي.
(۲) عملي.

## إعتقادي شرک

إعتقادي شرک د ګروهې (عقیدې) شرک ته ویل کېږي او هغه دا دی چې د الله تعالی ځانګړتیاؤ کې څوک شریک وګڼي، که په ذات کې وي او که په صفاتو کې وي او که په افعالو یا عبادت کې په دې کې که چاته د الله تعالی عبادت، صفت یا فعل ثابت وګڼي که هغه ((اله)) وګڼي او که مخلوق یې وګڼي خو د الله تعالی په افعالو، صفاتو او عبادت کې شریک ګڼل او د الله تعالی عبادت،

فعل او صفت بل چاته ورکول إعتقادي شرک دی. دا بیا په څلور ډوله دی:
(۱) په ذات کې شریک ګڼل.
(۲) په صفاتو کې شریک ګڼل.
(۳) په افعالو او تصرف کې شریک ګڼل.
(۴) په حقوقو او عبادت کې شریک ګڼل.
چې دا ټول د توحید د ډولونو په ترځ کې تېر شول.

## عملي شرک

عملي شرک دا دی چې بنده د عبادت کوم ډول له الله تعالی پرته بل چاته وکړي، که هغه د دغه عبادت مستحق ګڼي او که نه، خو د عبادت دغه ډول هغه ته کول شرک دی، لکه د الله تعالی او د مخلوق تر منځ واسطې جوړول، نذرونه منل او ورکول او داسې نور چې مخکې د توحید الالوهیة په ترځ کې تېر شول.

## د عملي شرک ډولونه

عملي شرک بیا په دوه ډوله دی:

(۱) د زړهٔ عمل.

(۲) د غړو عمل.

## د زړه عمل

د زړه عملونه هغه دي چې په ظاهري او ښکارندو غړو نه وي لکه: نیت، محبت، وېره، هیله، باور او داسې نور.........

## د غړو عمل

د غړو عمل بیا په دوه ډوله دی:

(۱) د ژبې.

(۲) د نورو غړو

## د ژبې عمل

د ژبې عمل خبرې دي لکه: دعاء، استغاثه، قسم خوړل او داسې نور..........

## د نورو غړو عمل

د نورو غړو عمل لکه: لمونځ، روژه، زکات، حج، اعتکاف او داسې نور.........

د شرک د ټولو ډولونو رد د توحید د ډولونو په ترڅ کې وشو. د توحید د هر ډول په مقابل کې شرک دی.

## د څرګندوالي او پټ والي په توګه شرک

د څرګندوالي او پټوالي په توګه شرک په دوه ډوله دی:

(۱) څرګند او جوت شرک.

(۲) پټ، نازک او پېچلی شرک.

## څرګند شرک

څرګند شرک هغه دی چې ښه واضح، ښکاره او جوت وي، په څرګنده پرې خلک پوهېږي او د توحید په ترڅ کې څرګند شو.

ځینې صورتونه یې تېر شول لکه په ذات، صفاتو او عبادت کې شرک کول او ځینې یې راځي.

## خفي (پټ) شرک

پټ یا خفي شرک هغه دی چې ښکاره نه وي او په څرګنده د شرک کومه ګروهه او کارنه کوي چې له اسلامه پرې وځي او ډېرو خلکو ته له بې علمۍ او ناپوهۍ نه دا معلومه نه وي چې دا شرک دی او پکې اخته کېږي. لکه چاته ووايي: که فلانی نه وای نو داسې به شوي وو، چې ستا خوښه شي او د الله خوښه شي، په تا به شي په الله به شي.........

خفي شرک اکبر او اصغر (لوی او وړوکی) دواړه کېدی شي ځکه چې کله کله د لوی شرک ډولونه ځینو خلکو نه پټا وي او د ناپوهۍ له کبله یې کوي.

## د لوی والي او وړوکوالي په توګه شرک

د لوی والي او وړوکوالي په توګه شرک په دوه ډوله دی:

(۱) شرک اکبر (لوی شرک).

(۲) شرک أصغر (وړوکی شرک).

## شرک اکبر (لوی شرک)

شرک اکبر هغه شرک ته ويل کېږي چې مرتکب يې له اسلامه وځي او هغه پرې مؤمن، مسلمان او موحد نه بلل کېږي او دکافر او مشرک ټول احکام پرې جاري کېږي. دا بې له توبې نه ببنسل کېږي او که بې له توبې ومري نو تل به دوزخ کې وي، ځکه چې لوی شرک د ايمان او توحيد له بنسټونو مخالف وي، ورسره په ټکر کې وي او ړنګوي يې.

## شرک اصغر (وړوکی شرک)

وړوکی شرک هغه دی چې له اسلامه پرې نه وځي او کافر نه بلل کېږي خو شرک دی او کبيره (لويه) ګناه ده. لکه له نفاق پرته هسې ريا کول چې يو کار د الله لپاره کوې خو خلکو ته ښودل ورسره شريکوې چې خلک مې ووينې او نېک راته ووايي. يا دا ووايي چې ستا خوښه شي او د الله خوښه شي او داسې نور.........

وړوکی شرک چې ډېر او بيا بيا نه وي او په خواکې ورسره توحيد او نېک اعمال وي نو د ښښنې هيله کېدی شي

وړوکی شرک د خفي شرک يو ډول دی خو خفي شرک کې کله کله لوی هم کېدی شي نو ځکه مو جلا راوړ، هر وړوکی شرک

خفي هم دی خو هر خفي شرک وړوکی نه دی. د دې دواړو تر منځ عموم خصوص مطلق دی.

## د شرک بنسټونه

إمام ابو البقاء الكفوى الحنفى رحمه الله تعالى د بنسټونو په اعتبار شرک په شپږو ډولونو وېشي چې دا دي:

(۱): شرك الإستقلال. (ځانګړی شرک) لکه د مجوسیانو شرک.

(۲): شرك التبعيض. (د ګډون شرک) لکه د نصاراؤ شرک چې آلهه درې بولي......

(۳): شرك التقريب. (د نږدې کېدو شرک) لکه د پخوانیو او ځینو اوسنیو شرک چې د عبادت ځینې ډولونه غیرالله ته د دې لپاره کوي چې الله تعالی ته یې نږدې کړي.

(۴): شرك التقليد. (د پیښنو شرک) دا هغه شرک دی چې د نورو په تقلید او پیښنو د عبادت ځینې ډولونه غیرالله ته وکړي لکه ډېر جاهلان یې چې کوي.

(۵): شرك الأسباب. (د لاملونو شرک) دا هغه شرک دی چې اسبابو او لاملونو کې طبعي یا بالقوه تاثیر اواغېز وګڼې لکه د فلسفیانو او طبیعیانو شرک.

که خپله د اسبابو په طبیعت کې تاثیر وګڼل شي داکفر او شرک اکبر دی او که بالقوه وګڼل شي چې الله تعالی پکې يو قوت

ایښی او دهغه له سوبه کېږي نو بیا کافر او مشرک نه دی خو ځینو علماؤ ګناهګار بللی دی.

(۲): شرك الأغراض. (د غرض او مقصد شرک) لکه نېک کار له الله تعالی پرته چا لپاره کوي. دا په دوه ډوله دی:

(۱) نفاق.
(۲) ریاء.

نفاق کفر او لوی شرک دی او له اسلامه پرې وځي. او ریاء وړوکی شرک دی له اسلامه پرې نه وځي خو کبیره ګناه ده.

## امت کې د اسلام بنسټ

د توحید او د شرک له پېژندلو وروسته دا. یو اړین او ضروري بنسټ دی چې داسلامي امت په هکله باید دا عقیده ولرو چې عام خلک الحمدلله مسلمانان دي، په دوی کې اصل او بنسټ اسلام دی، هر چا باندې د کفر او شرک ټاپه لګول ناروا دي، کافر او مشرک یواځې هغه چاته ویل په کار دي چې حجت پرې قائم شوی وي او تاته بشپړ معلومات وي چې هغه د ایمان او توحید له بنسټونو اووښتی او د شرک او کفر په بریدونو کې ننوتی دی.

ځیني ناپوهان د هر قصاب له لاسه غوښه نه خوري، هر جومات او هر چاپسې لمونځ نه کوي او د عامو خلکو په هکله دا

عقیده لري چې هغوی مشرکان دي. دا بېخي ناسمه او ناروا ده، د اسلامي امت عامو خلکو کې اصل او بنسټ دا دی چې دوی الحمدلله مسلمانان دي، یوازې د هغو خلکو په هکله دا ویلی شې چې مشرک دی، چې حجت پرې قائم شوی وي او په پخو دلیلونو درته معلومه وي چې هغه مشرک دی. بیا هغه ته مشرک ویلی شې او د مشرک احکام پرې پلي کولی شې.

خو که درته معلوم نه وي نو د اسلامي امت په هر ګوټ کې هر چاپسې لمونځ کوه، که هغه مشرک ؤ او تاته معلوم نه ؤ نو هم ستا لمونځ شوی دی، ځکه چې جاهل بالواقع معذور دی او مونږ په دې مامور نه یو چې د اسلامي امت هر فرد وپېژنو، د ایمان او توحید په بنسټونو جاهل معذور نه دی، خو د عامو خلکو له احوالو پېژندلو جاهل معذور دی. او په اسلامي امت کې د هر قصاب حلاله خوره، ځکه چې ټول پرې د الله تعالی نوم یادوي.

# ځينې خرافي عقيدې او د شرک ځينې صورتونه

زمونږ په چاپېريال او ولسونو کې او په ځانګړې توګه په ښځو کې دناپوهۍ له امله ډېرې داسې خرافي عقيدې، دودونه، رواجونه او ټوټکې شته چې هغه د اسلام خلاف دي اسلام اصلاً د همدغسې ناوړه عقيدو رد کوي، د ساري په توګه:

- د کارغه په کاغ کاغ غږ کې بدمرغي ګڼل او د کارغه لورته ايرې شيندل.
- ښځې وايي چې، د پوړني او څپتې پيڅکه مې سرته راغله داسې به وشي.
- ماشوم د پښو منځ کې وليدل داسې به وشي.
- پښه او پښې پوخ يو په بل دپاسه شول داسې به وشي
- اوبو د تويولو په وخت کې شړپ وکړ داسې به وشي.
- جامې چې غاړه کې ګنډي نوکوم ډکی يا لرګی به په خوله کې نيسي که نه نوکړاو به وروړسېږي.
- داشې راپورې ښه شو او دابد شو. په دې کې نېکمرغي ده اودې کې بدمرغي ده.
- دا راپورې چېشن شو.

- کوترې، مرغاوۍ، بتې، د ارنډې ونه او نور...... دو بخته دي.
- فلانۍ ورځ باندې فلانی کار مه کوه.
- سترګه مې ورپېږده داسې به وشي.
- ښي لاس مې خارښ وکړ، کيڼ لاس مې خارښ وکړ داسې به وشي......

دا ټولې خرافي ګروهې دي او اسلام په کلکه د دې رد کوي.

## جمهوريت يا ولسواکي او ديموکراسي

ولسواکي يا جمهوريت او ديموکراسي د اوسني عصر هغه دروغجن او د شرک حکومتي نظام دی، چې د خلکو د اکثريت په نامه پارلمانونو، ولسي او د مشرانو جرګو او اسمبليو ته د قانون جوړولو واک ورکوي او دا نږه شرک او کفر دی، په دې مخکې هم څه ناڅه خبره وشوه او په دې هکله به إن شاء الله ځانګړی کتاب وليکو. خو دلته همدومره ويل اړين ګڼم چې اسلام کې د قانون حق يواځې د الله تعالی دی او مونږ ته يې بشپړ، پياوړی او کره پوره دين رالېږلی دی، چې د ګردې نړۍ لپاره په هر وخت، هر ځای او هر چا لپاره بس او پوره دی. که چا د الله تعالی په مخلوق کې چاته د قانون جوړولو حق ورکړ هغه الله تعالی سره شريک پيدا کړ اودا هغه لوی شرک دی چې انسان پرې له اسلامه وځي.

الله تعالی فرمایي:

((أَمْ لَهُمْ شُرَكَاء شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَن بِهِ اللَّهُ))[1]

((آیا دوی لپاره داسې شریکان دي چې داسې قانون یې ورته جوړ کړی دی چې الله پرې حکم نه دی کړی؟)).

او الله تعالی فرمایي:

((ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِّنَ الأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاء الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ))[2]

((مونږ تهٔ د دین په یو قانون روان کړی یې نو دهمدې تابعداري وکړه او د هغو خلکو د نفسي غوښتنو پسې مهٔ ځه چې نه پوهېږي)).

## سیکولرزم او علمانیت

کله چې اروپایان او غربیان له نصراني کلیساؤ تنګ شول نو د سیکولرزم په نامه یو نظام یې راوایسته چې دین او سیاست یا دین او ژوند به سره بیل وي، دوی بیا په دوه ډوله دي:

---

[1]- سورة الشورى: ۲۱.
[2]- سورة الجاثية:۱۸.

يو هغه سيکولرستان دي چې دين ښځي نه مني او ملحدين دي.

دوهمه ډله يې دين د څو تعبدي کارونو پورې محدود بولي او د يو دود او رسم په توګه يې کوي، خو په حقيقت کې دواړه ډلې بې دينه دي او بې دينۍ ته بلنه ورکوي، سيکولرزم يا علمانيت د بې دينۍ دوهم نوم دی. او دا چې دين له سياست او حکومت او ياله ژوند نه جلا وګڼي دا هم لوی شرک او کفر دی. په دې هکله به هم إن شاء الله يو ځانګړی کتاب وليکو او د دې کتاب د «الوهيت او عبادت» توحيد په بحث کې د «تحاکم» سرليک او د «نومونو او صفتونو» د توحيد په بحث کې د «حاکميت» سرليک لاندې څېړنه وګورئ هغه ټول په علمانيت رد دی.

## د شرک باريکي

شرک ډېر نازک، پېچلی او باريک دی، ډېر احتياط په کار دی چې کله کله يو انسان له بې احتياطۍ او ناپوهۍ شرک کې اخته کېږي، يو روايت کې داسې راځي:

عبد الله بن عباس ﷺ وايي: «الشرك اخفى من دبيب النمل على صفاة سوداء فى ظلمة الليل، وهو ان تقول: والله وحياتك يا فلان، وحياتي، و تقول: لو لا كليبة هذه لأتانا اللصوص، و لولا

البط فى الدار لأتانا اللصوص، و قول الرجل لصاحبه: ماشاء الله و شئت، وقول الرجل: لولا الله وفلان، لاتجعل فيها فلانا هذا كله به شرك»[1]

«شرک د شپې په تیارې کې په تورې ښویه تیږې د میږي له تللو هم ډېر پټ دی دا هم الله سره «ند» او شریک ګڼل دي چې ووایې: ای فلانیه په الله او ستا په ژوند قسم دی، زما په ژوند مې دې قسم وي، او یا وایې: که دا سپی یا پاپي نه وای نو غلهٔ به راکره راغلي وو او که په کور کې مرغاوی او هیلۍ نه وای نو مونږ کره به غله راغلي وو. یا یو سړی خپل ملګري ته وایي: چې د الله خوښه شي او ستا خوښه شي، یا د یو چادا وینا: که الله او فلانی نه وای «نو داسې به شوي وو» فلانی پکې مه راګډوه دا ټول الله سره شریک ګڼل دي».

که د فلاني خوښه شي اود الله خوښه شي ویل ناروا دي که د «او» په ځای «بیا» ووایې نو بیا روا دي د الله خوښه شي بیا د فلاني، که د الله خوښه شي بیا ستا خوښه شي روا دي، خو له بیا پرته د «او» په عطف ناروا دي بل حدیث کې داسې راغي:

حذیفه رضي الله عنه نه روایت دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل:

«لا تقولوا: ماشاء الله وشاء فلان، ولكن قولوا: ماشاء الله ثم شاء فلان»[2]

---

[1]- رواه ابن ابی حاتم.
[2]- رواه ابوداود و احمد والبیهقی فی السنن وفی الاسماء والصفات، والطیالسی والطحاوي.

(( تاسو داسې مه وایئ چې د الله خوښه شي او د فلاني خوښه شي، بلکه داسې ووایئ چې د الله خوښه شي بیا د فلاني خوښه شي)).

## له ستورو او سپوږمۍ باران ګڼل

هر څه د الله تعالی په واک کې دي او هر څه یواځې همغهﷻ کوي باران کېدل او نه کېدل هم دالله تعالی په مخلوق کې د هیڅا او هیڅ شي پورې نه دي تړلي او یواځې د الله تعالی په خوښه او قدرت کېږي. حدیث کې راځي:

عن زيد بن خالد الجهنيؓ قال: صلى لنا رسول اللهﷺ الصبح بالحديبية على إثر سماء كانت من الليل فلما انصرف النبيﷺ أقبل على الناس فقال: (( هل تدرون ماذا قال ربكم؟)). قالوا الله ورسوله أعلم. قال: ((أصبح من عبادى مؤمن بى و كافر. فأما من قال: مطرنا بفضل الله ورحمته فذلك مؤمن بى كافر بالكوكب و أما من قال: مطرنا بنوء كذا او كذا فذلك كافر بى مؤمن بالكوكب)).[1]

[1] - رواه البخارى ومسلم و احمد.

زيد بن خالد جهني رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: مونږ ته رسول الله ﷺ په حديبيې کې د ګهيځ (سهار) لمونځ را کاوۀ او دا د هغه باران پسې ؤ چې د شپې شوی ؤ، کله چې نبي کريم ﷺ را وګرځېد نو خلکو ته يې رامخ کړ او ويې فرمايل: ((آيا تاسو پوهېږئ چې ستاسو رب څه فرمايلي دي؟)) هغوی وويل: الله او د هغه پېغمبر ښه پوهېږي. هغۀ وفرمايل چې: الله تعالی وفرمايل: ((زما له بندګانو نه چا په داسې حال کې سبا کړ چې په ما مؤمن دی او څوک په ما کافر دی. چاچې وويل: د الله په لورېنې او د هغه په رحمت په مونږ باران وشو نو هغه په ما مؤمن دی او په ستورو کافر دی او چاچې وويل: د فلاني فلاني ستوري يا د سپوږمۍ په منزل او حرکت په مونږ باران وشو نو هغه په ما کافر او په ستورو باور کوونکی دی)).

## د ثواب په نيت سفر

د دې ځمکې په سر يوازې درې جوماتونه دا فضيلت لري چې هغوته د ثواب په نيت سفر کول روا دي نور هيڅ جومات او هيڅ ځای ته د فضيلت او ثواب په نيت سفر کول روا نه دي. حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرةﷺ عن النبيﷺ قال: ((لا تشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد: المسجد الحرام و مسجد الرسول و مسجد الأقصىٰ))[1]

ابوهريرةﷺ نه روايت دی چې نبي کريمﷺ وفرمايل: (( له درې جوماتونو پرته به نوروته سفر نه کېږي: يو مسجد الحرام بل مسجد نبوي او بل مسجد الاقصىٰ)).

مسجد الحرام مکې مکرمې کې دی، مسجدنبوي مدينې منورې کې دی او مسجد الاقصىٰ په فلسطين کې دی.

له دې درې جوماتونو پرته نورو ځايونو ته د ثواب په نيت سفر کول ناروا دي چې ګنې هغه ځای فضيلت لري. د اسلام د دعوت، تجارت، سياحت او نورو اړتياؤ لپاره سفر هر ځای ته روا دی خو سفر لپاره د ځای فضيلت يواځې د دې درې ځايونو دی.

## ريا وړوکی شرک دی

ريا وړوکی شرک او لويه ګناه ده خو لوی شرک نه دی چې انسان پرې له اسلامه ووځي. ريا دې ته وايي چې يو څوک د الله تعالی د رضا لپاره کوم عبادت کوي خو زړه کې يې دا هم وي چې څوک مې ووينې او نېک مې وګڼي. حديث کې داسې راځي:

---

[1]- رواه البخاری ومسلم.

عن محمود بن لبيد أن رسول اللهﷺ قال: ((إن أخـــوف ما أخاف عليكم الشرك الأصغر)) قالوا: وما الشرك الأصغر يا رسول الله؟! قال: ((الرياء)) [1]

محمدبن لبيدﷺ نه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل: (( تاسو باندې چې زه ډېر وېرېږم هغه وړوکی شرک دی)) صحابه ؤ وویل: ای د الله پېغمبره! وړوکی شرک څه شی دی؟ هغه وفرمایل: ((ریاده)).

د ریا په نیت کې عمل الله تعالی لپاره وي خو خلکو ته ښوونه ورسره شریکه وي نو ځکه وړوکی شرک دی او که الله تعالی لپاره نه وي او یواځې د دې لپاره وي چې خلک مې ویني او نېک مسلمان راته ووایي نو دا بیا نفاق دی او د دغه عمل کوونکی منافق دی دا بیا لوی شرک دی او له اسلامه پرې وځي.

## شاهنشاه نوم ناروا دی

د پاچایانو پاچا یواځې الله تعالی دی. د الله تعالی مخلوق کې چاته شاهنشاه ویل ناروا دي ځکه چې شاهنشاه د پاچایانو پاچا ته ویل کېږي. حدیث کې راځي:

[1] - رواه احمد والبيهقى والطبرانى وابن خزيمة وابن ابي شيبة والبيهقى.

عن أبي هريرةرضي الله عنه قال: قال رسول اللهﷺ: (( أخنع الأسماء يوم القيامة عندالله رجل تسمى ملك الأملاك)) [1]

ابوهريرةرضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: رسول اللهﷺ فرمايلي دي: ((د قيامت په ورځ الله سره ډېر ناوړه نوم د هغه سړي دی چې د پاچايانو پاچا يې ځان نومولی وي)).

نو قاضي القضاة (د قاضيانو قاضي) يا شاهنشاه (د پاچايانو پاچا) کوم انسان ته ويل ناروا دي.

خو که يوې سيمې پورې محدود شي نو بيا قاضي ويلی شي لکه: (قاضي قضاة افغانستان) د افغانستان د قاضيانو قاضي. او شاهنشاه مطلق ناروا دی.

## د کوډګر او نجومي تصديق کفر دی

کوډګر او نجومي ته هسې ورتلل هم ناروا دي خو د هغوی تصديق کول او هغوی رينبتيني ګڼل کفر دی. حديث کې داسې راغي:

عن أبي هريرةرضي الله عنه عن النبيﷺ قال: (( من أتى كاهنا أو عرافا فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمدﷺ)) [2]

---

[1] - رواه البخاری ومسلم.
[2] - رواه احمد والحاكم و ابن ماجه والبيهقی والنسائي.

ابوهریرة﷜ نه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: «څوک چې کوډګر یا نجومي او غیب ویونکي ته ورشي او هغه چې څه وایي هغه رښتیا وګڼي نو هغه په هغه کتاب کفر وکړ چې په محمد ﷺ نازل شوی دی».

نو هغه خلک چې د غیبو خبرې کوي، یا د غلا معلومولو دعوې کوي، یا نورې داسې خبرې کوي چې هغه د غیبو وي، دا دعوه کوونکی هم کافر دی او چا چې رښتیا وګاڼه هغه هم کافر دی ځکه چې د غیبو علم یواځې الله تعالی سره دی، د الله تعالی په مخلوق کې هیڅوک د غیبو علم نه لري، مخکې د نومونو او صفتونو په توحید کې دا خبره څېړل شوې ده.

## په ذلت ودرېدل

په عاجزۍ او بندګۍ ودرېدل یواځې دالله تعالی حق دی چې مونږ هغه ﷻ ته ودرېږو او عبادت ورته وکړو، الله تعالی فرمایي:

«وَقُومُواْ لِلّهِ قَانِتِينَ»[1]

«الله ته تابعدار او غلي ودرېږئ».

نو په لمانځه کې ودرېدل عبادت دی او دا د الله تعالی حق دی، که څوک بل چاته داسې ودرېږي چې هیڅ نه خوځېږي، خبرې نه کوي یا ځانګړې هیئت باندې ودرېږي، دا شرک او ناروا دی.

---

[1] - سورة البقرة: ۱۳۸.

ودرېدل په پنځه ډوله دي:
(۱) هغه ودرېدل چې لوی شرک دی او له اسلامه پرې وځي.
(۲) هغه چې شرک نه دی خو ګناه ده.
(۳) روا او مباح ودرېدل.
(۴) مستحب ودرېدل.
(۵) فرض ودرېدل.

۱- شرکي ودرېدل هغه دي لکه سیاسي مشرانو او چارواکوته، قومي اوملي ترانوته ، ملي بیرغونو او توغونو ته داسې غلي او بې حرکته ودرېدل چې بابیزه خوځېدل او خبرې پکې نه کوي او خوځېدل او خبرې پکې له وطنیت او آدابو خلاف ګڼي، دا بالکل شرک دی.

۲- ناروا ودرېدل چې له شرکه لاندې دي خو ګناه ده لکه مشرانو او علماؤ ته د راننه وتو په وخت کې بې له سترې مه شې هسې احترام لپاره ودرېږي دا شرک نه دی خو ګناه ده او ځینې یې مکروه ګڼي.

حدیث کې راځي: انس ﷺ وایي: ((لم یکن شخص أحب إلیهم من النبیﷺ و کانوا إذا رأوه لم یقوموا له لمـــا یعلمون من کراهیته لذلك)).[1]

[1]- رواه ابوداود والترمذی.

(( صحابه ؤ ته له رسول اللهﷺ نه څوک زیات ګران نه ؤ خو هغوی به چې هغه ولید ورته به نه پاڅېدل ځکه هغوی پوهېدل چې رسول اللهﷺ دا کار بد ګڼي )).

۳- روا او مباح ودرېدل دا دي لکه څوک له نږدې ځایه راشي او ستړي مه شي ته ورپاڅېږې، یا بل مباح او روا کار ته ودرېږې

۴- مستحب پاڅېدل دا دي چې د ثواب کار او مستحب عمل ته ودرېږې، لکه له لرې ځایه څوک راشي او ستړي مشي ته ورپاڅېږې، یا لکه چاسره مرستې کولو ته ورپاڅېږې. لکه سعد رضي الله عنه چې ټپي ؤ او په سپرلۍ سپور راغی نو رسول اللهﷺ صحابه ؤ ته وویل:

((قوموا إلى سيدكم ))[1] ((خپل سردار او مشر ته ورپاڅېږئ)).

نو دا هغه سره مرستې لپاره وو چې څاروي نه یې راښکته کړي او مرسته ورسره وکړي، که احترام لپاره وای نو بیا به یې ((لسيدكم)) ویلې وو ((إلى)) به یې نه وو ویلې، او د عربي حروفو معاني همدې لپاره دي چې هر توری خپلې معناوې یا معنا لري

۵- فرض ودرېدل او پاڅېدل هغه دي چې فرض کار لپاره پاڅېږې لکه چاته د زیان رسېدلو نه ژغورلو لپاره پاڅېږې، امر بالمعروف او نهی عن المنکر لپاره پاڅېږې، د حق ویلو لپاره پاڅېږې، فرض عبادت لپاره پاڅېږې او داسې نور.........

[1] رواه البخاري ومسلم.

# په قبرونو جوماتونه او ګومبزې جوړول ناروا دي

. پــه قبرونـو جوماتونـه جـوړول، یـا پـرې ګـومبزې او کـوټې جوړول، یا یې پخول او څه پرې لیکل، ناروا دي . حدیث کې راځي عائشې رضي الله عنها نه روایت دی هغـه وایـې: رسـول اللهﷺ تـه چې کله د مړینې پرښته راغله او مړینې ته نږدې شـو نـو پـه خپـل مـخ یې پټـو راواچـاوهٔ، کلـه بـهٔ چې پرې تنـګ شـونو لـرې بـه یې کړ، پـه همدې وخت کې یې وفرمایل:

((لعنة الله على اليهود والنصارىٰ إتخذو قبورانبياءهم مساجد)) يُحذر ماصنعوا.[1]

((پــه یهـودو او نـصاراو دې د الله لعنـت وي چـې د خپلـو پیغمبرانـو قبرونـو نـه یـې جوماتونـه جـوړ کـړي دي)) او دا یـې د دې لپاره وویل چې خپل امتیان یې د هغوی له کړو نه وېرول .

بل حدیث کې عبدالله بن عباس رضي الله عنه وایي:

((لعن رسول اللهﷺ زائرات القبور والمتخذين عليها المساجد والسرج))[2]

---

[1]- رواه البخاری ومسلم.
[2]- رواه احمد والترمذی والنسائی وابن ماجه وابن حبان والحاكم وابن ابی شيبة و ابوداود والبيهقی والطيالسي.

((رسول اللهﷺ په هغو ښځو لعنت ويلی دی چې د قبرونو زيارتونو ته ځي او په هغو خلکو يې هم لعنت ويلی دی چې په قبرونو جوماتونه جوړوي او شمعې او ډيوې پرې بلوي)).

بل حديث کې جابرؓ نه روايت دی هغه وايي: ((نهى رسول اللهﷺ أن تجصص القبر وأن يقعد عليه و أن يبنى عليه))[1]

(( رسول اللهﷺ له دې منع کړې ده چې قبر پوخ شي يا پرې څوک د منجاورۍ لپاره يا همداسې کېني او يا پرې څه کوټه موټه جوړه شي)). د ابوداود په روايت کې پرې ليکل هم منع دي.

## لوړ قبرونه ناروا دي

قبر همدومره په کار دی چې خپله خاوره پرې راواړول شي د قبرونو لوړول ناروا دي. او د لوړو قبرونو نړول په کار دي. حديث کې راځي:

عن أبي الهياج الأسدي قال: قال لي علي بن أبي طالب ؓ: (( ألاأبعثك على ما بعثني عليه رسول اللهﷺ: أن لا تدع تمثالا إلا طمسته ولا قبرا مشرفا إلا سويته)).[2]

---

[1]- رواه مسلم.
[2]- رواه مسلم و الترمذی و ابوداود والنسائي.

أبو الهیاج أسدي رحمه الله وایي: علی بن أبی طالبﷺ ماته وویل: «آیا زه تا داسې یو کار لپاره ونه لېږم چې رسول اللهﷺ زه پرې لیږلی وم؟ هغه دا چې هیڅ بوت او تصویر به نه پرېږدې مګر رنګوې به یې او هیڅ لوړ قبر به نه پرېږدې مګر نړوې به یې».

إمام برکوي حنفي رحمه الله د «زیارة القبور الشرعیه والشرکیة» په نامه کتاب لیکلی دی هغه کې وایي: «ففی هذا– هدم مسجدالضرار– دلیل علی هدم ما هو أعظم فسادا کالمساجد المبنیة علی القبور فإن حکم الإسلام فیها أن تهدم کلها حتی تسوی بالأرض و کذلک القباب لأنها أسست علی معصیة الرسولﷺ و کل بناء أسس علی معصیته ومخالفة أمره فهو أولی بالهدم من مسجد الضرار لأنه نهی عن البناء علی القبور ولعن المتخذین لها مساجد و أمر بهدم القبور المشرفة و تسویتها بالأرض فیجب المبادرة إلی ذلک»[1]

«د مسجد الضرار په نړولو کې په دې دلیل دی چې هغه نه د لوی فساد ځایونه هم نړول په کار دي، لکه قبرونو باندې جوړ شوي جوماتونه، ځکه چې د دې په هکله د اسلام حکم دا دی چې دا ټول دې تر هغه ونړول شي چې ځمکې سره سم شي، همدارنګه په قبرونو ګومبزې دې هم ونړول شي، ځکه چې دا د رسول اللهﷺ په نافرمانۍ جوړ شوي دي او هره ودانۍ او کوټه چې د پیغمبرﷺ په

[1] - زیارة القبور للبرکوي: ۸۰.

نافرماني او دهغه د حکم په مخالفت کې جوړه شوې وي، نو دهغې نړول له مسجد الضرار نه هم ډېر اړین او ضروري دي، ځکه چې رسول اللهﷺ په قبرونو د کوټو او ګومبزو جوړولو نه منع کړې ده ، هغو نه جوماتونو جوړوونکو باندې یې لعنت ویلی دی او دلوړو قبرونو د نړولو او ځمکې سره د برابرولو امر یې کړی دی، نو دې کارته بیړه کول فرض دي».

همدارنګه برکوي رحمه الله له امام أبوبکر طرطوشي رحمه الله نه نقل کوي چې هغه وایي:

«أنظروا – یرحمکم الله تعالی – أینما وجدتم سدرة او شجرة یقصها الناس و یعظمونها و یرجون البرء والشفاء من قبلها و یضربون بها المسامیر والخرق فهی ذات أنواط فاقطعوها»[1]

«الله دې په تاسو رحم وکړي، وګورئ هر ځای مو چې کومه بېره یا بله ونه وموندله چې خلک یې کیسې کوي، احترام یې کوي، د ناروغانو روغتیا او شفاء پکې ګڼي، مېخونه پرې ټک وهي، ټوټې او رینجاړې وربورې تړي، نو دا ټولې «ذات أنواط» « د ټړلو والاشرکي ونې » دي،دا ووهئ او غوڅې یې کړئ».

[1]- زیارة القبور للبرکوي: ۸۰.

## ((که چېرته)) مه وايه

د عربي د ((لو)) کلمې معنا ((که چېرته)) ده، هر وخت کې دا ويل ناروا دي چې که چېرته داسې نه وای شوي نو داسې به شوي وو....... حديث کې راځي:

أبوهريرهﷺ نه روايت دی چې رسول اللهﷺ وفرمايل:

((المؤمن القوى خير و أحب إلى الله من المؤمن الضعيف و فى كل خير إحرص على مايىنفعك واستعن بالله ولا تعجز و إن أصابك شئ فلا تقل لو أنى فعلت كان كذا و كذا ولكن قل: قدر الله وماشاء فعل فإن لوتفتح عمل الشيطان))[1]

((غښتلی مؤمن له کمزوري مؤمن نه غوره دی او الله ته ډېر ګران دی، او په ټولو کې خير دی، په هغه څه کې هڅه کوه چې ګټه درته رسوي، الله تعالی نه مرسته غواړه، ځان بې وسه مه ګڼه، او که څه پېښه درته وشوه نو داسې مه وايه چې که داسې مې کړي وای نو داسې به شوي وو خو داسې ووايه چې: الله تعالی تقدير کې ليکلي وو او څه يې چې غوښتل ويې کړل، ځکه چې ((که چېرته)) ويل د شيطان د عمل دروازه پرانېزي)).

نو په خپل ځای کې، چې تقدير سره څه ټکر ونه لري او د الله په کړو دې عقيده پخه وي، ((که چېرته)) ويل روا دي، خو

[1] - رواه مسلم و ابن ماجه والبيهقى وابن حبان.

هروخت په پښتنو کې داسې ویل، چې تقدیر ته د غاړې نهٔ ایښودو بوی ترې راځي، دا ناروا دي

## دمونه، بندونه، تعویذونه او مرۍ

د ناروغیو دلرې کولو لپاره، یا د کوم شر د دفعې کولو، ستونزې د حل، د کومې اړتیا د پوره کولو او د نېکمرغۍ دلاسته راوړلو...... لپاره د بندونو، تعویذونو، مریو، کونجکو او داسې نورو شیانوپهٔ غاړه کې ځوړندول، مټ پورې تړل، لاسٌ نه تړل، جامو یا د بدن بل کوم ځای پورې تړل، ګنډل او ننبلول، کور او دوکان کې ساتل، د څارویو ښکرونو پورې تړل، او داسې نورو کې د خیر د جلب او د شر د دفعې او رفعې لپاره استعمالول او مؤثر ګڼل، دا او داسې نور ټول شرکي اعمال دي چې اسلام یې پهٔ کلکه ردوي، پهٔ دې کې هیڅ خیر او شرنشته، داشیطاني اعمال دي، ټګي برګي ده،د ناپوهو او ساده ګانو غولول دي، د جیبونو ډکولو، شکرانو اخیستلو، شهرت او احترام حاصلولو لپاره یوه ناروا او د درغلۍ حیله ده.

ناپوهان دې ته هم نهٔ ګوري چې تعویذنویس خپله درپهٔ دروي، چې ناروغه شي ډاکټر ته ځي...... ولې خپل ځان ته تعویذ نهٔ کوي چې ورخ یې ښهٔ شي؟! زمونږ یو مجاهد ورور شهید رستم دې الله وبښي، کله چې پهٔ عقیدوي مسائلو پوه شو نو ماته یې کیسه

کوله چې د جهاد په اوږدو کې مې ډېرو عملیاتو کې ګډون کړی و خو الله تعالی د ټپي کېدونه ساتلی وم؛ یوه ورځ لوارګي کې یو تعویذګر سره مخ شوم، هغه راته وویل چې زه په ذمه واری د ټېغبندی تعویذ کوم او څلور سوه روپی شکرانه یې ده، بیا به دې باندې چاقو، تېره شی، د ټوپک، تمانچې او نورې هر ډول مرمی او وسلې اغېز نه کوي او نه به ټپي کېږي، ما ورته وویل چې ډېره ښه ده څلور سوه روپی مې ورکړې، تعویذ مې ترې واخیست او مټ پورې مې وتاړه، دې ځل چې مې کله په عملیاتو کې ګډون وکړ په یوه پوسته مو برید وکړ او زه څو ځایه ټپي شوم.

تعویذ ګرته بېرته ورغلم، تعویذ مې بېرته ورکړ او خپلې څلور سوه روپی مې ترې واخیستې. که دا ټېغبندي رېښتیا وای نو د نړی ډېرو پوځي ځواکونو به خپلو پوځیانو ته کړي وو او بیا به د هیڅ وسلې ضرورت نه و.

زه یوه ورځ یو ملګري سره د پېښور د ناصر باغ سړک د نهر د غاړې په کتابتونونو کې د مولانا سمیع الله «عابدزي» هډه وال د کتابتون نه راووتلم، لږ وړاندې د سړک په غاړه یو بوډا سړی ناست دی، مخې ته یې څه کتابچې، کاغذونه او قلمونه ایښي دي، په فارسي غږېږي، یوه زړه چپن یې اغوستې او له جامې معلومېده چې ډېر بې وزلی او خوار دی؛ ما ملګري ته اشاره وکړه چې دې بوډا نه معلومات کوو، بوډا مې وپوښته چې څه کوې؟ هغه راته وویل چې تعویذنویس یم او په ذمه واری تعویذونه لیکم.

ما غوښتل چې یو ځل یې په خپله خبره کلک کړم او بیا د هغهٔ په استدلال پرې رد وکړم؛ ورته ومې ویل چې زهٔ یو تعویذ ته اړتیا لرم هر څومره شکرانه چې غواړې درکوم یې، خو تعویذ به راته د ذمه وارۍ کوې چې په سلو کې سل ولګېږي او مراد مې پوره شي، هغهٔ راته په سلو کې سل ذمه واري ووهله او د ځان ډېر توصیف یې وکړ. ماورته وویل: ماته داسې تعویذ وکړه چې ډېرې پیسې لاس ته راشي، مالدار شم، یوې ښکلې جلۍ سره وادهٔ وکړم، یو ښه کور ولرم، موټر ولرم......... هغه راته په پوره سپین سترګۍ وویل چې داسې تعویذ به درته وکړم چې دا ټول ضرورتونه به دې پوره شي. کله مې چې په خپله خبره ښهٔ کلک کړ نو ورته ومې ویل چې تهٔ داسې تعویذونه کولی شې نو بیا خپل ځان ته یو وکړه چې ورځ دې ښهٔ شي، د سړک په غاړه په سپېرو خاورو ناست یې او د موټرو د سلنسرونو لوږي او د سړک ګردونه او دوړې ټولې درباندې راځي، دې نه دا ښهٔ نهٔ ده چې خپل ځان ته یو تعویذ وکړې چې دې تکلیف نه خلاص شې؟!

بیا مې ورته وویل چې دا مهٔ کوه، دا د اسلام پیغمبرﷺ منع کړې دي......... بوډا په غوسهٔ شو، بدې ردې یې وویلې او مونږ ترې لاړو.

یوه ورځ مې یو بل سړی د روغتون په ورهٔ کې ولید، یو ماشوم ورسره ؤ چې د تعویذونو یوه غاړه کۍ یې په غاړه کې اچولې وه. ما ورپوښتهٔ چې چېرته روان یې؟ هغه وویل: دا ماشوم ناروغه دی روغتون ته روان یم.

ما ورته وویل چې دا غاړه کې یې څۀ دي؟ هغه وویل دا ګورې نه چې تعویذونه دي؟ ما بیا د یو یو تعویذ په هکله وپوښتۀ هغۀ راته وویل چې دا یو د زیړي دی، دا بل د تبو دی، دا بل د نظر دی...... ما ورته وویل چې تا خو د خیبر هسپتال ټول ډاکټران ورته غاړه کې اچولي دي نو بیا روغتون ته ولې ځې؟ هغۀ بې وزلي په خواره خولۀ راته وویل چې څۀ وکړو ملایانو راته کړي دي، ملایان خو د دین ستنې دي، هر څۀ چې راته وایي مونږ یې منوو. بیا مې پوه کړ چې دا تعویذګر ملایان د دین ستنې نه بلکه د دین ویانۀ او موږکان دي، چې د دین ستنې او د دین بنستونه خوري او نړوي......

سړی بنۀ سړی ؤ تعویذونه یې وشکول او خبره یې ومنله.

لنډه دا چې د ډېرو ناپوهانو صحتونه دغو تعویذګرو ونړول، ډېرې ناروغۍ په لومړي سرکې د درمل او علاج قابل وي خو د دغو تعویذګرو لۀ لاسه ناپوهه خلک په تعویذونو او بندونو بسنه وکړي، علاج نه محروم شي او اخر یې وړه ناروغي لویه او لا علاجه شي، اخر ومري، دا ډېر لوی مجرمان دي.

په تعویذونو کې (یا بدوح) لیکي چې (بدوح) د شیطان نوم دی، کله څۀ او کله څۀ پکې لیکي، هر څۀ چې ولیکي کۀ قرآن کریم هم پکې ولیکي، خو اسلام منع کړي دي، دا د قرآن کریم او د الله تعالی د نومونو سپکاوی او بې عزتي ده، د دې تعویذ سره د انساني حاجت پوره کولو لپاره بیت الخلاء ته هم ځي.

حال دا چې د رسول الله ﷺ ګوتې کې مهرؤ او ((محمد رسول الله)) پرې لیکلي وو، نو رسول اللهﷺ د الله تعالی د نوم د احترام لپاره د قضاء حاجت په وخت کې دغه ګوته له ګوتې ایستله. په احترام یې یو پاک ځای کې اېښودله او بیا بیت الخلاء ته ننواته.

نو دغو تعویذونو کې که د الله تعالی نومونه یا د قرآن کریم آیاتونه وي او هغو سره قضاء حاجت ته کښېني نو دا لویه بې ادبي، سپکاوی او ګناه ده. که دا تعویذ څه اغېز وکړي او که نه، دا ناروا دي، اغېز خو جادو هم کوي، خو ناروا دی. د تعویذونو، بندونو، کونجکو او نورو په رد کې لاندې احادیث وګورئ:

عقبة بن عامر الجهني نه روایت دی چې رسول اللهﷺ ته یوه ډله راغله، نهو سره یې بیعت وکړ او یونه یې لاس راټول کړ بیعت یې ورسره ونه کړ، صحابه ؤ وویل: ای د الله پېغمبره! نهو سره دې بیعت وکړ او له دې یونه دې لاس ونیو؟ هغه وفرمایل: ((ان علیه تمیمة)) ((هغه تعویذ اچولی دی)). هغه سړي لاس دننه کړ تعویذ یې وشوکاوهٔ نو رسول اللهﷺ ورسره بیعت وکړ او ویې فرمایل: ((من تعلق تمیمة فقد أشرك))[۱] ((چا چې تعویذ وتاړه نو هغه بې شکه شرک وکړ)).

---

[۱] رواه احمد والحاکم.

بل روايت کې عقبة بن عامر وايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: «من تعلق تميمة فلا أتم الله له ومن تعلق ودعة فلا ودع الله له»[1]

«چا چې تعويذ ځان پورې ځوړند کړ نو الله دې د هغه کار نه پوره کوي او چاچې کونجکه او مرۍ ځوړنده کړه او ويې تړله نو الله دې ورته ارام نه ورکوي».

نو چا چې تعويذونه، بندونه، کونجکې، مرۍ او نور شيان ځان پورې د برکت يا کوم مرض يا د بل کوم مقصد لپاره واچول، هم مشرک شو او هم به يې کار سم نه شي، ځکه چې رسول اللهﷺ ورته ښېرې وکړې.

عبدالله بن مسعودؓ د خپلې ښځې زينب رضي الله عنها په غاړه کې تار وليد نو ويې پوښتله چې دا څه دي؟ هغې ورته وويل: دا تار دى چا راته دم کړى دى. عبدالله بن مسعودؓ هغه تار وشکاوه او ورته ويې ويل: أنتم آل عبدالله لأغنياء عن الشرك سمعت رسول اللهﷺ يقول: «إن الرقى والتمائم والتولة شرك» تاسو د عبدالله د کور خلک خو له شرکه بې پروا يئ ما رسول اللهﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: «دمونه، تعويذونه او کوډې شرک دى» ښځې ورته وويل: زما سترګو چنبې کولې او درد يې کاوۀ، زه به فلاني يهودي ته ورغلم هغه به چې دم کړې ښې به شوې. عبدالله بن مسعودؓ ورته وويل: دا د شيطان کار دى، هغه به ستا سترګه په خپل لاس

---

[1] - رواه احمد والحاكم وابو يعلى.

چوخوله، کله به چې دم شوه نو بیا به هغه نه چوخوله. تالپاره همدا بس دي چې هغه دم ووایې او ځان پرې دم کړې چې رسول اللهﷺ پرې دم کاوه او هغه دا دی:

«أذهب البأس رب الناس واشف أنت الشافي لاشفاء إلا شفاءك شفاء لايغادر سقما»[1]

«ای د ټولو خلکو ربه! دا ناروغي لرې کړه او شفاء راکړه یواځې ته شفاء ورکوونکی یې ستا له شفاء پرته بله شفاء نشته داسې شفاء راکړه چې هیڅ ناروغي نه پرېږدي»

نو دا صحیح دم شو، هر مسلمان او مسلمانه پرې خپل ځان او نور دمولی شي، نورو اجازو ته اړتیا نشته، پېغمبرﷺ ټول امت ته اجازه ورکړې ده. همدارنګه سورة الفاتحة، آیة الکرسی، سورة الاخلاص، سورة الفلق او سورة الناس په حدیثو کې د هر شي لپاره دم ښودل شوی دی. همدارنګه نور دمونه هم حدیثو کې راغلي دي او جبرائیل علیه السلام به هم رسول اللهﷺ دماوه.

نو شرکي دمونه او هر ډول تعویذونه، منترونه، بندونه، کونجکې او کوډې ناروا او شرک دی او دم لپاره دا څو شرطونه دي چې په دې شرطونو برابر و بیا دم روا دی:

۱- دا چې قرآن او حدیثو نه ثابت وي لکه مونږ چې مخکې وویل.

۲- دا چې په بله ژبه نه وي.

۳- دا چې دم به خپله مؤثر نه ګڼې دا به یو سبب ګڼې او شفاء به الله تعالی نه غواړې.

[1]- رواه ابوداود و احمد و ابن ماجه و ابن حبان والحاکم.

۴- په دې شرطونو د دم کول روا دي خو فضیلت په دې کې دی چې په الله تعالی توکل وکړي او دم هم ونه کړي.

حدیث کې راځي:

حصین بن عبدالرحمن وايي: زه سعید بن جبیر سره وم هغه وویل: بیګا چې ستوری پرېواته چا ولید؟ ماورته وویل: ما ولید خو زه لمانځه کې نه وم بلکه څه شي وچیچلم. هغه راته وویل: نو بیا دې څه وکړل؟ ماورته وویل: دم مې وکړ. هغه راته وویل: ولې دې وکړ؟ ما ورته وویل: د هغه حدیث له کبله چې شعبي راته ویلی ؤ. هغه وویل: شعبي درته کوم حدیث ویلی ؤ؟ ما ورته وویل: مونږ ته یې له بریدة بن حصیب نه روایت کړی ؤ چې ((دم یوائې د نظر او څه شي د چیچلو لپاره دی)) هغه راته وویل: تا چې څه اورېدلي او عمل دې پرې کړی دا خو دې ښه کار کړی دی خو مونږ ته عبد الله بن عباس نبي کریمﷺ نه حدیث بیان کړی دی چې هغه وفرمایل: ((عرضت علی الأمم فرأيت النبی و معه الرهط والنبی ومعه الرجل والرجلان والنبی ولیس معه أحد إذ رفع لی سواد عظیم فظننت أنهم أمتی فقیل لي: هذا موسٰی و قومه فنظرت فإذا سواد عظیم فقیل لی: هذه أمتك ومعهم سبعون ألفا یدخلون الجنة بغیر حساب ولا عذاب)) ثم نهض فدخل منزله فخاض الناس فی اولئك. فقال بعضهم: فلعلهم الذین صحبوا رسول اللهﷺ. و قال بعضهم: فلعلهم الذین ولدوا فی الإسلام فلم یشرکوا بالله شیئا [illegible]

ذكروا أشياء. فخرج عليهم رسول اللهﷺ فاخبروه فقال: «هم الذين لا يسترقون ولا يكتوون ولا يتطيرون وعلى ربهم يتوكلون» فقام عكاشة بن محصن فقال: أدع الله أن يجعلني منهم. قال: «أنت منهم» ثم قام رجل آخر فقال: أدع الله أن يجعلني منهم. فقال: «سبقك بها عكاشة».[1]

«ما باندې امتونه را وړاندې شول او راته وښوول شول، داسې پېغمبر مې ولید چې یوه ډله امتیان ورسره راروان وو ، داسې پېغمبر مې ولید یو سړی او دوه سړي ورسره راروان وو او داسې پېغمبر مې ولید چې هیڅوک ورسره نه وو، په دې وخت کې راته ناڅاپي یوه لویه ګڼه ګوڼه راڅرګنده شوه، نو ما ګومان وکړ چې هغوی زما امت دی، خو ماته وویل شول چې دا موسیٰ علیه السلام او د هغه قوم دی. بیا مې ولیدل چې ګورم یوه ګڼه ګوڼه ده نو ماته وویل شول چې دا ستا امت دی او دوی سره اویازره کسان داسې دي چې بې حسابه او بې عذابه به جنت ته ننوځي. بیا رسول اللهﷺ پاڅېد او خپل کورته ننووت. او خلکو د دغو اویا زرو کسانو په هکله خبرې پیل کړې، نو ځینو یې وویل: کېدی شي دا هغه خلک وي چې رسول اللهﷺ سره یې ملاقات او ملګرتیا شوې وي. ځینو یې وویل: کېدی شي دا هغه خلک وي چې اسلام کې زېږېدلي وي او الله تعالی سره یې هیڅ شرک نه وي کړی. او نورې خبرې هم وشوې. په دې کې رسول اللهﷺ بېرته راووت، نو خلکو د خپلو خبرو په هکله خبر کړ. هغه

[1]- رواه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي.

وفرمایل: ((دا هغه خلک دي چې نه دمول غواړي، نه داغ لګوي، نه په کوم شي کې پالونه (نېک مرغي او بدمرغي) ګڼي او په خپل رب ځانونه سپاري)). نو عکاشة بن محصن پاڅېد او ویې ویل: ماته دعاء وکړه چې الله تعالی ماهم له دغو خلکو وګڼي، هغه ورته وفرمایل: ((ته له همغوی څخه یې)). بیا یو بل سړی پاڅېد او ویې ویل: ماته هم دعاء وکړه چې الله تعالی مې له هغوی وګڼي. رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: ((دا یوه دعاء وه او عکاشه درڅخه پرې مخکې شو)).

نو سره له دې چې صحیح دم روا دی او چې بد علاج نه وي نو د داغ لګول روا دي، خو د دې دواړونه کول دومره ډېر فضیلت لري چې څوک یې ونه کړي نو بې حسابه او بې عذابه به جنت ته ننوځي.

او د پال نیول او په کوم شي کې هسې بدمرغي او نېک مرغي ګڼل خو ناروا دي، لکه څوک کوم څاروی، جامه یا کوم شی واخلي او بیا وایي چې دا راپورې بنه شو او دا راپورې بد شو، یا وایي چې کوترې او مرغاوۍ ساتل دوه بخته دي، یا د فلاني بوټي کرل دوه بخته دي...... دا ټول ناروا دي.

که د یو چا توکل دومره لوړ او پیاوړی شي چې روا دم اوروا داغ هم نه کوي، نو هغه دومره فضیلت لري چې بې حسابه او بې عذابه به جنت ته ننوځي.

او دارو درمل استعمالول د توکل خلاف نهٔ دي، د درو په استعمال رسول اللهﷺ امر کړی دی، خپله يې هم استعمال کړي او صحابه کرامو هم استعمالول.

د پالونو نيول په دې لاندې حديث کې شرک بلل شوی دی:

عبدالله بن مسعود ﷺ نه روايت دی چې رسول اللهﷺ وفرمايل «الطيرة شرك، الطيرة شرك، الطيرة شرك» ثلاثا «و مامنا إلا ولكن الله يذهبه بالتوكل».[1]

«د پال نيول شرک دی، دپال نيول شرک دی، دپال نيول شرک دی» درې ځل يې دا وويل او بيا يې وفرمايل: «زمونږ د هر چا په زړه کې چې څه بدپالي وګرځي الله تعالى يې په توکل له منځه وړي»

د جاهليت په وخت کې د عربو دا عقيده وه چې سفر ته به وواته نو په لاره کې به چې کوم مرغه خپله والوت او يا به هغهٔ وشاړهٔ نو که ښي لور ته به والوت په دې کې به يې نېک پالي ګڼله او که کيڼ لورته به والوت نو په دې کې يې بدپالي ګڼله او بېرته به راستون شو. يا لکه اوس چې ځينې خلک راووځي نو که تور سپی يا پيشو ووينې نو هغه کار بيا نه کوي او بدپالي يې ګڼي يا وايي دا ښځه راپورې ښه نه شوه تر دې چې ښنګری يا پونده يې داغي ...... دا ټول ناروا او شرک دئ.

---

[1] رواه ابو داود والبخاری فی الادب المفرد والترمذی وابن ماجه والطحاوی وابن حبان والبیهقی فی السنن والحاکم والطیالسی

ځینې خلک د کور په دېوال د کارغه یا ګونګې بونکې
کېناستل بد ګڼي یا د صفر په میاشت کې بدپالي ګڼي دا هم ناروا
او شرکي عقیده ده.

کله کله په یو کور کې د ناپاکیو، ماشو او دسیمې د خراب
موسم له کبله ناروغی وي نو دا کومه بدپالي نه ده پښتانه چې یې
پال بولي هغه همدغه طیرة. د لاس د کرښونه د غیب ویل (کف
شناسي) جفر، طالع لیدل، دا ټول ناروا او د غیبو دعوه ده چې شرک
دی.

حدیثو کې چې «فأل» راځي هغه دیوې ښې خبرې اورېدل
دي لکه چې حدیث کې داسې راځي: «الکلمة الصالحة یسمعها
أحدکم»[1]

«یوه ښه خبره ده چې ستاسو یو څوک یې واوري».

او بل حدیث کې راځي چې فال مسلمان له کوم کارنه نه
ایساروي.

د کور، ښځې او سپرلی ښه کېدل او بدېدل دانه دي چې
ګڼې بې له ظاهري اسبابو چا پورې ښه او چا پورې بد شي، بلکه دا
ټول په اسبابو او لاملونو دي لکه د ښځې ښه والی د صورت او
سیرت ښکلا، هوښیاري، طاعت، پاکي، کور، مېره، او بچوته
پاملرنه، هر کار په نظم او ښې سرشتې کول...... دي، او بدوالی یې
بدرنګي، بداخلاقي، بدسلوکي، چټلي او خرامبوتوب، کور،
مېړه، بچو او نورو ته پاملرنه نه کول، د کوربې نظمي او ناپاکي او

---

[1] - رواه البخاری ومسلم.

داسې نور ........ دي همدارنګه د کور ښه والی پراخې، ښه ګونډيان، د اړتياؤ پوره والی، د هوا او اوبو پاکوالی او ښه والی، د نقشې او ترتيب ښه والی کره والی او داسې نور ......... دي
او بدي يې تنګوالی، بدګونډيان، خرابه هوا او اوبه، بې کاره او بې ترتيبه نقشه، ناپاکي او داسې نور دي.......
د سپرلۍ ښه والی جوړ والی او صحت، تابعداري او ايل کيدل، يرغه توب او ښه خوی ښکلا او کره توب او داسې نور.........
دي
او بدي يې بدرنګي، ناروغي، ډګډګي توب، سرغړونه او سخت خوی، د اصل ناکره توب او داسې نور......... دي.
د جاهليت په وخت کې د عربو دا عقيده وه چې کومه ليندۍ به ډېره زړه شوه منځنی د څرمنې تار((وتر)) به يې ورته نوی کړ او زوړ به يې اوښانو او نورو څارويو ته د برکت لپاره غاړه کې واچاوه اودا عقيده يې وه چې دايې په غاړه وي نو نه له نظره کېږي.
نو رسول اللهﷺ زيد بن حارثه ولېږه او حکم يې ورته وکړ چې:
((**لا يبقين فى رقبة بعيرقلادة من وتر أو قلادة إلاقطعت**))[1]
((د هيڅ کوم اوښ په غاړه کې به دليندۍ تار يا غاړکۍ نه پرېږدي مګر پرې کوي به يې)).
د ښکلا لپاره څارويو ته غاړکۍ اچول روا دي خو د برکت او د ضرر د دفع کولو لپاره کوم تعويذ، بند، مرۍ او نور اچول ناروا دي.

---

[1]- رواه البخاری ومسلم و ابوداود.

همدا رنګه بل حدیث کې داسې راځي:

عن عبدالله بن عُکَیم قال: قال رسول اللهﷺ: ((من تعلق شیئاً و کل إلیه)).[1]

عبد الله بن عکیم رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي: رسول اللهﷺ فرمایلي دي: ((چاچې ځان پورې څه شی ونښلاوه نو همغه ته وسپارل شو)).

مطلب دا چې د برکت او شفاء لپاره چې دې هر شی یا په غاړه کې ځوړند کړ او یا دې د بدن بل کوم غړي پورې ونښلاوه نو الله تعالی نه دې تعلق پرې شو او همغه شي ته وسپارل شوې چې هیڅ نه شي کولی او یواځې عقیده دې پرې شرکي شوه.

یو روایت کې داسې راځي:

عن عطاء الخراساني قال: لقیت وهب بن منبه و هو یطوف بالبیت فقلت: حدثني حدیثًا أحفظه عنك فی مقامي هذا وأوجز. قال: نعم، أوحی الله تبارك وتعالی إلی داود: ((یا داود! أما وعزتي وعظمتي لا یعتصم بي عبد من عبادي دون خلق أعرف ذلك من نیته فتکیده السمٰوات السبع و من فیهن والأرضون السبع ومن فیهن، إلا جعلت له من بینهن مخرجا أما وعزتي و عظمتي لا یعتصم عبد من عبادی بمخلوق دوني أعرف

[1]- رواه الترمذی و احمد و ابوداود والحاکم.

ذلك من نيته، إلا قطعت أسباب السماء من يده و أسخطت الأرض من تحت قدميه ثم لا أبالي بأى أوديتها هلك)).[۱]

عطاء خراساني نه روایت دی هغه وایي: وهب من منبه بیت الله نه طواف کاوه چې زه ورسره مخ شوم، نو ماورته وویل: داسې څه خبره راته وکړه چې زه یې په دې ځای کې له تا یاده کړم او لنډه خبره وکړه. هغه وویل: هو. الله تعالی داود ﷺ ته وحې وکړه او ورته ویې فرمایل: ((ای داوده! په دې وپوهېږه! زما دې په خپل عزت اولوی والي قسم وي چې زما له بنده ګانو څخه هر څوک زما له مخلوق پرته ماپورې ونښلي او له ماهره هیله وکړي ـ چې زه یې د هغه له نیته پېژنم ـ که هغه ته اوه اسمانونه او دهغو اوسېدونکي او اوه ځمکې او دهغو اوسېدونکي څه پلمې جوړې کړي هم زه به د دې ټولو له منځه هغه ته د وتلو لار پیدا کړم. او په دې هم وپوهېږه چې زما دې په خپل عـزت او لوی والي قسم وي چې زما له بنده ګانو کوم بنده له ماپرته زما مخلوق کې چا پورې ونښلي او هیلې ورپورې وتړي ـ چې زه يې له نیته پېژنم ـ نو زه به د هغه له لاسه د اسمان اسباب هم پرې کړم او دهغه د پښو لاندې به پرې ځمکه هم غوسه کړم، بیا پروانه کوم چې په کومه کنده کې هلاک شو)).

تعویذګر د تعویزونو د جواز لپاره دا آیة وړاندې کوي چې د قرآن کریم په هکله الله تعالی فرمایي:

((وَشِفَاء لِّمَا فِي الصُّدُورِ))[۲]

---

[۱]- رواه احمد.
[۲]- سورة یونس: ۵۷.

((او هغو ته شفاء ده چې په سينو کې دي)).

نو دوى وايي چې شفاء پکې ده نو مونږ يې تعويذونو کې ليکو او غاړه کې يې اچوو...... دا استدلال بېخي ناسم دى، ځکه چې دلته ((لما فى الصدور)) نه مراد هغه کفر، شرک، وهمونه، شکونه او ناوړه خبرې، عقېدې اونيتونه دي چې په زړونو کې وي.

که د تعويذونو لپاره شي نو بيا خو به يې معنا دا شي (العياذ بالله) چې دا قرآن دهغو مرضونو لپاره شفاء ده چې په سينو کې دي، نو دا بيا يوائې د سينو د امراضو لپاره شو لکه ټوخى، بلغم، سل او داسې نور. نوبيا د نورو لپاره يې څرنګه استعمالوئ؟!.

خو دا استدلال بېخي ناسم دى. بلهٔدا چې کهٔ د ((فيه شفاء)) معنا دا وي چې غاړه کې يې واچوئ نو بيا خو د شاتو (ګبينې) په هکله الله تعالى فرمايي:

((فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ))[1]

((په دې کې خلکو لپاره شفاء ده)).

نو بياد ګبينې بوتل يا ټيم يا بلر...... هم غاړه کې واچوئ!!!.

خو هر ځاى کې خپله معنا وي، د شاتو شفاء دا ده چې ويې خورې، زخم باندې يې استعمال کړې. او د قرآن شفاء دا ده چې ويې لولې، په معنا يې ځان پوه کړې ، عمل پرې وکړې او ستا د معنوي ناروغيو لپاره شفاء شي.

---

[1]- سورة النحل:٦٩.

هو، دم شته او رسول الله ﷺ د دمونو اجازه ورکړې ده او ټول امت ته يې ورکړې ده. خو لکه مخکې مو چې وليدل، تعويذونه، بندونه او داسې نور رسول اللهﷺ منع کړي دي، نو ځکه يې بايد مونږ ونهٔ کړو، کهٔ هغهٔ ﷺ تعويذونه کړي واى نو مونږ به ضرور کول، خو نهٔ هغهٔ کړي دي او نهٔ يې اجازه ورکړې ده، بلکه پهٔ کلکه يې منع کړي دي او شرک يې ورته ويلي دي

بل روايت کې راځي:

**عن حذيفة أنه رأىٰ رجلا فى يده خيط من الحمٰى فقطعه وتلا قوله تعالى: ((وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ بِاللّهِ إِلاَّ وَهُم مُّشْرِكُونَ))** [1]

حذيفهؓ يو سړى وليد چې په لاس کې يې د تبې لپاره تار اچولى ؤ، نو هغه يې پرې کړ او دا آيت يې ولوست: ((او زيات خلک په الله ايمان نه راوړي مګر هغوى شرک کوي)).

بل روايت کې داسې راځي:

**عن حذيفة أنه دخل على مريض يعوده فلمس عضده فإذا فيه خيط فقال ما هذا؟ قال: شئ رقى لى فيه فقطعه و قال: (( لو مت وهو عليك ماصليت عليك ))**. [2]

حذيفه ؓ د يو ناروغ پوښتنې ته ورغى د هغه په مټ يې لاس وواهۀ چې ګورې تار ورپورې تړلى ؤ، هغه ورته وويل: دا څه دي؟ ناروغ ورته وويل: دا تار دى راته دم شوى دى. حذيفهؓ

---

[1] - رواه ابن ابى حاتم.
[2] - رواه وكيع.

ورځخه تار غوټ کړ او ورته ویې ویل: ((که ته ومرې او دا تار درپورې وي نو زه به درباندې د جنازې لمونځ ونه کړم)).

سعید بن جبیر رحمه الله نه روایت دی هغه وایي: (( من قطع تمیمة من إنسان کان کعدل رقبة )).[1]

((چا چې کوم انسان نه تعویذ پرې کړ نو دومره ثواب یې وشو لکه یو غلام یا وینځه چې ازاده کړي)).

او د غلام یا وینځې د ازادولو ثواب په بل حدیث کې داسې راغلی دی چې که چا غلام یا وینځه ازاده کړه نو د هغه د بدن په مقابل کې د ازادوونکي بدن الله تعالی د دوزخ له اوره ژغوري.

تعویذونو کې هسې حسابونه او اکوبکو...... لیکل هیڅا روا نه دي ګڼلي، خو د قرآن کریم یا د حدیثو د دعاؤ لیکل ځینو روا ګڼلي دي، خوشرط یې دالګولی دی چې دا خپله مؤثر ونه ګڼي بلکه یو سبب او برکت یې وګڼي.

دا ډول تعویذونه که داسې لوی شرک نه شي چې اسلام نه پرې ووځي، نو ناروا اووړوکی شرک خو ضرور دی او د روا ګڼلو لپاره یې هیڅ دلیل نشته، ځکه چې تعویذونه مطلق راغلي دي، بله دا چې دا نورو شرکي تعویذونو لپاره ذریعه جوړېږي، بله دا چې دا د قرآن کریم او د الله تعالی د نومونو د سپکاوي سبب جوړېږي، او بله دا چې شکي کار، بې شکه لپاره پرېښودل په کار دي، نو نه کول یې بې شکه ښه کار دی او کول یې په دلیل کې ناروا دي.

---

[1]- رواه وکیع واحمد.

تعویذونه ټول ناروا دي او په صحیح مرفوع حدیث کې د هیڅ ډول تعویذ استثنانه ده راغلې، نو له هر ډول تعویذ نه ځان ژغورل په کار دي، که تعویذ، ونه کړې نو هیڅ دا نه دي ویلي چې ګنې خامخا ضرور دی او په نه کولو یې ګناهګاربږي، نو بې شکه کار ولې ونه کړې؟!

یو روایت کې راځي:

إبراهیم نخعي رحمه الله وایي: «کانوا یکرهون التمائم کلها من القرآن و غیر القرآن».[1]

«صحابه ؤ او تابعینو ټول تعویذونه بد ګڼل، که قرآن نه وو او که غیر له قرآن نه وو».

نو معلومه شوه چې تعویذونه ټول ناروا دي.

او دمونه په مخکنیو شرطونو روا دي هر څوک پرې خپل ځان، بچي او نور خلک دمولی شي او څومره چې پرهېزګاري، عقیده او باور پوخ او پیاوړی وي. همغومره دم پیاوړی وي ځکه چې نېکانو سره د الله تعالی مرسته ډېره وي. خو دمونو ته دوکانونه جوړول نشته.

همدارنګه اوبو باندې د قرآن لوستل یا د شرعي دم لوستل او بیا ناروغ ته ورکول روا دي، خو چوف کوف او پوکی پکې نشته، یواځې دا دي چې مخې ته یې کېږده، یا یې مخې ته نږدې ونیسه او دم پرې ولوله دا په حدیث کې ثابت دی:

[1]- رواه احمد و ابن ابي شیبة.

((ثابت بن قیس بن شماس ناروغه ؤ رسول اللهﷺ په اوبو باندې د قرآن دم ولوست او بیا یې په هغه واچولې))[1]

((همدا رنګه عائشېؓ به هم په قرآن کریم اوبه دمولې او بیا به یې په ناروغ اچولې))[2]

نو دا روا دي څنبل او په ځان اچول یې دواړه روا دي، خو اوبهٔ به مؤثرې نه ګڼې او شفاء به له الله تعالی غواړې. ځابنتونه لیکل او هغه اوبه څنبل شرک نه دی خو ناروا دي او د رواتوب لپاره یې هیڅ دلیل نشته.

## په ونو، غنو، ګټو کې برکت ګڼل شرک دی

ځینو خلکو ته شیطانانو او منجاورانو بزرګې ونې، بزرګې تیږې او داسې نور جوړ کړي وي او خلک د خیر او برکت لپاره ورځي دا ټول ناروا او شرک دی.

ابو واقد لیثيؓ نه روایت دی هغه وایي مونږ نوي له کفر نه رامسلمانان شوي وو او رسول اللهﷺ سره حنین ته ووتلو، د مشرکانو یوه د بېرې ونه وه چې برکت لپاره به یې پکې وسلې او شیان ځوړندول ((ذات انواط)) ((د ځوړندولو والاونه)) یې بلله ، مونږ په هغه بېرې تېر شو نو رسول اللهﷺ ته مو وویل: مونږ ته هم داسې

---

[1] - رواه ابوداود و ابن حبان و النسائي فی عمل الیوم واللیلة.
[2] - رواه ابن ابي شیبة.

یوه د ځوړندولو ونه وټاکه لکه د دوی چې ده. هغه له تعجب نه وویل: ((الله اکبر)) ((الله ډېر لوی دی)) (( إنها السنن قلتم والذی نفسي بیده کما قالت بنو إسرائیل لموسیٰ : (( إجعل لنا إلها کما لهم ءآلهة قال إنکم قوم تجهلون )) لترکبن سنن من کان قبلکم ))[1]

((دا خو رواجونه، دي زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما ځان د هغه په لاس کې دی، تاسو داسې خبره وکړه لکه بني اسرائیلو چې موسیٰ ﷺ ته ویلي وو چې (( مونږ ته هم داسې یو معبود جوړ کړه لکه د هغوی چې معبودان دي، هغه وویل: تاسو بې شکه داسې خلک یئ چې ناپوهي کوئ)) تاسو به هرو مرو د هغو خلکو په دودونو روان شئ چې له تاسو مخکې وو)).

نو د برکت او خیر لپاره ونه، ګټه، کوټه، قبر، جامه او نور ټاکل داسې شول لکه چې معبود دې ورته ووایه.

## شفاعت

شفاعت سپارښتنې او سفارش ته ویل کېږي. د یو چا څه کار د کوم کس پورې اړه لري او د دې لپاره چې وشي یا بنۀ او زر وشي، اړوند شخص ته د داسې یو چا سپارښتنه چې پۀ هغۀ یا

---

[1] - رواه الترمذی والنسائي و احمد و ابن ابی شیبة والطبرانی.

لحاظ ولري، مینه ورسره لري، یا پرې آمر وي ،یا اغېزمن وي خبره یې مني او ترې نۀ تېرېږي، دا شفاعت بلل کېږي.

## د شفاعت ډولونه

د قرآن کریم او احادیثو پۀ تتبع او پلټنه کې اوه ډوله شفاعت څرګند ېږي.

او هغه د ادي:

په لومړي وېش شفاعت په درې ډوله دی :

(۱) دنیوي.

(۲)أخروي.

(۳) معدومه.

دنیوي شفاعت بیا پۀ لومړي وېش دوه ډوله دی:

(۱) حسنه.

(۲) سیئه.

شفاعت حسنه بیا پۀ دوه ډوله دی :

(۱) دعاء.

(۲)اړتیا.

شفاعت سیئه هم په دوه ډوله دی:

(۱) حرام.

(۲) شرکي.

اخروي شفاعت په دوه ډوله دی:

(۱) مأذون.

(۲)ممنوع.

ممنوع شفاعت بیا په دوه ډوله دی:

(۱) شرکي.

(۲)کفارو او مشرکینو لپاره.

دا ټول ډولونه په لاندې جدول کې وګورئ:

## د شفاعت د ډولونو جدول



د دې جدول تفصيل دا سې دی:

## د نيوي شفاعت

دنيوي شفاعت او سپارښتنه دا ده چې د دنيا په ژوند کې انسانان يو بل ته ورځي او چانه سپارښتنه غواړي او يايې د چاپه هکله کوي.

دا سپارښتنه بيا په دوه ډوله ده:

(۱) حسنه شفاعت.

(۲) سيئه شفاعت.

حسنه شفاعت ښه شفاعت او سيئه شفاعت بد او ناوړه شفاعت ته ويل کېږي.

الله سبحانه وتعالى فرمايي:

((مَّن يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا وَمَن يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُ كِفْلٌ مِّنْهَا))[1]

(( چا چې ښه سپارښتنه وکړه هغه لپاره به د هغې نه څه برخه وي او چا چې ناوړه سپارښتنه وکړه هغه لپاره به د هغې نه څه ونډه وي)).

[1] - سورة النساء: ۸۵.

معنا دا چې که ښه او نېکه سپارښتنه ، دښهٔ او روا کار پهٔ هکله یې سپارښتنه وکړه نو هغهٔ ته به الله نېکه بدله او ثواب ورکړي او کهٔ د بدکار، ناروا او ناوړه کار په هکله یې سپارښتنه وکړه نو هغه به ګناهګار شي او د ګناه ونډه به واخلي.

حسنه شفاعت یا ښهٔ او نېکه سپارښتنه بیا پهٔ دوه ډوله ده:

یو دا چې چاته دعاء وکړې چې الله تعالی یې کوم کار تر سره کړي او یا یې کومه ستونزه حل کړي. او څهٔ اړتیا یې پوره کړي.

لکه چې رسول اللهﷺ نه به د ستونزو د حل او اړتیاؤ د پوره کولو لپاره صحابه کرامو دعاء غوښتله، یا ژوندي د مړو پهٔ هکله دعاء کوي، لکه چې دجنازې پهٔ دعاء کې به رسول اللهﷺ فرمایل:

((جئنا شفعاء فاغفر لها))[1]

((مونږ سفارشیان راغلي یوو نو دغه مړي ته ښښنه وکړه)).

د دنیوی حسنه شفاعت دوهم ډول د اړتیا سپارښتنه ده، هغه دا چې د چا کومه ستونزه وي، یا یې کومه اړتیا وي او د هغې پهٔ هکله څوک هغه چاته سپارښتنه او سفارش وکړي چې دغه ستونزه یا اړتیا ورپورې اړه لري.

دا انسانان خپلو منځو کې کوي، لکه حکومتي چارواکو ته سپارښتنه، کوم خپل ته، کوم دوست ته او داسې نور......

[1]- رواه ابوداود و احمد و ابن ابی شیبة والبیهقی والطبراني والنسائي فی عمل الیوم واللیلة.

د دنیـوي شـفاعت دوهـم ډول ((سـیئه شـفاعت)) ((نـاوړه شفاعت)) دی چې حرام دی. دا ناوړه او بد شفاعت بیا په دوه ډوله دی:

(۱) د کـوم حـرام او د ګنـاه د کـار لپـاره شـفاعت او سپارښتنه. لکه چې نبي کریمﷺ ته د یو شرعي حد د نۀ تطبیقولو لپاره أسامه رضی الله عنه سفارش وکړ، هغه پۀ غوسه شو او ویې فرمایل:

((أتشفع فی حد من حدود الله؟))[1]

((آیا ته د الله تعالی له حدودو څخه په یو حد کې سپارښتنه کوې؟)).

(۲) د دنیوي سیئه شفاعت دوهم ډول شرکي شفاعت دی. دا شـفاعت د دنیـوي سیئه شـفاعت او د اخـروي ممنـوع شـفاعت ترمنځ شریک دی.

د دنیـوي سـیئه شرکي شـفاعت معنـا دا ده چـې د دنیـوي کړاوونو د لرې کولو، ستونزو د حل او د اړتیاؤ د پوره کولو لپـاره څوک غیبي سفارشي وتاکي، بیا د عبادت ځینې ډولونه هغۀ تـه وکړي او دعوه دا وي چې دوی الله تعالی تـه نږدې دي او هغـۀ تـه زمونږ سفارش او سپارښتنه کوي، لکه د اوسنۍ زمانې قبرپرستان لو بریلیـان چـې د ګومبزو او جنډو والا قبرونـو زیـارت تـه ځـي، د هغـوی پـه نامـه نذرونـه، منښتې او شـکرانې ورکـوي، هغـوی تـه راورسـیږه رامدد شې وایي، او چې پوښتنه ورڅخه وکړې نو بیا وایي چې دا الله تعالی تـه نږدې دي نو زمونږ شفاعت اوسپارښتنه

[1] - رواه البخاری ومسلم و ابوداود و الترمذی والنسائي وابن ماجة والبیهقی وابن حبان.

ورته کوي، او هغه قبر ته وايي چې زۀ ستالمن نيسم تۀ د الله تعالی لمن ونيسه او زمونږ سفارش ورته وکړه، نو دا شرکي شفاعت دی او پخوانيو مشرکانو به هم همداسې ويل.

الله تعالی فرمايي:

((وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللّهِ مَا لاَ يَضُرُّهُمْ وَلاَ يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَـؤُلاء شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللّهِ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللّهَ بِمَا لاَ يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلاَ فِي الأَرْضِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ))[1]

((او له الله پرته د هغه چا عبادت کوي چې نه ورته څۀ کړاو رسولی شي او نۀ ورته څۀ گټه، او وايي چې دا الله سره زمونږ سفارشيان دي. ورته ووايه چې آيا تاسو الله پۀ هغه څۀ خبروئ چې اسمانونو او زمکې کې ورته معلوم نۀ دی؟ الله لۀ هغو پاک او پورته دی چې دوی يې ورسره شريکوي))

د قيامت پۀ ورځ به دغسې سفاش نيوونکيو ته الله تعالی وفرمايي:

((وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَى كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَاكُمْ وَرَاء ظُهُورِكُمْ وَمَا نَرَى مَعَكُمْ شُفَعَاءكُمُ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَاء لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ))[2]

---

[1] - سورة يونس: ۱۸.

[2] - سورة الانعام: ۹٤.

((تاسو مونږ ته داسې يوائځې راغلئ لکه چې لومړی ځل مو پيدا کړي وئ او څۀ مو چې درکړي وو هغه مو شاته پرېښودل، او تاسو سره ستاسو هغه سفارشيان نۀ ګورو چې تاسو دعوه کوله چې هغوی تاسو کې شريکان او د برخې خاوندان دي، ستاسو تر منځ اړيکې وشلېدلې او هغه څۀ درنه ورک شول چې تاسو يې دعوه کوله)).

او فرمايي:

((وَلَمْ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَائِهِمْ شُفَعَاء وَكَانُوا بِشُرَكَائِهِمْ كَافِرِينَ))[1]

((او دوی لپاره به د دوی د شريکانو نه څوک سفارشيان هم نۀ وي او خپلو شريکانو نه به منکر شي)).

او د ياسين هغه مؤمن سړي هم خپل قوم ته ويلي وو:

((أَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِ آلِهَةً إِن يُرِدْنِ الرَّحْمَن بِضُرٍّ لاَّ تُغْنِ عَنِّي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا وَلاَ يُنقِذُونِ))[2]

((آيا لۀ هغه پرته داسې معبودان ونيسم چې کۀ ډېر زيات مهربان ذات په ما باندې د کوم کړاو اراده وکړي نو د هغوی سفارش ما ته هيڅ ګټه نۀ شي رارسولی او نۀ ما ژغورلی شي)).

نو دا هغه شرکي شفاعت دی چې مشرکان ورباندې د شفاعت نوم ږدي او په حقيقت کې يې د غه سفارشيانو نه معبودان جوړ کړي وي، هغو ته غيبي غړونه کوي، راورسېږه رامدد شه ورته

[1]- سورة الروم:۱۳.
[2]- سورة يس: ۲۳.

وایي، د هغوی په نامه نذرونه او شکرانې ورکوي او داسې نور شرکي اعمال تر سره کوي.
شیطان همداسې کوي، په نومونو بدلولو انسان تېر باسي، لکه ډېر مشرکان د غیرالله عبادت کوي او نوم ورته شفاعت، وسیله، احترام او داسې نور ږدي، او جوړ کړي یې معبودان وي، خو نوم ورته اولیاء، سفارشیان، نازولي، او داسې نور ږدي.

## أخروي شفاعت

اخروي شفاعت اوسپارښتنه داده چې انسان عقیده ولري چې په اخرت کې به د الله تعالی په وړاندې څوک زما او دنورو شفاعت کوي.
اخروي شفاعت په لومړي وېش دوه ډوله دی:
(۱)مأذون.
(۲) ممنوع.

## مأذون شفاعت

ماذون شفاعت دې ته ویل کېږي چې الله تعالی د قیامت په ورځ چاته د ځانګړیو او معلومو خلکو په هکله د شفاعت کولو اجازه وکړي خو دا شفاعت یواځې مؤمنانو لپاره دی.

نو د شفاعت کوونکي ته به هم د شفاعت کولو اجازه شوې وي او د چاپه هکله چې شفاعت کېږي د هغۀ لپاره به هم اجازه شوې وي.

الله تعالی فرمايي:

((مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِه))[1]

((هغه به څوک وی چې الله سره د هغۀ لۀ اجازې پرته شفاعت وکړي)).

((مَا مِن شَفِيعٍ إِلاَّ مِن بَعْدِ إِذْنِه))[2]

((هيڅ سفارشي نشته مګر د هغۀ لۀ اجازې وروسته)).

او فرمايي:

((لاَ يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ إِلاَّ مَنِ اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمَنِ عَهْدًا))[3]

((د سفارش واک به نۀ لري مګر يوائې هغه څوک به يې کولی شي چې الله سره يې تړون کړی وي)).

الله تعالی سره تړون دا دی چې دنيا کې يې ايمان راوړی وي او نېک کارونه يې کړي وي. چې پۀ سر کې يې زمونږ پېغمبر محمد رسول اللهﷺ دی او بيا نور پېغمبران، صالحان، شهيدان او مؤمنان دي، لکه چې وروسته به د شفاعت پۀ احاديثو کې راشي.

[1]- سورة البقرة: ۲۵۵.
[2]- سورة يونس:۳.
[3]- سورة مريم: ۸۷.

او فرمايي:

((يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا)) [1]

((په دغه ورځ به شفاعت يواځې هغه چاته ګټه رسوي چې رحمن ذات ورته اجازه کړې وي او په وينا يې راضي شوی وي)).

او فرمايي:

((وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَى وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِ مُشْفِقُونَ)) [2]

((او شفاعت به يواځې.هغه څوک کوي چې الله ترې راضي شوی وي او هغوی د الله له وېرې وېرېدونکي وي)).

او فرمايي:

((وَلَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ عِندَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ)) [3]

((او الله سره شفاعت هيچاته ګټه نه رسوي مګر يواځې هغه چاته يې رسوي چې الله ورته اجازه کړې وي)).

او يواځې د انسانانو نه بلکه د پرښتو لپاره هم اجازه شرط دی.

الله تعالى فرمايي:

((وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِن بَعْدِ أَن يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَن يَشَاءُ وَيَرْضَى)) [4]

---

[1] - سورة طه: ۱۰۹.
[2] - سورة الانبياء: ۲۸.
[3] - سورة سبا: ۲۳.
[4] - سورة النجم: ۲۶.

((او اسمان کې چې څومره پرښتې دي د هغوی شفاعت هیڅ ګټه نهٔ رسوي مګر لهٔ هغې وروسته یې رسوي چې الله چاته اجازه وکړي او ترې راضي شي)).

نو دا شفاعت مأذون فیه شفاعت دی چې الله تعالی شفاعت کوونکي ته هم اجازه وکړي او د چاپهٔ هکله چې شفاعت کیږي د هغوی پهٔ هکله به هم اجازه شوې وي.

دا شفاعت به تر ټولو د مخه رسول اللهﷺ کوي چې دې شفاعت ته ((شفاعت کبریٰ)) ویل کیږي او بیا وروسته نورو انبیاؤ، صالحینو، شهیدانو او مؤمنانو ته د شفاعت اجازه کیږي، اودا ټول شفاعتونه حق دي.

د شفاعت کبریٰ (لوی شفاعت) پهٔ هکله اوږد حدیث راغلی دی چې انسانان به په محشر کې له ګرمۍ ډیر تنګ شي او آدم‎عليه السلام ته به لاړ شي چې الله تعالی ته سفارش وکړي او حساب کتاب پیل شي، بیا به هغه خپل عذر وړاندې کوي او په سلسلې به له څو پېغمبرانو نه وروسته محمد رسول اللهﷺ ته راشي او هغه به ورته ووایي چې د دې لپاره همدا زه یم، بیا به الله تعالی نه اجازه وغواړي او په سجده به ورته پریوځي، حمدونه به یې ووایي، بیا به ورته وویل شي: ((یامحمد! ارفع رأسك وسل تعطه و قل تسمع واشفع تُشَفع))[1]

[1]- رواه البخاری ومسلم و احمد والترمذي والنسائی وابن خزیمة فی التوحید وابن حبان وابن ابی شیبة و ابوعوانة والطبراني والدارمي.

((اې محمده! سر دې راپورته کړه، غواړه درکول کېږي به، وايه ستا خبره به اورېدل کېږي (قبلېږي) او شفاعت (سپارښتنه) کوه ستا شفاعت به قبلېږي)).

بیا به رسول اللهﷺ شفاعت کوي چې دا د حساب کتاب د پیلولو شفاعت دی. بل شفاعت به جنت ته د ننوتو او دريم دوزخ نه د ګناهګارو مؤمنانو د راایستو، دا ټول شفاعتونه په صحيحو احاديثو ثابت دي او بيا په آخر کې ټولو جنتيانو مؤمنانو ته د شفاعت اجازه کېږي چې دوزخ نه ګناهګار مؤمنان رااوباسي.

## ممنوع شفاعت

د اخروي شفاعت بل ډول ممنوع شفاعت دئ يعنې هغه شفاعت چې الله تعالى منع کړی او نفې کړی دی. او دا ممنوع شفاعت دوه ډوله دی:

(۱) شرکي شفاعت.

(۲) د کفارو او مشرکينو لپاره.

## شركي شفاعت

شركي شفاعت دا دی چې پهٔ دنيا کې له الله پرته د نورو عبادت وكړي او بيا وايي چې دوی به بيا د قيامت پهٔ ورځ زمونږ شفاعت کوي او جنت ته به مو ننباسي، د هر خلک د پيرانو مريدي، د زيارتونو ملنګي، منجاوري، نذرونه شکرانې...... د همدې لپاره او پهٔ همدې ګومان کوي چې ګنې دوی الله تعالی ته نږدې دي، د قيامت پهٔ ورځ به زمونږ شفاعت کوي او مونږ به لهٔ ځان سره جنت ته ننباسي.

شركي شفاعت د دنيوي او اخروي ترمنځ شريک دی. د دې ډول شفاعت په رد کې دليلونه مخکې د دنيوي شفاعت د «سيئه شفاعت» پهٔ ترخ کې تېر شول هلته يې وګورئ.

## د كفارو او مشركينو لپاره شفاعت

د كافرانو او مشركانو لپاره د شفاعت اجازه نشته او دهغوی پهٔ هكله د هيچا سفارش او شفاعت نهٔ قبلېږي.

الله تعالی فرمايي:

((وَاتَّقُواْ يَوْماً لاَّ تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئاً وَلاَ يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَلاَ يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ))[1]

((او د هغې ورځې د عذاب نه ځانونه وژغورئ چې يو نفس به له بل نفس څخه هيڅ شی بدل کې نه شي ورکولی، نه به ورڅخه شفاعت قبلېږي، نه به ورڅخه څه مال اخيستل کېږي او نه به ورسره مرسته کېږي)).

او فرمايي:

((لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ اللّهِ وَلِيٌّ وَلاَ شَفِيعٌ))[2]

((او هغه لپاره به له الله پرته نه څوک دوست وي او نه سفارشي)).

او دوزخ کې به مشرکان وايي:

((فَمَا لَنَا مِن شَافِعِينَ))[3]

((نو مونږ لپاره څوک سفارشيان نشته)).

او فرمايي:

((مَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلاَ شَفِيعٍ يُطَاعُ))[4]

((ظالمانو لپاره به نه څوک خواخوږی دوست وي او نه کوم سفارشي چې د هغه منل کېږي)).

---

[1] - سورة البقرة:٤٨.
[2] - سورة الانعام:٧٠.
[3] - سورة الشعراء: ١٠٠.
[4] - سورة المؤمن:١٨.

((وَلاَ يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ الشَّفَاعَةَ إِلاَّ مَن شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ))[1]

((او هغه خلک چې له الله پرته نور معبودان رابلي د شفاعت واک نهٔ لري. شفاعت يوازې هغه څوک کولی شي چې د حق ګواهي وکړي او پوهېږي)).

او فرمايي:

((فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ))[2]

((نو د سفارشيانو سفارش ورته هيڅ ګټه نهٔ رسوي)).

همدارنګه به اخرت کې کافران او مشرکان وايي:

((فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَاء فَيَشْفَعُواْ لَنَا أَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ قَدْ خَسِرُواْ أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ))[3]

((نو آيا مونږ لپاره څوک سفارشيان شته چې شفاعت راته وکړي يا بېرته دنيا ته وګرځول شو چې دنيا کې مونږ کوم عمل کاوهٔ چې لهٔ هغه بدل نور بهٔ عمل وکړو؟ ذوی خپل ځانونه تاواني کړل او کوم دروغ يې چې تړل هغه ترې ورک شول)).

نو دا هغه شفاعت دی چې د مشرکانو او کافرانو لپاره وي او هغوی لپاره شفاعت نشته.

---

[1]- سورة الزخرف: ٨٦.
[2]- سورة المدثر: ٤٨.
[3]- سورة الاعراف: ٥٣.

## معدوم شفاعت

د دنيوي اواخروي شفاعتونوتر منځ معدوم شفاعت دی.
معدوم ورک او نشت ته وايي. دا ډول سفارش هيڅ نشته او دا قهري او د زور شفاعت دی.
دا ډول شفاعت د انسانانو تر منځ کېدی شي لکه په رتبه او درجه کې پورته او لوړ خلک يې چې د چا په هکله د خپل لاس او اثر لاندې خلکو ته کوي. خو د الله تعالی د پاسه څوک نشته. الله تعالی د ټولو کائناتو او موجوداتو خالق او مالک دی، هغه ټولواک او خپلواک دی او په هغهﷻ څوک زورور او غالب نشته، نو ځکه قهري شفاعت نشته او مونږ يې معدوم بولو.
همدارنګه د معدوم شفاعت بل ډول دا دی چې د الله تعالی په مخلوق کې له هغهٔ پرته بل څوک د هغهٔ ﷻ برابر وګڼې او هغهٔ ته د شفاعت کلّي اختيار ورکړې چې د الله تعالی په خبر يې چاته خوښه وي اجازه ورته کوي او د هغهٔﷻ په څېر تصرف کوي.
دا دواړه ډول شفاعت قهري او معدوم شفاعت دی او په همدې قهري معدوم شفاعت قرآن کريم کې کُلّي رد شوی او ټول الله تعالی پورې خاص شوی دی.

الله تعالی فرمايي:

((أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ شُفَعَاء قُلْ أَوَلَوْ كَانُوا لاَ يَمْلِكُونَ شَيْئًا وَلاَ يَعْقِلُونَ قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا لَّهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ))[1]

((آیا دوی لـه الله پرتـه سفارشیان نیـولي دي، ورتـه ووایـه: اګر چې هغوی د هیڅ شي واک نهٔ لري او نهٔ پوهېږي. ورته ووایه چې شفاعت ټول الله لپاره دی د اسمانونو او ځمکې پاچایي یـواځې د هغهٔ ده بیا هغهٔ ته ورګرځول کېږئ)).

نو دا معدوم شفاعت دی دا ډول شفاعت نشته.

## وسيله

وسیله پهٔ لغت کې یو سبب او لامل ته ویل کېږي.

او په اصطلاح کې الله سبحانه وتعالی تـه د نـږدې کېدو او ښښنې لپاره یو لامـل او سـبب لټـولـو او وړانـدې کولـو تـه وسـیله ویـل کېږي.

وسیله پهٔ درې ډوله ده:

(۱) شرعي.

(۲) شرکي.

(۳) بدعي.

---

[1] - سورة الزمر: ۴۳- ۴۴.

# شرعي وسیله

شرعي وسیله دا ده چې الله تعالی ته یو داسې سبب وړاندې کړې چې قرآن او سنت کې پرې دلیل وي او شریعت یې وسیله وګڼي. په دې وسیلې باندې الله تعالی امر کړی دی.
لکه چې فرمایي:
((یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَابْتَغُواْ إِلَیهِ الْوَسِیلَةَ وَجَاهِدُواْ فِي سَبِیلِهِ لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُونَ))[1]
((ای مؤمنانو! الله نه ځانونه وژغورئ، هغهٔ ته وسیله ولټوئ او د دې لپاره چې بریالي شئ د هغهٔ په لار کې جهاد وکړئ)).
او د هغو صالحینو په هکله چې جاهلان یې رابلي فرمایي:
((أُولَـئِكَ الَّذِینَ یَدْعُونَ یَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِیلَةَ أَیُّهُمْ أَقْرَبُ وَیَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَیَخَافُونَ عَذَابَهُ))[2]
((دوی یې چې رابلي دا هغه خلک دي چې خپل رب ته وسیله لټوي چې کوم یو ډېر نږدې دی، د هغهٔ د رحمت هیله لري او د هغهٔ له عذابه وېرېږي)).
دا هغه شرعي وسیلې دي چې الله تعالی پرې امر کوي.

---

[1]- سورة المائدة: ۳۵.
[2]- سورة الاسراء: ۵۷.

او دا په دوه ډوله ده:
(۱) نېک اعمال.
(۲) د الله تعالی نومونه.

## نېک اعمال

صالح او نېک عملونه الله تعالی ته وسیله کول شرعي وسیله ده.

الله تعالی فرمایي:

((قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلاَ يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا))[1]

((ورته ووایه چې زه بې شکه تاسو غوندې بشر یم ماته وحې کېږي چې ستاسو معبود بې شکه یو معبود دی نو څوک چې د خپل رب سره د مخ کېدو هیله لري نو نېک عمل دې وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هیڅوک نه شریکوي)).

دلته شرعي وسیله په ګوته شوه چې نېک عمل دی او په شرکي وسیلې رد وشو.

[1] - سورة الكهف: ۱۱۰.

نو وسیله نېک عمل دی او الله تعالی قرآن کریم کې ځای په ځای جنت ته د ننوتلو وسیله نېک عمل ښئ لکه چې پرښتې به نېکانو ته وايي:

((ادْخُلُواْ الْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ))[1]

((جنت ته د هغو عملونو په سبب ننوځئ چې تاسو کول)).

همدارنګه به جنت کې جنتیانو ته وویل شي:

((وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ))[2]

((دا هغه جنت دی چې تاسو ته د هغو عملونو په وسیلې په میراث درکول شوی دی چې تاسو کول)).

او د جنتیانو په هکله فرمايي:

((إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ مُحْسِنِينَ))[3]

((دوی بې شکه له دې مخکې نېکي کوونکي وو))

معنا دا چې دنیا کې یې نېک عملونه کول نو ځکه جنت ته راغلل. څرګنده شوه چې هلته ښۀ وسیله نېک عملونه دي.

او فرمايي:

((كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ))[4]

((هر سړی په هغه عمل ګرو دی چې کړی یې دی)).

---

[1]- سورة النحل: ۳۲.
[2]- سورة الزخرف: ۷۲.
[3]- سورة الذاريات: ۱٦.
[4]- سورة الطور: ۲۱.

او فرمايي:

((وَأَن لَّيسَ لِلإنسَانِ إلاَّ مَا سَعَى وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاء الأَوْفَى))[1]

(( او انسان لپاره يواځې هغه څه دي چې کوښښ يې کړی دی ، د هغۀ کوښښ به بې شکه زر وليدل شي بيا به ورته پوره بدله ورکول شي)).

رسول اللهﷺ يا صالحينو او شهيدانو سره مينه او محبت کول الله تعالى ته وسيله کول هم شرعي وسيله ده ځکه چې انبياؤ، صالحينو او شهيدانو سره مينه هم نيک عمل دی او نيک عمل وسيله کول شرعي وسيله ده .

همدارنګه د هغو درې کسانو مشهور حديث دی چې غار کې بند شوي وو او هغه دا راتلونکی حديث دی چې د نېکو اعمالو د توسل ښه دليل دی:

عن عبدالله بن عمر عن النبيﷺ قال : (( بينما ثلاثة نفر يمشون أخذهم المطر فاووا إلى غار في جبل فانحطت على فم غارهم صخرة من الجبل فانطبقت عليهم فقال بعضهم لبعض: أنظرو[2] أعمالا عملتموها صالحة لله فادعوا الله بها لعله يفرجها عنكم؛ قال أحد هم: اللهم إنه كان لي والدان شيخان كبيران ولي صبـــية صغار كنت ارعى عليهم فإذا رحت عليهم حلبت

[1] - سورة النجم: ٣٩- ٤١.

فبدأت بوالدى أسقيهما قبل بنى وإنى استأخرت ذات يوم ولم آت حتى أمسيت فوجدهما نائمين فحلبت كما كنت أحلب فقمت عند رؤسهما أكره أن اوقظهما و أكره أن أسقى الصبية والصبيةُ يتضاغون عند قدمى حتى طلع الفجر. فإن كنت تعلم أنى فعلته إبتغاء وجهك فافرج لنا فرجة نرى منها السماء ففرج الله فرأوا السماء؛ و قال الآخر: اللهم إنها كانت لي بنت عم أحببتها كأشد ما يحب الرجال النساء فطلبت منها فأبت حتى ءاتيها بمائة دينار فطلبتها حتى جمعتها فلما وقعت بين رجليها قالت: يا عبدالله! إتق الله ولا تفتح الخاتم إلا بحقه فقمت فإن كنت تعلم أنى فعلته إبتغاء وجهک فافرج لنا فرجة ففرج. وقال الثالث: اللهم إنى استأجرت أجيرا بفرق أرز فلما قضى عمله قال: أعطنى حقى فعرضت عليه فرغب عنه فلم أزل أزرعه حتى جمعت منه بقرا ورعاها فجاءنى فقال: إتق الله. فقلت: إذهب إلى ذلك البقر ورعاها فخذ. فقال: إتق الله ولا تستهزئ بى، فقلت: إنى لا أستهزأ بك فخذ فأخذه. فإن كنت تعلم أنى فعلت ذلك ابتغاء وجهك فافرج مابقى ففرج الله)) [1]

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه پيغمبر ﷺ نه روايت کوي چې هغه وفرمايل: ((يو وخت درې کسه روان وو چې

[1] ـ رواه البخارى ومسلم.

باران پرې راغی نو په غره کې يو غار ته ورننوتل، د هغوی د غار په خوله له غره نه يو ګټ راپرېووت او د غار خوله يې پرې بنده کړه نو خپلو منځو کې يې يو بل ته وويل: وګورئ چې تاسو الله لپاره کوم نېک عملونه کړي وي د هغو په وسيله الله را وبلئ کېدی شي چې له تاسو دا ګټ لرې کړي. يو يې وويل: ای الله! زما بوډاګان مور او پلار وو او واړه بچي مې وو، ما به ورته مېږې اوزې څرولې کله به چې ماښام ورغلم نو شېدې به مې راولوشلې او لومړی به مې په خپل مور او پلار پيل وکړ؛ د خپلو بچو نه به مې پرې مخکې شېدې څښولې؛ يوه ورځ وروسته شوم ترهغې رانغلم تر څو چې شپه راباندې راغله، چې ګورم هغوی مې ويده ومونده، لکه د مخکې غوندې مې شېدې ولوشلې او د مور او پلار سرونو سره ودرېدم، دا مې بده ګڼله چې راويښ يې کړم او دا مې هم بده ګڼله چې ماشومانو باندې يې وڅښوم، او ماشومان مې پښو کې رغړېدل،تر هغې ولاړ وم چې سبا راوخوت. ته خو پوهېږې چې که دا کار ما ستا د رضاء د لټولو لپاره کړی وي، نو دومره وت راته پېدا کړه چې اسمان ورڅخه ووينوو. نو الله تعالی ورته وت پيدا کړ او اسمان يې وليد.
هغه بل وويل: ای الله! زما يوه د تره لور وه او داسې مې خوښه وه لکه سړي چې ښځې ډېرې زياتې خوښوي، ما ترې غوښتنه وکړه هغې تر هغې انکار وکړ چې ترڅو ورته سل ديناره رواړم، ما کوښښ وکړ او راجمع مې کړل، کله چې يې د پښو منځ کې کېناستم نو راته ويې ويل: ای د الله بنده! الله نه وېرېږه او له حق پرته مهر مه خلاصوه، نو زه پاڅېدم. ته خو پوهېږې چې که دا کار

ماستا د رضا د لټولو لپاره کړی وي نو لږ وت نورهم راته پیدا کړه، نو نور وت هم پیدا شو. دریم وویل: ای الله! ما په یو فرق وریجو یو مزدور ونیوهٔ کله یې چې کار بشپړ کړ راته ویې ویل: ماته زما حق راکړه ما هغه ته خپل حق وروړاندې کړ هغه وانه خیست. بیا ما تر هغې کرلې ربیلې چې څه غواګانې او پادوانان مې پرې واخیستل. بیا راته راغی او ویې ویل: الله نه ووېرېږه. ماورته وویل: دغو غواګانو او پاده وانانو ته یې ورشه او درواېې خله، هغه راته وویل: الله نه ووېرېږه او ملنډې راباندې مه وهه. ما ورته وویل: ملنډې درباندې نه وهم در واېې خله، نو هغه واخیسته. ته خو پوهېږې چې که دا کار ما ستا درضاء د لټولو لپاره کړی وي نو دا پاتې هم رانه لرې کړه، نو الله تعالی لرې کړه».

همدارنګه د الله تعالی په سپېڅلیو نومونو او صفاتو وسیله نیول هم شرعي وسیله ده.

الله تعالی فرمایي:

«وَلِلّهِ الأَسْمَاء الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا»[1]

«او د الله ښایسته نومونه دي نو د هغو په وسیله یې را وبلئ».

همدارنګه مخکې حدیث تېر شو چې: «أسالك بكل إسم ......» نو یا الله، یارحمن، یارحـیم، ویل یا دا ویل:

---

[1] - سورة الاعراف: ۱۸۰.

((اللـــــهم إني أســـالك باسمك الأعظم و أسمائك الحسنى وصفاتك العلى[1])).

((ا ی الله! زه له تا ستا د ډېر لوی نوم، ستا د ښکلو نومونو او لوړو صفتونو په وسيله سوال کوم)). دا ټولې ښې وسيلې دي.

همدا رنګه ژوند يو حاضرونه دعاء غوښتل هم مشروع دي.

## شرکي وسيله

شرکي وسيله: دا ده چې څوک له الله تعالى پرته د چا عبادت وکړي او هغه وسيله وګڼي، لکه زمونږ د دې زماني قبر پرست چې د زيارتونو په نامهٔ نذرانې او شکرانې مني، را ورسېږي رامدد شي ورته وايي...... او بيا وايي چې دا مونږ الله تعالى ته وسيله کوو پخوانيو مشرکانو به هم همداسې کول، دا په اصل کې واسطه بلل کېږي او دا واسطې شرک دی. الله تعالى فرمايي:

((وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاء مَا نَعْبُدُهُمْ إِلاَّ لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى))[1]

---

[1] - سورة الزمر: ۳.

((او هغه خلک چې لهٔ الله پرته مدد ګاران یې نیولي دي، وایي چې مونږ یواځې د دې لپاره د دوی عبادت کوو چې الله ته مو پهٔ مرتبه کې نږدې کړي)).

او س هم قبر پرست وایي چې مونږ دې زیارتونو، انبیاؤ او اولیاؤ ته د دې لپاره نذرانې او شکرانې منوو غږ ورته کوو چې دا زمونږ وسیلې او واسطې دي، او ګومان کوي چې دوی پهٔ غیبو پوهیږي او زمونږ غږ اوري.

او کله کله قبرته ودریږي او ورته وایي: زه ستا لمن نیسم ته د الله لمن ونیسه. او بیا وایي دوی د الله تعالی نازولي دي، هغه ته نږدې دي مونږ یې دوی ته وایو دوی یې الله ته وایي.

دغه واسطې شرک دی، او دا واسطې نیوونکي مشرکان دي.

## بدعي وسیله

بدعي وسیله دا ده چې څوک وسیله ګڼي، د هغهٔ عبادت نهٔ کوي، نهٔ یې پهٔ غیبو پوه ګڼي، نه ورته نذرانې او شکرانې مني، نه یې واسطې ګڼي، نه ورته راورسیږه رامدد شه وایي او پهٔ قبر پرستۍ، ملنګانو، منجاورانو او نورو خرافاتو رد کوي او عقیده پرې نهٔ لري، خو داسې څهٔ وسیله کوي چې هغې لپاره شرعي دلیل نهٔ وي او نهٔ د رسول اللهﷺ او صحابهؤ پهٔ وخت کې شوې وي، لکه چې دعاء کې الله تعالی ته کوم پیغمبر، صالح، شهید، جاه، مرتبه

او درجه وسيله کړي او سوال الله تعالى نه کوي خو د فلاني په خاطر يا د فلاني په جاه، مخ او وسيله يې کوي، نو اګر چې په دې کې شرک نشته خو بدعت ضرور دى ،ځکه چې شرعي دليل نه لري، نو ځان ترې ژغورل په کار دي.

دا ډول وسيله هم حرامه او ناروا ده. دا نه پيغمبرﷺ نه ثابته ده او نه صحابه کرامو رضي الله عنهم داسې وسيلې نيولې دي.

او عمرؓ چې عباسؓ وسيله کړى ؤ نو هغه د دعاء مطالبه ده ځکه چې که په ذوات فاضله ؤ باندې يې وسيله نيولى ئو په پيغمبرﷺ به يې نيولې وه خو داسې يې ونه کړل او د عبد الرزاق او نورو په روايت کې دا راځي چې عمرؓ عباسؓ ته وويل: ((قم فاستسق)) ((پاڅه باران وغواړه)) نو هغه پاڅيد او دعاء يې وکړه.

نو نېکانو نه دعاء غوښتل مشروع دي خو له ژوندیو نه.

## د توحيد د منلو په لار کې خنډونه

توحيد د الله سبحانه وتعالى ډېر نيکمرغه او بختور بندګان مني او اعتراف پرې کوي خو ډېر داسې هم شته چې د توحيد او هر ډول حق په منلو کې ناغېړي کوي او د دې نه منلو ډېر لاملونه دي چې د منلو په لار کې خنډ شوي دي او ځينې يې دا دي:

## شیطان

تر ټولو لوی لامل شیطان دی چې ډول ډول مکرونه او حیلې کوي چې انسان د حق منلو ته پرې نهٔ ږدي. شیطان چې کله د الله تعالی د حکم منلونه سرغړونه وکړه او الله تعالی خوار او ذلیله کړ نو الله تعالی ته یې وویل:

((أَنظِرْنِي إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ))[1]

(( ماته تر هغې ورځې مهلت راکړه چې خلک بیا راژوندي کیږي)).

الله تعالی ورته وفرمایل:

((إِنَّكَ مِنَ المُنظَرِينَ))[2]

(( ته له مهلت ورکول شویو څخه شوې )).

شیطان وویل:

((فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ ثُمَّ لآتِيَنَّهُم مِّن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَن شَمَآئِلِهِمْ وَلاَ تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ))[3]

((نو لهٔ دې امله چې زهٔ دې سرکشه کړی یم، زه بهٔ خامخا او هرومرو دوی ته ستا په سمه لار کې کېنم، بیا به ورته مخامخ، د شا

---

[1]- سورة الاعراف: ١٤.
[2]- سورة الاعراف: ١٥.
[3]- سورة الاعراف: ١٦- ١٧.

له پلوه، د ښي لورنه او د کيڼ لور نه راشم او زيات به يې شکر کوونکي ونهٔ مومې».
همدارنګه شيطان وويل:
«رَبِّ بِمَآ أَغْوَيْتَنِي لأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الأَرْضِ وَلأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ إِلاَّ عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ»[1]
«اى زما ربه! لهٔ دې امله چې زه دې سرکشه کړى يم، زه به خامخا ستا بنده ګانو ته په زمکه کې ناوړه کارونه ښايسته کړم او ستا لهٔ چاڼ شويو بنده ګانو نه پرته به ټول سرغړوونکي کړم».
او ويلي يې وو:
«أَرَأَيْتَكَ هَـٰذَا الَّذِي كَرَّمْتَ عَلَيَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُ إِلاَّ قَلِيلاً قَالَ اذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَاء مَّوْفُورًا»[2]
«آيا تا دا سړى ليدلى چې تا په ما ورته عزت ورکړى دى کهٔ تا د قيامت تر ورځې وروسته کړم نو خامخا به يې لهٔ لږو پرته نور اولاد بې لارې کړم. الله وفرمايل: لاړشه چا چې له دوي ستا تابعداري وکړه نو ستاسو د ټولو پوره بدله دوزخ دى».
خو شيطان پهٔ مخلصو مؤمنانو تسلط نه لري د شيطان تسلط يوازې پهٔ هغه چا وي چې د هغهٔ مني:

---
[1]- سورة الحجر: ۳۹- ۴۰.
[2]- سورة الاسراء: ۶۲- ۶۳.

((إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ إِنَّمَا سُلْطَانُهُ عَلَى الَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُ وَالَّذِينَ هُم بِهِ مُشْرِكُونَ))[1]

((حقیقت دا دی چې شیطان په هغه چا تسلط نه لري چې ایمان یې راوړی او په خپل رب خانونه سپاري. د هغه تسلط یواځې په هغه چا دی چې د هغه ملګري کوي او په هغه چا چې هغوی د هغه له امله مشرکان دي)). او الله ورته وفرمایل:

((إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ))[2]

((زما په بنده ګانو ستا تسلط نشته)).

## د پلرونو او نیکونو تابعداري

د توحید او د حق د هراړخ د منلو په لار کې یو خنډ د پلرونو او نیکونو تابعداري ده. جاهلان د پلار نیکه له دودونو، خرافاتو او ناوړه ګروهو، وهمونو او تعصبونو نه اړول ډېر ستونزمن کار دی.

د حق لارې ته د بلنې په وخت کې ناپوهان تل دا وایي چې مونږ د پلرونو او نیکونو لارنه پرېږدو، ولې هغوی په ناحقه وو څه؟، ولې هغوی نه پوهېدل څه؟ او دا جاهلانه کړنلاره له پخوا راروانه ده.

[1] ـ سورة النحل: ۹۹ـ ۱۰۰.
[2] ـ سورة الاسراء: ۶۵.

الله تعالی فرمايي:

((وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللّهُ قَالُواْ بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ شَيْئاً وَلاَ يَهْتَدُونَ))[1]

((او کله چې دوی ته وویل شي چې د هغه کتاب تابعداري وکړئ چې الله نازل کړی دی نو وايي: بلکه مونږ د هغه لارې تابعداري کوو چې خپل پلرونه مو پرې موندلي وو. اګر که د دوی پلرونه په هيڅ نۀ پوهېدل او نۀ يې سمه لار موندله؟!))

((وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ إِلَى مَا أَنزَلَ اللّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُواْ حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ شَيْئًا وَلاَ يَهْتَدُونَ))[2]

(( او کله چې دوی ته وویل شي هغه کتاب ته چې الله نازل کړی او پېغمبر ته راشئ نو وايي: مونږ لپاره همغه څۀ بس دي چې خپل پلرونه مو پرې موندلي وو. اګر که د دوی پلرونه پۀ هيڅ نۀ پوهېدل او نه يې سمه لار موندله نوهم؟))

((وَإِذَا فَعَلُواْ فَاحِشَةً قَالُواْ وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءنَا وَاللّهُ أَمَرَنَا بِهَا قُلْ إِنَّ اللّهَ لاَ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاء أَتَقُولُونَ عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ))[3]

---

[1]- سورة البقرة: ۱۷۰.
[2]- سورة المائدة: ۱۰٤.
[3]- سورة الاعراف: ۲۸.

((او کله چې کوم ناوړه د بې شرمۍ کار وکړي نو وايي چې مونږ خپل پلرونه په همدې مونډلي وو، الله مونږ ته په دې امر کړی دی. ورته ووايه چې الله په ناوړه د بې شرمۍ کار باندې امر نه کوي آيا تاسو په الله هغه څه وايئ چې پرې نه پوهېږئ؟))

عاديانو ته چې کله هود ﷺ د حق دعوت وړاندې کړ نو هغوی هم ورته وويل:

((أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللّهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا))[1]

((آيا ته د دې لپاره مونږ ته راغلی یې چې د يو الله عبادت وکړو او هغه څه پرېږدو چې زمونږ پلرونو یې عبادت کاوه؟))

موسیٰ ﷺ ته هم فرعون او د هغه غوړه مالانو ويلي وو چې:

((أَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا وَتَكُونَ لَكُمَا الْكِبْرِيَاء فِي الأَرْضِ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِينَ))[2]

((آيا ته د دې لپاره مونږ ته راغلی یې چې له هغې لارې مو واړوې چې مونږ پرې خپل پلرونه مونډلي وو او تاسو دواړو لپاره په ځمکه کې لويي پاتې شي؟ مونږ په تاسو ايمان راوړونکي نه يوو)).

اورسول الله ﷺ ته الله تعالی فرمايي:

((فَلاَ تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هَـؤُلاء مَا يَعْبُدُونَ إِلاَّ كَمَا يَعْبُدُ آبَاؤُهُم مِّن قَبْلُ))[3]

---

[1] ـ سورة الاعراف: ۷۰.
[2] ـ سورة يونس: ۷۸.
[3] ـ سورة هود: ۱۰۹.

(( نو ته لۀ هغې په شک کې مۀ کېږه چې د غه خلک يې عبادت کوي، دوی يواځې هغسې عبادت کوي لکه د دوی پلرونو چې مخکې کاوۀ)).

د نـوح ﷺ د قـوم، د عاديـانو، ثموديـانو او هغـوی نـه دراوروسـته قومونـو حـال الله تعـالى څرګنـدوي چـې د هغـوی ټولـو سرغړوونکيو خلکو خپلو پېغمبرانو ته ويلی وو چې:

((إِنْ أَنتُمْ إِلاَّ بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَآؤُنَا))[1]

((تاسو يواځې مونږ غوندې انسانان يئ غواړئ چې مونږ لۀ هغه څۀ بند کړئ چې زمونږ پلرونو يې عبادت کاوۀ)).

ابراهيم ﷺ چې کله خپل قوم ته وفرمايل:

((مَا هَذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ))[2]

(( دا تاسو يې چې منجاوري کوئ د دې بوتانو څۀ حيثيت دی؟)).

هغوی ورته وويل:

((وَجَدْنَا آبَاءنَا لَهَا عَابِدِينَ))[3]

((مونږ خپل پلرونه موندلي وو چې د دې عبادت کوونکي وو)).

---

[1]- سورة ابراهيم: ۱۰.
[2]- سورة الانبياء: ۵۲.
[3]- سورة الانبياء: ۵۳.

ابراهیم ﷺ ورته وفرمایل:

((لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ))[١]

((تاسو او ستاسو پلرونه بې شکه په څرګندې بې لارۍ کې وئ)).

نوح ﷺ چې کله د توحید دعوت ورکړ نو قوم یې وویل:

((مَا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ))[٢]

((مونږ د خپلو پخوانیو پلرونو په وخت کې دانه دي اورېدلي)).

او الله تعالی د سرغړوونکیو په هکله فرمایي:

((وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ يَدْعُوهُمْ إِلَى عَذَابِ السَّعِيرِ))[٣]

((او کله چې دوی ته وویل شي چې د هغه کتاب تابعداري وکړئ چې الله رالېږلی دی نو وایي: بلکه مونږ د هغه څه تابعداري کوو چې خپل پلرونه مو پرې موندلي دي. اګر که شیطان یې د ګرم دوزخ عذاب ته رابلي؟)).

او د دوزخیانو په هکله الله تعالی فرمایي چې دوزخ ته د دوی دننوتلو لامل دا دی چې:

((إِنَّهُمْ أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ ضَالِّينَ فَهُمْ عَلَى آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ))[١]

---

[١] - سورة الانبياء: ٥٤.
[٢] - سورة المؤمنون: ٢٤.
[٣] - سورة لقمان: ٢١.

((دوی خپل پلرونه بې لارې موندلي وو نو دوی د هغوی په پلونو ځغلول کېدل)).

## مشران او متکبرین

د توحید او دحق د هر اړخ د منلو په لار کې بل لوی خنډ مشران، ملکان، متکبرین، چارواکي او نور ((اکابر مجرمیها)) دي چې هغوی خپله هم حق نه مني او نور هم د حق له لارې بندوي او منع کوي او احمقان کشران هم وايي چې لویان یې نه مني نو مونږ یې هم نه منوو.

او دحق په مخکې دا خنډونه له پخوا راروان دي نوح علیه السلام چې کله خپل قوم ته د حق بلنه ورکړه نو:

((قَالَ الْمَلأُ مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلاَلٍ مُّبِينٍ))[2]

((د هغه د قوم څه مشرانو وویل: مونږ بې شکه تا په ښکاره بې لارۍ کې ګورو)).

هود علیه السلام چې عادیانو ته د توحید بلنه ورکړه نو:

((قَالَ الْمَلأُ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وِإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ))[3]

---

[1] - سورة الصافات: ٦٩- ٧٠.
[2] - سورة الاعراف: ٦٠.
[3] - سورة الاعراف: ٦٦.

((د هغه د قوم مشرانو کافرانو وویل: مونږ بې شکه تا په کم عقلۍ کې وینوو او مونږ بې شکه په تا ګومان کوو چې له دروغجنو څخه یې))

صالح علیه السلام چې ثمودیانو ته د توحید دعوت ورکړنو

((قَالَ الْمَلأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُواْ لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِ قَالُواْ إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ))[1]

((د هغهٔ د قوم مستکبرینو هغو کمزورو ته وویل چې ایمان یې راوړی ؤ: آیا تاسو پوهېږئ چې صالح دخپل رب له لوري لېږل شوی دی؟! هغوی وویل: هغه چې په کوم دین لېږل شوی مونږ پرې ایمان را وړونکي یوو))

((قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُواْ إِنَّا بِالَّذِيَ آمَنتُمْ بِهِ كَافِرُونَ))[2]

((مستکبرینو وویل: تاسو چې په کوم شي ایمان راوړی دی مونږ پرې کافران یوو))

شعیب علیه السلام چې کله د مدین خلکو ته د حق بلنه ورکړه نو:

((قَالَ الْمَلأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَارِهِينَ))[3]

---

[1] ـ سورة الاعراف: ۷۵.
[2] ـ سورة الاعراف: ۷۶.
[3] ـ سورة الاعراف: ۸۸.

((د هغهٔ د قوم کبرجنو مشرانو وويل: اې شعيبه! مونږ به هرومرو تا او تاسره مؤمنان لهٔ خپل کلي وباسوو او يا به تاسو زمونږ دين ته بېرته راګرځئ. هغه وفرمايل: اګر کهٔ مونږ د دې کار بد ګڼونکي يوو نو هم؟!)).

((وَقَالَ الْمَلأُ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْباً إِنَّكُمْ إِذاً لَّخَاسِرُونَ))[1]

((او د شعيب د قوم کافرانو مشرانو وويل: کهٔ تاسو خامخا د شعيب تابعداري وکړه نو تاسو به بې شکه تاوانيان اوسئ)).

موسیٰ عليه السلام چې کله فرعون او د هغهٔ تالي ځمو ته بلنه ورکړه او معجزې يې وروښودې نو:

((قَالَ الْمَلأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَـذَا لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ))[2]

((د فرعون د قوم ځينو مشرانو وويل: دا بې شکه ډېر پوه جادوګر دی)).

((وَقَالَ الْمَلأُ مِن قَوْمِ فِرْعَونَ أَتَذَرُ مُوسَى وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ))[3]

((د فرعون د قوم ځينو مشرانو وويل: آيا موسی او د هغهٔ قوم د دې لپاره پرېږدې چې پهٔ زمکه کې فساد وکړي او تا او ستا معبودان پرېږدي؟)).

[1] - سورة الاعراف: ۹۰.
[2] - سورة الاعراف: ۱۰۹.
[3] - سورة الاعراف: ۱۲۷.

اوس هم د حق پلویانو ته فسادیان، ترهګر، اشرار او نور نومونه اخیستل کېږي. او همدغه مشران او د هغوی تالي ختمي یې ورته اخلي.

او د نوح عليه السلام د دعوت په وخت کې دا هم شوي وو چې:

((فَقَالَ الْمَلأُ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوْمِهِ مَا نَرَاكَ إِلاَّ بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلاَّ الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ وَمَا نَرَى لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ))[1]

((د هغه د قوم ځینو کافرانو مشرانو وویل: مونږ خو ګورو چې ته یواځې مونږ غوندې انسان یې او مونږ ګورو چې مونږ څخه یواځې هغو خلکو ستا تابعداري کړې ده چې هغوی زمونږ خوار خلک دي او د سرسري رایې خښتنان دي او مونږ په خپلو ځانونو ستاسو کوم غوره والی نهٔ ګورو بلکه پهٔ تاسو د دروغجنانو ګومان کوو)).

لنډه دا چې د حق مخالفت تل کبرجنو مشرانو او مالدارو خلکو کړی دی.

((وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلاَّ قَالَ مُتْرَفُوهَا إِنَّا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ كَافِرُونَ))[2]

---

[1] ـ سورة هود: ۲۷.

[2] ـ سورة سبا: ۳۴.

((او مونږ چې هر ولس کې کوم ويرووونکی پيغمبر لېږلی دی نو د هغه ولس مالدارو نازولو خلکو ورته ويلي چې مونږ بې شکه په هغه دين کافران يوو چې تاسو پرې رالېږل شوي يئ)).

او الله تعالى فرمايي:

((وَ كَذَالِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجَرِمِيهَا لِيَمْكُرُواْ فِيهَا وَمَا يَمْكُرُونَ إِلاَّ بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ))[1]

((او مونږ همدارنګه په هر ولس کې د هغۀ لويان مجرمان کړي دي چې چل ول پکې وکړي او هغوی يواځې د خپلو ځانونو په خلاف چل ول کوي او نۀ پوهېږي)).

او فرمايي:

((وَإِذَا أَرَدْنَا أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيرًا))[2]

((او کله چې مونږ وغواړو چې يو ولس هلاک کړو نو د هغې نازولو مالدارو ته د طاعت حکم وکړو نو هغوی يې ونۀ مني او ګناوې پکې وکړي نو د عذاب وينا پرې ثابته شي او بېخي يې ړنګ کړو)).

نو مالدار نازولي، اكابر مجرميها، مستكبرين، حکومتي چارواکي او نور باطل کبرجن مشران تل د حق مخالفت کوي نو ځکه الله تعالى فرمايي:

[1]- سورة الانعام: ۱۲۳.
[2]- سورة الاسراء: ۱٦.

((سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَإِن يَرَوْاْ كُلَّ آيَةٍ لاَّ يُؤْمِنُواْ بِهَا وَإِن يَرَوْاْ سَبِيلَ الرُّشْدِ لاَ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلاً وَإِن يَرَوْاْ سَبِيلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلاً ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُواْ بِآيَاتِنَا وَكَانُواْ عَنْهَا غَافِلِينَ))[1]

((زه به لهٔ خپلو آیاتونو هغه خلک واړوم چې پهٔ زمکه کې پهٔ ناحقه لويي کوي او کهٔ هره نښه وګوري نو ايمان پرې نهٔ راوړي، که سمه لار ومومي نو هغه لار نهٔ نيسي او کهٔ د سرغړونې لار ومومي نو پرې ځي. دا ځکه چې دوی زمونږ آياتونه دروغ ګڼلي دي او ترې بې غوره دي))

خو کله چې دا سرغړوونکي مشران او کشران پهٔ آخرت کې سره راټول شي نو بيا به يو بل ملامتوي او يو له بله به بېزاره کېږي

((وَبَرَزُواْ لِلّهِ جَمِيعًا فَقَالَ الضُّعَفَاء لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُواْ إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللّهِ مِن شَيْءٍ قَالُواْ لَوْ هَدَانَا اللّهُ لَهَدَيْنَاكُمْ سَوَاء عَلَيْنَآ أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ))[2]

((او الله ته به ټول څرګند شي نو کمزوري به لويي کوونکيو ته وايي: مونږ خو ستاسو تابع وو نو آيا تاسو د الله لهٔ عذابه د څهٔ نا څهٔ لهٔ مونږ نه لرې کوونکي يئ؟ هغوی به ووايي: که الله مونږ ته سمه لار ښوولې وای نو مونږ به تاسو ته سمه لار ښوولې وه، مونږ او

[1]- سورة الاعراف: ١٤٦.
[2]- سورة ابراهيم: ٢١.

تاسو کۀ فریاد وکړو او که صبر وکړو راته برابره ده، مونږ لپاره هیڅ خلاصی نشته››.

‹‹وَلَوْ تَرَى إِذِ الظَّالِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ الْقَوْلَ يَقُولُ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لَوْلَا أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا أَنَحْنُ صَدَدْنَاكُمْ عَنِ الْهُدَى بَعْدَ إِذْ جَاءَكُم بَلْ كُنتُم مُّجْرِمِينَ وَقَالَ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا بَلْ مَكْرُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ إِذْ تَأْمُرُونَنَا أَن نَّكْفُرَ بِاللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُ أَندَادًا وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ›› [1]

‹‹او کۀ تۀ وګورې چې کله به ظالمان د خپل رب سره ودرول شوي وي او ځینې به ځینو ته خبرې کوي، کمزوري به لويي کوونکيو ته وايي: کۀ تاسو نه وای نو مونږ به مؤمنان وو، لويي کوونکي به کمزوروته ووايي: آیا تاسوته د هدایت له راتګه وروسته مونږ ترې منع کړي وئ؟ بلکه تاسو خپله مجرمان وئ. او کمزوري به لويي کوونکيو ته ووايي: بلکه د شپې او ورځې ټګي وه چې کله به تاسو مونږ ته امر کاوه چې په الله کفر وکړو او شریکان ورته وټاکو. او کله چې عذاب وګوري نو پټ به زړه کې پښېمان شي››.

مشران او سرداران لۀ دې امله حق ته غاړه نۀ ږدي چې پۀ خپل امارت، مشرۍ، سردارۍ، شهرت او نوم وېرېږي چې دامې لۀ لاسه لاړ نۀ شي.

[1]- سورة سبا: ۳۱- ۳۳.

او کشران د مشرانو پسې د جهالـت، وېرې، دنیـوي ګټو او نورو لاملونو له امله ځي.
خو د قیامت پهٔ ورځ او آخرت کې به یو له بله بېزار شي:
((إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُواْ مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُواْ وَرَأَوُاْ الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الأَسْبَابُ وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُواْ لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّؤُواْ مِنَّا))[1]
((کله چې مشران لهٔ کشرانو منونکیو نه بېزار شـي، عـذاب وګوري او دنیوي اسباب ترې پرې شي، او کشران منونکي بـه وایـي: کاشکې مونږ لپاره دنیـا تـه یو ځل ورګرځېدل وای چې مـونږ هم لـهٔ دې مـشرانو داسې بېزاره شوي وای لکـه دوی چې لـه مـونږ بېـزاره شول)).
او مشران به د کشرانو په هکله وایي:
((أَغْوَيْنَاهُمْ كَمَا غَوَيْنَا تَبَرَّأْنَا إِلَيْكَ))[2]
((لکه څرنګه چې مونږ سرغړوونکي وو دوی مو هم بې لارې کړي وو مونږ تاته بېزاره شوي یوو)).
د قیامـت پـهٔ ورځ چې کلـه مـشران او کـشران ټول دوزخ تـه روان کړی شي نو مشران به کشرانو ته ووایي:
((فَأَغْوَيْنَاكُمْ إِنَّا كُنَّا غَاوِينَ))[3]

---

[1]- سورة البقرة: ١٦٦- ١٦٧.
[2]- سورة القصص:٦٣.
[3]- سورة الصافات:٣٢.

((مونږ تاسو هم سرکشه کړي وئ او مونږ هم سرغړوونکي وو)).

الله تعالی فرمايي:

((فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ))[1]

((نو دوی به په دغه ورځ عذاب کې سره شريک وي)).

او بې لارې او سرغړوونکي کشران به د خپلو بې لارو او سرغړوونکيو مشرانو په هکله ووايي:

((رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلاَ رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا))[2]

((ای زمونږ ربه! مونږ بې شکه د.خپلو سردارانو او لويانو منلي وو نو مونږ يې له سمې لارې بې لارې کړو، ای زمونږ ربه! دوی ته دوچند عذاب ورکړه او په لوی لعنت يې لعنتي کړه)).

نو هرچاته په کار دي چې خپل ګرېوان کې فکر وکړي او وګوري چې زه چاپسې روان يم او د چا خبره منم، تر کومه په دليل او سمه لار دی؟ آيا د دهٔ کړهٔ وړهٔ د ديانت او اخلاص ترجماني کوي کهٔ د درغلۍ او ټګۍ؟ آيا د الله په لار برابر دی کهٔ نه؟ ايا د دهٔ پسې تلل او د دهٔ منل ما د الله له عذابه ژغورلی شي کهٔ نه ؟! کهٔ دا فکر مو وکړنو خبره به اسانه شي او سمدستي به پرېکړه وکړو چې چاپسې لاړ شوو ، د چا ومنو؟ او څوک پرېږدو او مخالفت يې وکړو؟

---

[1]- سورة الصافات: ۳۳.

[2]- سورة الاحزاب: ٦٧- ٦٨.

او فرمايي:

((وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِي النَّارِ فَيَقُولُ الضُّعَفَاء لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِّنَ النَّارِ قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُلٌّ فِيهَا إِنَّ اللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ))[1]

((او هغه وخت چې دوی به خپلو منځو کې بحث کوي نو کمزوري به لويي کوونکيو ته وايي: مونږ خو تاسو پسې روان وو نو آيا تاسو مونږ نه د عذاب څۀ برخه لرې کولی شئ؟ لويي کوونکي به ووايي: مونږ ټول پۀ اور کې يوو الله بې شکه د بنده ګانو منځ کې پرېکړه کړې ده)).

## اټکل او ګمان

د حق د منلو په لار کې بل خنډ اټکل او ګمان دی. بد مرغه سرغړوونکيو ته چې کله د حق بلنه ورکول شي نو وايي: کېدی شي چې داسې نه وي او داسې وي او داسې ګمان کوو او هغسې ګمان کوو.........

الله تعالی فرمايي:

((وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلاَّ ظَنًّا إَنَّ الظَّنَّ لاَ يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا إِنَّ اللّهَ عَلَيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ))[1]

[1]- سورة المؤمن: ٤٧- ٤٨.

((او د دوی زيات خلک د ګومان پسې ځي ګومان لۀ حقه هيڅ شی نه شي ژغورلی الله بې شکه پۀ هغو کارونو ډېر پوه دی چې دوي يې کوي)).

او فرمايي:

((إِن يَتَّبِعُونَ إِلاَّ الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلاَّ يَخرُصُونَ))[2]

(( دوی يـواځې د ګومـان پـسې ځـي او دوی يـواځې اټکـل کوي)).

او فرمايي:

((إِن يَتَّبِعُونَ إِلاَّ الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الأَنفُسُ))[3]

((دوی يـواځې د ګومـان او هغـه څـۀ پـسې ځـي چـې د دوی زړونه يې غواړي)).

((إِن يَتَّبِعُونَ إِلاَّ الظَّنَّ وَإِنَّ الظَّنَّ لاَ يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا))[4]

((دوی يـواځې ګومـان پـسې ځـي او ګومـان د حـق هـيڅ مخنيوی نه شي کولی)).

نو دا چې څوک څرګند دليل نۀ مني اوګومان او اټکل پسې ځي دا څرګنده بې لاري ده او د همدې اټکليـانو پۀ هکلـه الله تعـالی فرمايي:

((قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ))[5]

---

[1]- سورة يونس: ٣٦.
[2]- يورة يونس: ٦٦ . سورة الانعام : ١١٦.
[3]- سورة النجم: ٢٣.
[4]- سورة النجم: ٢٨.
[5]- سورة الذاريات: ١٠.

((اټکلیان دې ووژل شي)).
د حق د لارې نه منونکي او حق نه سرغړوونکي تل په اټکل او ګمان درومي او دلیل ته نه غاړه ږدي او نه پرې ځان پوهوي.

## د اکثریت منل

د حق د منلو په لار کې بل لوی خنډ د اکثریت پسې تلل دي ځینو خلکو سره دا معیار دی چې کوم لورته خلک ډېر وي نو هغوی پسې ځي حال دا چې حق د اکثریت او اقلیت په تله نه تلل کېږي بلکه حق پخو دلیلونه ولاړوي او هغو ته کتل کېږي. د اکثریت منل ګمراهي ده.
الله تعالی فرمايي:
((وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللّهِ))[1]
((او کهٔ ته پهٔ زمکې کې د زیاتو خلکو ومنې نو د الله له لارې به دې واړوي)).
او فرمايي:
((وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ بِاللّهِ إِلاَّ وَهُم مُّشْرِكُونَ))[2]
((او د دوی زیات خلک پهٔ الله ایمان نه رواړي مګر هغوی مشرکان وي)).

---
[1]ـ سورة الانعام: ١١٦.
[2]ـ سورة يوسف: ١٠٦.

او فرمايي:

((وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلاَّ ظَنًّا))[1]

((او د دوی زيات خلک يواځې گومان پسې ځي)).

((وَلَـــكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يُؤْمِنُونَ))[2]

((خو زيات خلک ايمان نه راوړي)).

او مخکې حديث تېر شو چې داسې پېغمبران تېر شوي دي چې په ټول قوم کې يې دوه يا يو کس منلي دي او داسې پېغمبران هم تېر شوي دي چې ټول امت او قوم کې يې يو کس هم دعوت نه دی منلی نو څرگنده شوه چې حق حق دی که منونکي يې ډېر وي او که لږ.

## ناوړه ملايان او پيران

د حق د منلو په لار کې بل لوی خنډ سرغړوونکي او نفس پرست ناوړه ملايان او پيران دي، چې خلک پرې ښه گومان او ښه عقيده لري او د هغوی مني خو هغوی د نفسي غوښتنو له امله د حق د لارې مخالفت کوي. يواځې علم د نجات لامل نه شي جوړېدی علم سره چې پخه عقيده او نېک عمل نه وي نو بيا علم هيڅ گټه نه لري.

---

[1] - سورة يونس: ٣٦.

[2] - سورة الرعد: ١.

الله تعالی فرمایي:

((أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَى عِلْمٍ)) [۱]

((آیا ته له هغه چا خبر یې چې خپل خواهش یې معبود نیولی دی او د علم سره سره الله بې لارې کړی ؤ؟)).

نو د علم سره سره هم یو عالم ګمراه کېدی شي.

او الله تعالی فرمایي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللّهِ)) [۲]

((ای مؤمنانو ډېر علماء او پیران بې شکه د خلکو مالونه په باطله خوري اوخلک د الله له لارې بندوي)).

نو نن سبا چې کوم نفس پرست علماء او پیران د الله له لارې د جهاد او د حق منلو نه خلک بندوي، هغوی د دې آیت مصداق دي د دوی خبره منل نه دي په کار، بلکه د حق پرستو علماؤ خبره منل په کار دي، اګر که لږ وي، اګر که یو وي هم. او که چا بې دلیله د دوی هره خبره ومنله نود هغوی په هکله الله تعالی فرمایي:

((اِتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ)) [۳]

((دوی خپل علماء او پیران لۀ الله پرته ربان او معبودان نیولي دي)).

---

[۱] ـ سورة الجاثية: ۲۳.

[۲] ـ سورة التوبة: ۳٤.

[۳] ـ سورة التوبة: ۳۱.

نو بې دلیله د ملا ، پیر او هر چا هره خبره منل د هغه عبادت کول دي.

حق د حق پرستو، نېکانو او پرهېزګارانو له لارې پېژندل کېږي، حق پرست علماء هر وخت کې حق ته بلنه ورکوي او په حق ټینګ ولاړ وي، نو د هغوی خبره منل په کار دي او دین له همدغو حق منونکو پرهېزګارانو علماؤ نه زده کول په کار دي.

د شیطان ملګري او نفس پرست علماء سوء پېژندل او هغوی نه ځان ژغورل مطلوب دي.

## مال هال ښځې او بچي

د حق د منلو په لار کې بل لوی خنډ مال هال ښځه او بچي، کور او کلی، خېل او تبر، زمکه او نور د ژوند اسباب دي. ډېر ځله ځینې خلک له دې وېرې حق نه مني چې ګنې دا شیان به راڅخه پاتې شي، یابه راته ځه تاوان ورسېږي، نو دې سره محبت یې دحق منلو ته نه پرېږدي او دا یوه فتنه او ازمېښت وي.

الله تعالی فرمایي:

((وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلاَدُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ اللّهَ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ))[1]

---

[1] - سورة ...

((او پوه شئ چې ستاسو مالونه او اولادونه بې شکه ازمېښت دی او الله سره بې شکه لوی اجر دی)).

او فرمايي:

((قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ))[1]

((ورته ووایه: که ستاسو پلرونه، زامن، ورونه، ښځې، ټبر او خپل، هغه مالونه چې ګټلي مو دي، هغه تجارت چې له تاواني کېدو يې وېرېږئ او هغه کورونه چې خوښوی يې، تاسو ته له الله، دهغه له پېغمبر او دهغه په لار کې له جهاده ډېر خوښ وي، نو انتظار وکړئ چې الله خپل عذاب راولي او الله بدکارانو خلکو ته سمه لار نه ښيئ)).

او فرمايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ وَإِن تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ وَاللَّهُ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ))[2]

((ای مؤمنانو ستاسو ځينې ښځې او ځينې اولادونه بې شکه ستاسو دښمنان دي، نو ترې ووېرېږئ، که تېرېدنه وکړئ، مخ

---

[1] ـ سورة التوبة: ٢٤.
[2] ـ سورة التغابن: ١٤ـ ١٥.

واړوئ او ښښنه وکړئ نو الله بې شکه ډېر ښښونکی او خورا زیات لوروونکی دی. ستاسو مالونه او اولادونه بې شکه ازمېښت دی او الله سره لویه بدله ده)).

## ستونزې او کړاوونه

د حق د منلو په لار کې بل خنډ ستونزې او کړاوونه دي، په ځانګړې توګه هغه خلک چې د باطل پرستو په منځ کې اوسېږي، هغوی ډېرو ستونزوسره مخ کېږي.

او دا ځکه چې د حق دا طبیعت او فطرت دی چې په منلو او دحق د غوښتنو او مقتضیاتو د پوره کولو په لار کې ډېر کړاوونه او ستونزې پېښېږي. خپل کورنه واخله، کورنۍ، کلی، ولس، خپل خپلوان، یاران ،دوستان اوډېر خلک مخالف جوړېدی شي . او دا ځکه چې شیطان ډېر زیات کار کوي. هره ګروهه چې کله په زړه او دماغو کې پخه شي نو بیا د هغې بدلول ډېر ستونزمن او سخت وي.

په حق پرستو کړاوونه او ستونزې د دې لپاره راځي چې الله سبحانه وتعالی پرې ازمېښت کوي.

الله تعالی فرمايي:

((أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوا أَن يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لاَ يُفْتَنُونَ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ))[1]

((آیا خلک ګومان کوي چې یواځې همدومره ووایي چې مونږ ایمان راوړی، نو پرې به ښوول شي او دوی به نۀ ازمېیل کېږي؟ او مونږ بې شکه له دوی مخکې خلک ازمېیلي وو، نو الله به هرومرو هغه خلک څرګند کړي چې رېښتیا یې ویلي او هرومرو به دروغجن پۀ ښنبه کړي)).

او فرمايي:

((وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ فَإِذَا أُوذِيَ فِي اللَّهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللَّهِ وَلَئِن جَاءَ نَصْرٌ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ أَوَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِمَا فِي صُدُورِ الْعَالَمِينَ وَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنَافِقِينَ))[2]

((او له خلکو څخه ځینې داسې دي چې وايي: مونږ پـه الله ایمان راوړی دی، خو کله چې د الله پـه لار کې کړاو ورورسېږي نو د خلکو ضرر رسول داسې ګڼي لکـه دالله عـذاب، او کـۀ ستا د رب لـه لوري خامخا څه مدد راشي نو بیا هرومرو وایي چې مونږ بې شکه تاسو سره وو. نو آیا الله پۀ هغو ښۀ پوه نۀ دی چې د عالمیانو پۀ

[1]- سورة العنكبوت: ٢- ٣.

[2]- سورة العنكبوت: ١٠- ١١.

سینو کې دي؟ الله به هرومرو مؤمنان څرګند کړي او منافقان به هم هرومرو په ننبنه کړي)).

او فرمايي:

((وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوفْ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الأَمَوَالِ وَالأنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُواْ إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعونَ أُولَـئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَـئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ))[1]

((او هرومرو به مونږ تاسو يو څه نا څه ويرې، ولږې، دمالونو، ځانونو او مېوو په کمولو وازمېيوو، او هغو صبرکوونکيو ته زېرى ورکړه چې کله ورته څه کړاو ورسېږي نو وايي چې مونږ بې شکه د الله يوو او مونږ بې شکه هغه ته ورګرځېدونکي يوو؛ دوى باندې به د خپل رب له لورې مهرباني او لورېنې وي او همدوى لار موندونکي دي)).

او فرمايي:

((أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُواْ الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ الَّذِينَ خَلَوْاْ مِن قَبْلِكُم مَّسَّتْهُمُ الْبَأْسَاء وَالضَّرَّاء وَزُلْزِلُواْ حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللّهِ أَلا إِنَّ نَصْرَ اللّهِ قَرِيبٌ))[2]

((آيا تاسو ګومان کړى چې جنت ته به ننوځئ او د هغو خلکو مثالونه به درته نه وي راغلي چې له تاسومخکې تېر شوي

---

[1]- سورة البقرة: ۱۵۵- ۱۵۷.

[2]- سورة البقرة: ۲۱٤.

دي؟ هغوی ته ولږې او کړاوونه رسېدلي وو او تردې جرکېدلي وو، چې پېغمبر او هغهٔ سره مؤمنانو وويل چې د الله مرسته به کله وي؟ خبردار د الله مرسته نږدې ده)).

او فرمايي:

((لَتُبْلَوُنَّ فِي أَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُواْ أَذًى كَثِيرًا وَإِن تَصْبِرُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الأُمُورِ))[1]

((تاسو به هرومرو په خپلو مالونو او ځانونو کې وازمېيل شئ او تاسو نه مخکې چې کتاب ورکول شوی او مشرکانو نه به هرو مرو ډېرې بدې ردې واورئ، خو که صبر او پرهېزګاري وکړئ نودا د غښتليو کارونو څخه دي)).

او فرمايي:

((فَالَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخْرِجُواْ مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُواْ وَقُتِلُواْ لأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ ثَوَابًا مِّن عِندِ اللّهِ وَاللّهُ عِندَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ))[2]

((نو هغه خلک چې هجرت يې کړی دی، له خپلو کورو ايستل شوي دي، زما په لار کې کړول شوي دي، جنګېدلي دي او وژل شوي دي نو هرو مرو به زهٔ له دوی ګناوې لرې کړم او هرو مرو

---

[1]- سورة آل عمران: ۱۸٦.
[2]- سورة آل عمران: ۱۹۵.

به یې داسې جنتونو ته ننباسم چې ویالې پکې بهیږي، دا د الله له لوري بدله ده او الله سره ښه بدله ده)).

او الله تعالی فرمايي:

((وَالْعَصْرِ إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ))[1]

((په مازیګر یا زمانې قسم دی چې انسان بې شکه په تاوان کې دی، خو یواځې هغه خلک په تاوان کې نه دي چې ایمان یې راوړی دی، نېک عملونه یې کړي دي، یو تر بله یې د حق خبره کړې ده او یو تر بله یې د صبر خبره کړې ده)).

نو معنی دا چې مؤمنان او نېکان به تل دحق خبره کوي، خو د حق ویلو سره خامخا کړاوونه، ستونزې او اندېښنې تړلې دي، نو په هغو به یو تر بله د صبر توصیه او تلقین کوي.

او حدیث کې راځي:

أبوهريرة ﷺ نه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل: ((مثل المؤمن كمثل الخامة من الزرع من حيث أتتها الريح كفأتها فإذا اعتدلت تكفأ بالبلاء والفاجر كالأرزة صماء معتدلة حتى يقصمها الله إذا شاء))[2]

((د مؤمن مثال د کښتونو او وښو د هغه نازکه ډکي غوندې دی چې له هره پلوه ورته باد راشي نو کږوي یې، کله چې په ارام شي

[1]- سورة العصر: ۱-۳.
[2]- رواه البخارى و مسلم والترمذى واحمد وابن حبان والبيهقى فى شعب الايمان وابن ابى شيبة و عبدالرزاق.

نو په مصیبت او ازمېښت کوږ شي او د بدکاره مثال د نښتر غونډې دی چې تر هغه سم کرار ولاړ وي چې د الله خوښه شي نو له بېخه یې ونړوي)).

او رسول الله ﷺ نه چا پوښتنه وکړه چې زیات مصیبونه په چا راځي هغه وفرمایل:

((الأنبياء ثم الأمثل فالأمثل يبتلى الرجل على حسب دينه فإن كان فى دينه صلبا إشتد بلاءه و إن كان فى دينه رقة أبتلى على حسب دينه فما يبرح البلاء بالعبد حتى يتركه يمشى على الأرض ما عيله خطيئة))[1]

((پېغمبرانو ته تر ټولو زیات ازمېښتونه رسېږي، بیا چې هغوی ته نږدې وي، بیا چې هغوی ته نږدې وي، هرچاته د هغه د دین په کچ ازمېښت او مصیبت رسېږي، که په دین ټینګ وي نو ازمېښت یې سخت وي او که دین یې سست وي نو ازمېښت یې هم سست وي، په نېک بنده تر هغه ازمېښتونه راځي چې په ځمکه داسې پاک روان وي چې هیڅ ګناه پرې پاتې نه وي)).

ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ((من يرد الله به خيراً يصب منه))[2]

((چا باندې چې الله تعالی د خیر اراده وکړي نو مصیبت ورته ورسوي)).

او دا ځکه چې ګناوې یې پاکې او ثوابونه یې زیات کړي.

---

[1] - رواه الترمذي والنسائي و احمد وابن حبان والحاکم وابن ابی شیبه وابن ماجة.

[2] - رواه البخاري و مالک و احمد وابن حبان.

عبدالله بن مسعود ﷺ نه روایت دی، هغه وایي: زه د رسول اللهﷺ پوښتنې ته ورغلم چې ومې لید سختې تبې نیولی ؤ ما وربانديې لاس کېښود او ورته ومې ویل: ای د الله پېغمبره! ته خو ډېرې سختې تبې نیولی یې؟!

هغه وفرمایل: ((هو ما ستاسود دوه سړیو په کچ تبه نیسي)) ما ورته وویل: داځکه چې تاپاره دوه اجرونه دي. هغه وفرمایل: ((هو)) بیا یې وفرمایل: **((ما من مسلم یصیبه أذی من مرض فما سواه إلاحط الله سیئاته کما تحط الشجرة ورقها))**[1]

(( مسلمان ته چې هر کړاو رسېږي که ناروغي وي او که بل وي، الله تعالی یې ګناوې داسې رژوي لکه د ونې پاڼې چې رژېږي)).

انس ﷺ نه روایت دی چې نبي کریمﷺ وفرمایل: **((إن عظم الجزاء مع عظم البلاء والصبر عند الصدمة الأولی و إن الله إذا أحب قوما إبتلا هم فمن رضی فله الرضا ومن سخط فله السخط))**[2]

((د اجر لوی والی د ازمېښت د لوی والي سره دی او صبر د لومړي ټکان په وخت کې وي او الله چې کومو خلکو سره مینه وکړي نو ازمېښتونه پرې راولي، نو څوک چې پرې راضي شو هغه لپاره دالله تعالی رضاده او څوک چې ناراضه شو نو هغوی لپاره د الله تعالی غوسه ده)).

---

[1]- رواه البخاري.
[2]- رواه ابن ماجة و احمد و البیهقی فی شعب الایمان والترمذي.

ابوهريرةﷺ نه روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي:
((الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر)) [۱]
((دنيا مؤمن لپاره زندان او کافر لپاره جنت دی)).
بل حديث کې عائشې رضی الله عنها نه روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: ((ما من مصيبة يصاب بها المسلم إلا كفر الله بها عنه حتى الشوكة يشاكها)) [۲]
((مسلمان ته چې هر کړاو رسېږي الله تعالى پرې هغه نه ګناه رژوي، تر دې چې کوم اغزی يې پښه کې لاړ شي هم ګناه يې پرې رژېږي)).
بل حديث کې داسې راځي:
ابو سعيد خدري او ابو هريره رضی الله عنهما نه روايت دی چې رسول اللهﷺ وفرمايل: ((ما يصيب المؤمن من نصب ولا وصب ولا سقم ولا حزن حتى الهم يهمه إلا كفر عنه من سيئاته)) [۳]
((مؤمن ته چې کومه ستړيا، کوم درد، کومه ناروغي او کوم خفګان رسېږي تر دې چې کومه اندېښنه کوي هم د هغه ګناوې پرې پاکېږي او رژېږي)).

---
[۱]- رواه مسلم والترمذي و احمد وابن ماجة.
[۲]- رواه البخاری ومسلم و احمد والترمذي والنسائي والبيهقی.
[۳]- رواه مسلم والترمذی و احمد وابن حبان وابن ابي شيبة والبيهقی فی شعب الايمان.

بل حدیث کې دابېې راځي:

صهیب ﷺ نه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل: ((عجبا لأمر المؤمن إن أمره كله خير له وليس ذاك لأحد إلا للمؤمن إن أصابته سراء شكر فكان خيرا له و إن أصابته ضراء صبر فكان خيرا له))[1]

((د مؤمن کارته حیرانتیا ده، د هغه ټول کارونه هغه لپاره خیر دی او دا لورینه یواځې مؤمن لپاره ده، که خوشحالي پرې راشي او شکر وکړي نو هم هغه لپاره خیر دی او که کوم کړاو ورته ورسېږي اوپرې صبر وکړي هم هغه لپاره خیر دی))

لنډه داچې مسلمان ته د حق په لار کې کړاوونه، ستونزې او ازمېښتونه رسېږي، نو باید وارخطا نه شي، په سړه سینه غاړه ورکړي او الله تعالی نه د اجرونو هیله ولري.

دا ټول ازمېښتونه او ابتلاوې د دې لپاره راځي چې د ښو او بدو، رېښتینو او دروغجنو او د مخلصانو او منافقانو ترمنځ توپیر وشي.

الله تعالی فرمایي:

((مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىَ يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ))[2]

---

[1]- رواه مسلم وابن حبان و احمد والبیهقی فی السنن و فی شعب الایمان والطبرانی فی الکبیر والاوسط.

[2]- سورة آل عمران: ۱۷۹.

((الله مؤمنان پهٔ دغه حال نهٔ پرېږدي چې تاسو پرې اوسئ، تر دې چې پلیت لهٔ پاکه جلا کړي))

نو د پلیت او پاک جلا کېدل، بیلېدل، پهٔ ننبنه کېدل او ښکاره کېدل هغه وخت کېږي چې څهٔ ازمېښت، کړاو، مصیبتا و غم راشي، لکه پهٔ دې وخت کې چې ډېرو د اسلام دعوې کولې، اسلام یې خوړ، اسلام یې اغوستو، پهٔ اسلام سپارهٔ وو، اسلام کې اوسېدل او ویني غوښې یې له اسلام جوړې شوې وې، خو کله چې د قرآن او صلیب جنګ ونښتهٔ او د قرآن پهٔ خواکې تېپونه، زندانونه، شهادتونه، هجرتونه، ستونزې او کړاوونه وو او بل خوا ته صلیب سره ډالرې، وسلې او وسائل او د امریکا پهٔ مشرۍ نړیوالې ټلوالې وه نو دغه اسلام نه ناوړه ګټه اخیستونکي راڅرګند شول، چې صلیب سره ودرېدل، اسلام، وطن، ناموس، ننګ، غیرت او هر څهٔ یې وپلورل او د امریکا غلامي یې قبوله کړه.

بل لورته د اسلام، وطن او ناموس ننګیالیو، پتیالیو، پیاوړیو، ښاغلیو او زړورو سرتېرو ساتونکیو پهٔ مېړانه، نارینتوب، دیانت او غیرت دا ټول کړاوونه وګالل، سرونه یې پهٔ لاس کې ونیول او پهٔ تش لاس او تش نس یې د خپلو ویاړونو او نوامیسو نه دفاع وکړه. امریکا او دهغې بزدله ټلوالې یې پسې راخیستې او نړدې ده چې ان شاء الله پهٔ ټوله اسلامي نړۍ د توحید توغ ورپوي. وما ذلك على الله بعزيز

ويومئذيفرح المؤمنون.

## غرور، تکبر، ضد، عناد او پېغور

د حق د منلو په لار کې بل لوی خنډ ضد او عناد وي. ډېر خله یو چاته حق، حق ښکاري خو د ضد او عناد له امله یې نهٔ مني. غرور اوتکبر یې نهٔ پرېږدي.

دا ورته ستغه ښکاري چې ټول عمر یې باطل کې تېر شوی وي او ناڅاپه یې پهٔ عقیده، عمل او ژوند کې بدلون راشي. د خلکو لهٔ پېغور څخه وېرېږي چې خلک به څهٔ وایي چې دا ټول عمر پهٔ یوه لار روان ؤ اوس پهٔ بله ځي؟! د پلار او نیکه لار یې پرېښوده؟! ډول ډول نومونه به ورباندې کېدي، زه څرنګه لهٔ خپلې خبرې او خپلې عقیدې تېرشم؟! څرنګه د بل چا واورم او د بل چا ومنم؟!.

((وَ اِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللهَ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالاِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادْ ))[1]

((او کله چې ورته وویل شي چې الله نه ووېرېږه نو غرور او تکبر یې د ګناه لامل شي، نو دوزخ ورته بس دی او هغه ډېر بدځای دی)).

---

[1]- سورة البقرة: ۲۰۶.

# کتمان

د حق په لار کې بل خنډ کتمان او د حق پټول دي. ډېر خلک د حق منلو ته تږي ناست وي خو چا ورته حق څرګند کړی نه وي، نو ځکه یې د منلو نه پاتې وي.

او دا د هر مسلمان دنده او مسئولیت دی چې په کوم کچ ورته د حق خبره زده وي په همغه کچ یې باید نورو ته ورسوي او د اړتیا په وخت کې یې پټ نه کړي.

خو تر ټولو زیات مسئولیت د علماؤ، لوستو او پوهو خلکو دی. هغوی باید علم نورو ته ورسوي، حق څرګند کړي، ونه وېرېږي، په دې لار کې ستونزې او کړاوونه وګالي، وزغمي او الله تعالی نه د اجر او ثواب هیله ولري او د هیچا د ملامتیا پروا ونه کړي.

حق پټول ډېره لویه ګناه ده.

الله تعالی د هغو اهل کتابو بدي څرګندوي چې حق پټوي او فرمایي:

((الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءهُمْ وَإِنَّ فَرِيقاً مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ))[1]

---

[1] - سورة البقرة: ١٤٦.

((هغه خلک چې مونږ کتاب ورکړی دی دا قرآن او پېغمبر داسې پېژني لکه څرنګه چې خپل زامن پېژني او لۀ دوی يوه ډله ښه پوهېږي خو حق پټوي))

او د حق پټوونکيو پۀ هکله فرمايي

((إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِن بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَـئِكَ يَلعَنُهُمُ اللّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللاَّعِنُونَ))[1]

((هغه خلک چې مونږ کوم څرګند دليلونه او لارښوونه نازل کړي دي او خلکو ته مو په کتاب کې څرګند کړي دي، لۀ دې وروسته يې پټوي، نو پۀ هغوی الله هم لعنت وايي او لعنت ويونکي هم پرې لعنت وايي))

او کۀ چا حق پټ کړنو بيا يې جبيره او کفاره دا ده چې درې شرطونه پوره کړي

(۱) توبه به وباسي، معنا دا چې لۀ ګناه به پۀ کلکه راوګرځي

(۲) عمل به سم کړي او بيا به حق نۀ پټوي

(۳) اعلان به وکړي او حق به څرګند کړي

څکه چې الله تعالی فرمايي

((إِلاَّ الَّذِينَ تَابُواْ وَأَصْلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَـئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ))[2]

---

[1] - سورة البقرة: ۱۵۹.

[2] - سورة البقرة: ۱۶۰.

((له هغو پرته چې توبه یې وایسته، عمل یې سم کړ او حق یې ښکاره کړ، نو زه په دوی مهرباني کوم او زه ډېر توبه قبلوونکی او خورا زیات لوروونکي یم))

او فرمايي:

((لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلاَ تَكْتُمُونَهُ))[1]

((هرومرو به یې خلکو ته ښکاره کوئ او نه به یې پټوئ))

او فرمايي:

((إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ الْكِتَابِ وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلاً أُولَـئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلاَّ النَّارَ وَلاَ يُكَلِّمُهُمُ اللّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ))[2]

((هغه خلک چې هغه کتاب پټوي چې الله نازل کړی دی او ناچیزه قیمت پرې اخلي هغوی په خپلو ګېډو کې یواځې اور خوري او د قیامت په ورځ نه ورسره الله خبرې کوي، نه یې پاکوي او هغوی لپاره دردناک عذاب دی))

[1]- سورة آل عمران: ۱۸۷.
[2]- سورة البقرة: ۱۷٤.

# ړوند تقلید

د حق د نهٔ منلو او دلیل ته د غاړې نهٔ ایښودلو په لار کې بل لوی خنډ ړوند او جامد تقلید دی.

بې دلیله د چاخبره منل تقلید دی او دا په دین کې ناروا دی ځکه چې د اسلام دین د دلیل دین دی الله تعالی په قرآن کریم کې ځای په ځای فرمایي:

«قُلْ هَاتُواْ بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ»[1]

«ورته ووایه: کهٔ تاسو رښتیني یئ نو دلیل مو راوړئ».

اسلام د دلیل دین دی او دې کې دلیل د الله تعالی او د هغهٔ د پیغمبر خبره ده.

الله تعالی فرمایي:

«فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً»[2]

«کهٔ په څهٔ شي کې مو شخړه وکړه نو کهٔ په الله او د قیامت په ورځ ایمان لرئ نو الله او پیغمبر ته یې پرېکړه ورورئ دا ډېر ښهٔ کار دی او ډېرې ښې پایلې (نتیجې) لري».

---

[1] - سورة البقرة: ١١١. سورة النمل: ٦٤.

[2] - سورة النساء: ٥٩.

ړوند ، بې دليله او جامد تقليد د هر چا مذموم او ناروا دی که د پلرونو او نيکونو وي، که دکوم مذهب اومسلک وي، کۀ د کوم ملا او يا پير وي، کۀ د کوم سياسي يا قومي او قبيلوي مشر وي...... لنډه دا چې پۀ دين کې د ړوند تقليد ځای ښځي نشته او همدا ړوند تقليد دی چې د حق دمنلو پۀ لار کې لوی خنډ دی.

هر چاته خپله لار، خپل مذهب او خپل مسلک ښه برېښي او دا دعوه کوي چې زما لاره ډېره ښۀ او د اتباع وړ ده.

((كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ))[1]

((هرې ډلې سره چې څه دي هغوی پرې خوشحاله دي)).

فرعون او ملګرو يې هم ويلي وو:

((إِنْ هَذَانِ لَسَاحِرَانِ يُرِيدَانِ أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ الْمُثْلَى))[2]

((دا دواړه بې شکه جادوګر دي، غواړي چې پۀ خپل جادو تاسو لۀ خپلې زمکې وباسي او ستاسو غوره لار لۀ منځه يوسي)).

نو هغوی هم خپلې لارې ته ((المثلى)) (غوره) ويل.

دوزخيان چې کله د دوزخ څوکيدارانو نه وغواړي چې خپل رب نه د دوی لپاره د يوې ورځې د عذاب تخفيف وغواړي نو هغوی به ورته ووايي:

((أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُم بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا بَلَى))[3]

---

[1]- سورة المؤمنون: ۵۳. سورة الروم: ۳۲.
[2]- سورة طه: ٦٣.
[3]- سورة المؤمن (غافر) : ۵۰.

((آیا تاسو ته ستاسو پېغمبرانو دلیلونه نهٔ راوړل؟ هغوی به وو ایي چې ولې نه؟))
او الله تعالی فرمایي
((وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا))[1]
((پېغمبر چې څه درکړي دي هغه واخلئ او له څه يې چې منع کړي يئ نو له هغهٔ منع شئ))
او فرمایي
((قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ))[2]
((ورته وو ایه که تاسو الله سره مینه لرئ نو زما تابعداري وکړئ الله به تاسو سره مینه وکړي او ګناوې به مو دروبښي او الله ډېر زیات ښښونکی اوخورا زیات لوروونکی دی))
د رسول اللهﷺ د طاعت او اتباع په هکله مخکې د عبادت په څېړنې کې هم دلیلونه تېر شوي دي
أبوهریرهؓ نه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل: ((کل أمتي یدخلون الجنة إلا من أبیٰ)) قالوا: یارسول الله! و من یابیٰ؟ قال: ((من أطاعني دخل الجنة و من عصاني فقد أبیٰ))[3]
((زما ټول امت جنت ته ننوځي خو یواځې هغه څوک به نه ورننوځي چې چا د جنت ته له تللونه انکار وکړ)) صحابه و وویل: ای

---

[1]- سورة الحشر: ۷.
[2]- سورة آل عمران: ۳۱.
[3]- رواه البخاري و احمد والحاکم والطبراني فی الاوسط.

د الله پیغمبره! جنت ته تللو نه څوک انکار کوي؟ هغه وفرمایل: ((چا چې زما ومنل نو هغه جنت ته لاړ او چاچې زما ونه منل نو هغه جنت ته له تللو انکار وکړ)).

مطلب دا چې څوک د پیغمبرﷺ نافرماني کوي هغه داسې دی لکه چې وایي: زه جنت ته نه ځم

حدیث کې راځي:

رسول اللهﷺ فرمایي: ((ترکت فیکم أمرین لن تضلوا ماتمسکتم بهما: کتاب الله وسنة رسوله))[1]

(( ماپه تاسو کښې دوه شیان پرې ایښې دي تر څومو چې دا دواړه ټینګ نیولي وي هیڅکله به بې لارې نه شئ. هغه دوه شیان یو د الله کتاب (قرآن کریم) دی او بل د هغه د پیغمبر سنت (حدیث) دي )).

نو د هدایت لپاره همدا دوه لارې دي ، قیاس او اجماع د دې دواړو تابع او ورپسې دي.

اسلام د دلیل دین دی او په کومه خبره چې نه پوهېږې هغو کې له ځانه خبره کول د شیطان تلقین دی. الله تعالی فرمایي:

((وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ إِنَّمَا يَأْمُرُكُمْ بِالسُّوءِ وَالْفَحْشَاء وَأَن تَقُولُواْ عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ))[2]

---

[1]- رواه مالک فی الموطا والحاکم.

[2]- سورة البقرة ۱۶۸- ۱۶۹.

(( د شيطان پلونو پسې مه ځئ هغه بې شکه ستاسو ښکاره دښمن دی هغه تاسو ته په بدۍ، بې شرمۍ او په دې امر کوي چې الله باندې هغه څه ووايئ چې پرې نه پوهېږئ)).

او فرمايي:

((وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولـئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً))[1]

((او څه باندې چې درسره دليل او علم نه وي هغه پسې مه ځه، له غوږونو، سترګو او زړونو ټولو نه پوښتنه کېږي)).

نو اسلام د علم او دليل دين دی، هسې په ړوند تقليد او بې دليله کومې خبرې پسې تلل اسلام کې نشته.

بې دليله چا پسې تلل او بې دليله د چا په فتوې حلال او حرام ګڼل او مطلق طاعت د هغه عبادت کول دي.

حديث کې داسې راځي:

عدي بن حاتم ﷺ وايي: کله چې رسول الله ﷺ دا آية ولوست چې ((إتخذوا أحبارهم ورهبانهم أربابا من دون الله......)). نو ما وويل: ای د الله پېغمبره! مونږ خو علماء او پيران په ربوبيت نه وو نيولي هغه وفرمايل: ((بلى، أليس يحلون لكم ما حرم عليكم فتحلونه ويحرمون عليكم ما أحل الله لكم فتحرمونه؟)).

(( ولې نه، آيا داسې نه وه چې هغوی به تاسو لپاره هغه څه حلالول چې په تاسو حرام شوي وو نو تاسو به حلال ګڼل او الله چې

---

[1] - سورة الاسراء: ۳۴.

څه تاسو لپاره حلال کړي وو نو هغوی به درباندې حرام کړل، تاسو به حرام ګڼل؟)) عدي وویل: ولې نه همداسې وه. رسول اللهﷺ وفرمایل: ((تلك عبادتهم))[1] ((همدا د هغوی عبادت ؤ)).

همدارنګه حذیفهؓ د دې آیة په تفسیر کې وایي:

((لم يعبدوهم من دون الله ولكن أحلوا لهم و حرموا عليهم فاتبعوهم)).[2]

((هغوی له الله پرته د ملایانو او پیرانو عبادت نه ؤ کړی خو هغوی ته یې (بې دلیله) حلال او حرام جوړ کړي وو ، هغوی وریسې تللي وو او دهغوی یې منلي وو)).

عبد الله بن مسعودؓ له ړاندهٔ تقلید نه داسې منع کوي:

((أغد عالما أو متعلما ولا تغد إمعة بين ذلك))

((یا عالم شه یا زده کوونکی طالب شه او د دې دواړو تر منځ هر چا خان مه جوړېږه)).

عبدالله بن مسعودؓ د ((إمعه)) معنی خپله کوي او وایي:

((كنا نعد الإمعة فى الجاهلية: الذي يدعى إلى الطعام فيذهب معه بغيره وهو فيكم اليوم المحقب دينه الرجال))[3]

((مونږ به جاهلیت کې ((إمعه)) هغه څوک باله چې ډوډۍ ته څوک وبلل شي او له ځان سره بل څوک بوځي. نن هغه په تاسو کې هغه څوک دی چې په خپل دین کې د سړیو تقلید کوي)).

---

[1] ـ رواه الترمذي و احمد وابن جرير و الطبراني والبيهقي في السنن.
[2] ـ جامع بيان العلم و فضله لابن عبد البر: ۹۷۵/۲.
[3] ـ رواه ابن ابي شيبة و ابن عبدالبر و اورده الهيثمي في المجمع.

ابن الاثیرد ((محقب)) معنی داسې کوي:

((الذی یقلد دینه لکل أحد أی یجعل دینه تابعا لدین غیره بلا حجة و لا برهان ولا روية))[1]

(( ((محقب)) هغه څوک دی چې د خپل دین تقلید هر چانه کوي، معنا دا چې خپل دین بې دلیله او بې لامله د بل چا تابع کوي)).

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وایي: ((ألا لا یقلدن أحدکم دینه رجلا إن آمن آمن و إن کفر کفر فإنه لا أسوة فی الشر))[2]

((خبردار! ستاسو کوم یو دې خپل دین کې د کوم سړي تقلید نه کوي، چې که هغه ایمان راوړی وي نو دهٔ هم راوړی وي او که هغه کافر شوی وي، دی هم کافر شوی وي، ځکه چې په شرکې چا پسې اقتدا نشته)).

د علی بن أبی طالب رضي الله عنه په اولادې کې حسین بن علی بن الحسین رحمهما الله تعالی وایي:

تـريد تنام على ذى الشـبه و علـّك إن نمـت لم تنـتبه
فجـاهد و قلد كتـاب الإله لتـلقى الإلـٰه إذا مت بـه
فقد قلد النـاس رهبـانهم و كل يـجادل عـن راهبه
و للـحق مستـنبط واحد و كل يـرى الحق في مذهبه[1]

---

[1] - النهاية لابن الاثير: ۱\۱۲۱۲.

[2] - جامع بيان العلم و فضله: ۲\۹۸۸.

((ته غواړې چې د شک په حالت کې ویدهٔ شې؟! کېدی شي چې ویدهٔ شې او بیا را ویښ نه شې نو کوښښ وکړه او د الله تعالی د کتاب قرآن کریم تقلید وکړه، او دا ددې لپاره وکړه چې کله ومرې نو الله تعالی سره د قرآن په ملګرتیا مخ شې، ځکه چې خلکو د خپلو پیرانو تقلید کړی دی او هر یو خپل پیرنه دفاع کوي او د حق د استنباط لاره یوه ده، خو هر څوک په خپل مذهب کې حق ګڼي!!!))

عمر بن الخطاب رضي الله عنه وايي ((السنة ماسنه الله ورسوله لا تجعلوا خطأ الرأی سنة للأمة))

((سنت او د شریعت لار هغه ده چې الله او د هغه پیغمبر ﷺ تاکلې وي، د خلکو د رایو غلطي او سهوه امت لپاره شریعت مه جوړ وئ))

صحابه کرامو رضي الله عنهم د رسول الله ﷺ د حدیث په مقابل کې د نورو خبره ډېره بده ګڼله

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه چا د تمتع په هکله پوښتنه وکړه هغه په حدیث ځواب ورکړ هغه پوښتنې والا ورته وویل ابوبکر او عمر رضی الله عنهما خو داسې وایي

هغه وويل: ((يوشك أن تنزل عليكم حجارة من السماء أقول قال رسول اللهﷺ و تقولون قال أبوبكر وعمر؟!))[1]

((نږدې ده چې په تاسو له اسمانه کاڼي راووړېږي، زه وايم چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي او تاسو وايئ چې ابوبکر او عمر ويلي دي!!!)).

نو سره له دې چې د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما زيات فضيلتونه دي او له مونږ عبدالله بن عباسؓ ته ډېر ښه څرګند دي. خو عبدالله بن عباسؓ د پيغمبر د حديث په مقابل کې د هغوی خبرې داسې وګڼله چې له اسمانه به دربانديې کاڼي راووړېږي، ځکه چې ابوبکر او عمر رضی الله عنهما سهوه کېدی شي، د هغوی سهوه دين نه دی او د پيغمبرﷺ د حديث په مقابل کې چې د دې امت تر ټولو غوره او د فضيلت خاوندانو ابوبکر او عمررضی الله عنهما خبره دليل نه شي کېدی، نو د رالاندې خلکو خبره او فتوی څرنګه دليل جوړېدی شي؟! او د رالاندې خلکو په خبرې د حديث ردول به څومره لويه ګناه او لوی جرم وي؟!.

زمونږ ځينې ملايان په فتوو ډېر زړور ورځې او ځينو خو ځان همدې لپاره ټاکلی دی!!! حال دا چې سلف صالحينو له فتوو ډېره ډډه کوله.

[1] - تفسير أضواء البيان : ١٧ \ ٥١٦.

عبدالرحمن بن أبی لیلی وايي: «أدرکت عشرین و مائة من أصحاب رسول اللهﷺ ما منهم رجل يُسال عن شئ إلا وَدّ أن أخاه کفاه ولا يحدث حدیثا إلا ودّ أن أخاه کفاه»[1]

«ما د رسول اللهﷺ یوسل او شل «۱۲۰» صحابه کرام لیدلي دي، هغوی کې به چې هر چانه کومه پوښتنه وشوه نو دابه يې خوښوله چې د هغه بل وروړنه يې دا پوښتنه وشي او ده ته اړتیا پاتې نه شي اوهر حدیث به يې چې وایه نو داهیله به يې کوله چې دهغه وروړ د دۀ په ځای دا اړتیا پوره کړي».

عبد الله بن مسعود‎ؓ وايي: « من أفتى الناس فی کل مایسألونه فهو مجنون»[2]

«چا چې خلکو ته دهغوی د ټولو پوښتنو په هکله فتویٰ ورکړه نو هغه لیونی دی».

إبن عیینه رحمه الله وايي: « أجسر الناس على الفتیا أقلهم علما»[3]

«د چا علم چې ډېر لږ وي همغومره په فتوې ورکولو ډېر زړور وي».

---

[1] ـ اخرجه ابن سعد فی الطبقات وابن المبارک فی الزهد وابو خیثمة فی العلم و ذکره ابن عبدالبر فی جامع بیان العلم: ۱۲۰۱۲ ۱.
[2] ـ اخرجه ابن سعد فی الطبقات و ابن المبارک فی الزهد وابو خیثمة فی العلم و ذکره ابن عبدالبر فی جامع بیان العلم: ۱۲۰۱۲ ۱.
[3] ـ أخرجه ابونعیم والخطیب و ابن عبدالبر.

زمونږ په خلکو کې دا یو لوی مصیبت دی چې د اسلام شامل او عالمي فکر نه کوي چې د اهل سنت والجماعت د ټولو علماؤ کتابونه مطالعه کړي او دلیل پسې لاړ شي.

ایوب سختیاني رحمه الله وایي: ((لیس تعرف خطأ معلمك حتی تجالس غیره))[1]

((ته د خپل استاذ غلطي او خطا تر هغه نه شې پیژندی تر څو چې بل عالم سره کې نه نې)).

شریح رحمه الله وایي: (( إن السنة سبقت قیاسکم فاتبعوا و لا تبتدعوا فإنکم لن تضلوا ما أخذتم بالأثر)).[2]

(( سنت (احادیث) ستاسو له قیاسه مخکې تېر شوي دي نو د دلیل تابعداري وکړئ او بدعت مه کوئ ځکه چې تر څو مو حدیث اخیستي وي تر هغه به بې لارې نه شئ )).

إبن عبدالبر رحمه الله د تقلید په هکله داسې شعر ویلی دی:

یا سائلی عن موضع التقلید خذ عني الجواب بفهم لب حاضر
واصغ إلی قولي ودن بنصیحتی و احفظ علی بوادري و نوادري
لا فرق بین مقلد و بهیمة تنقاد بین جنادل و دعاثر
تبا لقاض أو لمفت لا یری عللا و معنی للمقال السائر
فاذا اقتدیت فبالکتاب وسنة الـ مبعوث بالدین الحنیف الطاهر

---

[1] - جامع بیان العلم لابن عبدالبر: ۹۸۹\۲.
[2] - رواه الدارمي و ذکره ابن عبدالبر فی جامع بیان العلم ۲\ ۱۰۵۰.

| | |
|---|---|
| ثم الصحابة عند عدمك سنة | فأولاك أهل نهى و أهل بصائر |
| و كذاك إجماع الذين يلونهم | من تابعيهم كابرا عن كابر |
| إجماع أمتنا وقول نبينا | مثل النصوص لذى الكتاب الزاهر |
| وكذاالمدينةحجة إن أجمعوا | متتابعين أوائلا بأواخر |
| وإذا الخلاف أتى فدونك فاجتهد | ومع الدليل فمل بفهم وافر |
| وعلى الأصول فقس فروعك لاتقس | فرعا بفرع كالجهول الحائر |
| والشرما فيه – فديتك – أسوة | فانظر ولا تحفل بزلة ماهر |

«ای هغه څوکه چې له ما د تقلید په هکله پوښتنه کوې! د حاضر عقل په پوهېدوله ما ځواب واخله، زما خبرې ته ښه غوږ کېده، نصیحت باندې مې عمل وکړه او زما فهم او ارزښتناکې خبرې زده کړه، د مقلد اوهغه څاروي تر منځ هېڅ توپير نشته چې د تيرو او کندو تر منځ روان وي. هغه قاضي او مفتي دې هلاک شي چې د خبرو لاملونه او معنا نه ويني، که اقتدا کوې نو قرآن او د هغه پېغمبر سنتو پسې يې وکړه چې پاک او حق دين باندې رالېږل شوی دی، بیا دې که حدیث ونهٔ موندهٔ نو صحابهٔ پسې اقتدا وکړه، ځکه چې هغوی د عقل او بصیرت خاوندان وو، همدارنګه صحابهٔ ته د نږدې خلکو اجماع پسې لاړ شه، چې د هغوی تابعين وو او يو له بله يې په سلسلې دين زده کړی دی، زمونږ د پېغمبرﷺ وينا او زمونږ د امت اجماع داسې دي لکه د روښانه کتاب: قرآن نصوص. همدارنګه د مدينې منورې د خلکو اجماع هم معتبره ده، چې لومړني او وروستني سره نښتي او پرله پسې راغلي وي، او که

اختلاف راغی نو بيا ښه کوښښ وکړه ، په پوره پوهې دليل پسې لاړ شه او فروع په اصولو قياس کړه، د حيران جاهل غونډې فرعه په فرعې مه قياسوه. تانه جارشم په شرکې چا پسې اقتدا کول نشته، نو پام کوه او د عالم خطا کېدو او ښويه کېدو پسې مه ځه)).

د تقليد په رد کې ډېر دليلونه او د علماؤ اقوال شته او څلورو واړو امامانو : إمام أبوحنيفه، إمام مالک، إمام شافعي، إمام احمد بن حنبل رحمهم الله تعالى او د امت نورو ګڼو علماؤ په تقليد رد کړی دی، چې دلته د ټولو راوړل د کتاب د اوږدولو لامل جوړېږي. د إبن عبدالبر رحمه الله کتاب: ((جامع بيان العلم و فضله)) ، ((إيقاظ همم اولى الأبصار))، د إبن القيم رحمه الله ((إعلام الموقعين))، د صديق حسن خان قنوجي رحمه الله کتاب: ((الدين الخالص)) څلورم ټوک، تفسير أضواء البيان اونورو ګڼو کتابونو کې دتقليد رد شته.

دا ټول د هغو ړندو او جامدو متعصبو مقلدينو په هکله دي چې له ضد او عناده هيڅ دليل نه مني، قرآني نصوص او نبوي احاديث يوازې د مذهب له تعصبه ردوي او ناسم تاويلونه پکې کوي. او داسې خلک هر لوري ته شته.

که داسې نه وي او حق پرست وي، دليل نه ردوي، ټولو مسلمانانو ته په احترام قائل وي او ټول ورونه ګڼي، بيا که هر فقهي مذهب ته منسوب وي هغوی زمونږ ورونه دي. حنفيان، مالکيان، شافعيان، حنبليان او اهل حديث (سلفيان) ټول سره ورونه دي او د دې مجموعې نوم اهل سنت والجماعت دی، د دې ټولو يوه عقيده

او یو مذهب دی. اهل سنت والجماعت د باطلو فرقو په مقابله کې د حق د پلویانو د مجموعې نوم دی، دوی د فقهي فروعي مسائلو په اختلاف هېڅکله سره نه بېلېږي او هر څوک یې چې بیل ګڼي هغوی له اسلامه ناخبره دي او اهل سنت و الجماعت په سمه توګه نه پېژني. مسلمانان ټول سره ورونه او د اسلام او اسلامي امت د دښمنانو په مقابل کې یو موټی، یو جماعت او یو امت دی.

الله تعالی دې اسلامي امت متحد او متفق لري.

# د پای کرښې

دا کتاب ما د نورو کتابونو په څوا کې د پېښور سنټرل جېل کې د ۱۴۲۸هـ ق او ۱۴۲۹هـ ق په اوږدو کې لیکلی ؤ او بیا له ازادۍ وروسته الله تعالی راته د پاتې څېړنې او تخریج وس راکړ. د کتاب مراجع او ماخذونه د پاڼو په لمنو کې لیکل شوي دي نو ځکه مو هسې پاڼې زیاتې نه کړې او په همغو مو بسنه وکړه.

الله تعالی دې دا کتاب ماته د اجر او بښنې او نورو ته د لاربښوونې لامل او رڼا وګرځوي.

۱۴۳۰/۵/۳ هجري سپوږمیز.
۱۳۸۸/۲/۷ هجري لمریز.

سبحانك اللهم و بحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت أستغفرك و أتوب إليك.

# لړلیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱- | سریزه | الف |
| ۲- | د الله تعالی شتون او یو والی | ۱ |
| ۳- | د توحید ډولونه | ۱ |
| ۴- | د ربوبیت توحید | ۲ |
| ۵- | د ألوهیت توحید | ۴۱ |
| ۶- | د کلمې أرکان او شرطونه | ۴۲ |
| ۷- | د کلمې أرکان | ۴۲ |
| ۸- | د کلمې شرطونه | ۴۷ |
| ۹- | علم | ۴۸ |
| ۱۰- | کفر بالطاغوت | ۵۲ |
| ۱۱- | یقین | ۵۷ |
| ۱۲- | قبول | ۵۹ |
| ۱۳- | إنقیاد | ۶۰ |
| ۱۴- | إخلاص | ۶۱ |
| ۱۵- | محبت | ۶۳ |

| ګڼه | سرليک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱۶- | صدق | ۶۴ |
| ۱۷- | إستقامت | ۶۵ |
| ۱۸- | د سپېڅلي کلمې نومونه | ۶۸ |
| ۱۹- | د عبادت معنا | ۸۸ |
| ۲۰- | د عبادت د قبول شرطونه | ۸۹ |
| ۲۱- | إخلاص | ۹۰ |
| ۲۲- | إتباع | ۹۲ |
| ۲۳- | د عبادت ډولونه | ۱۱۹ |
| ۲۴- | دعاء | ۱۲۰ |
| ۲۵- | إستعانت | ۱۴۱ |
| ۲۶- | منښتنه | ۱۴۵ |
| ۲۷- | بې کچه مينه | ۱۵۸ |
| ۲۸- | بې کچه وېره | ۱۵۹ |
| ۲۹- | إنابت | ۱۶۳ |
| ۳۰- | تحاکم | ۱۶۵ |

| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۳۱- | مطلق طاعت | ۱۷۸ |
| ۳۲- | إستعاذه | ۱۸۶ |
| ۳۳- | توکل | ۱۹۱ |
| ۳۴- | د نومونو او صفتونو توحید | ۱۹۴ |
| ۳۵- | سپېڅلي نومونه | ۱۹۶ |
| ۳۶- | د الله تعالی په نومونو کې إلحاد | ۲۰۱ |
| ۳۷- | الأسماء الحسنی | ۲۰۶ |
| ۳۸- | د أسماء الحسنی معناوې | ۲۱۱ |
| ۳۹- | بې علمه خبرې | ۲۴۴ |
| ۴۰- | سپېڅلي صفتونه | ۲۴۶ |
| ۴۱- | سلبي صفتونه | ۲۴۷ |
| ۴۲- | ثبوتي صفتونه | ۲۴۹ |
| ۴۳- | ذاتي صفتونه | ۲۵۰ |
| ۴۴- | علم | ۲۵۰ |
| ۴۵- | قدرت | ۲۷۴ |

| گڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۴۶- | حیات | ۲۷۵ |
| ۴۷- | سمع او بصر | ۲۷۶ |
| ۴۸- | نفس | ۲۷۷ |
| ۴۹- | وجه | ۲۷۸ |
| ۵۰- | یدین | ۲۸۰ |
| ۵۱- | حاکمیت | ۲۸۲ |
| ۵۲- | تکویني حاکمیت | ۲۸۲ |
| ۵۳- | تشریعي حاکمیت | ۲۸۵ |
| ۵۴- | بې لارې مفتیان | ۳۱۲ |
| ۵۵- | خروج علی الطاغوت | ۳۱۴ |
| ۵۶- | د ملوکیت او جمهوریت تر منځ ...... | ۳۱۸ |
| ۵۷- | بشپړ اسلامي نظام | ۳۱۹ |
| ۵۸- | معیت | ۳۲۵ |
| ۵۹- | فعلي صفتونه | ۳۳۰ |
| ۶۰- | خلق | ۳۳۰ |

| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۶۱- | إراده | ۳۳۳ |
| ۶۲- | رضا | ۳۳۵ |
| ۶۳- | رحمت | ۳۳۶ |
| ۶۴- | غضب | ۳۳۹ |
| ۶۵- | محبت | ۳۴۱ |
| ۶۶- | صدق | ۳۴۴ |
| ۶۷- | کلام | ۳۴۵ |
| ۶۸- | مشیئت | ۳۴۹ |
| ۶۹- | إستواء على العرش | ۳۵۰ |
| ۷۰- | إتیان | ۳۶۱ |
| ۷۱- | شرک | ۳۶۴ |
| ۷۲- | د شرک ډولونه | ۳۸۵ |
| ۷۳- | د ماهیت په توګه شرک | ۳۸۵ |
| ۷۴- | إعتقادي شرک | ۳۸۵ |
| ۷۵- | عملي شرک | ۳۸۶ |

| ګڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۷۶- | د عملي شرک ډولونه | ۳۸۷ |
| ۷۷- | د زړه عمل | ۳۸۷ |
| ۷۸- | د غړو عمل | ۳۸۷ |
| ۷۹- | د ژبې عمل | ۳۸۷ |
| ۸۰- | د نورو غړو عمل | ۳۸۸ |
| ۸۱- | د څرګندوالي او پټوالي په توګه ...... | ۳۸۸ |
| ۸۲- | څرګند شرک | ۳۸۸ |
| ۸۳- | پټ شرک | ۳۸۹ |
| ۸۴- | د لوی والي او وړوکوالي ...... | ۳۸۹ |
| ۸۵- | لوی شرک | ۳۹۰ |
| ۸۶- | وړوکی شرک | ۳۹۰ |
| ۸۷- | د شرک بنسټونه | ۳۹۱ |
| ۸۸- | اُمت کې د إسلام بنسټ | ۳۹۲ |
| ۸۹- | ځینې خرافي عقیدې | ۳۹۴ |
| ۹۰- | جمهوریت | ۳۹۵ |

| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۹۱- | سیکولرزم | ۳۹۶ |
| ۹۲- | د شرک باریکي | ۳۹۷ |
| ۹۳- | له ستورو او سپوږمۍ باران ګڼل | ۳۹۹ |
| ۹۴- | د ثواب په نیت سفر | ۴۰۰ |
| ۹۵- | ریا وړوکی شرک دی | ۴۰۱ |
| ۹۶- | شاهنشاه نوم ناروا دی | ۴۰۲ |
| ۹۷- | د کوډګر او نجومي ...... | ۴۰۳ |
| ۹۸- | په ذلت ودرېدل | ۴۰۴ |
| ۹۹- | په قبرونو جوماتونه او ګومبزې جوړول .... | ۴۰۷ |
| ۱۰۰- | لوړ قبرونه | ۴۰۸ |
| ۱۰۱- | که چېرته مه وایه | ۴۱۱ |
| ۱۰۲- | دمونه، بندونه، تعویذونه ....... | ۴۱۲ |
| ۱۰۳- | په ونو، غنو، ګټو کې برکت ......... | ۴۳۱ |
| ۱۰۴- | شفاعت | ۴۳۲ |
| ۱۰۵- | د شفاعت ډولونه | ۴۳۳ |

| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱۰۲- | د شفاعت د ډولونو جدول | ۴۳۵ |
| ۱۰۷- | دنیوي شفاعت | ۴۳۶ |
| ۱۰۸- | أخروي شفاعت | ۴۴۱ |
| ۱۰۹- | مأذون شفاعت | ۴۴۱ |
| ۱۱۰- | ممنوع شفاعت | ۴۴۵ |
| ۱۱۱- | شرکي شفاعت | ۴۴۶ |
| ۱۱۲- | کفارو او مشرکینو لپاره ........ | ۴۴۶ |
| ۱۱۳- | معدوم شفاعت | ۴۴۹ |
| ۱۱۴- | وسیله | ۴۵۰ |
| ۱۱۵- | شرعي وسیله | ۴۵۱ |
| ۱۱۲- | نېک أعمال | ۴۵۲ |
| ۱۱۷- | شرکي وسیله | ۴۵۸ |
| ۱۱۸- | بدعي وسیله | ۴۵۹ |
| ۱۱۹- | د توحید د منلو په لار کې ....... | ۴۶۰ |
| ۱۲۰- | شیطان | ۴۶۱ |

| ګڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱۲۱- | د پلرونو او نیکونو تابعداري | ۴۶۳ |
| ۱۲۲- | مشران او متکبرین | ۴۶۸ |
| ۱۲۳- | اټکل او ګومان | ۴۷۷ |
| ۱۲۴- | د أکثریت منل | ۴۷۹ |
| ۱۲۵- | ناوړه ملایان او پیران | ۴۸۰ |
| ۱۲۶- | مال هال، ښځې او بچي | ۴۸۲ |
| ۱۲۷- | ستونزې او کړاوونه | ۴۸۴ |
| ۱۲۸- | غرور، تکبر ........ | ۴۹۴ |
| ۱۲۹- | کتمان | ۴۹۵ |
| ۱۳۰- | ړوند تقلید | ۴۹۸ |
| ۱۳۱- | د پای کرښې | ۵۱۲ |
| ۱۳۲- | لړلیک | ۵۱۳ |